# افغانستان دساړه جنګ په لمبوکې



محمدګل وطنپال دیانی

PROPERTY OF ACKU
7967

# افغانستان د ساړه جنګ په لمبو کې

لیکوال

محمد ګل وطنپال دیانی

۱۳۷۸

## کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم : افغانستان دساره جنگ په لمبوکې

لیکوال : محمدگل وطنپال دیانی

ناشر : خپله لیکوال

دچاپ ځای : پیښور - دانش کتاب پلورنځی تېلفون: 2564513

کمپوز: بابري کمپوزنگ سنتر

کمپوزر: محمدظاهربابري او محمدنادر هاشمی

دچاپ کال : ۱۳۷۸ ش / ۱۹۹۹ م

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ توکه

دپښتی طرح د : استاد حسن پاوند

بسم الله الرحمن الرحيم

# اهدا

هغو میړنیو افغانانو ته چې !

دهسک څښتن درضا او د افغانستان دخلکو دشرف او عزت دساتنې لپاره یې خپل خواږه ځانونه دجنګ لمبو ته غورځولي او قربان کړي دي ؛ هغو غیرتمنو افغانانو ته چې دملي مقاومت او جهاد دبریالیتوب او دوطن دآزادۍ په هیلو ارمانجن خاوروته تللي دي او په پای کې هغو رښتینوافغانانو ته چې خپل ویاړلی هیواد او مظلوم ملت ته دبې ریا خدمت په لارکې دلستوني مارانو چیچلی اویا ددین ترپردې لاندې دغلیمانو ددسیسو ښکار شوي دي .

وړاندې کوم

محمدګل وطنپال دیانی

# یادونه

دهجران او کډوالۍ په کړیدلي ژوند کې هغه هلې ځلې چې ددې کتاب دچاپ لپاره سرته رسیدلي ایجابوي چې دوطن دنومیالي لیکوال محترم سرمحقق زلمی هیوادمل لـه توجه او همکارۍ څخه ډیره مننه او تشکر وکړم چې دخپلو دندو ترڅنګ یې ددې کتاب دچاپ په چارو کې خپله پیرزوینه نه ده سپمولې .

م . وطنپال دیانی

# سرلیک

افغانستان دساړه جنګ په لړ کې په عمومي توګه دهغو مهمو پیښو او واقعاتو لنډیز دی چې د تیرې څه کم یوې پیړۍ په دوران کې زموږ په ګران هیواد کې منځ ته راغلې دي.

ددې لیکنې موخه او مقصد دادی چې هغه کسان چې دافغانستان دحالاتو اوبدلونونو له لنډې کتنې او مطالعې سره مینه او علاقه ولري وکړای شي خپل مطلب ژر تر لاسه کاندي.

په دې لیکنې کې لومړی دافغانستان دپیښو لنډ جریان دلویې لوبې The Great game په دوران کې ترکتنې لاندې نیول شوی دی کومه سیاسي لوبه چې دبریتانیې دحکومت او دتزاري روسیې ترمنځ روانه وه او افغانستان یکې په خپل مهم جیوپولیتیکی موقعیت له تیریو او تجاوزونو او سختو تاوانونو سره مخامخ شوی و.

وروسته دافغانستان حالات دساړه جنګ په دوران کې

The Cold War ترخيږنې لاندې نيول شوي دي. هغه سوړ جنګ چې له دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته دشوروي اتحاد او امريکا دمتحده اياﻻتو په مشرتابه دختيځ او لويديځ بلاکونو ترمنځ روان و او دشوروي اتحاد دپوځي يرغل له کبله په افغانستان کې دخونړيو جګړو سبب شو او دشوروي له شکست او له افغانستان څخه په شا تګ او باﻻخره دشوروي اتحاد دکمونستي نظام په ړنګيدو پای ته ورسيد .

ددغو ټولو پيښو او واقعو په څيړنه او ليکنه کې تر وسه وسه زيار ايستل شوی دی چې په کامله بيطرفي حقايق روښانه او بې له کوم غرض او مقصد څخه لوستونکو ته وړاندې شي .

هيله من يم دغه اثر - چې له تيروتنو او سهوو څخه به خلاص نه وي - وکړای شي زموږ دلرغوني هيواد دتيرې څه کم يوې پيړۍ پيښې او واقعې او داوسنيو مصيبتونو بيخ او ريښې په ښه توګه شرح او روښانه کاندي.

محمدګل وطنپال دياني

# سریزه

دروانې هجري شمسي پیړۍ د لومړۍ لسیزې په وروستیو کلونو کې له یو کورني اړ دوړ نه وروسته ، داماني روښانه دوران د شوریدلي اونړول شوې اداري پر بنسټو د یوې نوې اداري د جوړولو او له څه تغییراتو سره د ځینو پخوانیو موسسو د بیا احیا لپاره کار شروع شو .

دغه مهال د هیواد په دولتي ادارو او موسسو کې په کار ګمارل شوي کسان زیاتره د مسلکي او تخصصي زده کړو خاوندان نه وو او زیاترو حتی ښوونځي نه ولیدلي ؛ د خصوصي زده کړو او شخصي تجربو خاوندان وو.

د دې دوران فرهنګیان په زیاته لیکوال او شاعران که ټول نه وي زیاترو یې د خپلو طبیعي استعدادونو ، خصوصي تجربو او شخصي ذوق پر اساس لیکوالۍ او شاعرۍ ته مخه کړې وه . د یاد دې شوې هجري شمسي پیړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې زموږ په لیکوالو او شاعرانو کې هم د اساسي او رسمي زده کړو خاوندان ډیر لږ وو .

پدې پیړ کې را منځ ته شو یو لیکوالو زیاترو شعر هم وایه او له دې

سربیره دعلومو او فنونو په زیاترو برخو کې یې قلم چلاوه ، مانا دا چې تاریخ ، جغرافیا ، ادبپوهنه او ددې پوهنې تولوڅانگو ، دیني او اجتماعي، اخلاقي مسایلو او سیاسي موضوعاتو کې یې لیکنې کولې . که زموږ دجامعې هغه وختني لیکوالو ته دا ضرورت دمخه و ، چې دڅانگوالو لیکوالو او زموږ په هیواد کې دمتخصص کادرد نه موجودیت له امله په تولو علومو او فنونو کې قلم وچلوي ، نو په وروستیو لسیزو کې چې تعلیمیافته کسان ډیر شول او حتی ځینو دنړۍ د پر مختللیو هیوادونو په پوهنتونو کې زده کړې وکړې خو له بده مرغه چې دلیکوالۍ په برخه کې داختصاص خواته میلان ډیر عام نه و . موږ به لیدل چې دخارجه چارو دوزارت متخصصو مامورینو به دخپلو مسلکي مضامینو پر ځای په داسې برخو کې لیکنې کولې چې ددوی له مسلک او کار له ساحې سره یې اړه نه درلوده .

دافغان پوځ تکړه افسرانو او دطب ډاکټرانو به هم شاعري کوله او یا به یې دادبیاتو په نورو ساحو کې خپل استعداد په کار اچاوه دغې به دادبیاتو دڅانگو کارکونکیو په ځینو داسې موضوعاتو کې لیکل کول چې به یې دکار ساحه نه وه او دغه گډوډي لا تراوسه هم روانه ده .

موږ پوهیږو چې د یوې تولنې دفرهنگي بنستونو دټینگتیا او پیاوړتیا او د ژبې دبډاینتوب لپاره لازمه ده چې دنویو او عصري علومو په بیلا بیلو څانگو کې کتابونه ولیکل شي ، له نورو ژبو آثار ترجمه شي خو موږ باید په تاسف ووایو چې دپوهنتونونو له استادانو او اکادمیو او علمي

تحقیقي څانګو له کار کوونکیو پرته دوزارتونو او نورو څانګو متخصصینو له خپل مسلک سره سم آثارونه لیکل او دخپل حاصل کړی علم میوه یې پر خپلو خلکو ونه خوړه .

د ثور له بدمرغې کودتا وروسته په دې یو پشتو کلونو کې له هیواده وتي ځینې متخصص افغانان زیار باسي چې دخپلو مسلکي تجربو په رڼا کې په خپلو هیواد نیو ژبو خپلو خلکو ته څه ولیکي . که څه هم دغه ډله خلکو دخپلو رسمي ماموریتونو په دوران کې دغه ډول هڅې نه دي کړې .

ددغو کسانو په جمله کې دافغانستان دخارجه وزارت ځینو پخوانیو منسوبینو او افغان دپلوماتو هم په دې وروستیو کلونو کې ځینې داسې آثار ولیکل چې یې دلیکلو هیله ترې کیدای شوه .

دښاغلی محمد ګل وطنپال دیانی داحاضر کتاب هم په دغه لړۍ کې شاملیږي . ښاغلی دیانی دافغانستان دخارجه وزارت پخوانی منسوب او پخوانی افغان دپلومات دی . دوی دافغانستان په خارجه وزارت او زموږ دهیواد په ځینو دپلوماتیکو نماینده ګیو کې کارونه کړي دي او پر افغانستان دشورویانو له یرغل وروسته یې کار پریښوداو د پردي تجاوز په وړاندې دافغانانو دمقاومت په لیکو کې ودرید .

په دې زیات وکم شلو کلونو کې یې دافغانستان دمسایلو په اړه په ډیرو غونډو ، مظاهرو ، سیمینارونو او کنفرانسونو کې ګډون وکړ او هم یې پر افغانانو ددې راغلیو بدو ورځو په اړه ډیرې مقالې ، تبصرې او تحلیلونه وکښل او دافغانانو دمقاومت او بیا وروستیو ناتا رونو او کورنیو جګړو

پر عواملو او ځانګړنو يې مصاحبې وکړې . او دافغانستان له مسايلو سره ديوعلاقمند شخص په توګه يې دافغانستان درواني غميزې په باب کښل شوي آثار کتلي او لوستلي دي او دخپلې همدې مطالعې ، مشاهدې او کاري تجربې په رڼا کې يې دغه حاضر کتاب ( افغانستان دساړه جنګ په لمبو کې ) کښلی دی .

د يادونې وړ ده چې کـه د نولسمې پيړۍ په دوران کې زموږ دهيواد پيښې دهغه زمان د دوو سترو قدرتونو :ځاري روسيې او بريتانيې تر منځ دلويې لوبې په رڼا کې ارزيابي کيږي' دغسې دافغانستان اوسنی بحران - چې د ۱۳۵۷ کال د ثور له بد مرغی کودتا را زيږيدلی دی - دساړه جنګ له دوران سره په ارتباط کې دڅيړنې ډير موارد لري .

دلويې لوبې په باب په خارجي ژبو ډير آثار کښل شوي او زموږ دهيواد پر ژبو هم په دې باب ځينې آثار شته ، چې عمده يې يکې زما په پوهه دنوميالی ژورنالست او ليکوال ښاغلی عبدالجليل وجدي ليکلی کتاب (افغانستان دلويې لوبې ستيج ) او داستاد محمد عزيزنعيم ( افغانستان مرکز ثقل بازی بزرگ ) دي .

زما دمعلوماتو له مخې له ساړه جنګ سره په ارتباط کې دافغانستان څه باندې شل کلن ناورين زموږ په ژبو کې چا په دغسې تفصيل نه وڅيړلی. زما په پوهه دا موضوع په خپله برخه کې نوښت ( ابتکار ) لري او له اهميته يې سترګی نشی پټيدای .

ښاغلی ديانی صاحب دخپلو سياسي تجربو او پراخې مطالعې په نتيجه

کې دا موضوع څېړلې او دافغانستان داوسني بحران اود وروستي شل کلن دوران او حتی تردې دوران د مخنی ، پيښې له ساړه جنګ څخه درازېدلو مسألو په په ارتباط ارزيابی ، تحليل او تفسير کړې دي .

افغانستان دساړه جنګ په لمبو کې ، يو سريزه او ديارلس برخې لري چې ځينې برخې يې په وړو وړو برخو هم ويشل شوې دي .

ښاغلی ليکوال د موضوع د پس منظر له څېړلو وروسته ورو ورو خپل هدف ته نژدې کيږي او دساړه جنګ له توديدو سره په افغانستان کې دبدليدونکيو حالاتو مطالعه کوي او دشلمې پيړۍ په دوهمه نيمايي کې دافغانستان دحالاتو له ژورې کتنې وروسته دروان بحران ريښې او عوامل پلټي اوبيا د بحران څېړنې او مطالعې ته لار وباسي . دنن ورځې دافغان لوستونکي دعلاقې وړ او جالب بحثونه هغه وخت پيل کيږي چې کله دي دساړه جنګ پای ته رسيدو او دافغانستان او افغانانو دغميزې پر اوږديدو خبرې کوي .

دوروستۍ کورنۍ جګړې دبيلابيلو اړخونو تر څېړنې وروسته په پای کې دوه په زړه پورې بحثونه لري : يودا چې کورنۍ جګړه دچا په ګټه ده او بل هم څه بايد وشي ؟ . په دواړو برخو کې يې ښاغلی ليکوال خپل نظريات په کوټلي ډول بيان کړي دي . کتاب په پای کې د افغانستان لنډ تاريخي پېښليک او دماخذو فهرست هم لري . ما نا دا چې کتاب دڅېړنې له نويو اصولو سره برابر ليکلی شوی او اوډل شوی دی .

دکتاب تحليلونه او تفسيرونه هم وچ او مجرد نه دي ، بلکه

دافغانستان مسایل یې په ټول دغه پیر کې بین المللي او منطقه یي سیاسي اوضاعو ته په پاملرنه څیړلي او تحلیل کړي دي .

له دې کتاب نه دهرې سویې لوستونکې استفاده کولای شي ؛ زما په پوهه دا کتاب دافغانستان پر غمیزه دلیکلیو شویو کتابونو په لړ کې له ښو کتابونو څخه ګڼل کیدای شي .

زه ښاغلي لیکوال دیاني صاحب ته ددې کتاب دلیکلو او چاپ مبارکي ورکوم او زیار یې ستایم . ښاغلي دیاني صاحب له یوه بله جهته هم دستاینې وړ دی او هغه دا چې ده خپل کښل شوي کتابونه په خپل لګښت چاپ کړي دي ، .ده ته دزیاتې حوصلې له غوښتلو سربیره له نورو پخوانیو افغاني دپلوماتانو څخه هم دا امید کیږي چې دخپلو تجربو په رڼا کې دخپل هیواد مسایل تحلیل کړي ؛ دوروستۍ غمیزې مختلف ابعاد وڅیړي او دځانګو الو کسانو په توګه دملت او وطن په وړاندې خپل وظایف سرته ورسوي .

په درناوي

سرمحقق زلمی هیوادمل

# فهرست

| عنوانونه | مخونه |
|---|---|

سریزه ۱

## لومړی برخه

په نولسمه پیړۍ کې د بریتانیې او روسیې سیالیو او رقابتونو ته یوه لنډه کتنه. ۹

الف: دافغانستان په لورد بریتانیې پرمختګ او په مرکزي آسیا کې د روسانو پراختیا غوښتنه. ۱۲

ب: د بریتانیې او روسیې په روابطو کې بحران او دافغانستان دخپلواکۍ اعلان. ۳۳

ج: د سیسې او بحران او د امان الله خان دحکومت ړنګیدل. ٤۳

د: دباسمچیانو تحریک. ٤۹

## دوهمه برخه

دساړه جنګ انکشافات او دافغانستان حالات ٦۲

## دریمه برخه

په افغانستان کې د دموکراسۍ تجربه ۹۲

| مخونه | عنوانونه |
|---|---|


## څلورمه برخه

دافغانستان پراختیایی پروژو او خارجي مرستو ته یو اجمالي نظر ۱۰۵

## پنځمه برخه

دساړه جنګ تودیدل او په افغانستان کې دژورو بدلونونو منځ ته راتلل. ۱۱۶

## شپږمه برخه

دساړه جنګ وروستۍ مرحلې او په افغانستان کې داورلمبې ۱۵۸

## اوومه برخه

ملي مقاومت او مقدس جنګ ۱۹۵

الف : دکابل دګوډاګي حکومت هلې ځلې ۲۰۵

ب : دجهادي ډلو داتحاد هلې ځلې ۲۱۵

ج: دجنګ بې رحمي ګانې او له بشري حقوقو څخه سرغړونې. ۲۲۱

## اتمه برخه

قامي نفاق اچونه او فرهنګي تخریبات ۲۳۱

الف : فرهنګي پالیسي ۲۳۶

ب : ښوونه او روزنه دسیاسي لوبې وسیله ۲۴۵

ج : اردو دخپل ملت په دښمنۍ کې. ۲۴۹

## نهمه برخه

په دوه وروستي لسیزو کې په افغانستان کې دسترو قدرتونو پالیسي. ۲۵۸

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| الف : دشوروي اتحاد عمومي پاليسي ته يوه كتنه | ۲٦۰ |
| ب : دامريكا عمومي پاليسي ته يوه كتنه | ۲۷۰ |
| **لسمه برخه** | |
| دشوروي پوځونو شكست او په شا تگ . | ۲۸۰ |
| الف : دژنيو موافقې . | ۲۸۰ |
| ب : دشوروي پوځونو په شا تگ . | ۲۸۹ |
| **يوولسمه برخه** | |
| دسياسي حل لپاره هلې ځلې او دموقتي حكومت مسأله | ۲۹۹ |
| **دولسمه برخه** | |
| الف : دساړه جنگ پای ته رسيدل | ۳۲۱ |
| ب : دبين المللي تشنجاتو دوام | ۳۳۲ |
| ج : دافغانستان دتراژيدی ادامه | ۳۵۰ |
| **ديارلسمه برخه** | |
| وروستی خبري | |
| الف : دملي مقاومت او جهاد عمومي گټې . | ۳٦۸ |
| ب : كورنی جگړه دچا په گټه ده ؟ | ۳۷۹ |
| ج : څه بايد وشي | ۳۸٦ |
| دافغانستان لنډه كرونولوژي | ۳۹۵ |
| مأخذونه او مراجع | ٤۰۱ |

# سریزه

دنړۍ په تاریخ کې کله کله انسانانو دخپلو ګټو ، عقایدو ، خپلواکۍ او خپل هېواد او ټاټوبی دساتنې لپاره په جنګ او مقاومت لاس پورې کړی او کله یې هم دنورو انسانانو او هېوادونو دلاس لاندې کولو ، مستعمره ګرځولو او ګټې اخیستلو لپاره جنګ جګړو ته اقدام کړی دی چې د تاریخ کتابونه دبنیادم داولادې ددغو پېښو مربوطو بریالیتوبونو اوشکستونو ، پرمختګونو او په شا تلنو ، ګټلو او بایللو له جریانونو او مطالبو څخه ډک دي.

دهمدغو خصلتونو له مخې او ددغو واقعاتو په لړ کې په ۱۹ مه پېړۍ کې له قدرتمنو هیوادونو څخه چې په نورو خلکو او په نورو ملکونو باندې یې دخپل قدرت او برلاسۍ ټینګول غوښتل دبرتانیې امپراطورۍ او تزاري روسیې حکومتونه وو چې له نورو ځایونو برسیره په منځنۍ او جنوب ختیځ آسیا کې دخپلو ګټو او اثر رسوخ دساتلو او ټینګولو لپاره په رقابتونو او ټکرونو اخته شوي وو .

په زرگونو خلک د دغو حکومتونو د غوښتنو او هیلو د ترسره کېدو په خاطر مړه او اسیراو ډېر هیوادونه له خپلواکۍ څه په محرومیدو په دغو امپراطوریو کې ګډوډ او حل شول چې هریو یې ځانته د تاریخ علیحده بابونه جوړوي .

د دغو رقابتونو لوبه چې لمن یې له ترکیې څخه نیولې ترمرکزي آسیا پورې رسیدلې د لویې لوبې یا ( The Great Game ) په نامه یادیږي چې د رقابتونو په وړاندې بیولو کې د روسیې او برتانیې حکومتونو قدم په قدم دیو بل کړنې او حرکتونه څارل او د خپلو مرامونو لپاره یې د نورو هیوادونو په چارو کې لاس وهنې کولې او له دې امله یې له خپلواکو هیوادونو څخه مستعمرې جوړولې ؛ ملي نظامونه به یې نسکورول او پر ځای به یې لاس پوڅی حکومتونه منځ ته راوړل او حتی له خپلې خوښې او رضایت سره سم به یې د هیوادونو نقشې او سرحدونه هم په بې رحمۍ سره بدلول .

افغانستان چې د آسیا د زړه په نامه ډېر حساس جیوپولیتیکې موقعیت په لرلو سره د نومړې سیمې په پیښو او حوادثو کې د پاملرنې وړ ځای درلود او په خپلواکۍ مینو خلکو یې د نورو واکدارۍ او د بهرنیو حاکمیت نشو زغملای نو ځکه به د دغو رقیبو ځواکونو د پلانونو او پروګرامونو په منځ کې خنډ واقع کېده چې په نتیجه کې وریاندې تیرۍ او تجاوزونه راتلل . د افغانانو او بریتانیې استعمارچیانو ترمنځ درې جګړې په ۱۸٤۲-۱۸۷۹ او ۱۹۱۹ م کې د دغو جریانونو له نتایجو څخه

شمېرل کيږي .

له نړيوال لومړي جنګ (۱۸-۱۹۱٤م) څخه وروسته چې داستعمارګرو او مستعمره شوو هيوادونو (ښکيلاک ګر او ښکيل شوو) ترمنځ اړيکې او مناسبات يوې نوې مرحلې ته داخل شول او بيا له دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته چې ډير مستعمره شوي هيوادونه خپلواکۍ ته ورسېدل نو دبريتانيې او روسيې ترمنځ رقابتونه او دښمني ګانې هم په پخوانې حال پاتې نشول او نړيوالو بدلونونو نوې سياسي څيرې او پوځي تړونونه منځ ته راوړل چې دشوروي کمونستي حکومت جوړيدل د يوې نوې پيښې او پديدې په توګه په نړيوالو پيښو او جريانونو باندې زيات اثر غورځاوه . په بل عبارت جهاني بدلونونو زړې سياسي لوبې ته نوې رنګ او نوي لوبغاړي رامنځ ته کړل چې په ماهيت کې يې لږ فرق درلود .

که داروپا دلويو هيوادونو ترمنځ سياليو او خصومتونو چې دلومړۍ جهاني جګړې په پای کې په آلمان باندې دوارسای معاهدو ډ سختو قيودونو او تاوانونو له امله دنازيانو افراطي نشنلزم ته لاره اواره کړه ، په همدې ډول دروسيې په مقابل کې دد غو قدرتونو بې پروايي او تسامح ددې سبب شول چې دجنګ په پای کې شوروي اتحاد په ظاهر کې ديو لوی کمونستي او په ماهيت کې ديو فاشستي قدرت په توګه بين المللی موقعيت پيدا کړي او دميليونو خلکو سرنوشت له عذاب ، مرګ او غلامۍ سره مخامخ کاندي .

په لنډه توګه له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته چې دبریتانیې امپراطوري دجهاني قدرت له مقام څخه رالویده اوماتیدو او تو ته کېدو خواته روانه وه دامریکا د متحده ایالاتو قدرت مخ په زیاتېدو شوی و .

دامریکاحکومت چې له لومړۍ جهانی جګړې وروسته یې د یو ستر سرمایه داري اومترقي هیواد په توګه بریالیتوبونه ګټلي وو دې ته چمتو شو چې دشوروي اتحاد اوسوسیالستي هیوادونو په مقابل کې دلویدیځ اروپا له ګتېو څخه دفاع وکړي او دکمونستي نړۍ په وړاندې دسرمایه دارۍ او آزادو هیوادونو مشري په غاړه واخلي .

په بل عبارت دامریکا حکومت د یو نوي لوبغاړي په توګه د بریتانیې ځای ونیو او شوروی اتحاد دتزاري روسیې ځای اشغال کړ او پخوانۍ سیاسي لوبې ته په یو بل شکل دتداوم زمینه برابره شوه .

دامریکا دحکومت په دغه رول هری ترومن ( Harry Truman ) دهغه هیواد جمهوررئیس ۱۹٤۷م کال په ۱۲ مارچ دامریکا کانګرس ته په یوې مهمې وینا کې ددنیا دحالاتو په وضاحت کولو دشوروي اتحاد له ګواښونو او خطرناکو هلوځلو څخه دامریکا اندیښنه څرګنده کړه او دهغوی دمخنیوی لپاره یې داسې ژمنه وکړه چې امریکا هغه بار په اوږه اخلي چې یې بریتانیه نورنشي زغملای .

په دې ډول دلویدیځ او ختیځ دبلاکونو مفاهیم منځ ته راغلل او دغه قطب بندي ورځ په ورځ پراخه اوشدیده شوه . دامریکا له خوا دلویدیځ بلاک هیوادونو دګتېو ساتنې او دشوروی اتحاد او ختیځ بلاک هیوادونو

په مقابل کې دهغو څخه مدافعې پوره ٤٥ کاله دوام وکړ او د ١٩٤٧ م له ١٢ مارچ څخه د ١٩٩١ م تر ٣١ دسامبر پورې چې دشوروي امپراطوري ړنګه شوه دوام درلود دغه دوران ته د ساړه جنګ (Cold War) دوران ویل کیږي . که څه هم دساړه جنګ ددروان لوبغاړي حکومتونه او هیوادونه نوردي خو په اصلي ماهیت او محتوی کې د دغې لوبې رقابتونه دهغې لویې لوبې ادامه بلل کیږي چې دشلمې پیړۍ ترلومړیو وختونو پورې دروسیې او بریتانیې ترمنځ روانه وه.

په دغې مودې کې که څه هم دامریکا په مشري دلویدیځ بلاک او دشوروي اتحاد په مشرۍ دختیځ بلاک ترمنځ مخامخ جنګ نه دی شوی خو په غیر مستقیمه توګه په دریمې نړۍ کې ددواړو بلاکونو په منځ کې جګړې او تکرونه راغلي چې دواړوخواووته یې درانه دسراومال تلفات هم رسولی دي .

که ددغو هیوادونو سیالیو اورقابتونو ته مختصرنظر واچول شي نو معلومیږي چې له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته دناتو او وارسا دپوځي تړونونو جوړښت دلویدیځ او ختیځ بلاکونه ترپخوازیات په پوځي چاروکې پیاوړی او غښتلی کړل او ددوی ترمنځ سیالي او رقابتونه هم یوې نوې مرحلې ته داخل شول .

له دوهم نړیوال جنګ څخه څو کاله وروسته ٥٢-١٩٥١ م دکوریا شخړې امریکا او شوروي اتحاد دجګړې خواووته راکش کړل او ددواړو دلو پوځي قوتونه دجنوبي اوشمالي کوریا دخواکونو ترڅنګ ودریدل .

دجګړې په پای کې چې دواړو خواووته درانه تاوانونه ورسېدل ، دکوريا دويش کرښه کلکه او تثبيت شوه خو مخاصمتونو يې دوام پيداکړ.

وروسته په ۱۹۶۲ م کال کې دبرلين دښار په سر جنجال چې دشورويانو له خوا دزمکې لارې پرې قروغ شوې وې دلويديځ او ختيځ بلاکونو دپوځې ټکر او تصادم امکانات را منځ ته کړل چې بيا وروسته ددواړو خواوو دتدبير په اساس له جګړې څخه مخنيوی وشو.

په همدې دول په ۱۹۶۲ م کې دامريکا پر ضد دکيوبا په خاوره کې دشوروي اتحاد دلوی واټن دتوغنديو ځای په ځای کيدلو سخت بحران رامنځ ته کړ چې بالاخره دامريکا دفشار او کلک مخالفت له امله شورويان مجبورشول چې خپل توغندي له هغه ځايه څخه بېرته وکاږي.

وروسته بيا دشلمې پيړۍ دشپيتمو کلونو په لومړيو وختوکې دويتنام دمسألې پر سر دامريکا اوشوروي اتحاد ترمنځ خونړۍ رقابت منځ ته راغی او دامريکا او شوروي پوځی ځواکونه دجنوبي اوشمالي ويتنام ترڅنګ دملاتړ لپاره ودرېدل چې کلونه کلونه يې دوام پيداکړ.

دويتنام له جګړې سره دامريکا دخلکو او دنورو سوله خوښوونکو مخالفت بالاخره دغه شخړه دجنوبي ويتنام دحکومت په شکست واړوله چې دامريکا دحکومت انديوال و. همدارنګه دکمبوديا دلاس پوځی حکومت ناکامی هم يو بل شکست وچې دامريکا پلويانو ته ورسېده.

په ويتنام او کمبوديا کې دامريکا دپلويانو شکست دشوروی اتحاد، شمالي ويتنام او پلويانو دقوت اوصلابت سبب وګرځېدل چې لومړی ځل

يې ترلاسه کړی و .

له بلې خوا په ۱۹٤۸ م کې د فلسطین قضیې او په ۱۹٥٦ م کې د سویز د کانال بحران هغه مسایل وو چې امریکا او شوروي اتحاد پکې خپلو طرفدارانو ته د ملاتړ او مرستې لپاره وړاندې شوي وو . لویدیځو هیوادونو د اسراییل په خوا او شوروي اتحاد د عربو له حقوقو څخه ملاتړ کاوه .

همدارنګه د انګولا او موزنبیق مسایلو چې تازه د پرتګال له اوږده استعمار څخه خلاص شوي وو او وروسته د کمبودیا ، لاووس ، ایتوپیا او نکاراګوا کشالو شوروي اتحاد او امریکا په زیاتو سیالیو او خصومتونو کې وغورځول چې په ځینو کې شوروي او ختیځ بلاک او په ځینو نورو کې امریکا او لویدیځ بلاک ته بریالیتوبونه په لاس ورغلل .

د شوروي اتحاد او امریکا ترمنځ وروستۍ او ډیره درنه مقابله په افغانستان کې منځ ته راغله چې د افغانانو د بې ساري مرګ ژوبلې او د افغانستان د دیرې ورانۍ باعث وګرځیده . هغه وخت چې شوروي اتحاد له لاس وهنو وروسته د ۱۹۷۹ م کال په دسمبر کې په افغانستان باندې ظالمانه تیری وکړ او د افغانستان مظلوم او سوله دوست خلک یې په یو تحمیلي جنګ کې راګیر کړل نو امریکا د افغانانو مرستې ته وړاندې شوه ،

او دا فرصت هم په لاس ورغی چې له شوروي څخه خپل زاړه انتقامونه واخلي.

د شوروي اتحاد یرغلګر پوځونه چې د افغانستان د دیندار غیرتي ولس

په بې مثاله ميړانه او قرباني، او ددوستو هيوادونو په مرسته او همکارۍ مجبور شول چې کوز سر له افغانستان څخه ووزي او بيا ورپسې دشوروي اتحاد کمونستي سيستم مخ په ورانېدو شي ، دامريکا متحده ايالاتو ته تاريخي برى په لاس ورکړ چې چايي دومره ژر اتکل هم نشو کولای .

په بل عبارت شوروي اتحاد په افغانستان کې له شکست خوړلو سره سم دساړه جنګ لوبه هم بايلوده او دشوروي دکمونستي نظام له ړنګېدو څخه وروسته دامريکا متحده ايالات دجهان ديوازينۍ ستر قدرت په توګه منځ ته راغلی .

څرنګه چې دلويې لوبې The Great Game او بيا دساړه جنګ The Cold War په دوران کې د افغانستان خلکوته دسر او مال درانه تاوانونه رسيدلي دي نو لازمه ده چې دلويې لوبې پيښو ته يو اجمالي نظر واچول شي او ورپسې دساړه جنګ په دوران کې دامريکا او شوروي اتحاد کړنې او کردارونه ترکتنې او تحليل لاندې ونيول شي چې دغو زبرځواکونو ( ابرقدرتونو ) په افغانستان کې څه اهداف او مقاصد درلودل او دهغو دلاس ته راوړلو لپاره يې په پټه او ښکاره څرنګه چال چلند غوره کاوه .

همدارنګه دامسايل به هم وسپړل شي چې ولې دافغانستان دغيرتي اوحق پرستو خلکوله دغو فداکاريو اوسرښندنو سره سره ددوی دمقدس جنګ اوملي پاڅون ارمانونه دسولې په راوستلو او ديوه قانوني او دخلکو داکثريت دتاييد ورحکومت په جوړولو کې تراوسه نه دي ترسره شوي .

# لومړۍ برخه

## په ۱۹ مه پیړۍ کې

دبرتانیې او روسیې رقابتونو اوسیالیو ته یوه لنډه کتنه

په ۱۹ مه پیړۍ کې وروسته له هغه چې په صنعت کې ماشین په کار ولوید دصنعتي هیوادونو ترمنځ زیاتیدونکې رقابتونه سیالۍ اوتضادونه منځ ته راغلل چې ریښې اوعلتونه یې د ۱۸ مې پیړۍ رقابتونو اومخالفتونو ته رسیدلي . ددغو سیالیو اورقابتونو اصلي علت اوسبب داومو او ارزانه موادو پیداکول او دهغو بهرته پلورل او دګټو لاس ته راوړل وو چې نړۍ یې په صنعتي او غیر صنعتي سرمایه لرونکو اوبې سرمایه هیوادونو وویشله او په دې ډول یې په نړیوالو اړیکو اومناسباتو کې بیخي

نوي باب خلاص کړ.

څرنګه چې د بریتانیې هیواد په صنعت کې له نورو هیوادونو څخه وړاندې او مخکښ و، مګر په یوه وړه جغرافیایي ساحه کې یې موقعیت درلود نوځکه یې داهلې ځلې کولې چې دیو غښتلې او مخکښ قدرت په توګه خپل رقیبان، لکه: فرانسه، هالند، آلمان، اسپانیا او نور په آسیا، امریکا او افریقا کې له صحنې وکاږي او یایې د فعالیت او اغېز منتوب ساحه ورلنډه کاندي.

له بلې خوا د هند له طبیعي زیرمو څخه د ګټې اخیستلو، چې اروپاییانو کې کومه علاقه پیدا کړې وه انګریزانو داغوښتل چې هلته باید له نورو څخه وړاندې او مقدم و اوسي. د همدغو سیالیو، رقابتونو او پراختیا غوښتنو په اساس و چې بریتانوي قواوې له فرانسوي قوتونو سره د امریکا، افریقا او آسیا په مختلفو سیمو کې په جګړو اخته شول او بریالیتوبونه یې هم لاس ته راوړل.

بریتانوي قواوو د Plassy په جګړه کې فرانسوي قوتونو ته ماته ورکړه او نور حریفان یې هم د هند له صحنې څخه وکاږل. له بلې خوا د روسیې تزاري هیواد چې هغه هم یو خاص جغرافیایي موقعیت درلود او له بندرونو او د استفادې وړ اوبو څخه لرې پروت و، په آسیا کې د بریتانوي حکومت غټ رقیب بلل کېده. روسانو د لوی پتر (۱۶۸۲ - ۱۷۲۵م) له وخته تود و اوبو ته د رسېدو خیال په خپل سر کې ګرځاوه.

د روسي تزاري حکومت چې شااوخوا یې واړه او کمزوره حکومتونه او

هیوادونه پراته وو ، په دې اقداماتو لاس پورې کړی و چې په خپل وړاندې تګ سره له یوې خوا د ترکیې له امپراطورې څخه چې کمزوره شوې وه ، متصرفات لاس ته راوړي او له بلې خوا منځنۍ آسیا او دقفقاز په سیمو کې پرمختګ ته دوام ورکړي او پرې نږدې چې دبریتانیې امپراطوري ستراتیژیک ځایونه ونیسي او دهند ثروتونه خپل کاندي .

په ۱۸۰۷ م کې دروس دامپراطور لومړي الکساندر او دفرانسې دامپراطور ناپلیون ترمنځ یو تړون هم وشو چې دهغه په اساس په هندباندې دحملې لپاره دواړو خواوو دهمکارۍ ژمنه هم کړې وه .

هرڅومره چې دروس او انګلیس ترمنځ بې اعتمادي ، رقابت او خصومت زیاتېده ددوي پراختیا غوښتنې پر هند ، مرکزی آسیا او قفقاز کې وړاندې تللې ، بریتانویانو تودو اوبو ته دروسانو درسېدلو لار مرکزي آسیا ګڼله او روسانو دبریتانویانو دامپراطوري ګټور ځایونه هند او جنوب ختیځ آسیا شمېرل . دواړو خواوو به داویل چې ددوی اقدامات دفاعي ماهیت لري او دیو بل په ګټو برید او تعرض نه غواړي.

په دې ډول دقدرت او زور لوبه چې په هغې کې دغو دواړو هیوادونو هریو ځان حق په جانب او مقابل طرف به یې متجاوز او مسوول باله پیل شوه چې دلویې لوبې The Great Game په نامه یادیدله . دغې لوبې له استانبول څخه ترهند او مرکزي اسیا وسعت درلود چې دشلمې پیړۍ ترلومړیو وختو پورې یې دوام پیداکړی و .

افغانستان چې دخپل ځانګړي جغرافیایی موقعیت په لحاظ دهند

د نیمې وچې او مرکزي آسیا ترمنځ د دغې لویې لوبې زړه او مرکز جوړ اوه ، له دې امله د بریتانیې او روسیې د استعماري ځواکونو له خوا وړاندې د تجاوز او تیري سپمانه کېدله په تېره بیا د بریتانوي استعمار له خوا وړاندې دوه ځله خونړي جنګونه هم تحمیل شول .

## الف : دافغانستان په لور دبریتانیې پرمختګ او په مرکزي آسیا کې دروسانو پراختیا غوښتنه

وړاندې له دې چې انګریزان د هند په نیمې وچې کې خپل قدرت او حاکمیت ټینګ کاندي په سیمه کې د افغانانو امپراطوري یوازینی ستر قدرت ګڼل کېده چې سرحدونه یې له پنجابه ترنیشاپوره او له جیحونه ترهندي سمندرګي پورې رسیدل .

لوی احمدشاه بابا ( ۱۷٤۷ م) چې د شاه شاهان لقب یې د هند د شمال په جګړو کې ګټلی و ، د بهرنیو له راتګ او نفوذ څخه د هند د ساتنې لپاره په دې عقیده و چې د دهلي مغلي حکومت او نورو سیمه ییزو ځواکونو ته مرسته ورکړل شي او په دې ډول هند ته د خارجیانو د راتګ مخنیوی وشي او د مسلمانانو دریځ او موقعیت وساتل شي.

احمد شاه بابا د اسلامي وروروولی په جذبې د دهلي تخت چې ده فتح کړی و بېرته مغلي پاچا ته ورکړ او هغو اروپایي کمپنیو ته چې د تجارت په مقصد جنوبي هند ته داخل شوې وې هدایت ورکړی و چې د دهلي د حکومت تر اوامرو لاندې چال چلند وکاندي .

وروسته بیا چې د تیمورشاه په وخت کې افغاني امپراطوري کمزوره

شوه نوبریتانویانو چې دختیځ هند دتجارت په نامه فعالیت درلود ورو ورو له زور او زر څخه په ګټې اخیستلو او په بهانو او پلموپرمختګ پیل کړ او خپل اقتدار یی غښتلی کړ.

انګریزانو پر هند دواکداری، تینګولو او دافغانستان خواته دنژدې کېدو په مقصد لومړی مدافعه یی سیاست وړاندې بیوه اوداکوشش یی کاوه چې دافغانستان دهغه قدرت مخنیوی وکاندي چې وړاندې یی په هند کې درلود . هغه وخت کی دهند یو شمیر محلی او سیمه ییزو امیرانو او واکدارانو دافغانستان له تولواک څخه پرله پسې داهیلې کولې چې دانګریزانو دزیاتېدونکی قدرت په مقابل کې هغوی ته مرسته ورکاندي .

له بلې خواحتی دفرانسې امپراتور ناپلیون چې دانګریزانو سخت مخالف بلل کېده دافغاستان پاچا لوی زمانشاه ته هم لیکونه لیږلي او تیاری یی ښودلی و چې له هند څخه دانګریزانو دایستلو لپاره دافغانستان حکومت ته مرسته ورکړی . مګر زمانشاه چې په خپل ځان کې یی دانګریزانو دمقابلې توان لیده دفرانسې دحکومت دغه کمک نه ومنلی .

انګریزان او روسان چې له ۱۸۳۰ څخه دافغانستان دسرحدونو خوا ورنژدې کېدل سیمه ییز حالات هم ورسره بدلیدل انګریزانو دهند لپاره له یوې خوا له افغانستان څخه خطر لیده او له بلې خوایی دروسیې دحکومت دخطر احتمالات سنجول چې دافغانستان له لارې به هند ته متوجه شي .

انګریزانو پرهند باندې دخپلو استعماري منګولو دخښولو په مقصد له هرې وسیلې څخه کاراخیست او خپل اقتدار یې غښتلی کاوه . ( دبېل یی

کړه ایل یی کړه ) ( Divide and rule ) ترپالیسي لاندې یې داکوشش کاوه چې سیمه ییز واکداران او قامي مشران په زوریا رضا دبریتانوي پلانونو تابع کړي او هغوی ترټولو زیات دافغانستان دحکومت او دهغه دپلویانو په مقابل کې استعمال کاندي.

همدارنګه له افغاني شاهزادګانو او شخصیتونو څخه چې دتبعید په حال هند کې اوسېدل هم ګټه اخستل کېده او دافغانستان دحکومت دکمزوري کولو او ړنګولو لپاره پکار اچول کېدل.

برسیره پردې انګریزي مقاماتو حتی افغانستان ته دتروریستي ډلو له استولو څخه هم ډډه نه کوله چې دوحشت او دهشت په اچولو افغاني حکومتونه فلج او کمزوري کاندي. له همدې امله دزمانشاه په ړندیدو کې چې د شاه محمود طرفدرانو له خوا سرته رسېدلی وو انګریزي تروریستانو دخل او غرض له احتماله لرې نه ښکاربده. له بلې خوا دبریتانیې (انګریزانو) حکومت دایران په قاجاري حکومت چې دروسیې صمیمي دوستو، فشار اچاوه چې هند ته بهرنی هیئتونه پرې نږدي او ددې مانع شي چې افغانستان په هند حمله او برید وکاندي. اوکه افغانستان په هند حمله کوي نوباید ایران، په شمال لویدیځ کی هرات تر تهدید او تجاوز لاندې ونیسي او پدې ډول افغانان له خپل اقدام څخه په شا شي.

دبریتانویانو دکړنو ورنو دوهمه مرحله تعرضي او دبرید مرحله وه او په هغې کې دانګریزی اقتدار لپاره ساحه پراخه او لوییدله انګریزانو لومړی دافغانستان دکمزوری لپاره په هند کی افغاني متصرفاتو ته لاس

واچاوه او ورپسې دسيمه ييزو قوتونو په مرسته دافغانستان خواته وړاندې لاړل ، چې دافغانستان دحكومت دړنګېدو وسايل برابر كاندي .

بريتانوي حكومت دهند دټروتونو دخوړلو اود سيمې دنورو هيوادونو دمستعمره كولو په خاطر داسې ښودل چې ګواكې دتزاري روسيې دوړاندې تګ دمخنيوي په خاطر په دغو اقداماتو لاس پورې كوي او له مرستې اوكومك څخه بل هدف نه لري .

البته دغه عوام فريبي او غولونې دخلكو دغافل كولو په خاطر كيدلې چې دنورو ملكونو نيولو او جنګ جګړو لپاره پلمې پيداكاندي . په دغې مرحلې كې دمخالفينو پيرودل ، مقام او پيشكش وركول او هم له زور او قوت څخه كار اخستل په ډير شدت وړاندې تلل چې ساري يې نه ليدل كېده.

لنډه داچې انګريزان چې دتجارت او سوداګرۍ ترنامه لاندې هند ته ننوتي وو ، په دې برياليي شول چې ډيرې سيمې اشغال كاندي او په خپلو عصري وسلو دمخالفينو مقاومت شنډ اوله منځه يوسي . انګريزانو چې دهندي مستعمرې دساتلو لپاره اوږده پلانونه درلودل نو ددغه هدف لپاره يې دخپل رقيب هيواد افغانستان خوا وړاندې تګ پيل كړ او دهند په شمال كې يې دسند په شا او خواكې ددفاعي خط جوړول ضروري وګڼل چې له هغه ځايه ورو ورو او فرصت څخه په استفادې په افغانستان كې لاس وهنې وكاندي .

دتاريخي شواهدو په اساس د ۱۸۳٦م په ۲۵ جون كې دبريتانوي

حکومت پټې کمیټې دهند ګورنر جنرال لارد اکلند ته داسې هدایت ورکړی و :

« په افغانستان کې دروسیې دوړاندې تګ سره دمقابلې په خاطر څرنګه چې غواړی عمل وکاندی » دپټې کمیټې دارنګه هدایت په داسې حال کې چې افغانستان ته دروسیې هیڅ خطرنه ومتوجه شوی یوازې دامعنی افاده کوله چې دبریتانیې دګټو دساتنې لپاره له هرډول خطر سره که دافغانستان دحکومت یا سیمه ییزو ځواکونو له خوامنځ ته راځي دروسیې له پراختیا غوښتنې سره دمبارزې په نامه معامله وشي .

لوی ژمانشاه چې دانګریزی استعمارګرو دورکولو او شړلو پلانونه یې په فکر کې درلودل دهمدغو دسیسو له لاسه چې له بهرڅخه یې لارښوونه کیده له قدرت څخه ولوید او په دواړه سترګو ړوند شو .

بریتانوی حکومت دافغانستان داشغال لپاره شاه شجاع دزمانشاه ورور استعمال کړ چې په هند کې یې د جلاوطنۍ شپې ورځې تیرولې . انګریزانو لومړی پر هغه دلاهور معاهده لاس لیک کړه چې دافغانستان د نیولو لپاره خنډونه له منځه یوسي .

له بلې خوا دروسیې دحکومت په تحریک او لمسون دایران قاجاري حکومت په ۱۸۳۷ م کې په هرات حمله وکړه او دایې هیله وه چې هرات له افغانستان څخه بیل کاندي . څرنګه چې دافغانستان خلکو او وطن پرستو هراتیانو دایران له قبضې سره سخت مقاومت وکاوه نو ایرانیان مجبورشول چې خپل قوتونه له هرات څخه بېرته وباسي ، له دغې پیښې

دوه میاشتې وروسته ویتکوویچ دروسیې دحکومت خاص استازی دخپل حکومت له یو لیک سره دامیر دوست محمد خان دربار ته کابل ته لاړ او غوښتل یې دروابطو په ترمیم کې هڅه وکاندي چې دهرات د واقعې له امله خراب او خړپړ شوي وو .

ددغه جریان په مقابل کې دبریتانیې حکومت چې دپلمې په انتظار کې و او پر افغانستان یې دیرغل نیت درلود داسې وښودله چې دروسیې دحکومت خاص استازی دامیر دوست محمد خان دمراجعې په ځواب کې راغلی او په اصل کې امیر د روس له حکومت څخه مرسته غوښتې ده چې پنجاب او پېښور له انګریزانو څخه خلاص کاندي . په دې ترتیب دبریتانیې حکومت پر افغانستان دیرغل امرونه صادر کړل . دانګریزانو هدف داوه چې په افغانستان کې دخپلې خوښې سړی دقدرت پر ګدۍ کښېنوي او خپلې ګټې وربانديې وساتي .

انګریزانو دافغان انګلیس په لومړی جنګ ( ۳۸-۱۸٤۲ ) کې په خپلو ( ٥٤١٥٠ ) نفرو پوځونو پر افغانستان بې مورده تجاوز وکړ او دامیر دوست محمد خان دحکومت له ړنګېدو وروسته یې شاه شجاع دافغانستان دباچا په توګه اعلان کړ چې له ځان سره یې له هنده راوستی و .

دانګرېزانو ددغه تعرض او دافغانستان دحکومت په ړنګېدو دافغانستان دخلکو عمومي پاڅون اومقاومت پیل شو چې د یر ژر یې دمتجاوزینو پلانونه ورشنډ کړل . دانګریزانو ١٦ زره عسکر او سیاسی نماینده ګان چې په کابل کې ووژل شول دبریتانیې حکومت برم اوشوکت ته

يې بې ساري تاوان ورساوه چې په امپراطوري کې يې لمرنه ډوبيده . په خپله بريتانيه کې د هند د ګټورې مستعمرې د ساتنې او حفاظت لپاره عموماً دوه نظريې موجودې وې چې د افغانستان او روسيې له خطرونو څخه يې خوندي وساتي .

په دې ډول چې د بريتانيې لبرالان په افغانستان باندې د حملې او تجاوز غوښتونکي نه وو او د ځاري (تزاري) روس د احتمالي خطر د مخنيوي لپاره يې يوازې داويل چې افغانستان دې عملاً د بريتانيې تر تاثير لاندې واوسي .

مګر د محافظه کارګوند مشران چې د وړاندې تګ د پاليسي ( Forward Policy ) کلک پلويان وو ، داويل چې بايد افغانستان اشغال او د انګريزانو تر کنترول لاندې راوستل شي . د محافظه کارانو د سياست ناکامي او په جنګ کې د افغانانو د برې له امله انګريزان مجبور شول چې امير دوست محمد خان چې په هند کې اسير شوی و بېرته د افغانستان د پاچا په توګه ومني . امير دوست محمد خان په ۱۸٤۳ م کې بېرته پاچاهي ته ورسېد خو انګريزانو يو لړ شرايط هم ورباندې منلي وو چې د هغو په اساس د افغانستان ځينې سرحدي برخې د انګريزانو تر کنترول لاندې راتللې .

په افغانستان باندې د انګريزانو تجاوز او شکست او د انګريزانو د استعمار په مقابل کې د افغانانو نفرت او مخالفت له يوې خوا او په هند کې د انګريزانو د حکومت په مقابل کې د هنديانو شکايتونو او مقاومتونو

دروسيي ځاري حکومت ته داموقع برابروله چې خپلې پراختياغوښتنې ته ادامه ورکاندي.

شاهزاده گورچکوف د ۱۸٦٦ په غرور سره ويل چې « په مرکزي آسيا کې به دروسيې دريځ کټ مټ هماغسې وي چې متمدن دولتونه يې دهغو نيمه وحشي اولالهانده قبايلو په مقابل کې لري چې اجتماعي موسسات يې نه لري او بې حرکته پاتې دي په داسې شرايطو کې دسرحدونو امنيت او تجارتي روابط متمدن دولتونه مجبور وي چې په هغو گاونډيو هيوادونو او سيمو کې دبرلاسي لپاره ځينې اقدامات وکاندي چې اړاو دوړ او باغي غريزې ددوی پر گاونډکې ژوند مشکل کړی دی ، خو لوی مشکل په دې خبره پوهېدل دي چې سړی چيرته پښه ونيسي » .

دروسيې حکومت په داډول تحليل او تفکر ورآندې تگ ته دوام ورکړ .

دروسيې پوځي قوتونو په ۱۸٦۸ م کې دجنرال کوفمن په مشرۍ سمرقندونيو او وروسته په ۱۸۷٤ م کې دخيوا دخلکو عمده مقاومت مات شو او دغه سيمې دروسيې ترکنترول او اداري لاندې واغلې چې البته له روسانو سره دبخارا دخان همکاري پکې ډير رول درلوده .دبريتانيې يو خارجه وزير لارد پالمرستون ليکلي وو :

« ... دروسيې دحکومت پاليسي او عمل دهيوادونو دلاندې کولو لپاره پرمخ ځي او تل بيړه کوي چې دخپل تسلط لمن ژر پراخه کاندي . خو روسان هغه وخت ستړي شوي او پښه يې نيولې ده چې له يو کلک او مصمم مقاومت سره مخامخ شوي دي ، بيا يې ديو بل مناسب فرصت لپاره ځه

انتظار ایستلی او چې موقع په لاس ورغلې نو بیا یی په نظر کې نیول شوي ښکار لپاره یو بل ته توپ وهلی دی . . »

د روسیې د حکومت د پراختیا غوښتنې په اړوند یو انګلیسي جنرال General Charles Macgroger په ۱۸۸٤ م کې خپل تحلیلی نظر داسې څرګند کړ چې د روسیې او بریتانیې مشکل هیڅکله حل کیدای نشي مګر دا چې روسیه له ترکستان ( تقریبا اوسنی مرکزي آسیا ) او قفقاز څخه ونه شړل شي . » بریتانوی حکومت چې د روسیې د حکومت وړاندې تګ خپلو ګټو ته لوی ګواښ او خطر باله یو ځل بیا په دې فکر کې شو چې خپل پوځی قوتونه د افغانستان په زړه او د هندوکش په غره کې ځای په ځای کاندي سره له دې چې دا کار له خطرونو ډک هم ښکاریده .

د هند وایسرا لارد لاتین یو ځل ویلي وو چې افغانستان د ژرندې د دوه تیږو ترمنځ دیوې غنم له دانې زیات نه دی یا دې بریتانیې او یا دې روسیې پورې وتړل شي .

د وایسرا د دغه لنډ او مغرور تفکر په مقابل کې امیر شیر علی خان داسې ځواب ورکړی و چې افغانستان په حقیقت کې د ترازو د شاهین حیثیت لري چې که هرې خوا میلان وکاندي بله خوا هوا ته جګوي .

له بلې خوا کله چې د سان ستیفانو د تړون په اساس د ۱۸۷۸ م په جنوری کې د روسیې حاکمیت په بالقان کی تثبیت او منل شوی و خو د انګلیس - آلمان او اطریش د حکومتونو په مخالفت روسیه دې ته مجبوره

شوې وه چې د برلین په کنګره کې د سان ستیفانو پر تړون له سره نوي نظر وکاندي .

د روسیې حکومت له دغه فشار څخه د خلاصون په مقصد داسې هڅې پیل کړې چې د انګلیسانو توجه د هند مسایلو ته راواړوي . له دې امله روسانو د ستولیتوف په مشرۍ یو هیئت کابل ته واستاوه چې د ۱۸۷۸ م په جولای کې یې مذاکرې پیل کړلې . له دغه جریان سره موازي چې د برلین په کنګره کې د روسیې او ترکیې د حکومتونو ترمنځ سوله راغله نو روسانو له افغانستان سره یو د م خبرې وشلولې چې په حقیقت کې یې د بریتانوي حکومت د ډارولو لپاره پیل کړې وې .

څرنګه چې د روسیې د هیئت مذاکرې د افغانستان له مشکلاتو سره اړه نه درلوده او اصلي مقصد یې د سان ستیفانو د معاهدې له فشار څخه د ځان ژغورنه وه ، مګر بریتانوي حکومت د روسیې هیئت سفر کابل ته یوه بله پلمه وبلله او داسې یې تعبیروله ، چې ګواکې امیر شیرعلیخان له روسانو سره متحد شوی او غواړي په بریتانوي هند باندې یرغل وکاندي . په داسې حال کې چې امیر شیر علیخان له انګریزانو سره د ښو اړیکو طرفدار و .

د همدغو پلمو او بهانو په اساس د بریتانیې حکومت د ۱۸۷۸ م کال په اکتوبر کې امیر شیر علی خان ته داسې یو مبهم التماتوم ورکړ چې د انګلیس د حکومت غوښتنې ومني . ورپسې د بریتانیې پوځونو پر افغانستان یرغل او تجاوز پیل کړ په داسې حال کې چې د افغانستان خلکو داسې تجاوز ته نه میل او نه تیاري درلوده .

دانگریزانو ٦٠ زرو مجهزو پوځونو له درې خواوو په ۱۸۷۹ م کال کې پر افغانستان بی رحمانه یرغل شروع کړ چې ساری یی نه لیدل کېده . افغانانو یو ځل بیا دخپل وطن او استقلال دساتنې لپاره میړنی مقاومت ته زاووتل او داځل یی دکیوناري دانګلیس سفیر اونور انګریزانو په وژلو بیاهم یرغلګرو ته سخت ګوزار ورکړ چې په نتیجه کی یی بیا هم انګریزان دې ته مجبورشول چې له افغانستان څخه بالخاصه دمیوند په تاریخي جګړې کې له شکست وروسته ژر ترژره ووزي . انګلیسی مقاماتو له پوځي یرغل څخه وروسته د یو ساختـه ګي تړون متن دافغانستان او روسیی دمعاهدې په نامه خپور کړ چې اصلاً موجود نه و . په دغه متن کی داسی ذکر شوي وو:

« دروسیی اردو کولای شي چې له افغانستان څخه تېر او په هند حمله وکاندي روسیه کولای شي په افغانستان کې داورګاډی پټلۍ او دتلګراف لینونه وغځوي ، افغانستان به دروسیی ملګری او متحد وي . ددغې همکاری په بدل کې به دهند له فتحې وروسته افغانستان ته دکشمیر ، پنجاب ، سنده ، بلوچستان ، دیره جات او پیښور علاقی بېرته ورکول کیږي . البته داهغه علاقې دي چې دانګریزانو له خوا دافغانستان له قلمرو څخه په زور جداکړای شوي وې .

هغه قرار داد چې دافغانستان او دروسیی دخاص استازی ترمنځ لاس لیک شوی و ، دغه لاندی مطالب یې درلودل : « ... دروسیې له خوا دافغانستان دولیعهد رسمي پیژندنه ، په روسیې کې دافغاني تاجرانو

PROPERTY OF ACKU 7967

او تجارت ته آسانتیاوې ، په صنعت او تجارت کې د افغاني محصلینو منل او بهرنی حملې په صورت کې به روسیه افغانستان ته له خپل امداد او مشورو څخه سپمانه کوي په دې شرط چې د روسیې د حکومت له خبرتیا پرته له کوم بهرني هیواد سره په جنګ لاس پورې نه کړي . »

له دې وړاندې د بریتانیې خارجه وزیر د اکتوبر په ۱۲ مه نیټه د هند وایسرا لارد لاتین په نامه داسې لیکلي وو :

« له دې وروسته باید افغانستان د یو کل په توګه موجود نه وي » د افغانستان د شمال متعلق باید د روسیې عکس العمل ته انتظار وایستل شي که پر مختګ وکاندي په هغه صورت کې باید د افغانستان شمال هم اشغال او د آمو سیند د برتانوي هند او څاري روسیې ترمنځ د سرحد پوله وګرځول شي .

د هند وایسرا په خپل استکباري خصلت سره ویلي وو چې د انګریزي پوځونو له خوا د افغانستان اشغال باید دوم‌ره دوام وکاندي چې افغانان د بریتانوي هند له اطاعت سره عادت واخلي .

انګریزي پوځونو د خپلې استفادې لپاره داخل محمد یعقوب خان د امیر شیر علی خان ناروغه زوی له ځان سره راوستی و چې هیڅ کاریی د انګریزانو له اجازې پرته نشو کولای . امیر شیر علی خان د بین المللی مرستو د غوښتلو لپاره مزارشریف ته تللی و او په ټول افغانستان کې له انګریزانو سره ملي او اسلامي مقاومت روان و . امیر شیر علی خان د انګریزانو د حملی په مقابل کی له روسانو څخه د مرستې غوښتنه کړې وه

چې روسانو نه وه منلې او داځواب يې ورکړی و چې امير دې له انګريزانو سره سوله وکاندي . امير شير عليخان په ۱۸۷۹ م په فبروري کې مزار کې وفات شو .

بريتانوي مقاماتو د ۱۸۷۹ م کال په ۲٦ مئي کی په محمد يعقوب خان باندې د ګندمک شرميدونکی معاهده په زور ومنله چې دهغې په اساس دافغانستان ځينی سيمی ،ارتباطی لاری او مهم معبرونه ، لکه : خيبر ، بولان ، پيواړ اوهمدارنګه کوټه ، پښين او بلوچستان له افغانستان څخه بيل کړای شول .

دبريتانيی ديرغلګراردو يو مشهور جنرال رابرتس G. Roberts چې داعلی قوماندان په توګه يی دنده درلوده ، دکابل له نيولو څخه يی وروسته داسي ليکلي وو :

« موږ کابل ډير په روسی دول وليده نه په انګريزی، ځکه په خزانه کې روسيې پيسې موجودې وې او افغاني منصبدارانو دروسيې افسرانو غوندې جامې اغوستلې .. »

بريتانوی مقاماتو که هرڅومره دافغانانو مقاومت اومبارزوته منفی تعبيرونه ورکول خوکله کله ددوی دافسرانو له خولو څخه حقايق هم راوتل.

همدغه جنرال رابرتس له پوځي اشغال څخه يو څوموده وروسته خپلو آمرانو ته داسی وليکل :

« .. زه داسی حس کوم هرڅومره چې افغانان موږ لږ ووينی له موږ څخه به لږ نفرت وکاندي .. »

په کابل کې دانګلیس دنماینده ګانو وژل کیدل دانګلیس سفارت ته اوراچول او په میوند کې دبریتانوی پوځونو شکست خوړل ددې سبب شول چې انګریزان په بیړه له افغانستان څخه په شا وتښتي . بریتانوي پوځیانو په حقارت سره خپل شکست داسې تعبیراوه چې له موږ سره خو یوازې افغانان نه جنګیدل ، بلکه دروسانو توپچیان دافغانانو د توپخانې ترشا پرموږ اورونه اورول . . .

دبریتانیې حکومت چې دافغانستان دخلکو دشدید مقاومت ، وطن پالنې او آزادۍ دوستۍ څخه په خپل پلان کې ناکام شوي وو نوښه داورته ښکاره شوې وه چې دافغانستان اداره بېرته افغانانو ته وسپاري او ځان له لوی تاوان او جنجال څخه خلاص کاندي .

په دې وخت کې سردار محمد ایوب خان دمیوند فاتح او سردار عبدالرحمن خان دپاچاهۍ هیلې کولې ، خو څرنګه چې له محمد ایوب خان څخه انګریزانو ښې خاطرې نه درلودلې نو دیو تړون په نتیجه کې یې موافقه وکړه چې عبدالرحمن خان دافغانستان واګې ترلاسه کړي .

په افغانستان کې دبریتانوي پوځونو له یرغل او شکست سره سره دروسانو پرمختګ په مرکزي اسیا کې ونه دريد او روسي پوځونو له سمرقند څخه وروسته تاشکند ، خیوا او بخارا هم ونیول او دافغانستان ترپولویې ځانونه رانژدې کړل . عبدالرحمن خان په خپلو سیاسي تجربو داغوښتل چې دځاري روسیې اوبریتانوي امپراطورۍ ترمنځ موازنه وساتي او پرې نږدي چې روسیه افغانستان خوارا وړاندې شي .

دعبدالرحمن خان له دغو کوششونو سره سره روسانو يو ځل په ۱۸۸۲ م کې دشغنان له لارې او دوهم ځل په ۱۸۸۵ م کې دپنجده له لارې پر افغانستان يرغل وکړ. افغانستان چې دپخوانۍ معاهدې په اساس له انگليسانو دمرستې هيله درلوده خو انگليسان سره له ليکلې ژمنې دې ته حاضر نشول چې دپنجده په اشغال کې له عبدالرحمن خان سره مرسته وکاندي.

په ۱۸۹۵ م کې دروسانو پر مختگ په مرکزي آسيا کې دوام پيدا کړ ترهغې چې دبريتانيې او روسيې دحکومتونو ترمنځ په ۱۸۹۵ م کې يو لړ موافقې منځ ته راغلې او دهغو په اساس روسانو نيمايي لوی پامير ونيو او کوچنی پامير له واخان سره افغانستان ته پاتې شول. په ۱۸۹۶ م کې روسانو دبدخشان او درواز سيمی بير ته افغانستان ته وسپارلې او په دې ډول افغانستان هم دآمو سيند په شمال کې له خپلو متصرفاتو څخه تير شو.

عبدالرحمن خان دخپلو تجربو له مخې چې دروسانو له سياسي او اداري سيستم څخه يی درلودلې او پر هغوي يی باور کول خطا کار گڼه او ډيره زياته پاملرنه يی کوله چې له روسانو سره په کومه موضوع کې ښکيل نشي.

کوم وخت چې په ۱۸۹۵ م کی دامير زوی سردار نصرالله خان دبريتانيی دحکومت په رسمی بلنه دلندن په يوې خاصې ميلمستيا کې گډون کاوه، عبدالرحمن خان يوه ليکلې لارښودنه - چې ۳۳ فقرې يی

درلودلې - هغه ته ورکړې وه او په ۱۵ مه فقره کې یې داسې لاربنود نه شوې وه :

« ... که په میلمستیا کې د روسیې د دښمنۍ خبره یاده شي او یا هم د روس سفیر زما د ستر گو له تور څخه وپوښتي چې روس د تاسې دښمن دی او که دوست نو په ځواب کې یې لنډ خو د ډیرو معناگانو لرونکي ځواب (قلیل اللفظ کثیرالمعانی ) وویل شي چې که روس زموږ د ترپښو لاندې کولو اراده نه لري موږ هم د سرحد د هغه خوا سیمو د نیولو نیت نه لرو . فقط »

عبدالرحمن خان چې د تحول او اصلاحاتو غوښتونکی واو په دې یې ډیر تاکید کاوه چې غښتلی مرکزي حکومت ، ملی وحدت - مجهز نظامي قدرت او باخبره استخبارات کولای شي چې اصلاحاتو ته لاره خلاصه کاندې . عبدالرحمن خان له انگلیسانو سره د ۱۸۸۰ م د معاهدې له امله چې د تاج او تخت د گټلو لپاره یې کړې وه او تریو شمیر بندیزونو لاندې راغلی و ، ژر یې مناسبات له انگلیسانو سره مخ په ورانېدو شول .

په ۱۸۹۳ م کې انگلیسانو گواښ وکړ چې یوه فرقه عسکر به د جنرال رابرتس په مشرۍ د خیبرو لپاره جلال آباد ته واستوي . د انگلیسانو حکومت چې په اصل کې د استعماري گټو لپاره نه قانع کیدونکی حرص درلود ، د افغانستان حکومت یې تر داسې فشار لاندی نیوه چې د خیبرو اترو له لارې د هغوی غوښتنې ومني .

د همدغه مقصد په خاطر یو انگلیسي هیئت د ډیورنډ Mortimer

Durand ترمشرى لاندې کابل ته لاړ او د تهديد او ګواښ ترڅنګ يې داسې وړانديز دافغانستان حکومت ته وکړ چې يادې امير د غه تړون له مل نقشې سره لاس ليک کاندي او يا دې جنګ ته غاړه کښيږدي ، چې البته دروابطو په شليدلو سره به پيل شي .

عبدالرحمن خان د کابل د تخت په خوښولو دانګريزانو د ګواښونو په مقابل کې دې ته حاضر شو چې دانګريزانو ليکل شوې معاهده په ۱۸۹۳م کې لاس ليک کاندي . ددې معاهدې په اساس دافغانستان دبدن لويه برخه ځينى جلا او د انګريزانو ترکنترول لاندې راغله .

دډيورند دغه په زورمنل شوې معاهدې او خيالي سرحدي کرښې چې له چمترال څخه ترملک سياه تر غرونو پورې ۱۵۰۰ ميله ايستل شوې وه دافغانستان ملت ته غير طبيعي او له رنځه ډکه مستقبل رامنځ ته کړ او راتلونکيو حکومتونو ورسره مجادلو ته دوام ورکړ.

له بلې خوا په دغه وخت کې دبريتانيې يو مشهور جغرافيه پوه Sir Halford Mackinder په يوې مهمې ويناکې دمنځنۍ آسيا په ستراتيژيک اهميت وغږيد چې دهغې په اساس دبريتانيې حکومت دې ته تشويق شو چې خپلې استعماري منګولې په دغې سيمې کې لاتينګې وساتي . نوموړي په خپله ويناکې په دغه اصل تاکيد کړی و چې :

« منځنۍ آسيا يوه مهمه سيمه وه او وي به ، ځکه دده په فکر دغه سيمه د تاريخ دجغرافيايي محور Geographical pivot

of History حیثیت لري . هرڅوک چې مرکزي یا منځنۍ آسیا کنټرول کاندي په حقیقت کې Eurasian Landmass کنټرولوي ، هغه څوک چې Eurasia کنټرولوي په حقیقت کې دنیا کنټرولوي.. »

دبریتانیې حکومت دد غو مشورو او مفاهیمو په نظر کې نیولو سره له یوې خوا خپل حاکمیت او اقتدار ته په هند کې دوام ورکړ او له بلې خوا یې داسې کوششونه پیل کړل چې له څاري روسیې سره خپل مناسبات ښه کاندي او په ګډه له دغې سیمې څخه خپلو اسعماري ګټو ته دوام ورکړي.

بریتانویانو دعبدالرحمن خان له مړینې وروسته په ۱۹۰۵ م کې هغه تړونونه او تعهدات دده په زوی امیر حبیب الله خان باندې تحمیل کړل چې دهندي مستعمرې لپاره مشکلات ورته پیدا نشي .

له بلې خوا ددغو جریانونو او حوادثو ترڅنګ دجهان په وضعه کې هم بدلونونه راغلل چې دهغو له امله دروسیې او بریتانیې سیالۍ او رقابتونه یو څه لږ شول .

په ۱۹۰۷ م کې دروسیې او بریتانیې داستازو ترمنځ یو تړون لاس لیک شو چې دهغه په اساس ایران په درې برخو ( دبرتانیې تر اثر لاندې ، دروسیې تر اثر لاندې او بیطرفه برخه ) ویشل شوی و. ددغه ویش په اثر دایران هغه لفظي استقلال هم له منځه لاړ چې پخوا یې درلوده .

نوموړی تړون دافغانستان په برخې کې دغه ټکي درلودل :

۱ - دبریتانیې حکومت دا په ډاګه کوي چې هیڅ نیت نه لري چې

دافغانستان وضعې ته بدلون ورکاندي . له دې علاوه دبريتانيې حکومت ژمنه کوي چې په افغانستان کې به له خپل اثر او رسوخ څخه دامنيت او مصوونيت دټينګښدو په خاطر کار اخلي او له خپلې خوا او يا دبل چاله خوا به روسيې ته ګواښ او تهديد نه رامنځ ته کوي .

۲- دبريتانيې حکومت د ۱۹۰۵ م دمعاهدې له مخې چې په کابل کې لاس ليک شوې او داسې وايي چې له عبدالرحمن خان سره خپلو ژمنو ته وفادار دی او دافغانستان په چارو کې دلاس وهنې نيت نه لري اوس هم داژمنه او تعهد کوي چې دنورو معاهدې خلاف به دافغانستان دخاورې کومې برخې نيولو او ضميمه کولو ته اقدام نه کوي او هم به دافغا نستان په کورنيو چاروکې مداخله نه کوي خو په دې شرط چې دافغانستان امير هم خپلې ژمنې دهغه تړون له مخې دبرتانيې دحکومت په مقابل کې ترسره کاندي .

۳- دروس او افغانستان ددولت مامورين چې دسرحدي ولاياتو په پولو کې خاص ددغه کار لپاره ګمارل شوي دي مجاز دي چې دمسايلو دتصفيې په خاطر مستقيماً يوله بل سره تماس ونيسي .

٤- دبريتانيې او روسيې حکومتونه په افغانستان کې دمساوي تجارت په اصل خپل نظريات بيانوي او په دې موافقه کوي هغه آسانتياوې چې په موجوده حالت کې شته يا له دې وروسته منځ ته راځي په هغو کې د بريتانوي هند تجارت او تاجرانو ته ، همدارنګه روسي تجارت او تاجرانو ته يو ډول رعايت کيږي او هرکله چې دتجارت پرمختيا داضرورت

منځ ته راوړي چې تجارتي استازي وټاکل شي نو دواړه حکومتونه به په دې باره کې لازم تصمیمونه غوره کوي .

٥ - دغه مواد هغه وخت عملي او اجرا کیدای شي چې دبریتانیې حکومت دافغانستان دامیر موافقت حاصل کړي او دروس حکومت ته یې خبر ورکاندي . آما هغه وخت چې انګلیسي مقاماتو دغه تړون دافغانستان دامیر دخبرتیا لپاره وړاندې کړ نو امیر حبیب الله خان هغه رد کړ او له خپلې موافقې څخه یې ډډه وکړه .

دروسیې حکومت بیاهم دبریتانیې حکومت ته دا ډاډ ورکړی وچې دافغانستان دامیر له لاس لیک پرته هم دغه تړون داجرا وړ بولي .

ګرچه ورروسته بیا د st. Petersburg دموافقې په اساس لویه لویه په ظاهري ډول پای ته ورسېده او روسیې او برتانیې دافغانستان په باب دبفرستیت حالت ومانه خو دافغانستان خارجي سیاست د ١٨٨٠ م دمعاهدې په اساس بیاهم دبریتانیې دحکومت په لاس کې پاتې شو .

په دې ډول کوم وخت چې دلومړی جهاني جنګ لپاره صف بندۍ ګانې کیدلې په افغانستان کې داستعمار ضد احساسات مخ په زیاتېدو وو او دسراج الاخبار خپرونو چې له استعمار سره دمبارزې ترڅنګ یې دعالم اسلام ویښتیا او تحرک غوښتېه ، خلک دې ته تودول چې دبریتانوي حکومت ضد اتحاد سره لاس یوکاندي .

له بلې خوا په ١٩١٥ م کې د آلمان - اطریش او ترکیې یو سیاسي هیئت هم افغانستان ته راغلی و چې دخپلو هیوادو دمشرانو پیغامونه

دافغانستان حکومت ته ورسوي او هغوی دبریتانیی ضد اتحاد ته راوبولي.

په افغانستان کې دبریتانیې ضد داتحاد ډله چې امان الله خان پکې و اوبله ډله چې بیطرفی یی غوښتله ورځ په ورځ بحران خواته نژدې کیدلې ، نوله دې امله حبیب الله خان په ۱۹۱۵ م کې لویه جرگه راوغوښته چې دنړیوال جنگ په باره کې پریکړه وکړي .

دحبیب الله خان حکومت په لویه جرگه کې په دغه دریځ ټینگار کاوه چې افغانستان باید په خپلې بیطرفۍ له انگلیسانو سره خپله کشاله دمفاهمې اومذاکرې له لارې حل کاندي او په جنگ کې بیطرفي غوره شي.

بالاخره افغانستان په جنگ کې بیطرفي غوره کړه خو انگریزانو له جنگ څخه وروسته کومه وعده چې دافغانستان دسیاسی استقلال په رسمیت پیژندلو لپاره کړې وه تر پښو لاندې کړه او هغه څه یی هیرشول چې دجنگ په دوران کې یی دافغانستان له حکومت سره ژمنه کړې وه .

له بلې خوا دآلمان حکومت چې دبریتانیې دحکومت ستر مخالف و ، په ۱۹۱۸ م کې دشوروي روسیې له نوي انقلابي حکومت سره په « برست لیتوفسک » کې دسولې یوه معاهده لاس لیک کړه ، دهغې معاهدې په اومه ماده کې دافغانستان او ایران په اړوند داسې لیکل شوی وو :

« دافغانستان او ایران دولتونه باید آزاد او مستقل وي او هیچا پورې ونه تړل شي . دسولی دمعاهدې لاس لیک کوونکی هیوادونه موظف دي چې دافغانستان او ایران سیاسی او اقتصادی استقلال اوتمامیت ته

درناوی وکاندي »

له نړيوال لومړي جنګ څخه وروسته ددواړو رقيبو قدرتونو يعنی بريتانيې او روسيې په چال چلند کې ژور بدلونونه راغلل او افغانانو ته دا فرصت پيدا شو چې د خپل بشپړ استقلال اعلان وکاندي او دبريتانيې امپراطوري هم مجبوره شوه چې دافغانستان استقلال په رسميت وپيژني .
بايد زيات شي سره له دې چې دامير حبيب الله خان حکومت دانګليسانو دنظر خاطر خواهی کوله او برخلاف انګليسانو په خپل استعماري منطق دافغانستان د آزادی وعده تر پښو لاندې هم کړه خو په افغانستان کې دسياسي فعاليتونو اونشراتو په خاصه توګه دسراج الاخبار انقلابي او استعمار ضد خپرونو له امله د آزادی پلويان ورځ په ورځ زيات بدل اوحتی دهند د آزادی پر جنبش باندې يې هم ژور تاثيرات غور ځول .

## ب : دبريتانيې او روسيې په روابطو کې بحران او دافغانستان دخپلواکی اعلان

دلومړی جهاني جنګ په پای کې انګلستان دمتفقه هيوادونو په کتار کې ديو فاتح هيواد په توګه رامنځ ته شو چې خپلو رقيبانو آلمان ، اطريش او ترکيی ته يی ماته ورکړې وه . بريتانيې او فرانسې برسيره پر دې چې د آلمان اوترکيې مستعمرې په خپلو منځونو کې وويشي دايران دهيواد ويش ته يی هم لاس وراندې کړ چې دبرتانيې تر پوځي اشغال لاندې و .

همدارنګه په يوې بلې معاهدې کې دبخارا دامير تعهد هم اخيستل

شوی و چې دهغه هیواد راتلونکی مقدرات دبریتانیې ترکنترول او اداري لاندې وي .

له بلې خوا دجنګ په دوران کې دڅاري روسیي حکومت خپل متحد دبریتانیی حکومت ته داژمنه هم کړې وه چې کـه دافغـانستان له خوا دبریتانوي هند پر ضد اقدامات وشي نو دروسیی حکومت به دبریتانیی په ګټه مداخله وکاندي .

دبریتانیی امپراطوري دهند دساتنې او دخپلو ګټو دخوندي کولو لپاره ۳٤۰ زره وسله وال پوځ هم درلود چې له هر ګـواښ او خطر سـره یې بـه مقابله کولای شوه .

ددغه صورتحال په مقابل کې کوم وخت چې دروسیی څاري حکومت نسکور او پرځـای یې دبلشـویکانو حکومت جوړ شو نو په سیمـه کې سیاسي موازنه ګډه وډه شوه او دافغانستان پاچا امان الله خان له فرصت څخه ګټه واخیسته او له انګریزانو څخه یې دافغانستان دبشپړ استقلال اعلان وکړ . امان الله خان چې د ۱۹۱۹ م کال د فبروري په ۲۳ مه دخپل پلار امیر حبیب الله خان له شهادت وروسته قدرت ته ورسېد ، دفروری په ۲٤ مـه نیټه یې دافغـانسـتان دبشپړ استقـلال اعـلان وکړ . دا اعـلان دبریتـانوي حکومت لپاره چې ستر پوځي قدرت یې درلود ، دنه منلو وړ خبـره شمیـرل کیـده . دحبیب الله خـان دشهـادت په مـورد کې خـانداني اختـلافـونه عـامل ویل کیـدل او دا آوازې هم وې چې دده په قـتل کـې شـوروي‌انو لاس درلود ، ځکه حبـیب الله خـان دمرکزي آسیـا دخـانانو

دآزادۍ لپاره د مرستو اقدام کړی و .

امان الله خان لومړی د ۱۹۱۹ م په مارچ دریمه د هند وایسرا لارډ چلسفورد ته یو لیک واستاوه او په هغه کې یې د پخوانیو معاهدو بطلان او بې اعتباري اعلان کړه او غوښتنه یې وکړه چې د دواړو هیوادونو ترمنځ دې د مساوي دریځونو په اساس نوې معاهده جوړه شي .

امان الله خان ښه پوهېده چې د بریتانیې د طاغوتي قدرت له شره به داسې آسانه خلاص نشي نو ځکه یې خپلې د پلوماسۍ ته ادامه ورکړه او د روسیې له نوي انقلابي حکومت سره یې د روابطو ټینګول وغوښتل چې د خپلواکۍ ، د نورو په کورنیو چارو کې د نه مداخلې ، مساوات او ښه ګاونډیتوب شعارونه یې ورکول . امان الله خان له بلشویک روسیې او نورو اروپایي هیوادونو سره د روابطو ټینګولو په مقصد ژر یو هیئت مسکو ته ولیږه او د بلشویک روسیې حکومت هم په ۲۷ مارچ د لومړني دولت په توګه د افغانستان خپلواکۍ په رسمیت وپېژندله .

د بریتانیې حکومت چې د امان الله خان لیک ته په ځنډ ځواب ورکړ او په هغه کې یې د امان الله خان د غوښتنې متعلق هیڅ هم نه وو لیکلي ، نو له دې امله امان الله خان ، فکر کاوه چې نور لیکل او مذاکره کول کومه فایده نه لري په دې اساس د ۱۹۱۹ م د مئې په میاشت کې د عمومي سفربرۍ اعلان خپور کړ او د انګریزانو په پوځي مرکزونو باندې د سرحد په سیمو کې د بریدونو او حملو اوامر هم صادر کړل . د امان الله خان د غه اقدام په خلکو کې ډیر شور او شوق راپیدا کړ چې د وطن د خپلواکۍ د اعاده کولو

لپاره دجنګ میدان ته راووزي. حتی دانګریزانو پر ځینو چونیو اومرکزونو کې - سپایانو دخپلو افسرانو په مقابل کې هم پاڅونونه وکړل چې البته دغو کارونو انګریزانو ته زیات تشویشونه رامنځ ته کړي و.

څرنګه چې دبریتانیې حکومت چې دهند له مستعمرې څخه دګټو اخیستلو په مقصد تل داهڅه کوله چې افغانستان ګوښه او منزوی اوله بهرنۍ نړۍ څخه بې رابطې وساتي او دافغانستان خلک له ترقی او پرمختګ څخه محروم کړي خو دافغانانو دټینګ عزم او ددنیا دحالاتو دبدلون له کبله دې ته مجبور شو چې له امان الله خان سره دمذاکرې او سولې لار ونیسي.

دبریتانیې حکومت په داسې حال کې چې افغاني سرتیري په بیره دانګریزي پوځ په مرکزونو ورتلل داور بند غوښتنه وکړه او دافغانستان حکومت دخپل سوله ییز دریځ پر اساس دغه غوښتنه ومنله. د ۱۹۱۹م په جون کې ددواړو خواوو ترمنځ اوربند نافذ شوچې دموضوع په باره کې خبرې اترې سرته ورسیږي دبریتانیې دهیئت او دافغانستان دخاص هیئت ترمنځ د ۱۹۱۹ م په اګست کې په راولپنډۍ کې مذاکرې پیل شوې او په نتیجه کې یو تړون لاس لیک شو چې دهغه پر اساس دبریتانیې حکومت دافغانستان بشپړ استقلال ته غاړه کیښوده. ( ۱۹ اګست ۱۹۱۹ م مطابق ۲۸ اسد ۱۲۹۸ ه ش )

څرنګه چې په دغه تړون کې ځینې مسایل دانګریزانو په ګټه تمامېدل نو د ۱۹۱۹ م کال د اپریل په ۱۲ مه یوځل بیا ددواړه خواوو ترمنځ دهند

په منصوري کی مذاکرې پیل شوې .

دمنصوري په مذاکرو کې د تیروتنو دمخنیوي په خاطر افغاني خاص هیئت دمحمود طرزي ترمشرۍ لاندې تللی و چې عبدالهادي خان داوي ، کرنیل پیرمحمد خان طره خیلی ، غلام صدیق خان چرخي او غلام فاروق خان دتجارت وزیر یی غړی و

ددغو مذاکرو او تماسونو په دوام کې بالاخره دانګلیسانو یو لوړ رتبه هیئت دسرهنری دابس دبریتانوي هند دخارجه وزیر په مشرۍ کابل ته لاړ او له مذاکرو ،وروسته چې د ۱۹۲۱ م کال د جنوری په ۱۰ مه څو میاشتې یی دوام وکړ بالاخره د ۱۹۲۲ م کال د نومبر په ۲۲ چې د ۱۳۰۰ هجری کال دعقرب (لړم) ۳۰ مې سره سمون خوري ، یوه معاهده دواړو هیوادونو ترمنځ دکاملاً مساوي حقوقو په اساس لاس لیک شوه چې دبرتانیي له خوا دبریتانوی هند خارجه وزیر دابس او دافغانستان له پلوه محمود طرزي ورباندې لاس لیکونه کړي وو .

ددغې معاهدې په اساس چې دافغانستان سیاسی استقلال اعاده شو او افغانستان دمستقلو هیوادونو په کتاب کې خپل ځای بېرته ونیو خو دسرحد دخلکو سرنوشت او دډیورند له فرضي کرښې څخه راپیداشوي خنډونه او مشکلات په ځای پاتې شول چې ددواړه هیوادونو راتلونکي مناسبات یی ترسخت تاثیر لاندې نیول .

امان الله خان چې په ټوله آسیا کې یی د لومړي شخص په توګه د آزادۍ بیرغ جګ کړی و ، په افغانستان او بهر کې ورته په درنښت کتل کېدل او

حتی د مرکزي آسیا او هند مسلمانانو غوښتل چې امان الله خان د خلافت د مقام پر گدۍ کښیني خلافت د ترکیې د امپراطوري د سقوط له امله مخ په ختمېدو شوی و .

امان الله خان په خپل نوي مستقل شوي هیواد کی د هند د آزادۍ د جنبش مشرانو او همدارنگه د مرکزی آسیا د اسلامی نهضت رهبرانو ته هرکلی کاوه او له هغوی سره یی لازم کومکونه نه سپمول . امان الله خان د ۱۹۱۹ م کال په اکتوبر کی څلور سوه عسکر او یو شمیر رضاکاران ولیږل چې د مروې ښار و نیسی دا ښار یې اشغال هم کړ خو بیا وروسته چې شورویانو په خوقند او بخارا باندې بې رحمانه حملې پیل کړې افغانستان د مروې له اشغال څخه لاس واخیست .

امان الله خان چې له یوې خوایې له بلشویک روسیې سره خپلو روابطو ته پراختیا ورکوله، خوله بلې خوایې د باسمچیانو جنبش او هم د بخارا امیر ته کومکونه ورکول چې له خپلې آزادۍ څخه دفاع وکاندي .

د ۱۹۲۱ م کال د فبروری په ۲۸ مه د افغانستان او بلشویک روسیې (شوروي اتحاد ) ترمنځ د دوستۍ او همکارۍ تړون لاس لیک شو او د تجارت او راکړې ورکړې مسایل هم آسانه شول .

په هغو موافقو او معاهدو کې چې په ۱۹۲۰ م او ۱۹۲۱ م کې د افغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ لاس لیک شوې وې د افغانستان د حکومت د غوښتنې په اساس د شوروي حکومت دا ژمنه هم کړې وه چې د بخارا او خیوا د خلکو خپلواکی ته به احترام کوي . امان الله خان چې

دبخارا او خیوا له مسلمانانو سره کومک خپل اسلامی مسوولیت گانه نو په همدغه احساس یی دبخارا امیر سیدعالم ته عسکر ، ٤ توپونه او دوه فیلان ولیږل چې غوښتنه یې دامیر حبیب الله خان په وخت کې شوې وه.

البته دغو مسایلو دافغانستان او شوروي روسیې روابطو ته صدمه هم رسوله او دروسانو شکایتونه او اعتراضونه هم پورته کېدل ، مگر امان اله خان چې دپان اسلامیزم او پان ایشاییزم طرفدار و خپله مبارزه یی وړاندې بیوله . ددې ترڅنګ دامان الله خان روابط له انورپاشا سره - چې په فرغانه کې دشوروي قوتونو مقابل جنگېده - هم دشوروي روسیې داندیښنې او اعتراض سبب شوي وو . انورپاشا چې دترکیې داتحاد او ترقی دتولنې مشر او د ترکیی دخلیفه زوم و دمرکزي آسیا دمسلمانانو دجنبش دلارښودنې په مقصد هلته تللی و او دافغانستان دحکومت له خوا پټه او ښکاره مرسته ورسره کېده .

په ۱۹۲۲ م کې چې دشوروی روسیی پوځونه بخارا او خیوا ته ننوتل ، دامان الله خان حکومت دروسیې دکابل سفارت له لارې خپل سخت احتجاج په روسیې حکومت وکړ او غوښتنه یې وکړه چې دغه پوځونه ژر ترژره له بخارا او خیوا څخه وایستل شي .

امان الله خان له دې څخه پخوا کوم وخت چې په ۱۹۲۱ م کې سید عالم دبخارا امیر دانقلابیونو له لاسه افغانستان ته پناه راوړی وه په یوه لویه میلمستیا کې دبخارا امیر ته داستقبال او درناوي په ویلو داژمنه هم کړې وه چې دامیر او دباسمچیانو جنبش ته به مرسته کوي .

امان الله خان چې له يوې خوايې د روسانو تعهد شکني او وړاندې تګ لیده او له بلې خوايی د بريتانوي حکومت د استعماري پاليسيو بې غوري او زورګوبې ملاحظه کوله ، په دې هڅه کې شوی و چې له امريکا او اروپايي هيوادونو سره خپل مناسبات ټينګ او پراخ کاندي .

دافغانستان يو خاص هيئت چې له امريکا سره د روابطو د ټينګولو په مقصد تللی و ، لومړی دامريکا جمهوررئيس Warren Harding له هيئت سره له ليدلو ډډه ، کړې وه خو بيا له انګليس سره له سلامشورو وروسته هيئت ومنل شو مګر د رسمې مناسباتو ټينګيدل چې دافغانستان هيله وه منځ ته رانه غلل .

بيا وروسته په ۱۹۲۲ م کی له فارس څخه يو امريکايی دپلومات افغانستان ته سفر وکړ چې د افغاني مقاماتو له خوا ورته تود هرکلی وويل شو سره له دې چې نوموړی په خپل حکومت زور اچولي و چې امريکا دافغانستان دحکومت په رسميت پيژندلو ته اقدام وکړي ، مګر دامريکا حکومت بيا هم علاقمندی نه وه ښودلې .

ددغه ماحول په نتيجه کی دشوروي روسيې حکومت په ۱۹۲٤ م کې خيوا او بخارا دواړه په شوروي اتحاد کې ګډ اعلان کړل . مګر سره له دغو بدلونونو دامان الله خان حکومت بيا هم دباسمچيانو مشرانو او جنبش سره روابط ساتل او په پټه او ښکاره يې مرسته او معاونت ورسره کاوه .

امان الله خان دبريتانوي دهند خارجه وزير دابس ته په ۱۹۲۱ م کې چې کابل ته راغلی و او بيا وروسته دانګليس سفير ته دبخارا او خيوا

دخلکو مشکلات وریاد کړل او غوښتنه یې وکړه که دبرتانیې حکومت دبخارا له امیر او دباسمچیانو له جنبش سره مرسته وکاندي. خو څرنګه چې دشوروي روسیې او برتانیې روابط مخ په ښه کېدو وو او په ۱۹۲٤ م کال کې بریتانیې دشوروي اتحاد حکومت په رسمیت وپیژاند، نوامان الله خان یادونوته یې د رد ځواب ورکړ او له دې څخه یې ډډه وکړه چې دمسلمانانو له مبارزو سره مرسته وکاندي.

دامریکا او بریتانیې حکومتونو په روسیې او اکراین کې ځینو مقاومتونو ته چې دهتلر له خوا ورسره مرستې کیدې خوش بینې درلوده خو دبرتانیې له خوا دشوروي اتحاد په رسمیت پیژندل امریکا یوازې پاتې کړې وه. دبریتانیې حکومت چې دامان الله خان له سیاستونو او دهند دآزادۍ دجنبش دځینو مشرانو له فعالیتونو څخه چې په کابل کې دیره وه اندیښنه درلوده، د ۱۹۲۱ م کال په سپتامبر کې یې دشوروي اتحاد حکومت ته اعتراضیه یادداشت لیږلی و او په هغه کې یې دشوروي اتحاد او افغانستان ترمنځ معاهدې باندې اعتراض او تورلګولی و چې شوروي اتحاد په افغانستان او ایران کې دبریتانیې ضد تبلیغات کوي.

له دې نه علاوه دهند وایسرا لارد کرزن د ۱۹۲۳ م کال د مې په ۸ مه شوروي اتحاد ته الیتماتوم ورکړ چې خپل نماینده ګان له کابل او ایران څخه بېرته وغواړي، البته شوروي اتحاد دبریتانیې دغه غوښتنې رد کړلې.

لارد کرزن چې پخوا دبریتانیې خارجه وزیرو دراولپنډۍ په معاهدې کې د ۱۹۱۹ م اګست دافغانستان او بریتانیې ترمنځ په غصه شوی او

دهغې لاندې يې ليکلي وو « دهند دحکومت له دغې پاليسی سره بالکل مخالف دی .. »

دهند حکومت دهغه په ځواب کې داسې ليکلي وو :

« ... سره له دې چې د مطلب ترلاسه کيدل درسمی معاهدې په سبب له منځه تللی خو هدف ته درسيدو غير مستقيمه لاره شته .. » دبريتانيې دحکومت دغې دغه څرګندونو روښانه کوله چې انګريزانو له زړه نه دافغانستان استقلال نه ومنلی .

دامان الله خان حکومت په دغو حالاتو او تحولاتو کې دخپل هيواد داستقلال دساتنې په مقصد د ١٩٢٦ م کال د نومبر په ٢٧ مه له شوروي اتحاد سره دبيطرفۍ او همکارۍ او ديو بل په کورنيو چارو کې دنه مداخلې يو تړون لاس ليک کړ چې ډير مهم بلل کيده . ددغه تړون دموادو په نظر کې نيولو سره دافغانستان يو شمير محصلين تاشکند او دشوروي اتحاد نورو ښوونځيو ته واستول شول او دافغانستان په هوايي قواوو کې څه کم ٣٠ نفره روسی متخصصين او کارپوهان استخدام شول .

په ١٩٢٦ م کال کې دروسی کارپوهانو شمير په کابل کې ١٢٠ تنو ته رسيده او شوروی اتحاد دافغانستان حکومت ته ١١ الوتکې هم سوغات ورکړې وې چې دغې موضوع انګريزان او امريکاييان ډير خفه کړي وو .
امان الله خان له شوروي اتحاد سره داړيکو دپراختيا ترڅنګ ډير احتياط کاوه چې دبرتانيې دحکومت له ښکاره دښمنۍ څخه ځان وساتي ! له دې امله امان الله خان دا آرزو درلوده چې په خپله ځينې اروپايي او آسيايي

هیوادونو ته سفر وکړي او له هغوي څخه دخپل هیواد د پرمختګ لپاره مرستې وغواړي .

ددغه مقصد لپاره امان الله خان په ۲۸-۱۹۲۷ م کلونو کې یو اوږد سفر وکړ او په هغه کې یې له ایران ، ترکیې بریتانیې ، فرانسې ، آلمان ، بلجیم او شوروي روسیې څخه رسمي کتنې وکړې چې په هرځای کې یې دیو فاتح پاچا په توګه تود هرکلی وشو او دده له هلو ځلو څخه دافغانستان دودانۍ او پرمختګ لپاره په قدردانۍ یادونې وشوې .

کوم وخت کې چې امان الله خان له دغه سفر څخه بېرته وطن ته راستون شو ، نو په خپله ٤ ورځنۍ وینا کې یې دافغانستان خلکو ته د دنیا وړاندې تګ او دعلومو او فنونو د پرمختګ او ترقۍ په اړوند توضیحات ورکړل او دحکومت ټول زور او توجه یې دافغانستان د ترقۍ او پرمختګ لپاره متمرکزه کړه چې افغانستان ژر ترژره د ترقۍ او تمدن له ښېګنو څخه برخورداره شي .

له بلې خوا له ایران سره چې رضاخان دقزاقي پوځ د مشر په رهبري دکتاتوري او بیا پاچاهي جوړه شوې وه ښه روابط ټینګ شول او په ۱۹۲۱ م کال کې د دوستۍ او همکارۍ یو تړون هم د دواړو هیوادو ترمنځ لاس لیک او نافذ شو .

## ج : دسیسې او بحران او دامان الله خان دحکومت رنګیدل

امان الله خان دافغانستان ځوان او ترقي غوښتونکی پاچا چې دهغه په اعلی قیادت افغان ملت خپله بشپړه خپلواکۍ له بریتانوي امپراطورۍ

څخه واخیسته د خپل هیواد له پرمختګ او د خپل ملت له سوکالۍ سره یې ډیره مینه او علاقه درلوده او دا یې غوښتل چې د افغانستان د ریفورم او اصلاحاتو له لارې د بهرته پاتې والی له تورو تیارو څخه وایستل شي. امان الله خان چې له پاچاهۍ پخوا د افغان ځلمیانو د سازمان غړی و د خپل وطن په مورد کې دا فکر کاوه چې د خلکو کم علمي او ناپوهي له یوې خوا او انګریزانو له زیان او ضرر څخه ډکې استعماري پالیسۍ له بلې خوا په افغانستان د غه بدحالت راوستی دی. کوم وخت چې پاچاهۍ ته ورسید نو د خپلو مرامونو د تطبیق لپاره یې متې راونغښتلې. امان الله خان په ۱۹۲۳ م کال کې د افغانستان لپاره د اسې اساسي قانون « نظامنامه » جوړه کړه چې د تسوید لپاره یې له فرانسوي او ترکي قانون پوهانو څخه نظر او مشوره اخیستل شوې وه. د امان الله خان په شخصي توجه څه کم ۶۳ مختلفې نظامنامې یو په بل پسې جوړې شوې چې د افغانانو ټولنې ژوند او حرکت ته سمون او تنظیم ورکاندي. امان الله خان د لومړي ځل لپاره د ځمکو ویش ته اقدام وکړ او د یو ریفورم له مخې په لکونو جریبه حکومتي ځمکې بیوزله او بې ځمکو دهقانانو او بزګرانو ته وړیا وویشل شوې. د امان الله خان د حکومت په فعالیت د افغانستان د خوراکي شیانو صادرات په ۱۹۲۵ م کال کې له ۵۰ میلیونه فرانکو څخه یو زر میلیون فرانکو ته جګ لاړل چې ساری یې نه درلود. امان الله خان د خانانو، لویو زمیندارانو او ملایانو صلاحیتونه ورلنډ کړل او د ملایانو د دیوبند شهادتنامې یې باطل وګڼلې چې د بریتانوي هند ترکنټرول لاندې سیمو کې

ملايانو ته ورکول کيدې . امان الله خان په پوځې خدمت کې پيري او مريدي منع کړه او دخلکو ترمنځ يې دوروولۍ، مساوات او برابرۍ او ملي وحدت غوښتنه پورته کړه چې په دې ترتيب دافغانستان ددښمنانو دسيسې شنډې او وطن ته خوشحالي او آرامۍ راولي .

خو دامان الله خان دغه ښه مرامونه او دترقۍ پروګرامونه دداخلي او په لويه پيمانه دخارجي عواملو او لاس وهنو له امله نيمګړي پاتې شول او دامان ا لله خان دحکومتّ په ړنګيدو بله صحنه منځ ته راغله .

که څه هم په داخلي عواملو کې، لکه دروحانيونو او خانانو دقدرت کمېدل ، دمرکزي حکومت په تقويې سره دمحلي واکدارانو نفوذ لږول ، دښځو دنهضت رويکارول او له خرافاتو سره بربنده مبارزه کول دامان الله خان داصلاحاتو مخه نيوله خو خارجي مداخلو ترډې ډير زيات دحکومت په کمزوري کولو او دبحران په منځ ته راوړلو کې خپل نقش درلود .

دحکومت داراکينو بې تجربه - ګۍ ، اداري فساد او بې کفايته پوځ هم دبحران ګړنديتوب ته مرسته کوله .

دبرتانيې حکومت چې اصلاً يې په زړه کې دافغانستان استقلال لانه و منلی په افغانستان کی دهند دآزادۍ دمبارزينو په تګ راتګ او هلته بيا دهند دجلا وطن عبوري حکومت اعلان انګريزان ډير خفه کول او دافغانستان او شوروي اتحاد دمناسباتو له انکشاف څخه يې داخپګان په انديښنو او ويريې بدليده . دسراج الاخبار او وروسته دامان افغان اخبارونه که څه هم دبريتانوي هند دحکومت له خوا بند اعلان شوي وو ، خو

سره له دي به بیاهم دخلکو په لاسونو گرځیدلی او داستعمار ضد مضامینو
به یې خلک دانگریزانو مخالفت ته چمتو کول او دافغانستان سرحدي
ورونو یه هم مبارزو ته دوام ورکاوه .

له بلې خوا دشوروي اتحاد حکومت چې له معاهدو او تړونونو سره سره
په مرکزي اسیا کې مخ په وړاندې پرمختگ کاوه او ددوی دظلمونو له امله
دبخارا امیر او په لکونو تاجکان او ازبکان افغانستان ته پناهنده شوي وو
او دافغانستان حکومت له هغوی سره دوستانه رویه او لازمي مرستې
کولې او ابراهیم بیگ لقي د باسمچینانو یومشر دامان الله خان او شوروي
حکومت روابط خراب کړي وو او امان الله خان دهغوي په دوستی اعتبار نه
درلود .

دشوروي مقاماتو د Comintern له لارې حتی له بچه سقاو
څخه کلکه طرفداري کوله او هغه یې دخواري کښانو دجنبش مشر باله .
ورپسې چې بیا دشوروي حکومت وغوښتل دامان الله خان حکومت ته
دسقاویانو په مقابل کې مرسته ورکاندي وخت له وخته تیر شوی و او امان
الله خان له کابل څخه وتلی و .

امان الله خان په بمبی کې له وطن څخه بهرته دمهاجرت په لار وویل چې
روسانو نه یوازې داچې مرسته ونکړه ، بلکه ددوي ناروا پروپاگندونو ،
غلو او داړه مارانو ته لاجرآت او جسارت ورکاوه چې دحکومت پرضد
تخریبات وکاندي . انگریزانو چې دهند له مستعمرې څخه داوړدې
استفادې لپاره دامان الله خان حکومت خپل دښمن گاڼه ، نو په ۱۹۲٤ م

کې یې ګوډ ملا او وروسته په ۲۸-۱۹۲۷م کې عبدالکریم دامیر محمد یعقوب خان زوی او محمد عمر د محمد ایوب خان زوی چې په هند کې اوسیدل - بلواګانو ته وهڅول چې دامان الله خان حکومت وریاندې ړنګ کاندي.

دانګریزانو وروستی هڅه دحبیب الله بچۀ سقاو دسیسه وه چې په یو سرکې یې دشینوارو شورش او سرحدی سیمو ته دانګلیس مشهور جاسوس کرنیل لارنس راتګ لیدل کیده او په بل سرکې یې دحبیب الله بچۀ سقاو دغلو اوداړه مارانو تولګي.

په کابل باندې دبچۀ سقا و دداړې حمله او دحکومت په ځینو اراکینو کې دوه مخي او تردد بالاخره ددې سبب شول چې امان الله خان سلطنت خپل ورور ته پرېږدي او دکندهار په لور حرکت وکاندي.

ګرچې په کابل باندې حملې کی د ۱۹۲۸ م کال د دسامبر په ۲۸ مه دسقاو زوی سخت ټپی شو خو دانګلیس په سفارت ننووت او وروسته له پټې او تداوۍ بېرته له خپلو غلو یارانو سره یوځای شو.

امان الله خان په کندهار کی یوځل بیا دخپلې پاچاهۍ اعلان وکړ او له بریتانیې څخه یې وغوښتل هغه وسلې چې ده دخپل داروپایی سفر په دوران کی پیرودلې دي، ده ته وروسپاري مګر انګریزانو دده غوښتنه رد کړه.

امان الله خان دمایوسۍ په حالت کی شوروي روسانو ته هم مراجعه وکړه چې که دهغوي له خوا ورسره مرسته وشي مګر څرنګه چې وراندې

وویل شول دروسانو اقدام دیر ناوخته شوی و او سقاویان قدرت ته رسیدلي وو .

ورتن گریگوري G. Vartan دافغانستان دحالاتو په باره کې ویلي وو چې روسانو په خپلو لیکونو کې دافغانستان اقتصادي او ټولنیز اوضاع دامپریالیزم په گټه گڼله ، ځکه امان الله خان اقتصادي ساختمان په فیوډالیزم ساتلي و او په بزگرانو یې لوی بار تحمیل کړی و .

دامان الله خان په مورد کې د « اور په افغانستان کې Fire in Afghanistan » کتاب وایي چې : « امان الله خان او محمود طرزي زیار ایسته چې افغانستان ددرې فکتورونو په بیلانس او موازنه کې سم وساتي له دغو فکتورونو څخه دوه یعنی بریتانیه او روسیه جغرافیې تحمیل کړي مگر دریم فکتوریې امان الله خان خپله غوره کړي و . امان الله خان له هلکتوب څخه مذهبی فکر درلود او دیو مسلمان په توگه یې اسلام څخه ملاتړ کاوه ،داستقلال له جگړې وروسته امان الله خان کوشش کاوه چې خپلې اړیکې دبخارا له امیر سره غښتلې کاندي. »
دایو واقعیت و هغومره چې امان الله خان له انگریزی استعمار څخه بد وړل هغومره یې دروسانو له چل پلمو او منافقت څخه کرکه کوله . امان الله خان دغه ټکي ته متوجه شوی و چې دروس حکومت په خپلو کړنو کې صادق نه دی او دافغانستان دسیاسي استحکام سره علاقه نه لري او شورویان هماغه هدفونه تعقیبوي چې پخوا ځارانو تاکلی او تعقیب کړي وو .

دبریتانیې او شوروي اتحاد په پورته ذکر شوو تگ لارو او دافغانستان

په کورنیو چارو کې بهرنیو مداخلو دا زمینه برابره کړه چې د امان الله خان حکومت رنګ شي او هیواد دسقویانو په بحران کی لاهو شي .

## د - دباسمچیانو پاڅون

په مرکزي آسیا کی دباسمچیانو پاڅون اوله افغانستان سره دهغوی اړیکې او ارتباطات دا ضرورت منځ ته راوړی ، چې ددغه جنبش په تاریخچې یو لنډ نظر واچول شي .

په ازبکي ژبه کی باسمچي Basmachi دغله ، داړه مار او تیري کوونکي معنی لري چې په عامه توګه به استعمالېده مګر دغه صفت هغه وخت زیات شهرت پیدا کړ چې په مرکزی آسیا یا ترکستان کی دروسانو ضد جنبش لپاره استعمال شو . دهغې معنی او تعبیر په خلاف چې روسانو دی کلمې ته ورکړی و ، باسمچي په خلکو کی دروسانو دضد معنی پیدا کړه چې د ترکستان دخلکو له حقوقو څخه یی دفاع کوله .

دباسمچې جنبش په خپلې کړنلارې کې دپان اسلامیزم - پان ترکیزم او پان تورانیم له عقایدو څخه الهام اخیستی و . مرکزی آسیا چې دڅو امیرانو او خانانو له خوا اداره کېده ، دیرې سیمی یې په ۱۸ او ۱۹ مو پیړیو کی یوه په بلې پسې ځاری روسانو له خوا نیول شوې او یا دروس ترکنترول لاندې راغلې وې ،

د ۱۸٦۸ دمئی ۱۱ او ۱۸۷۳ دسپتامبر ۲۸ مه دمعاهدو په اساس دبخارا امارت دروسیې دپروتکتورات حیثیت پیدا کړ او د ۱۸۷۳ م د اګست ۱۳ مې د توافق له مخې خیوا دروسانو ترکنترول لاندې راغله مګر

د ترکستان خلک له دغو معاهدو ناراضه وو او خپلو حقوقو لپاره یې جداو جهد کاوه .

Khamid inayatov د سیمې یو سیاسي مبصر ویلي وو چې د باسمچیانو پاڅون د ُځاریانو په وخت کې له سیاست څخه لرې و مگر د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته یې د یوې طبقې کرکټر پیدا کړ او په یو سیاسي نظامي قوت بدل شو. دغه جنبش چې په فرغانه کې جوړ شوی و دخوقند له اشغال څخه وروسته او د روسانو د ظلم او تیري له امله په عامو خلکو کې قوي او غښتلی شو .

باسمچیان چې له فیوډالانو ، روحانیونو ، اشرافو ، خانانو ، بورژوازي ، کولاک او بزگرانو څخه جوړ شوي وو د خپلو عاداتو ، عرفونو او دودونو دساتنې لپاره یې مبارزه کوله چې په هغوی کې د پان ترکیزم Pan Turkism اغیزه تر ټولو زیاته وه .

په هغه وخت کې د مرکزي آسیا په سیاسي فعالیتونو کې دوه تمایلونو پراختیا موندله چې د اصول قدیم او اصول جدید په نامه یادیدل . یعنی د زاړه او نوی سیستم پلویان . دوی د ۱۹۱۷ م کال د مارچ په ۱۷ مه په تاشکند کې یوه اسلامی شوری جوړه کړه چې په لومړیو وختونو کې یې په روسیې کې د مذهبی آزادۍ غوښتنه کوله . د ۱۹۱۷ م کال په اپریل کې د مسلمانانو یو کانگرس په تاشکند کې جوړ شو چې په هغه کې د خلکو ۴۵۰ استازو د ۹۳ روسانو په گډون برخه اخیستې وه . په کانگرس کې لومړی د دغې موضوع په څېړلو پیل و شو چې د مرکزي آسیا راتلونکی

ژوند د شوروي روسیې په نوي حکومت او سیستم کې ارزیابي کاندي .
دغه کانګرس د یو مرکز د جوړیدو لپاره هم اقدام وکړ چې مشري یې
د Mustafa Chokaev oghlu پر غاړه وه .

اسلامي شوری چې د شوروي اتحاد پر ضد خپرونې کولې له خلکو څخه
یې دا غوښتل چې د پان اسلامیزم او پان ترکیزم تر بیرغ لاندې راټول شي .
وروسته د غې شوری د یو موقتي حکومت د جوړیدو لپاره هم اقداماتو ته
پاملرنه درلوده .

د ۱۹۱۷ م کال په اګست کې د تاشکند د ښار د مشورې د مجلس
انتخابات وشول چې په هغه کې قدیمیانو اکثریت وګاټه او نشنلستان ،
سوسیال دموکراتان ، سوسیالستان او بلشویکان په اقلیت کې راغلل .
وروسته له یوې مودې جدیدیان د سوسیالزم طرفدران شول په داسې حال
کې چې اسلامي شوری د شوروي اتحاد پر ضد فعالیت کاوه .

د ۱۹۱۷ م د نوامبر په ۱۵ مه کې د بلشویکانو له بري سره سم د سوفت
دریم سیمه ییز کنفرانس او همدارنګه د مرکزي آسیا د مسلمانانو دریم
کانفرانس په یوه وخت کې په تاشکند کې جوړ شول .

باید وویل شي چې د اکتوبر له کمونستي انقلاب سره سم چې
بلشویکان په قدرت راغلل نو سمدستي د مسلمانانو د خپلواکۍ له غوښتنو
سره مخامخ شول چې شمیر یې تخمین ۳۰ ملیونو ته رسېده . مسلمانان
چې له کریمیا څخه تر منګولیا او مرکزي آسیا پورې سیمو کې اوسېدل
د روسانو تر سخت فشار لاندې وو .

ځرنگه چې لینن د کارگرو د گوند مشر ژمنه کړه وه چې « د کارگرانو گوند د هغو قامونو د سرنوشت په باب چې ځارانو په زور نیولي دي په بشپړې خپلواکۍ عقیده لري او د هغوي آزادي تاییدوي » نومسلمانانو د دوی د عمل انتظار ایسته . دوخت په تېریدو سره د کمونستانو مشرانو نه یوازی دا چې خپلې وعدې ترسره نه کړې ، بلکه په چل او پلمو او دسیسو یې هم لاس پورې کړ.

د مسمانانو ځینی سیاسي کسان چې د ټولنیز انقلاب او آزادۍ لپاره له روسی کمونستانو سره یوځای شوي وو ژر د کارگرو له گوند ځخه ناراض او همکاري یې ورسره ختمه کړله. په دې لړ کې یو نفر گالیوف په ۱۹۲۳ م کال گې له گوند ځخه وایستل شو او بیا په ۱۹۲۹ م کی زنداني او بالاخره په زندان کې ووژل شو .

د بلشویک مشرانو لومړۍ یوه کمیساری د مسلمانانو د مشکلاتو د حل لپاره جوړه کړه چې مشر یې یو مسلمان و بیا وروسته د یر ژر ستالین د دغې کمیسارۍ مشر وټاکل شو او هغه د نشنلزم سره علنی مخالفت پیل او داسې یې وښودله چې نشنلزم له کمونیزم سره مخالف فکر دی پداسی حال کې چې په خپله روسان تر ټولو زیات نشنلستان وو . خو دستالین مقصد د مسلمانانو ټکول وو نو په دې وسیله یې د نرمي او شدت تر پالیسۍ لاندې د مسلمانانو د مقاومت او مبارزو په ماتولو لاس پورې کړای شو .

په همدې اساس د سوفت کنفرانس په ټوله مرکزي آسیا کې د سوفت قدرت اعلان وکړ او دا تو نومي له مسالې سره یې هم خپل کلک مخالفت

ښکاره کړ.

ددوی په مقابل کې د ترکستان داتونومي غوښتونکیو ، په خوقند کی یوېل کنفرانس جوړ کړ چې په هغه کې دراپیداشوو مسایلو متعلق بحث وشي . دغه کنفرانس وروسته له خبرو اترو د ترکستان داتونوم جمهوریت غوښتنه اعلان کړه چې دسوفت دمطبوعاتو له خوا پری شدید تنقید او هغه بریتانویانو زیړولی موضوع وبلل شوه .

دخوقند په کنفرانس کی دملی شوری لپاره انتخابات او دشرعی قانون نافذ کیدل هم تصویب شول چې وضعه یی ډیره بحرانی کړځولې وه .

دحالاتو په انکشاف بالاخره دخوقند موقتی حکومت او د تاشکند دمحلی حکومت ترمنځ جنګ ونښت چې په هغه کې د شوروي سرو پوځونو د تاشکند حکومت سره مرسته کوله او له بلې خوا دقبچاق ملیشې پولیسو او باسمچیانو په پټه دخوقند حکومت ته معاونت رساوه .

سروپوځونو چې یوشمیر اطریشی ، چکی اومجاري اتباع دجنګ له بندیانو څخه له ځان سره راوستی وو هغوی یی هم دخوقند په جنګ کې دمسلمانانو پرضد استعمال کړل .

د ۱۹۱۸ م په ۱۱ دفبروری کې په خوقند کی دسروپوځونو له خوا ډیره زوره وره او بې رحمانه مرګ ژوبله وشوه او دښار له سوځیدو برسیره تخمین ۱٤ زره خلک مړه شول ، دخوقند دښار نفوس له ۱۲۰ زرو څخه صرف ٦۹ زروته راکوز شو.

دخوقند دخونړیو جنګونو په نتیجه کې جدیدیان او قدیمیان سره یو

شول او دشوریانو په مقابل کی یی د « غزا » اعلان وکړ او باسمچي مبارزینو په دوه ډلو یوه دارگش او بله یی د محمد امین بیگ په مشري په شوروي قوتونو حملو ته دوام ورکړ.

دشوروي مقاماتو داتورونه لگول چې بریتانیا او امریکا باسمچیانو ته مرسته ورکوي او هغوي دشوروپانو پر ضد جگړو ته تشویقوي. په ۱۹۱۸ م کې د اسې شواهد لیدل کیدل چې په روسیې کی یو لړ مداخلې پیل شوې دي د بریتانیې او جاپان له خوایې لاربنودنه کیږي ، البته دغه لاس وهنې لومړی په سایبریا او دشمال په سیموکی ښکاره شوې وې له بلې خوا فرانسې او بریتانیې هم موافقه کړې وه چې دبلشویکانو ضد گوندونو ته په اکراین او قفقاز کې مرستې ورسوي.

Zeki Velidi Toghar دبشقاري لقي قام یو نشنلست دبهرنۍ مرستې خبره رد کوله او ویلې چې دبلشویکانو په گفتار اوخبروکی حقیقت نشته . البته ځینی انگلیسي او هندي افسران ترکستان ته راغلی وو چې د سپین گارد چې د بلشویکانو مخالف و له خلکوسره رابطه تینگه کړي.

یوبل لیکوال J . Castagne په خپل کتاب کې وایي :

په ترکستان کی له بلشویک ضد تولنو سره دبریتانویانو له خوامرسته کیده لومړی د ترکستان له مشرانو سره رابطه تینگېده تماس نیول کیده او دهغوی په ذریعه له باسمچیانو سره ؛ په نتیجه کی دباسمچیانو او دسپین گارد ترمنځ هم نژدې روابط تینگ شول ، له بلې خوا په

۲۰-۱۹۱۹ م کې په کاشغر کې دبریتانیی نماینده Etherton هم دبخارا له امیر سره تماس درلوډ . دبخارا امیر داوړاندیز هم کړی و چې بخارا به بریتانیې ته پریږدي خو که په بدل کی یی دده سر او دده دارایی ( ۳۵ میلیونه پونډه ) ته دساتنې ضمانت ورکړل شي . خوداسی معلومیده چې دبخارا دامیر داغوښتنه نه وه منل شوې . له بلې خوا په ۱۹۱۸ کې چې Terd - Well په تاشکند کې دامریکا قونسل مقرر شوی و، ده هم دبلشویک کمونستانو ضد سازمانونه سره پټ روابط ټینګ کړي وو.

په ۱۹۲۰ م کی ارګش او محمد امین بیګ دباسمچیانو مشران له شوروي پوځونو سره په اخ او ډب کې راګیر او مجبورشول چې شوروي قوتونو ته تسلیم شي . دوی له شورویانو څخه دشریعت انفاذ او دتجارت آسانتیاوې غوښتې چې ددوی دغه شرایط شورویانو ته دقبول وړنه وو . دغه دواړه باسمچي مشران چې دپولیسو ترنظارت لاندې ژوند کاوه بیا وروسته دزهرو په ورکولو ووژل شول .

له دغو پیښو وروسته شیرمحمد بیګ دباسمچیانو مشر شو او په دې بریالی شو چې په خوقند کې یوه محلی اداره هم جوړه کاندې نوموړی دبخارا له امیر څخه مرسته وغوښته ، خو امیرله کمونستانو سره دخپلو ژمنو له کبله هغه ته مرسته ونه کړه . شیرمحمد بیګ دافغانستان پاچا امان الله خان ته هم دمرستې لپاره مراجعه وکړه ، خو دافغانستان پاچا دهغه په ځواب کې دشوروي روسیې پرضد دیوې متحدې دفاعي جبهې په

جوړښت تینګار کاوه چې یوې مثبتې نتیجې ته ورسیدای شي .

د ۱۹۲۰ م په جنوری کې دخیوا مشر جنید خان باندې دشوروي قوتونو له خوا حمله وشوه ، نوموړی د قراقرم په لور وتښتید او له هغه ځایه یې دباسمچیانو ترڅنګ خپلو کوششونو ته دوام ورکړ . جنیدخان باندې داالزام و چې دانګلیسانو له خوا ورسره مرسته کیږي . دخیوا سقوط دبخارا امیر سید عالم دې ته اړ کړ چې شورویانو ته امتیازونه ورکاندي . په ۱۹۲۰ م کې دبخارا قونسلګري په مزارشریف او دافغانستان سفارت په بخارا کې پرانستل شول او دا آوازې هم وې چې ښایي پر تاشکند باندې بخارا یې او افغاني قوتونه یوځای حمله وکاندي . له دې امله شوروي قواوو کلک امنیتي تدابیر نیولي وو .

وروسته دشوروي دحکومت مرکزی کمیتې په بخارا باندې له حملې څخه صرف نظر وکړ ځکه له عکس العمل څخه یې زیاته ویره پیداشوې وه او ددې پرځای دبخارا ځوانان تشویق شول چې له کمونست حزب سره یو ائتلاف جوړ کاندي . ددغه ائتلاف نتیجه کې سید عالم دبخارا امیر مقاومت له لاسه ورکړ او د ۱۹۲۰ په فروری کې افغانستان ته پناهنده شو .

امان الله خان په هغې لویې میلمستیا کې چې دبخارا دامیر په ویاړ یې کړې وه داژمنه هم وکړه چې په خپله امیر اوباسمچیانو ته به مرسته ورکوي . له همدې امله دشورویانو له فشار برسیره دبخارا امیر او دباسمچیانو ځینی مشران په افغانستان کې فعال وو او له خپلو پلویانو سره یې منظم

ارتباطونه درلودل .له بلې خوا په ۲۱ - ۱۹۲۰ کې انورپاشا دترکیې داتحاد او ترقی دگوند نماینده او د ترکیې دخلیفه زوم چې دبریتانیې پرضد یې مبارزه کوله دباسمچیانو دجنبش مشرتوب په غاړه واخیست چې ډیرې تبصرې او هنگامې یې پیداکړې وې .

انورپاشا لومړی دبریتانیې د یو مخالف په ډول شوروي حکومت ته مراجعه وکړه چې له ده سره مرسته وکاندي . دی په ۱۹۲۰ م کی مسکو ته لاړ او دشوروي له مشرانو سره یې کتنې هم وکړې . انورپاشا دشورویانو په همکاری بریالی شو چې داسلامی انقلابی تولنو اتحاد Union of Islamic Revolution Societies جوړ کاندي .

شورویانو غوښتل چې له انورپاشا څخه دامریکا او بریتانیې پرضد د یو مقدس جنگ لپاره کار واخلي . شورویانو په مسکوکې یوه لویه غونډه جوړه کړه چې په هغې کې د ۳۷ قومونو ۱۸۹۱ استازو برخه اخیستې وه .

په دغې غونډې کې انورپاشا حتی خپله پخوانۍ طرفداري له المان او اطریش څخه وغندله او د کمونستانو له مبارزو څخه یې دلویدیځ استعمار پر ضد خپل ملاتړ څرگند کړ . مگر کوم وخت چې انورپاشا دترکستان دخلکو له بدحالۍ او د کمونستانو له ظلمونو څخه خبرشو نوله خپلو کړنو څخه خواشینی او پښیمانه شو .

وروسته چې د ۱۹۲۱ م په ۱٦ مارچ کې شوروي حکومت له مصطفی اتاترک سره دسولې تړون لاس لیک کړ نو دغه کار دانورپاشا خپگان او تاثر له پخوا زیات کړ .

انورپاشا دخپلې وعدې سره سم - چې دبخارا دبحران په حل کې به له شوروپانو سره مرسته کوي په ۱۹۲۲ م کې هلته لاړاو وروسته له دې چې حالات یی ځان ته معلوم کړل نو دشوروپانو دهیلې خلاف یی داغوښتنه پورته کړه چې دبخارا امارت دې اعاده شي . دشوروپانو له وعدو سره سره انورپاشا دشوروپانو مخالفت ته وذرید .

د ۱۹۲۲ م په جنوری کی یې دخپلو پلویانوله دوه زره کسیزې قوې ددوشنبې پر ښار حمله وکړه چې په هغې کې سربیره په نورو خلکو تخمین ۸۸ روسان زخمي او سل کسه روسي عسکروژل شول . په دې وخت کې له کابل څخه هم ځینې رضاکاران دانورپاشا مرستې ته ورغلي وو .

دبخاراحکومت دافغانستان سیاسی نماینده محمد گل خان مومند په دې الزام له بخارا څخه وایست چې انورپاشا ته مرسته ورکوي . دبخارا حکومت فکرکاوه چې په دغه کارسره به دشوروي مقاماتو رضایت حاصل کاندي .

انورپاشا دکمونستانو ددغه شعار چې « دنړۍ کارگرانو سره یوشي » په مقابل کی « دنړۍ مسلمانانو سره یوشي » شعار اعلان کړی و اوله اسلامي نړۍ څخه یی دمرستو غوښتنه کړې وه . انورپاشا بیا له شوروي حکومت څخه په کلکه غوښتنه وکړه چې خپل پوځونه له بخارا څخه وکاږي. ددغه تاوتریخوالی په نتیجه کی د ۱۹۲۲ م په مارچ کی د باسمچیانو قوتونو دبخارا ښار تر محاصرې لاندې ونیو او التیماتوم یی ورکړ چې شوروي قوتونه دې له هغه ځایه ووزي همدارنگه باسمچیانو

دسمرقند ښار په شا او خوا کې هم خپلې اډې کلکې کړې وې .

په دغه وخت کې چې دانورپاشا او دباسمچيانو قوتونو ښه پرمختګ کاوه ، دبخارا امير او دباسمچيانو دمشرانو ترمنځ اختلافونه راپېدا شول چې په ټول جريان يې بد اثر وغورځاوه له بلې خوا دبخارا دامير او دانورپاشا ترمنځ هم اختلاف منځ ته راغلل او امير فکر کاوه چې انورپاشا له ده څخه دقدرت اخيستونکی دی .

دبخارا امير له يوې خوا ابراهيم بيګ لقی او دباسمچيانو نورو مشرانو ته هدايت ورکاوه چې له انورپاشا څخه چې دجنبش عمومی قوماندان دی اطاعت ونه کړي او له بلې خوا يې ابراهيم بيګ لقی ته داهم ليکل چې دانورپاشا کړنې او روابط ترکنترول لاندې وساتي .

ددغو اختلافونو په نتيجه کی شوروي پوځونو له فرصت څخه ګټه اخيسته او د ۱۹۲۲ م په جون کی يې يوه لويه حمله دانورپاشا دقوتونو پرضد پيل کړه چې دهغې په اثر دانورپاشا قواوو ماته وخوړه او په خپله انورپاشا دشوروي دمخفي پوليسو دکوماندو په حمله کې ووژل شو .

بايد زياته شي چې دباسمچيانو پرضد دشورويانو پوځي عمليا تو له هغه چال چلند څخه فرق نه درلود چې دڅارانو له خوا دمرکزی آسيا دخلکو په مقابل کې کيده . دشوروی دکيميا دشق ديو منصبدار په قول شورويانو په ۱۹۲۰ م کی دقفقاز دخلکو دقيام دځپلو لپاره کيمياوي وسله هم استعمال کړه همدارنګه دشوروی هوايي قوتونو په ۱۹۳۰ م کی دباسمچيانو پرضد د Mustard Gas مسترد ګاز له استعمال

ځخه هم کارواخیست او په ۱۹۲۸ - ۱۹۳۱ م کی ډیرې شدیدې هوایې حملې دباسمچیانو دجنبش دکاملې سرکوبی لپاره وشوې .

ابراهیم بیګ لقی چې له خپلو قوتونه سره افغانستان ته په شاتللی و خپلو فعالیونو ته دوام ورکړ او یو وار شوروی پوځونه دباسمچیانو دتعقیب په نامه ۶۰ کیلو متره افغانستان ته دننه هم ولاړل .

دمحمد نادرخان دحکومت په وخت کی دافغانستان امنیتی قواوو غوښتل چې دابراهیم بیګ لقی پلویان چې ځینی وختونه له امنیتی قواوو سره په اخ اوډب هم اخته کیدل بی وسلی کاندي خو هغوي داکارنه مانه او په نتیجه کې مقاومت اوکش او ګیر پیل شو . افغاني مقاماتو دغه مقاومت مات کړ او ابراهیم بیګ له آمو سیند ځخه بهر ته واوښت او هلته دشورویانو له خوا ګرفتار او بیا وروسته اعدام شو .

باید زیاته شی چې له ۱۹۱۸ م تر ۱۹۳٤ م پورې شورویانو دجدیدیانو دجنبش غړی وروسته له استعمال ځخه چې دشورویانو دمقاصدو لپاره ځینې کارواخستل شو دبورژوانشنلستانو په نامه یو په بل پسې په مختلفو لارو له منځته یوړل او دهغوی په ځای یی داسې کسان رویکار کړل چې دشورویانو په لاس او دهغوی په مرکزونو کې روزل شوي وو .

دباسمچیانو جنبش په یو یابل شکل تر ۱۹۳٦ م پورې دوام وکړ ددغه جنبش له ختمیدو سره دشمالي قفقاز مسلمانانو دشورویانو په مقابل کې علنی مقاومتونه پیل کړل . شورویانو ددوهم نړیوال جنګ په دوران کی

ددغو مسلمانانو دجنبش دختمولو په مقصد له عامه وژني Genocide
څخه هم مخ ونه گرځاوه او تخمین یو میلیون مسلمانان جبراً له قفقاز څخه
سایبریاته وکوچول شول چې تقریباً ۳۰ فیصده یې په نقل او انتقال کې مړه
شول .

دنړی سیاسی څیړونکی او مبصرین په دې نظر کی سره متفق دي چې
دترکستان سوسیالستی انقلاب دروسیې له کلونیالیزم څخه پرته بل شی
نه و دمرکزی آسیا خلکو ته کارگري انقلاب یوه پردی مفکوره وه چې
دروسانو له خوا له مسکو او پتروگراد څخه راوړل شوې وه ، پرته له دې چې
خلک دهغې په معنی او کیفیت پوه شي په زور او جبر وریاندې منل کېده او
مقاومت ورسره له منځه وړل کېده .

دشوروي اتحاد دزور زیاتی او استبداد له امله نه یوازی داچې دخلکو
سیاسی ، اقتصادي او فرهنگي آزادی له منځه لاړې ، بلکه په توپیر او
تبعیض کې په بیوزلیو او کامل اختناق هم اخته شول چې دهغو په نتیجه
کی دمرکزی آسیا جمهوریتونه دشوروي اتحاد له نورو برخو څخه ډیر
بېرته پاتې او خوار شول او تفاوت یې هرڅوک په سترگو لیدلی شي .

# دوهمه برخه

## دساړه جنګ انکشافات او دافغانستان حالات

## (۱۹۳۰ - ۱۹۶۰م)

په عامه مفهوم کې دساړه جنګ اصطلاح دستروقدرتونو ( Super Powers ) مقابلې او مخاصمت ته ویل شوې ده ، خو په بل عبارت هغې سیالۍ ته ویل کېده چې دامریکامتحده ایالاتو د شوروي اتحاد دجهاني سیاستونو په مقابل کې وړاندې بېوله .

ځینې سیاسي مبصرین او څیړونکي په دې نظر دي چې دساړه جنګ دوران له ۱۹۱۷ م څخه چې په روسیه کې بلشویکان قدرت ته ورسېدل پیل شوي دي ، ځکه امریکا د شوروي له کمونستي انقلاب څخه ۱۵ کاله وروسته له هغه هېواد سره سیاسي روابط ټینګ کړل .

په هر صورت له لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته او په پرله پسې بدلونونو کې د نړۍ حالات د ۱۹۳۰ م په لسیزه کې ګډوډ او له بحراني پیښو څخه ډک بریښېدل .

په اروپا کې فرانسه او انګلستان مخکښان وو ، خو آلمان په جنګ کې له ماتې څخه وروسته سختې ورځې تېرولې . آلمان چې پخوا به یې ستر رول لوباوه د جنګ د بندېزونو له امله کوم غټ کارنشو کولای له دې امله د نازیانو ګوند په ۱۹۳۳ م کې ادولف هتلر صدراعظمی ته ورساوه چې غوښتل یې د آلمان تللی برم بېرته ژوندی او په هغه هېواد باندې تپل شوي بندېزونه له منځه یوسي .

په شوروي اتحاد کې د ستالین د تیوري کمونیزم په یو هیواد کې نافذ و او د شوروي مشرانو هڅه کوله چې د کمونست ګوند حاکمیت په شوروي کې ټینګ او غښتلی کاندي . په نړیواله سطحه شوروي اتحاد خپل ایدیالوژیکی تبلیغا ت - کوم وخت چې د Cominform او Comintern تشکیلات جوړ شول - وړاندې بیول .

دد غو جریانونو په مقابل کې دامریکا د متحده ایالاتو په عمومي پالیسی کې د پخواني جمهور رئیس Warren Harding عقاید چې ویل به یې (د بلشویزم حیوان دې مړ شي ) The Bolshe-vist beast ( mustbe Slain) اغیزمن وو. دامریکا کارګری ګوندونو او جنبشونو سره چې د بلشویزم پلوي به یې کوله مخالفت کاوه او حتی له هغو هیوادونو سره بې دوستانه رویه نه کوله چې له شوروي

اتحاد سره به یې ښه مناسبات درلودل .

هغــه وخت چې د دوهم نړیوال جنګ اوربل شــو ، نو آلمان ایتـالیــې او جاپان د محور د اتحـاد په نامـه د انګلستـان فرانسې او شوروي اتحاد ( چې وروستـه ورګډ شوی و ) په مقـابل کې چې په متـفقـینو یادیدل ودریدل او د جهان د یر نور ملکونه هم په غیر مستقیم ډول جنګ کې ښکیل شول .

د دغـه جـهانـي جنګ په پای کـې بشـریت تـه دسراو مـال درانه تـاوانونه ورسـېدل چې سـاري یې نه درلـود . دغـه جنګ له هغـه وختـه زیات انسـان وژونکی شـو چې شوروي اتحـاد د آلمان له برید او تجاوز څخه وروستـه او امریکا وروسته د جاپان له حملې څخه ( پرل هار بر امریکایی بندر باندې ) د جنګي ډلو په کتـار کې ودریدل . د امریکا او شوروي اتحاد لوی هیوادونه د هغـه وخت د ستـر قدرت آلمان په مقـابل کې د یو اتحاد غـړي وو . د جنګ عـمومی تلفات ۵۰ میلیونه وژل شوو انسـانانو تـه رسـېدل چې په هغو کې د امریکا ځاني تلفات ۲۹۱۵۵۱ تنه مړه او د شوروي اتحاد ۱۸ ملیون تنه هلاک ښوول شوي وو او په دې حسـاب د شورویانو تلفات له امریکاییانو څخه ۶۰ چنده زیات وو .

له بلې خـوا د غـه جنګ په نړیـوالو چارو او اړیکو کې هم ژور بدلونونه او نوي معیـارونه رامنځتـه کـړل . شوروي اتحاد او امریکا چې د نازي آلمان په ضدیې تعـاون او همکاری درلوده د جنګ له ختـمېدو سره په رقـابتـونو او مخاصمتونو اخته شول چې ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو ښکارېدل .

سره له دې چې د یالتـا د کنفرانس ( ۱۹۴۵ م ) په نتیجه کې د امریکا او

لویدیځ هیوادونو او شوروي اتحاد ترمنځ یو لړ تفاهمات منځ ته راغلل او په ختیځه اروپا کې دشورویانو نفوذ او حاکمیت ته لاره خلاصه پریښودل شوه خو دشوروي اتحاد او ملګرو ( ختیځ بلاک ) او امریکا او ملګرو (لویدیځ بلاک ) ترمنځ اعتماد او باور مخ په کمېدو وچې دغه جزیان دساړه جنګ سیاسی مفهوم رامنځته کړ.

شوروي اتحاد دنړۍ دسوسیالستی هیوادونو او کارګري جنبشونو دمشر تابه په ادعا داهلې ځلې کولې چې له خپلو ملګروهیوادونو څخه دپانګه والې نړۍ په مقابل کې ملاتړ او ساتنه وکاندي .

له دغو حالاتو سره دمقابلې لپاره دامریکا دمتحده ایالاتو جمهور رئیس Harry Truman د ۱۹٤۷ په مارچ کې دامریکا کانګرس ته په یوې مهمې ویناکې دنړۍ په حالاتو او له جنګ څخه وروستیو انکشافاتو په خاصه توګه د شوروي اتحاد په چال چلن رنا واچوله او داسې ژمنه یی وکړه چې امریکا هغه نړیوال مسولیتونه په غاړه اخلي چې دبریتانیی حکومت یی نورنشي تحمل کولای . ددې لپاره امریکا دلویدیځې اروپا او نورو ملګرو هیوادونو مرستې ته لازم اقدامات ترسره کوي چې دختیځ بلاک دسوسیالستی هیوادونو له تخریباتو څخه په امان کی پاتې شي .

دهری ترومن دوکتورین داو چې له کمونیزم سره دمقابلې لپاره بایدله بېوزله او ناداره هېوادونو سره مرسته وشي .

په دې دول دنولسمې پیړۍ لویه لویه په یویل شکل او دنوو لوبغاړوله

خوا چې شوروي اتحاد دڅارې روسيې او امريکا دلويې بريتانيې ځايونه نيولي وو پيل شوه چې په ښکاره دواړه خواوو دتعاون اوهمکارۍ خبرې کولې خوپه پټه کې هريو دخپل دريځ په غښتلې کولو او دبل لوري په کمزوري کولو لاس پورې کاوه .

داکسفورد يو پوه شخصيت Norman Stone دساړه جنګ دعلت او اصلي ريښو په باب وايي چې دشوروي اتحاد ددولت کرکتر دساړه جنګ له عمده عواملو څخه شميرل کېږي .

يوامريکايي شخصيت Paul Nitze په قول دشوروي اساسي هدف په هغو سيمو کې چې تراوسه دکرملين ترکنترول لاندې نه وې راغلې دحکومت او ټولنيز ساختمان تابع ګرځول او ورپسې ماتول و . په داسې حال کې چې دامريکا اساسي هدف زموږ د آزادې ټولنې ساتنه او پالنه ګڼل کېږي چې دشخص په احترام او ارزښت ولاړه ده ...

دترومن معاون دترومن ددوکتورينو په دفاع کې داسې ويل :

« دشوروي اتحاد فشار په يونان زيات شوى او کېداى شول چې ايران هم ملوث او ککړ شوي واى . له بلې خوا دمصر په ککړېدو سره افريقا هم ملوث کيدله . فرانسې او ايتاليې چې لوى لوى کمونستي ګوندونه درلودل خبره تر لويديځ اروپا رسوله . له بلې خوا په ترکيې او يونان کې دملي پاڅونونو په مقابل کې لازم اقدامات په کار وو ځکه چې بريتانيې داتوان نه درلود نوځکه يې له امريکا څخه وغوښتل چې لاس ورآندې کاندي .. » له بلې خوا دامريکا متحده ايالاتو نه يوازې داچې دلويديځ بلاک هېوادونو

دمدافعي نړيوال امنيت او ثبات دساتلو لپاره موضع ونيوله ، بلکه داروپا دبيا ودانولو لپاره يې دمارشال پلان ( The Marshal Plan ) په نامه يو لوی اقتصادي تعاون هم پيل کړ چې موخه او مقصد يې داروپايي هيوادونو بهرته په پښوودرول وو چې په نړيوال جنګ کې وران او ويجاړشوي وو .

دامريکا دعالي مقاماتو ويره داوه چې که يورپ ته پراخ اقتصادي کومکونه ورنکړای شي کېنې اړخه ډلې او کمونستان به ميدان يوسي شايدهم په انتخاباتو کې .

د ۱۹٤۷ دمی په ۱۲ مه دامريکا سفير Jefferson Caffery دامريکاخارجه وزير مارشال ته خبرداری ورکړ چې که کمونستان انتخابات وګټي نتايج به يې ډير بدوي او دشوروي اتحاد نفوذ اورسوخ به په لويديځه اروپا ، افريقا او دمديترانې په سيمه کې په آسانۍ سره پراخ شي .

د Michael Hogan په قول :

دمارشال پلان موخه او هدف داو چې هر کال به د ۲ مليارده ډالرو اروپايي اقتصادي فدريشن قوي او داده کاندي ، داقتصادي ، سياسي او تولنيزو نارامیو مخه به ونيسي ، په دې دول دداخلی کمونست ګوندونو دوراندې تګ مخنيوی او هم دامريکا دصادراتو دسقوط مخنيوی لپاره دغه اقتصادي تشويق ضروري و چې شخصي صنايع وساتل شي البته دامريکا ګټو ته عمده ګواښ دنشنلست رژيمونو له خوا و . . » په نړيواله

سطحه يوه بله د پام وړ مسأله داوه چې له دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته دبريتانيې دامپراطورۍ ډيرې مستعمرې د هند په شمول يو پل بل پسې خپلواکۍ ته ورسيدې په داسې حال کې چې د روسيې له خوا په مرکزي آسيا او شمالي قفقاز کې مستعمره شوې سيمې د کمونستانو د مشرانو له ړومبنيو وعدوسره سره د شوروي اتحاد د نه بيلېدونکيو برخو په توګه پاتې شوې چې د دغو مستعمرو ساتل شوروي اتحاد ته استعماري حيثيت ورکاوه . امريکا او لويديځوهيوادونو په ۱۹٤٦ م کې د ناتو پوځي تړون بنسټ کيښود او په مقابل کې شوروي اتحاد او ختيځ بلاک د وارسا پوځي تړون منځ ته راووړ چې دواړه تړونونه په خطرناکو وسلو سنبال شوي وو . کوم وخت چې د شوروي اتحاد له خواد Cominform له لارې دامريکا او د مارشال د پلان پر ضد پروپاګندې زياتې شوې نو امريکا په ۱۹۵۰ م کې خپل د Thors توغندي په انګلستان او ايتاليې او د Jupiter توغندي په ترکيې کې ځای پر ځای کړل چې د شوروي اتحاد احتمالي بريدونو ته ځواب ووايي .

کوم وخت چې په ۱۹۵۲ م کې د کوريا جګړه پيل شوه نو شوروي اتحاد د شمالي کوريا د کمونستي حکومت او متحده ايالات د جنوبي کوريا مرستې ته ودريدل بيا وروسته چين هم د شمالي کوريا مرستې ته د کمونزم او کپيتالېزم د جګړې په تعبير ورګډشو .

په دغسې جګړې کې دواړه خواووته درانه تاوانونه ورسيدل او څه د پاسه ۵۰ زره امريکايي عسکر د کوريا په دغې جګړې کې هلاک شول په

داسې حال کې چې دشمالي کوريا تلفات ترلکونو هم تيريدل . سره له دې چې دامريکايي ځواکونو په مرسته دشمالي کوريا مخه ونيول شوه خو دغه شخړه په قطعي توګه حل نشوله او يو شمير امريکايي عسکر دجنوبي کوريا دمرستې لپاره هلته پاتې شول .

په ۱۹۵۳ م کې دجوزف ستالين له مړينې وروسته دشوروي اتحادنوي مشرتابه په خپل چال چلن کې بدلون راووست او مالنکوف دشوروي نوی مشر هڅه کوله چې په بين المللي روابطو کې دتاوتريخوالي دکمولو په خاطر له لويديځ سره دخپل هيواد مناسبات ښه کاندي.

وروسته نيکتاخروشچف دشوروي اتحاد ديو اصلاح غوښتونکي مشرپه توګه دخپل حکومت په بهرني سياست کې بدلونونه راوستل او له بهرنيو هيوادونو سره يې دسوله ييز ګډژوند Peaceful Coexistence تګلاره غوره کړه چې په نړۍ کې دشوروي نظام لپاره دوستان پيداکاندي .

په ۱۹۵٦ م کال کې چې دسويزکانال بحران رامنځ ته شو او بريتانيه او فرانسه دمصر پرضد داسرائيل ترڅنګ په جنګ کې داخل شول ؛ شوروي مشر خروسچف له مصر څخه ملاتړ اعلان کړ او ګواښ يې وکړ چې دشوروي رضاکاران به په جګړي کې برخه واخلي. له دې امله دغه جګړه ژر دمصر په ګټه پاى ته ورسيده .

لويديځو هيوادونو او امريکا دشوروي اتحاد له نوي بين المللی دريځ څخه انديښمن وو او د ۱۹۵۷ م د مۍ په ۲۱ مه آيزنهاور دامريکا جمهور

رئیس ددنیا دحالاتو په اړوند وویل :

« موږ باید د کمونیزم مقابل کې نړیوالـه دفاع ټینګه کړو او باید چې د آزادۍ دارزښتونو او ښیګنو په باره کی پراخ نشرات وشي او دا دامریکا ددواړو سیاسي ګوندوو ( جمهوري غوښتونکو او دموکراتانو ) له خواتاییدشوی یوه موضوع ده . . . »

د آیزنهاور اداري بیا وروسته اعلان وکړ چې د کمونیزم د ګواښ په مقابل کې د یونان او ترکیې ساتنه دومره مهمه ده چې باید امریکا په خپله هغوی ته پوځی او اقتصادي مرستې ورو رسوي .

وروسته بیا چې دویتنام جنګ منځ ته راغی نو دختیځ او لویدیځ ترمنځ رقابت او خصومت یوځل بیا سریع شو ، دشمالي ویتنام حکومت ددوکتور هوچي من په مشرۍ هڅه کوله چې دجنوبی ویتنام په نیولو سره دهغه هیواد قدیمی یووالی تامین کاندي ، مګر دجنوبي ویتنام حکومت چې له کمونستانو سره دمقابلې په خاطر دامریکا ملاتړ ورسره وه غوښتل یې چې ټول ویتنام د کمونېزم له دیکتاتورۍ څخه خلاص کاندي .

دویتنام په دغې جګړې کې شوروي اتحاد او چین شمالی ویتنام ته پوځی او اقتصادي مرستې ، پوځی سلاکاران او حتی پوځیان ورکول او جنوبي ویتنام ته امریکا پوځی او اقتصادي کومکونه او حتی په زرهاو وامریکاییان دجنګ میدان ته استول چې د کمونستانو له وړاندې تګ څخه مخنیوی وکاندي . په دغه جګړې دواړو خواوو له دول دول انسان وژونکو وسلو څخه کاراخیست چې د زرګونو خلکو د مرګ ژوبلې او

تباهۍ سبب گرځیدل .

یوامریکایی سیاست پوه George Kennen دویتنام له جگړې سره د مخالفت او دامریکا دحکومت په تګ لارې باندې داعتراض په شکل داسې ویل :

« په عمومی توګه دجنوب ختیځې آسیا هیوادونه داسی ګڼل کیږي چې جاپان او لویدیځه اروپا ته خام مواد برابرکاندي دهمدغې مفکورې پر بنیاد دامریکا حکومت لومړی په هند او چین کې دفرانسې دکلونیالزم دتقویې لپاره مداخله وکړه او بیا وروسته امریکا دغې مدافعې ته یوازې ودریدله ځکه داسی دارموجود و چې دنشنلزم وایرس به Virus of Nationalism په جنوب ختیځه آسیا کې تیت شي او بیا به جاپان مجبورشي چې له کمونستی نړۍ سره ځان جوړکاندي . په دغو دلایلو په اندونیزیا ، تایلند او فلپین کې دکتاتوري نظامونه دامریکا له خوا تقویه او په قدرت کې پاتې شول.. »

ددې ترڅنګ په ۱۹۵۲ م کې دداکتر مصدق اصلاح غوښتونکی حکومت هم دامریکا لپاره دتحمل وړنه و اوله دې امله د امریکا په مرسته دمصدق حکومت ړنګ او رضاشاه چې ایتالیې ته تښتیدلی و ، بېرته دایران دپاچا په توګه قدرت ته ورسول شو .

امریکا سره داویره وه چې دمصدق په حکومت کې به دشورویانو پلویان پټ شوي وي او دابه په راتلونکې کې د شورویانو وړاندې تګ ته لاره خلاصه کاندي ، البته دغه استدلال تریوه حده پورې درست هم

ښکاريده .

دامريکا حکومت وروسته په ۱۹۵۵ م کې دبغداد پکت په نامه يو بل اتحاد جوړ کړ چې په هغه کې ايران ، پاکستان ، عراق ، بريتانيې او امريکا ګډون درلود او هدف يې د کمونيزم په مقابل کې دګډ او متحد فعاليت منځته راوړل وو . دغه پکټ وروسته له هغه چې په ۱۹۵۸ م کې عراق ورڅخه ووت د CENTO پکت په نامه يادشو چې عين فعاليتونه يې وړاندې بيول .

## ددغو انکشافاتو ترڅنګ دافغانستان حالات څرنګه وو؟

وروسته له هغه چې دامان الله خان حکومت په سقوي شورش کې رنګ شو او حبيب الله دسقو زوی له غلا او داړه ماری څخه امارت ته ورسيده؛ دافغانستان خلکو ته دبهرنيو مداخلو لاسونه ښيخې څرګند شول چې يو ځل بيا دافغانستان په کورنيو چارو کې اوږده شوي وو . داروپا اوحتی امريکا ورځپانو هم له دغو حقايقو څخه پرده پورته کړې وه چې انګليسانو څرنګه دامان الله خان حکومت ته دسيسې جوړې کړې وې . جنرال محمد نادر خان چې پخوا په فرانسه کې دامان الله خان سفير و او بيا له کاره مستعفی او هلته اوسيده . په ۱۹۲۹ کې دپکتيا له لارې افغانستان ننووت اود ۱۹۲۹ م داکتوبر په ۱۲ مه حبيب الله بچه سقو چې نه مياشتې يې په کابل واکداري کړې وه له ارګ څخه وتښتيد او دنادرخان ځواکونو کابل ونيو .

نادرخان نوی حکومت اعلان کړ او دنومبر په ۱۶ مه دبريتانيې حکومت دنادرخان حکومت په رسميت وپيژاند .

دشوروي اتحاد حکومت هم دنادرخان حکومت ژر په رسمیت وپیژاند او کوم وخت چې د ابراهیم بیگ لقی ډله او د فرغانې مهاجرینو ځینې فعال مشران د نادرخان له حکومت څخه بېرته بخارا او خیوا خواته و تښتیدل او د باسمچیانو د جنبش ارتباط په افغانستان کې وشلیده د نادرخان له حکومت سره د شوروي روابط تر پخوا زیات ښه او غښتلي شول . د ۱۹۳۱ م د جون په ۲٤ مه کې د افغانستان او بریتانیې د حکومتونو ترمنځ د دوستۍ او د یو بل په چارو کې د نه مداخلې هغه معاهده تجدید شوه چې د امان الله خان په وخت کې لاس لیک شوې وه البته یو څه نور مواد او قیود هم ور زیات شوي وو او یو له هغو څخه دا هم و چې دواړه خواوې ژمنه کوي چې په خپلو خاورو کې به د یو بل د عالي گټو پر ضد د هر ډول اقداماتو مخنیوی کوي او بل دا چې له دریم هیواد سره به د یو بل په تاوان تړون او تعهد نه کوي .

د نادرخان حکومت د ډیورند له کرښې څخه هغه خوا د سرحد د خلکو په مورد کې عملاً بیطرفي اختیار کړې وه چې د امان الله خان په وخت کې زیات اهمیت ورته ور کول کېده .

د نادرخان حکومت د هغو روسي انجینرانو او کارپوهانو قرار دادونه هم ختم کړل چې د امان الله خان په وخت کې په انکشافي پروژو کې استخدام شوي وو .

البته د نادرخان نژدې روابط له بریتانیې سره د افغانستان او هند په ځینو سیاسي حلقو کې ښه عکس العمل نه درلود او په خاصه توگه د هند

د آزادی د جنبش مطبوعاتو په نادرخان تورولګاوه چې له امان الله خان سره یې جفا کړې ده . نادرخان په ۱۹۳۳ م کی دیو شاګرد له خوا ووژل شو . بریتانیې او شوروي یو پر بل د قتل تورلګاوه ، له هغه وروسته د ده زوی محمد ظاهر پاچاهی ته ورسید . د محمد ظاهر شاه تر مشرتابه لاندې دافغانستان حکومت هڅه کوله څوله آلمان او امریکا سره هم ښه روابط ټینګ کاندي . په دې خاطر په ۳۷ - ۱۹۳۶ م کی له المان سره یو لړ قرار دادونه او تماسونه ونیول شول او له امریکایی شرکت سره هم د تیلو او ګازو د پلټنې قرار داد وشو . د دې تر څنګ یو بل انکشاف هم منځته راغلی و او هغه دا چې د آلمان حکومت د شوروي اتحاد په همکاری غوښتل د امان الله خان په ګټه په کابل کې کودتا وکاندي . په هغه وخت کی آلمان او شوروي ظاهراً له بریتانیی سره د دښمنی په ګډ دریځ ولاړ و . څرنګه چې شورویانو د المان په دغه تجویز چې دانګریزانو د منافعو پر ضد ترتیب شوی و د زیاتو معلوماتو غوښتنه وکړه آلمانانو داسې وګڼله چې شاید روسان دغه کار ته علاقه نه لري . وروسته بیا چې د آلمان او شوروي روابط کړکیچن او په دښمني بدل شول دغه مساله هم په خپل ځای پاتې شوه .

په ۱۹٤۳ م کی د امریکا حکومت د بین المللی انکشافاتو او بدلونونو له امله علاقمند شوی و چې په کابل کی خپل سفارت پرانیزی چې دغه کار دافغانستان د حکومت د تقویې لپاره یو موثر اقدام بلل کیده .

کوم وخت چې په ۱۹۳۹ م کی د دوهم نړیوال جنګ اتحادونه جوړیدل نو دافغانستان د حکومت لپاره یوه بله دا زمینه او ابطلا موقع راپیدا شوه

چې له خطرونو څخه ډکه ښکاریده .

دافغانستان حکومت له یوې خوا دشوروي اتحاد او بلې خوا دبریتانیې بین المللی دریځونو او په عالمی جنګ کې ګډون لیده اوله بلې خوایی خپل حسنه مناسبات له آلمان سره په نظر کې نیول . شوروي په اول کې د آلمان متحد او بیا وروسته دهغه دښمن ګرځېدلی و .

په دې اساس دافغانستان حکومت د ۱۹۳۹ م کال د سپتامبر په ٦ دیو پاچاهی فرمان په اساس خپله بیطرفی اعلان کړه او دې دواړه جنګی ډلو یعنی متحدینو او متفقینو په مقابل کې یی یو ډول چال چلن غوره کړ .

دافغانستان حکومت هڅه درلوده چې دشوروي او بریتانیې حکومتونو په مقابل کې بې توپیره راکړه ورکړه وکاندي. له دې امله په ۱۹٤۰ م کې له شوروي اتحاد سره یو نوی تجارتی قرارداد لاس لیک شو او له بلې خوا دافغانستان حکومت دعراق دحکومت تقاضاته چې داسعد آباد دمعاهدې مطابق یی دمرستې لپاره کړی و مثبت ځواب ورنه کړ او دبریتانیې درضایت لپاره یی بې طرفه دریځ ونیو .

دافغانستان حکومت له نړیوال جنګ څخه دراپیداشویو مسایلو دکره کتنې او دګاونډیو هیوادونو دتحولاتو دارزیابۍ لپاره د ۱۹٤۱ م د اکتوبر په ٥ او ٦مه په کابل کې لویه جرګه هم دایره کړه چې حکومت ته لازمې لارښوونې وکاندي . دغې جرګې له غور وروسته دحکومت دبیطرفۍ له دریځ څخه ملاتړ څرګند کړ او افغانستان دجنګ ترپایه یې خپل دغه دریځ وساته . دیادونې وړ ده چې په دغه وخت کې د آلمان

حکومت دغې هلې ځلې هم کولې چې که له افغانستان څخه دانګلیسانو پرضد کارواخلي او بریتانوی هند په نارامه کولو سره په اروپا کی دمتفقینو اتحاد ضعیف او کمزوري کاندي .

له جهاني جګړې څخه وروسته چې دافغانستان یوې خوا غښتلی ، شوروي اتحاد او بلې خواته دبریتانیی مخ په ړنګیدو امپراطوري ولاړه وه ، دافغانستان حالات هم له هغو سره موازي یوې نوې مرحلې ته داخل شول چې بیا وروسته یی دساړه جنګ دوران نوم پیدا کړ .

دافغانستان صدراعظم په ۱۹٤۷ م کې دامریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړ او له هغه هیواد څخه یی وغوښتل چې د افغانستان پرمختیایی پروژوکی برخه واخلي .

په ۱۹٤۸ م کی عبدالمجید خان زابلی دافغانستان داقتصاد وزیر امریکاته په خپل رسمی سفر کی دهغه هیواد عالي مقاماتو ته داخبره څرګنده کړه چې بریتانیه له هند څخه په وتو کې ده او داخطره شته چې شوروي اتحاد پر افغانستان حمله وکاندي له دې امله دافغانستان حکومت دخپل امنیت او دفاع لپاره قوي اردو ته ضرورت لري چې باید دامریکا له خوا ورسره مرسته وشي خو امریکایی مقاماتو دغې غوښتنې ته مثبت ځواب نه وورکړی .

وروسته دافغانستان حکومت داغوښتنه هم کړې وه چې که دامریکا اضافي وسلې او پوځی سامان چې دهند په ډیپوګانو کې پراته دي افغانستان ته ورکړل شي مګر امریکایی مقاماتو په دې دلیل دغه

غوښتنه رد کړې وه چې افغانستان په جهاني جنگ کې دامریکا پلوي نه ده کړې نو دغه وسلې هم ورباندې خرڅیدلای نشي . یوه بله موضوع چې په دغه وخت کې یی افغانستان له نورو مشکلاتو سره مخامخ کړ هغه دهند له نیمې وچې څخه ددوه هیوادونو منځ ته راتلل وو چې افغانستان دسرحد دخلکو دسرنوشت په هکله ورسره په لوی جنجال اخته شو . څرنگه چې دبریتانیې استعمار په هند کې مخ په ختمېدو شو نو افغانستان هیله درلوده چې بریتانوی حکومت به هغه سیمې چې دگندمک او دیورند د په زورمنل شوو او تحمیلی معاهدو ( ۱۸۷۹ او ۱۸۹۳ ) په نتیجه کی له افغانستان څخه جلا او بریتانوي هند او یا هم مستقیماً دانگریزانو ترکنترول لاندې راغلې وې بیرته افغانستان ته ورکاندي او په دې ډول به دافغانستان طبیعی حدود چې له بلوچستان څخه ترپیښورا و چترال پورې رسیدل اعاده شي .

کوم وخت چې دهند وایسرا لارد مونت بټن دهند دویشلو پلان خپور کړ دهغو سیمو په مورد کی چې دانگریزانو ترمستقیم کنترول لاندې وې هیڅ نه وو ویل شوي . هغه وخت چې دافغانستان حکومت دغه موضوع او دسرحد خلکو غوښتنه پورته کړه دبریتانیې حکومت داسې ښوولې وه چې اوس دهند دویش پلان دبریتانیې له پارلمان څخه تیر شوی او داچې ناوخته اقدام شوی دی نو دغه موضوع به ریفرنډم ته وړاندې شي . دبریتانیې حکومت د ۱۹۴۷ م د اگست په ۱۵ مه دهند له ویش څخه ددوه هیوادونو یعنی هند او پاکستان دجوړیدو اعلان وکړ چې دسرحد دخلکو دسیاسي

مشرانو دغوښتنو په مقابل کې دریفرنډم وعده ورکړ شوې وه .

په دغه ریفرنډم کې چې دانګریزي مقاماتو له خوا ترتیب شوی و، له خلکو څخه غوښتل کېدل چې په هغو صندوقونو کی رایې واچوي چې دمذهبي کتابونو ترڅنګ ایښودل شوي وو .

سیاسی او قامي مشرانو او سیاسي ګوندونو له ریفرنډم سره له پخوا مقاطعه او پریکون په دې دلیل اعلان کړی و چې دسرحد خلکو ته بله لار نه وه پریښوول شوې او مجبوره شوي وو چې یا په هند او یا پاکستان پورې ځانونه ونښلوي ، په ریفرنډم کې ځینو خلکو، حکومتي مامورینو، پولیس او پوځیانو ګډون کړی و او ددوی درایو صندق چې دمسلمانانو دمذهبي کتاب ترڅنګ و، هغه په پاکستان کې دګډون په معنی اعلان شو .

ددغو پیښو په نتیجه کی د ۱۹٤۷ م کال په سپتامبر کی په ملګروملتونو کې دافغانستان خاص نماینده په دغې موسسې کې دپاکستان دنماینده په ګډون مخالفت وکړ او دسرحد دخلکو دسرنوشت مسأله یې پورته کړه چې دهند دویشلو په پلان کې له نظره غورځول شوې وه .

ددغه اقدام له امله دافغانستان اوپاکستان ترمنځ روابط له پیل څخه په تاوتریخوالی او تشنج شروع شول که څه هم دافغانستان او پاکستان دمشرانو ترمنځ په دغه مورد کې غیر مستقیم روابط موجود وو .

دهمدغې ستونزې له امله د ۱۹٤۹ په جون کی د پاکستان هوایی ځواکونو د پکتیا په یوې سرحدي سیمې بمباري وکړه چې د دواړو هیوادونو روابط یی نورهم بحرانی کړل.

د دغو تشنجاتو په انکشاف کې د افغانستان ملی شوری د ۱۹٤۹ م دجولای په ۲٦ مه کې یوه تاریخی غونډه وکړه او په یو رسمی بیان کې یې هغه ټولې په زور منل شوې معاهدې د ډیورنډ د معاهدې په شمول لغوه او بې اعتباره اعلان کړې چې د بریتانوی استعمار په وخت کې پر افغانستان په زور تحمیل شوې وې.

د افغانستان د ملي شوری د تصمیم له اعلانیدو وروسته د اپریدو خلکو په یوې لویې تاریخی غونډې کې چې د سرحد د قامونو او قبایلو د پرومشرانو پکې ګډون کړی و، دهند د ویشلو پلان وغانده چې د سرحد خلکو ته یی حق نه و ورکړی، چې خپله آزاده رایه څرګنده کاندي، غونډې له ټولو خلکو څخه غوښتنه وکړه، چې د پښتونستان په جوړیدو کی سره یو او متحد شي.

د پښتنو مشر خان عبدالغفار خان ( پاچاخان ) چې د بریتانیې استعمار پر ضد یی اوږدې مبارزې کړې وې د سرحد د پښتنو د جنبش په سر کی ولاړ و او د پاکستان له واکدارانو څخه یی د خپل قام د حق مطالبه کوله. پاکستان داړیکو د خرابیدو له امله د افغانستان پر ضد له تجارتي او ترانزیتی بندیز څخه کار واخیست او د پاکستان له لارې افغاني تجارت ته لاره بالکل بنده او مسدود شوه.

له بلې خوا دافغانستان روابط له شوري اتحاد سره چندان تاوده نه وو او سره له دې چې د تالويګ کرښه د آمو دسين ژوره برخه ددواړه هيوادونو ترمنځ دسرحد کرښه و پيژندله شوه خو شوروي اتحاد له لويديځې نړۍ سره دافغانستان داړيکو په پراختيا نه خوشحاليده او خصوصاً نه يې غوښتل چې دافغانستان او امريکا ترمنځ ښه روابط منځ ته راشي .

په ۱۹۵۲ م کې شوروي اتحاد دملګرو ملتونو دکارپوهانو پر فعاليت اعتراض وکړ چې دافغانستان په شمال کې د تيلو په پلټنې بوخت شوي وو. - شوروپانو دا ډول فعاليتونه دخپلو ګټو پرضد بلل . سره له دې چې دافغانستان حکومت دشوروي اعتراض رد کړ مګر عملاً يې د تيلو دپلټنې کار - چې د ملګرو ملتونو له تخنيکي مرستو څخه کيده ودراوه .

دشوروي حکومت چې دستالين دتصفيې او دمخالفينو په تکولو مصروف و او له نړيوال جنګ څخه وروسته پيښو اقتصادي تاوانونو لدامله عملي اقدامات نشول کولای ، په کمونستي تبليغاتو اود تفرقو په راپارولو يې په افغانستان کې لاس وهنه کوله . شوروپانو تل کوشش درلود چې خپلو اک هيوادونه دامپرياليزم ددوستانو په نامه بدنامه کاندي او دخپلو مقاصدو لپاره لاره پرانيزي .

له دې امله دشوروي حکومت په خپلو تبليغاتو کې داموضوع پورته کوله چې دافغانستان حکومت دخپلو اقليتونو پرضد عمل کوي او هغوی په محروميت کې ترفشار لاندې ساتي . په دې اړوند شوروي دايرة المعارف په ۱۹۵۰ م کې وليکل :

« .. افغانستان دولت یو مالک بورژوا او ملت غوښتونکی دولت دی ، پداسی حال کې چې د غبېر افغان قامونو لپاره چې په هغه هیواد کې اوسیږي د آزادۍ او خودمختارۍ حق نه ورکوي د هند دافغانانو د نهضت پلوي کوي او غواړي چې د پاکستان یوه برخه بېله او پښتونستان جوړ کاندي دافغانستان حاکمه طبقه په داسې حال کې چې په ملي وحدت تکیه کوي او غواړی چې د سرحد ه دواړو خواوو افغانان سره یو کاندي په داخل کې په خلکو ظلم او زور زیاتی کوي او هغوی نه پرېږدي چې یو جنبش جوړ کاندي . همدارنګه د هغو تبعیدی افغانانو او هغو کسانو خلاف – چې د فیودالی ضد او امپریالستی ضد انقلابونو طرفدار دي – له هر ډول فشار او ځپلو څخه مخ نه اړوي .. »

له دغې لیکنې څخه د شورویانو ظاهر او باطن څرګندیدل . هغوي نه یوازې دافغانستان او لویدیځو هیوادونو د روابطو له پراختیا سره مخالفت درلود ، بلکه دافغانستان د حکومتونو د ترقی او پرمختګ له هلوځلو سره یې هم تربګني ښووله . د شوروي حکومتونو چې خپل محکوم اقلیتونه ، لکه ازبکان، تاجیکان ، ترکمنان ، قزاقان ، چیچن او تاتاران له خپلو حقوقو څخه محروم کړي وو او په ظالمانه سلوک یې هغوي حتی له خپلو ځایونو څخه نورو برخو ته لیږدول او د چیچن او تاتار خلک یې په اجبار د سایبریا دشتو ته مهاجر کول او د هغوی په سیاسی او فرهنګی حقوقو یې ملنډې وهلې خو بیا هم خپل اعمال ورته ښه او د نورو ورته بدښکاریدل.

شوروي روسان چې د څارانو وارثين بلل کيږي په خپل عمل او ماهيت کې يې هم له هغوی څخه کوم فرق پيدانکړ ، هغوی د مظلومو خلکو ربړول ، مستعمره کول ، څاري امپراطورۍ د ساتلو قواعد گڼل او شوروي روسانو د کمونيزم او پرولتاريا د کتاتوري په نامه عين مرامونه وړاندې بيولي دي .

له بله پلوه د افغانستان مناسبات د امريکا له ستر قدرت سره هم کوم خوند او ځانگړې خاصيت نه درلود د امريکا حکومت د پاکستان له جوړښت سره هغه هيواد ته خوش بيني درلوده . د پاکستان حکومت په ۱۹٤۹ م کې امريکايي مقاماتو ته داپيشکش وکړ چې له کمونيزم سره د مقابلې لپاره امريکايي ځواکونو ته په خپله خاوره کې پوځي تسهيلات او آسانتياوې ورکوي .

امريکا هم په ۱۹۵۰ م کې پاکستان ته اتومي ريکتر ورکړ چې د سيمې د يرو هيوادونو هغه نه درلود . له بلې خوا کوم وخت چې په ۱۹۵۳ م کې پاکستان ته د امريکا پوځي کومکونه اعلان شول د افغانستان حکومت هم امريکاته ته مراجعه وکړه چې که افغانستان سره پوځي مرسته وکاندي .

د ۱۹۵٤ م په اکتوبر کې محمد داود د افغانستان صدر اعظم خپل ورور محمد نعيم امريکا ته واستاوه چې له هغه هيواد څخه د افغانستان له اړتيا وو سره سم پوځي مرسته وغواړي . په دسامبر کې د امريکا خارجه وزير J.Dulles د افغانستان غوښتنې ته داسې ځواب ورکړی و :

« ... وروسته له ډيرې څيړنې داسې وپتييل شوه چې پوځي مرسته به

پرابلمونه را پیداکاندي . افغانستان باید دوسلو دغوښتلو په ځای له پاکستان سره د پښتونستان د موضوع پر سرخپل مشکل حل کاندي . . »

دامریکا خارجه وزیر دخپل دغه ځواب یوه کاپی د پاکستان حکومت ته هم لیږلې وه چې دافغانستان حکومت د دغه راز او اعتماد دفاش کولو له امله سخت خواشینی شوی و .

ددې ترڅنګ په ۱۹۵۳ م کې دامریکا لوی درستیزانو دادارې دغه راپور هم فاش شوی و چې : « . . افغانستان امریکا ته کوم سوق الجیشی اهمیت نه لري او که ویی لري نو هم د یرلږ. به وي د دغه هیواد جغرافیایی موقعیت دغه امکان رامنځ ته کوي چې که بین المللی حالات تقاضا وکړي نو شوروي اتحاد به دغه هیواد ترخپل کنترول لاندې راولي . . »

په دې پسې په ۱۹۵٤ م کې نکسن دامریکا د جمهور رئیس مرستیال افغانستان ته سفر وکړ چې دحکومت او افغانانو له خوا تود هرکلی ورته وویل شو . افغاني مقاماتو هغه ته دافغانستان ستونزې او اړتیاوې توضیح کړلې چې که دامریکا حکومت په خپل دریځ نوي نظر وکاندي . مګر نکسن دخپل سفر په راپور کی نه یوازې داچې دافغانانو ستونزې یادې نکړې ،بلکه افغانستان یی دامریکاد مرستو وړ هم ونه ګاڼه .

کوم وخت چې په ۱۹۵۵ م کی دعراق د پکت جوړیدل منځ ته راغلل نو دامسأله پورته شوه چې که افغانستان هم د دغه پکت په غړیتوب ورګډ شي . څرنګه چې افغانستان له یوې خوا شوروي اتحاد سره په ګاونډیتوب او دهغه هیواد دنارضایتی او احتمالي خطرونو په لحاظ او له بلې خوا له

پاکستان سره دسرحدي او دډیورنډ کرښې په نسبت نشول کولای په دغه پکټ کې شامل شي نو دافغانستان او لویدیځو هیوادونو او امریکا په روابطو کې تودوالی رامنځ ته نشو .

محمد داود دافغانستان دحکومت مشر کوشش کاوه ، چې ددواړو سترو قدرتونو یعنی شوروي اتحاد او امریکا ترمنځ دخپل هېواد بیطرفي وساتي او په همدغه اساس وچې په ۱۹۵۵ م کی افغانستان دنا پیېلو هیوادونو دجنبش یو بنسټ ایښودونکی غړی شو او هیله یی درلوده چې خپل هیواد ددغو سترو قدرتونو له سیالیو څخه خلاص کاندي ، مګر مشکل داوچې افغانستان ، لکه هند یا اندونیزیا یانورو غوندې له شوروي څخه لرې نه و پروت چې دهغه هیواد له پتهو او ښکاره دسیسو څخه به په امان کې پاتې شي .

څرنګه چې پخوا وویل شول شوروي اتحاد دسوله ییز ګډژوند ترسیاست لاندې یو لړ فعالیتونه پیل کړي وو چې په دریمه نړۍ کې شوروي ته دوستان پیداکاندي. دهمدغو هلو ځلو په لړکې په ۱۹۵۵ م کې دشوروي مشران خروسچف او بولګانین افغانستان ته په رسمی سفر لاړل او هلته یې افغانستان ته دسل میلیونه ډالرو پور اعلان کړ چې دمرستې یو غټ مبلغ شمیرل کېده .

همدارنګه دبیطرفی او عدم مداخلې د ۱۹۲۱ م د جون د ۲٤ مې معاهده هم دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ دلسو کلونو لپاره تمدید شوه چې دروابطو په پراختیا او دباور او اعتماد په پیاوړتیا کې مرسته یی

کوله. ددې ترڅنګ شوروي مشرانو د پښتونستان دقضیې په هکله دافغانستان له دریځ څخه خپل ملاتړ څرګند کړ چې دشوروي اتحاد له پخوانۍ سیاست سره یې بشپړ توپیر درلود .

محمد داود چې په هیواد کې د اصلاحاتو غوښتونکی و مګر څرنګه چې له یوې خوا دسخت دریځه مذهبی مشرانو او لویو ملاکانو له نفوذ او له بلې خوا دپاکستان له ګواښونو او تحریکاتو سره مخامخ و نو تر تولو لومړی یې دد یر قوی او مدرن پوځ دجوړولو امکانات ترکتنې لاندې نیولی وو چې په داخل کې امنیت ټینګ او دهیواد له سرحدونو څخه دفاع وکړای شي . په دغه وخت کې دافغانستان حکومت د پنځه کلن اقتصادي پلان دتطبیق لپاره له امریکا څخه بیا مرسته وغوښته ، مګر دامریکا حکومت په دې نامه چې دپلان دجوړېدو مشوره ورسره نه ده شوې له مرستې ورکولو څخه ډډه وکړه .

ویل کیدل چې دامریکا سفیر په کابل کې Angus Ward چې دکمونېزم سخت مخالف وو له محمد داوُد سره ښه روابط نه درلودل او هغه یې دشورویانو په دوستۍ ملزم کاوه . له بلې خوا دافغانستان دحکومت بې ثباته کولو لپاره دپاکستان دحکومت پټ کوشنونه د CIA دستیشن دمشر له نظره هم مساعد بلل کیدل . محمد داود دهیواد داقتصادي او پوځي ستونزو اونورو مسایلو دحل په خاطر وپتیله چې په کابل کې دلویې جرګې اجلاس جوړ کاندي .

دغه لویه جرګه په ۱۳۳٤ ش کې چې د ۱۹۵۵ م دنومبر له ۲۰ نه تر

د ۲ می سره سمون خوري ، د کابل په ښار کی دایره شوه او وروسته له بحث او غور څخه یی د حکومت داجراآتو اوله دوستو هیوادونو سره د تجارتی او اقتصادي اړیکوله پراختیا ملاتړ اعلان کړ او د حکومت د پیشنهاد په باره کی یې دوسلو دلاس ته راوړلو متعلق داسی صلاحیت حکومت ته ورکړ چې له هرځایه چې حکومت لازم وبولي ، کولای شي دضرورت وړ وسلې وپیري . همدارنګه لویی جرګې د پښتنو او بلوڅو دسرنوشت ټاکلو دحقوقو او د پښتونستان له مسألې څخه خپل بشپړ ملاتړ هم څرګند کړ .

ددغه جریان ترڅنګ له پاکستان سره نوی تاوتریخوالی منځ ته راغی او هغه داو چې په ۱۹۵۵ م کی د پاکستان حکومت دهغه هیواد له لویدیځو او ختیځو برخو څخه دسیاسي برابری او توازن په مقصد له لویدیځ پاکستان یو یونټ جوړ کړ او دسند ، بلوچستان او صوبه سرحد او پنجاب دصوبو پخواني اختیارات سلب شول چې خلکو ته یی ایالتی آزادی ګانې او حقوق ورکول – دغه حقوق او اختیارات خلکو د بریتانوي هند دقانون او د پنجاب دلاهور دقرارداد ( ۱۹٤۰ م ) په اساس لاس ته راوړی وو ، نوځکه د پښتنو بلوڅانو ، سندیانو او ځینو پنجابیانو مخالفت له ون یونټ سره پیل شو او دافغانستان حکومت هم د پاکستان د مشرانو په یو اړخیزه اقدام خپګان ښکاره کاوه .

د پښتونستان د مسألې په سر د پاکستان او افغانستان ترمنځ روابط دون یونټ په جوړیدو لا پسې خراب شول او دافغانستان حکومت وپتېیله چې خپلو دفاعي چاروته ژر ترژره لازمه توجه وکاندي .

په ۱۹۵۶ م کی دافغانستان حکومت دوسلو پیرودلو لومړی قرار داد له شوروي اتحاد او چکوسلواکیا سره لاس لیک کړ چې بیه یې ۲۵ ملیون ډالروته رسېده . وروسته ځینی افغاني محصلین هم دپوځي عالي زده کړو لپاره شوروي او چکوسلواکیا ته واستول شول . دیوې رسمي احصائیې له مخې له ۱۹۶۰ م تر ۱۹۶۵ م پورې شوروي اتحاد او ختیځ بلاک د ۱۲۰ ملیون ډالرو وسلې په افغانستان پلورلې وې .

په تجارتي برخه کې هم دافغانستان روابط له شوروي اتحاد او ختیځ بلاک سره پراخېدل او دافغانستان او شوروي ترمنځ تجارت چې په ۱۹۵۰ م کی لس فیصده و په ۱۹۶۲ کی شپیته فیصدو ته ورسېد .

دشوروي اتحاد او افغانستان ترمنځ دغه ګړندي بدلونونه او انکشافات چې په حقیقت کې له افغانستان سره د امریکا دستر قدرت بی علاقه گی هم پکې دخل درلوده ، شورویانو ته داسې فرصت په لاس ورکړی و چې کلونه کلونه یی ورته انتظار کاوه . شورویانو چې په اقتصادي او پوځی مرستو خپل اثر اورسوخ په دریمې نړۍ کې ټینګاوه ،افغانستان هم دشورویانو په دغه لومه کې لویدلی و .

دامریکا له بی علاقه گۍ سره سره دهغه هیواد په خارجی پالیسۍ کی دافغانستان په گټه یو نوی انکشاف هم منځ ته راغی او هغه داو چې په ۱۹۵۷ م کی دامریکا دملی امنیت شوري دافغانستان دحالاتو په ارزیابی کی داسی نظر څرگند کړی و :

« ... افغانستان دکمونست بلاک دپورونو ترلوی بار لاندې راغلی

چې راتلونکې خپلواکۍ ته یې ګواښ ګټل کیږي . دافغانانو داهیله ده چې له دواړه بلاکونو یعنی ختیځ او لویدیځ به مرستې ترلاسه کاندي ، مګر دامریکا امکانات چې د جنوب ختیځ آسیا دسیمو اړتیاوې ترتنظیم لاندې راولي محدود دي . امریکا باید کوشش وکړي چې دافغانستان او پاکستان جنجال حل کاندي افغانستان باید تشویق شي چې پوځي تجهیزاتو او تمرینونو لپاره خپله اتکا په کمونستي بلاک تیټې سطحې ته راکوزه کاندي اوله امریکا اونورو هیوادونو سره دې رابطه پیداکړي . . »

دملي امنیت دشورې دغه څرګندونې امریکایي مقاماتو ته دازمینه برابروله چې له افغانستان سره خپل مناسبات پراخ کاندي .

دې کې شک نشته چې دامریکا او افغانستان ترمنځ دروابطو دښه کیدو او پراخیدو لپاره دامریکا دنوي سفیر - چې د ۱۹۵۵ م کال په وروستیو وختوکې افغانستان ته - مقرر شوی و هلو ځلو هم ډیر تاثیر درلوده . په ۱۹۵۸ م کې محمد داود دافغانستان صدراعظم امریکا ته رسمي سفر وکړ او ددواړو هیوادونو روابط مخ په ښه کیدو شول .

وروسته له ۱۹۵۹ م څخه دامریکا حکومت دغو مسایلو ته بیرني پاملرنه واړوله چې دشوروی اتحاد مرستې او دهغو اغیزې په سیمه کې خطرونه منځ ته راوړي نو باید دامریکا حکومت په دغه لړ کې دافغانستان اړتیا ووته هم توجه وکاندي . په دې اساس امریکا افغانستان ته دکندهار دهوایي ډګر دجوړیدو ، دلویو سړکونو داسفالټ او قیر ریزۍ او دهلمند دپروژې دتکمیل؛ همدارنګه دکابل پوهنتون دتعمیرونو دجوړښت او نورو

پروژو لپاره مرستې ورکړې .

باید زیاته شي چې له دوهم نړیوال جنګ څخه راپه دې خوا دافغانستان دبودجې غټـه منبع خارجي کومکونه ګڼل کیدل چې په کال کې تر ۱۲۰ ملیون ډالرو رسیدل . همدارنګه له ۱۹۵۳ م تر ۱۹۶۳ م پورې ۶۵ فیصده پانګه اچونه یعنی سرمایه ګذاری هم له خارجي مرستو او کومکونو څخه جوړه شوې وه . واضح ده چې دغو پورونو او کومکونو خپل ناوړه اثرات هم ترځنګ درلودل او خارجیانو ته دافغانستان په چاروکې د دخالت زمینه هم برابریدله. له بلې خوا دون یونټ په مسألې دافغانستان او پاکستان روابط ډیر بحراني شوی وو. په کابل کې د پاکستان په سفارت حمله شوی وه او دهغه هیواد بیرغ ته په مظاهرې کې اوو اچول شوی و پاکستان د ترانزیت او تجارت لار په افغانستان بیا بنده کړې وه . محمد داود له پاکستان سره د مناسباتو دښه کیدو په خاطر په ۱۹۵۶ م کی پاکستان ته رسمی سفر وکړ او له جنرال سکندر میرزا -دهغه هیواد جمهور رئیس - سره یې خبرې اومذاکرې سرته ورسولې خوله دغو مذاکرو څخه کومه ښه نتیجه راونه وته.

په ۱۹۶۱ م کی یوځل بیا دافغانستان او پاکستان روابط دیو بل په کورنیو چاروکی د تورونو په لګولو قطع شول . دافغانستان قونسلګری ګانې په کوټه او پښاور کی بندې شوې او افغانستان خپل سرحدونه له پاکستان سره وتړل . دامریکا دباندنیو چارو دوزارت په اسنادو کی چې په ۱۹۷۷ م کی علنی شوی لیکل شوی دی چې محمد نعیم دافغانستان

د صدارت مرستیال امریکا ته په یوسفر کی له جمهور رئیس جان کنیدی څخه د ایران له خاورې دیوې ترانزیت لارې د جوړیدو غوښتنه وکړه چې پر شوروي له زیاتی اړتیا څخه مخنیوی وشي مگر کنیدی د داسې لارې جوړښت گران بللی او توصیه یې کړې وه چې افغانستان باید له پاکستان سره خپل مناسبات ښه کاندي څو د غه مشکلات حل شي .له شوروي اتحاد او امریکا سره د افغانستان اړیکو د ښه کیدو او پراخیدو په مقصد محمد ظاهرشاه د افغانستان پاچا په ۱۹۵۶ م او ۱۹۶۵ م کی دوه ځله شوروي اتحاد ته رسمی سفرونه وکړل او په ۱۹۶۳ م کی یې له امریکا څخه هم رسمی لیدنه وکړه .

داوضاع د سیمه ییز څیړونکیو په نظر محمد داود د خپل هیواد ، بیطرفی او ناپیلتوب سیاست د دوه سترو قدرتونو امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ په کامیابۍ ولوباوه چې د مرسته ورکونکیو هیوادونو دستاینی وړهم گرځیدلی و. د دغو هلو ځلو په نتیجه کی محمد داود په دې بریالی شو چې په افغاني ټولنه کې مهم اقتصادي او ټولنیز بدلونونه منځ ته کړي.

د ښځو نهضت په ۱۹۵۹ م کی عملی شو . لومړی پراختیایی پلان په ۱۹۵۶ م کی پیل او په ۱۹۶۱ م کی سرته ورسېدل او دوهم پلان په ۱۹۶۲ م کی تر تطبیق لاندی ونیول شو.

د دې ټولو پرمختگونو ترڅنگ د اندیښنې وړ خبره داوه چې د شورویانو لاس په افغانستان کی اوږد او غښتلی شو . شورویانو چې په ظاهر کې له

امریکا سره دافغانستان په باب د تفاهم او دیتانت خبري کولې مگر په پټه یې داکوشش کاوه چې د یو کمونست حکومت د منځ ته راتلو لپاره لاره اواره کاندي . لنډه داچې له پاکستان سره دا ړیکو خرابي او د ترانزیت بندیدل چې دایران د پاچا په منځگړیتوب هم دحل لاره پیدانشو کړای اوله بلې خوا په شاهی کورنی کی د مخالفتونو دوام محمد داود دې ته مجبور کړ چې د ۱۹۶۳ م په مارچ کی له صدارت څخه استعفی وکاندي .

# دريمه برخه

# په افغانستان کی د دموکراسی تجربه

د ۱۹۶۰ لسیزه په آسیا کې له مختلفو پیښبو او حوادثو ډکه لسیزه وه په دې معنی چې د سویز د کانال له بحران څخه وروسته (۱۹۵۶ م کال) په سیمه کی بی ثباتی روانه وه . په ۱۹۵۸ م کال کی په عراق کی نشنلست منصبدارانو کودتا وکړه او شاهی نظام له منځه ولاړ . په ۱۹۵۶ کې پاکستان چې د سنتو پکت غړی شوی و ، نو د امریکا له خوا د غه هیواد ته د پریمانه مرستو ورکول نورو هیوادونو ته اندیښنې راپیدا کولې . همدارنګه په ۱۹۶۲ م کی د یمن سلطنت سقوط وکړ او په هغه هیواد کی جمهوری نظام د کینې اړخه د لې تراغیزې لاندې جوړ شو . د ویتنام او د هند او چین

دجګړو دوام په امریکا او اروپا او نورو هیوادونو کې مخالفتونه او اندیښنې منځ ته راوړې وې . دهند او پاکستان ترمنځ په ۱۹٦٥ م کې په کشمیر باندې جګړې ؛ په ۱۹٦۲ م کې دهند او چین ترمنځ سرحدي جګړې او همدارنګه دچین او شوروي اتحاد ترمنځ زیاتیدونکې اختلافات دوخت مهم مسایل وو .

باید زیاته شي چې په دغه وخت کې په خلیج کې دبریتانیې او لویدیځ ستراتیژیک اهداف داسې وو چې دلویدیځو هیوادونو او تیل لرونکو هیوادونو ترمنځ - د آزاد ارتباط او تجارت ضمانت ، په یو مساعد قیمت دتیلو لاس ته راوړل ، په سیمې کې دکمونزم مخنیوی او له عربي نشنلزم سره مقابله - پکې راتلل .

همدارنګه دچین اوشوروي داړیکو متعلق باید زیاته شي چې دچین حکومت دشوروي مشرتابه په دې تور ناوه چې دلینن ، ستالین له لارې اوښتي او دکپیتالیزم لارې یې غوره کړې ده . په ۱۹۷۰ م کې دغه اختلافونه دې ځای ته ورسېدل چې چینایانو ، شوروي اتحاد د Social Imperialist په نامه یاداوه او له امریکا څخه یې دیر خطرناک باله .

په بین المللي ډګر کې دسوله ییز ژوند - Peacftul coexis-tense سیاست په ځای ددیتانت Detente یا تفاهم او تاوتریخوالي لږولو سیاست منځ ته راغی . په ۱۹٦۳ م کې لیونید برژنف دنیکیتا خروسچف مقام دشوروي اتحاد دمشر په توګه اشغال کړ . برژنف

غوښتل چې په دیتانت له لویدیځ سره خپلو اړیکو ته بهبود ورکاندي او دشوروي تجارت ، بانکي کریدتونو او د پرمخ تللې تکنالوژي د حاصلولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي . مګر دیتانت چې د ختیځ او لویدیځ دهمکارۍ ترڅنګ یې دستراتیژیک وسلو دلږولو غوښتنه هم کوله دامریکا لپاره په ابتداکی د دلچسپی وړنه ګرځید ، ځکه دویتنام د جګړې له امله امریکا د مختلفو وسلو تولید ته اړتیا درلوده . په عین وخت کی امریکا دبالستیک میزایلو SALT - I موافقه له شوروي اتحاد سره هم غوښتله . له بلې خوا دامریکا او چین د روابطو پراختیا هم دشوروي اتحاد او امریکا ترمنځ د تاوتریخوالي سبب ګرځیده . دپام وړ خبره داوه چې تر ۱۹۵۵ پورې امریکا په پوځی او اقتصادی چارو کې په شوروي اتحاد وړاندیتوب او برلاسی درلوده او د کیوبا د میزایلو بحران په ۱۹۶۲ کې داخبره ثابته هم کړه . هغه وخت جان کنیدی دامریکا جمهور رئیس ، خروشچف د شوروي مشر ته اخطار ورکړی و چې خپل ځای په ځای کړي میزایل له کیوبا څخه وباسي او خروشچف هم مجبور شوی و چې داخبره ومنی . مګر د ۱۹۶۰ دلسیزی په وروستیو کلونو کې شوروي اتحاد له امریکا سره دستراتیژیک برابرۍ Strategic Pariy دریځ ته ورسېد .

سربیره پردې شوروی اتحاد هڅه کوله چې له امریکا سره سیاسي برابري هم ترلاسه کړي .

په ویتنام کې دامریکا مصروفیت او پریشانی شورویانو ته دافرصت

هم پیداکړی و چې په دریمې نړۍ کې خپل اثر اورسوخ زیات کاندي . دحیرانتیا ځای خو داو چې په ۱۹۷۰ م کلونو کی شوروي اتحاد په او فنسیف یا تعرضي او امریکا په دفنسیف یا تدافعی حالت کې واقع شوي وو.

دوکتور کیسنجر دامریکا خارجه وزیر Dr . Henry Kis-singer له شوروي سره دستراتیژیک برابرۍ په متعلق داسې ویلی وو چې : له نړیوال جنگ څخه وروسته موده کې شوروي اتحاد دامریکا دلومړۍ ضربې مقابلې کې بې دفاع و ، مگر د ۱۹۶۰ م دلسیزې په منځ کې شورویانو خپل پوځی قوت غښتلی کړ چې دهغه له امله به په یوې اتومي جگړې کې دامریکا تلفات ملیونونو ته ورسیږي ، پدې خاطر امریکا له شوروي سره ستراتیژیک برابري قبوله کړې وه .

دجهان په دغو ژر بدلیدونکو حالاتو کې دافغانستان پاچا محمدظاهرشاه دمحمد داود له استعفا وروسته دگاونډیو هیوادونو دچټکو پرمختگونو او بین المللی شرایطو په نظر کې نیولو سره وپتېیله چې په دولتی تشکیلاتو کې بدلون راولي له دې امله هغه یوه کمیته وټاکله چې ژر ترژره دافغانستان لپاره نوی اساسي قانون جوړ کړي .

دغه اساسی قانون چې دمشروطه شاهی نظام ، انتخابی پارلمان ، آزاد قضایی مقام او فردي آزادیگانې یې تضمین کولې په هغې لویی جرگې کې دافغانستان دخلکو داستازو له خوا تایید شو چې د ۱۹٦٤ م دسپتامبر په ۲۰ مه ( ۲۹ سنبله ۱۳٤۳ ش) په کابل کې جوړه شوې وه .

سره له دې چې دغه قانون له پخوانیو قوانینو څخه دافغانستان خلکو ته زیات حقوق او وجایب ورکول خو دپاچا مقام دقدرت دمحور په توگه سا تل شوی و ، چې له نورو پارلماني نظامونو څخه یې لوی توپیر پیدا کاوه.

له بلې خوا دقانون د ٢٤ مې مادې په اساس شاهي کورنۍ دمحمد داود په گډون نشول کولای چې په راتلونکې کې دصدارت ،وزارت ، شورى یا سترې محکمې مقامونو کې کاروکړي . دغو قیوداتو په ډیر سرعت دقانون نورې ښیگنې په دې ترتاثیر لاندې ونیولې چې دپاچا او محمد داود خراب مناسبات یې علني کول او دافغانستان دحکومتونو دبې ثباتۍ عوامل هم گرځیدل .

د ١٩٦٣ م په اکتوبر کې لیونید بریژنف افغانستان ته سفروکړ او د ١٩٦٤ م په سپتامبر کې الکسي گاسگین دشوروي اتحاد صدراعظم دسالنگ دتونل دپرانیستلو په مراسمو کې برخه واخسته . دافغانستان پاچا امریکا ته په رسمي سفر لاړ چې دغه کار دشوروي مقامات سخت اندیښمن کړي و و.

دنوموړي اساسي قانون له مخې په ١٩٦٥ م کې عمومي انتخابات وشول چې تر ډیره حده منصفانه وو او دلومړي ځل لپاره حتى دخلق دموکراتیک گوند درې غړي په انتخاباتو کې وټاکل شول چې په ولسي جرگې کې دخلکو دوکیلانو په توگه ځای ونیسي . له ١٩٦٥ م نه تر ١٩٧٢ م پورې پنځه صدراعظمان یعني دوکتور محمد یوسف ، محمد هاشم میوندوال ، نوراحمد اعتمادي ، دوکتور عبدالظاهر او

محمد موسی شفیق یو په بل پسې قدرت ته ورسېدل خو یوه هم ونشو کړای چې دافغانستان د پرمختګ او انکشاف لپاره مهم او موثر اقدامات ترسره کاندي .

له یوې خوا له ولسي جرګې سره دحکومتونو داعتماد او سلب اعتماد جنجالونو - او له بلې خوا دهیواد بودجه یی او اقتصادي پرابلمونو او دځینو بهرنیو ملکونو مداخلو او لاس وهنو داسې حالات منځ ته راوستل چې په نتیجه کې یې حکومتونه له ناکامۍ او اقتصاد له رکود او بې وسۍ سره مخامخ کیدل .

په دې ترتیب چې دوکتور یوسف حکومت دمظاهره چیانو او پولیسو داخ اوډب په قضیه کې استعفا ته مجبور شو ځکه یوشمیر محصلینو دولسي جرګې په غونډه کې دګډون اصرار درلود مګر امنیتی قواوو دهغوی ممانعت کاوه چې په نتیجه کې یې دپولیسو دفیر له امله درې تنه مړه او یوشمیر نور ټپیان شوي وو . ددغه بحران له امله دوکتور یوسف له مقام څخه استعفی وکړه . وروسته محمد هاشم میوندوال چې یو تجربه کار سیاست پوه و او له ولسی جرګې څخه یی په آسانی داعتماد رایه واخیسته او د ( خلکو ته ورځم ) ترعنوان لاندې یې له عام ولس سره تماسونه ټینګول او دخلکو دمشکلاتو دحل لپاره یی زیار ایسته او هم یې له ګاونډیو هیوادونو سره دښو اړیکو طرفدار و ، همدارنګه دعربو او اسرائیلو په جګړه کې یی دعربو دحقوقو او فلسطینیانو کلکه دفاع کوله مګر په ولسي جرګې کې دکینې لاسو وکیلانو او دخلق دګوند دغړو له شره سره

مخامخ شو او په دې متهم کېده چې دلوېديځ هېوادونو طرفدار دی ، نوموړی دصحی تکاليفو له امله په ۱۹۶۷ م کې استعفا وکړه .

ميوندوال پسې نوراحمد اعتمادی چې پخوا خارجه وزير و ، دحکومت په جوړولو مامور شو . سره له دې چې له ولسي جرگې څخه داعتماد درايی په اخيستلو بريالی شو ، خو دده حکومت ډېر ژر په دې متهم شو چې دپرچم له گوند سره اړيکې لري . له بلې خوا ځينی ملايان دده دحکومت پرضد راپورته شوي وو او غوښتنه يې کوله چې هغه کېن لاسی اخبارچې « درودلينن ته » پکې چاپ شوی و ، محاکمه او مصادره کړی . خو داعتمادي حکومت نه يوازې داچې دهغوی عرض وانه وريده ، بلکه هغوی يې په زور تيت او پرک هم کړل . پخوا يو دولتی اخبار اصلاح هم يو کارتون چاپ کړی و چې داسلام ددين پيشوا ته په حقارت جوړشوی و . داکار هم دخلکو دتاثر باعث گرځيده بالاخره دده حکومت په ۱۹۷۱ م کې دولسی جرگې دفشار له امله استعفا ته مجبورشو .

بيا دوکتور عبدالظاهر چې پخوا دولسی جرگې مشرو ، دپاچا له خوا دصدراعظم په توگه وټاکل شو . خو دده حکومت له پيل څخه دغذايی موادو دقلت ، دقيمتونو دلوړوالي په غربی افغانستان کې قحطي او له هغې څخه را پيدا شوی بحران سره مخا مخ شو او ورپسې دژبی جنجال هم دحکومت په مشکلاتو ورزيات شو او د ۱۹۷۲ م په دسامبر کې يې ا ستعفي وکړه . بالاخره محمد موسی شفيق عالم او دپلومات چې پخوا ددوکتور ظاهر خارجه وزير و ، دحکومت په جوړولو مامور شو . شفيق

داعتماد له رايو اخيستو وروسته يو لړ مهم ابتكارونه پيل کړل او کوشش يې کاوه چې له عربي دولتمنو هيوادونو څخه اقتصادي مرستې تر لاسه کړي او دافغانستان د اقتصاد څرخ پرې وګرځوي ، مګر ده ته دسرطان کودتا موقع ورنکړه او حکومت له سلطنت سرۍيو ځاى له منځه ولاړ.

شفيق په خپل لنډ ماموريت کې دروس مشر پود ګورني ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي او هغه د ۱۹۷۳م دمئى په ۲۲ يې کابل ته رسمي سفرو کړ . دشوروي حکومت هڅه کوله چې افغانستان د آسيايي پکټ په غړيتوب ورګډ کاندي، اما افغاني مقاماتو سره له دې چې دشوروي اتحاد نظريې په آسيا کې دسولې لپاره تاييداوه مګر نه يې غوښتل چې په هغه کې ګډون وکړي . ځکه په دغه پکټ کې له چين سره له ضديت بر سيره د موجوده سرحدونو قبلول او ساتل هم ذکر شوي وو چې افغانستان له پاکستان سره خپلې سرحدي ستونزې له امله نشول منلاى .

شفيق غوښتل چې دافغانستان روابط له ايران او پاکستان سره هم ښه کاندي. په دې اړوند شفيق له امير عباس هويدا سره دهلمند د اوبو معاهده د ۱۹۷۳م په ۱۲ مارچ لاس ليک کړه چې بيا وروسته له ولسي جرګې او مشرانو جرګې له خوا هم تائيد شوله . خو چپي ګوندونو په شفيق تور لګاوه چې دهلمند اوبه يې پلورلې دي .

څرنګه چې پخوا وويل شول دغو حکومتونو دپام وړ کوم اجرآت و نشول کړلاى . دولسي جرګې تالار د کينۍ لاس ګوندونو له خوا دبې ځايه اعتراضونو يو ستيج جوړ شوى و چې دهمکارۍ پر ځاى پکې کار شکنى ،

وخت تیرول او تور لګول تمرین کیدل . د سیاسي د ګوندونو قانون سره له دې چې په ٦٧-١٩٦٦ م کې یې خپل قانوني مراحل له پارلمان څخه تیر کړي و وپاچا لاس لیک نه کړاو دا د دې لپاره چې په خپل زعم له احتمالی بحرانونو څخه مخنیوی وکاندي ، خو که یې لاس لیک کړي وای دې قانون به د حزبونو لپاره د حزبی د سپلین په جوړولو کې نظم راوستلی وا و قانوني اپوزیشن به جوړ شوی وای چې کنترول به یې کیدلای شو . له بلې خوا د مطبوعاتو د قانون سره سم یو شمیر آزاد اخبارونه هم منځ ته راغلي وو چې ځینې ګوندونو او ځینی مستقلو ډلو پورې مربوط وو .

د خلق د موکراتیک ګوند چې په ١٩٦٥ م کې جوړ شوي او مارکسستي لینني ماهیت او جهت یې درلود د خلق په نامه یې خپرونه هم درلوده چې له ٦ میاشتو خپرونو څخه وروسته بنده شوه . مګر د پرچم اخبار چې د پرچم ډلی پورې یې تعلق درلود اودا ډله په ١٩٦٧ م کې له خلق څخه بیله شوي وه – له ١٩٦٨ څخه تر ١٩٧٠ پورې نشرات کول . دغو خپرونو د افغانستان مشکلات د خپل ګوندی دریځ په رڼا کې تحلیلول او له شوروی اتحاد سره یې ایدیالوژیکي روابط درلودل . له بلې خوا اسلامي نهضت چې په ١٩٦٤ م کې فعال شوی و . په ٦٨-١٩٦٧ م کې یې یو لړ مظاهرې د کیڼ اړخو ګوندونو خلاف وکړې . په ١٩٦٦ م کې له ٣٠ څخه زیاتی جریدې او خپرونې چاپیدې چې مختلف افکار او نظریات یې خپرول . د مثال په توګه د خلق او پرچم جریدو چپي او کمونستي افکار او نظریات او د ګهیځ جریدې اسلامي او کمونستي ضد خپرونې کولې .

ځینو نورو ګوندونو ، لکه دموکرات نوین چې داخبار نوم یې شعله جاوید و؛ افغان ملت چې داخبار نوم یې ( افغان ملت) او دموکرات مترقی چې داخبار نوم یې «مساوات» وُ خپرونې درلودلې . دموکرات نوین د کمونستی چین پلوی بلل کیده او افغان ملت په ملي دریځ دافغانستان دخلکو له حقوقو څخه دفاع کوله. دیوې احصائیې له مخې په ۱۹٦۸ م کې دجون او اپریل دمیاشتو تر منځ څه کم شل اعتصابونه او لویی مظاهرې په کابل او ځینو ولایاتو کې وشوې چې اکثراً دسیاسي ګوندونو له خوا جوړې شوې وې .

دخلق دموکراتیک ګوند دا ادعا کوله چې د ۱۹٦٥ م او ۱۹۷۳ م تر منځ کلونو کې یې په ټول افغانستان کې څه دپاسه ۲ زره مظاهرې او میټنګونه جوړ او رهنمایي کړي دي .

د پورته ذکر شوو ګوندونو ترمنځ اختلافونه کله کله جنګ او شدیدو بر خوردونو ته هم رسیدل او په ۱۹٦۹ م کې څو تنه دپولیسو او کین لاسه مظاهره کوونکو په اخ او ډب کې مړه هم شول .

ددغو حالاتو او په ولسي جرګې کې د کش او ګیر له امله پارلمان په ۱۹۷۱ م کې د٦ شپږ میاشتو لپاره تعطیل اعلان شو . له بلې خوا د هیواد داقتصادی مشکلاتو په اړوند باید وویل شي چې له یو طرف څخه داخلی زراعتی حاصلات په څو کلونو کې خراب او له بل طرف نه بهرنی کومکونه هم ورځ په ورځ مخ په کمیدو شوي وو .

دهیواد په لویدیځ کې دوچ کالی او بیا د سیلابونو له امله دکرنې

حاصلات بیخي لږ او په ۷۲-۱۹۷۱ م کې تقریباً ۸۰۰ زره ټنه عمومي کمښت قحطۍ منځ ته راوړې وه چې د هغې له امله تخمین په زرګونو کسان مړه او په زرګونو نور خلک له خپلو ځايونو څخه نورو ځايونو ته ولیږدیدل.

له بهرنيو مرستو څخه د تیلو او بورې واردات چې اکثراً له شوروی اتحاد څخه کیدل د هغه هیواد دفشار یوه وسیله ګرځیدلې وه او شوروي مقاماتو به دغه مواد په وخت رسول یا ځنډول د حکومتونو د خوشحالۍ او یا خپګان یا بحران لپاره استعمالول.

په حقیقت کې د شوروی اتحاد هم دا اصلي خواهش و چې د دموکراسۍ تجربه په افغانستان کې نا کامه کړي ، ځکه هغوی سره دا ډار او اندیښنه وه چې د دیموکراسي کامیابی به د هغوی پیدا کړی نفوذ او رسوخ په افغانستان کې ختم کاندي . د دموکراسي غښتلی کیدل چې د امریکا په ګټه هم تمامیدل خو له بده مرغه د امریکا محدودې مرستې او کومکونه په دغه دوران کې هم مخ په کمیدو شوي وو او بل هیواد هم پرته له شوروی اتحاد څخه د دغه خلا د ډکه نشوه کړلای . لنډه دا چې د چپي ګوندونو قوت ، د اسلامی رد یکالانو زیاتیدونکی فعالیت ، د نظم او امنیت قلت ، قحطي اقتصادي بدحالي او بیکاري د دې سبب کیدل چې پوهتون او تعلیمي موسسې او حتی د دولت ځینې مامورین هم د دغو احزابو تر تاثیر لاندې راشي او د هغوی په پروګرام او لسون ښوونځې پوهنځي او حکومتی ادارې له مطلوب فعالیت څخه ولویږي . د دموکراسي معنی خپل سري ، د وامداره

مظاهرې اعتصابونه ، کارشکني او بی جلوه خپروني او نشرات ونیسي او دهغې تجربه ناکامه کاندي .

میوندوال د پاچا دوظایفو په باب داسي لیکلي وو :

پاچا دفرمانونو په مقابل کې چې لاس لیک کوي . ویناوې چې کوي ، سیاستونه چې اعلاموي او ټاکنې چې کوي مسئوولیت نه لري او حکومت دې چې په دغو مواردو کې ولسي جرګې ته مسئول ګڼل کیږي . له شاهي مشروط نظام څخه دغه زموږ پوهه ده چې یو قبول شوی رژیم دی او دهغه انتقال په وراثت هم منلی دی ..... » .

له بلې خوا په خلکو کې دیوې ملي رهبرۍ له راپیداکیدو څخه هم په کلکه مخ نیوی کیده په داسې حال کې چې نظامي قدرت او ددفاع وزارت له ټولو صلاحیتونو سره د پاچا په لاس کې و او سیاسی قدرت هم د پاچا په انتخاب او صلاحیت کې راټول شوي وو مګر بیا هم نه پاچا او نه هم شاهي کورنۍ دا اجازه ورکوله چې ملی زعامت له شاهې کورنۍ څخه بهر منځ ته راشي .

په دغه باره کې پوهاند محمد حسن کاکړ لیکلي :

« په تیره یوه نیمه پیړۍ کې ملی زعامت د محمد زیانو په انحصار کې و چې تر اوسه دسردارانو په نامه یادیږي پر ته د امان الله خان دلنډ دوران او پخوا له هغه دامیر شیر علیخان ددوهمې دورې پاچا هۍ څخه نور د محمد زیانو د مشرانو دا دوامداره سیاست و ، چې د ملی مشرانو په توګه دغیر محمد زايي شخصیتونو دراجګیدو مخه ونیسي . یوازې ځینې

شاهي کورنۍ ته تابع پرګنو او هغو کابلیانو ته چې له خپل قبایلي قالب څخه وتلي او قامي قدرت یې نه درلود موقع ورکول کیده چې د دولت عالی مقامونه د دوی تر څنګ اشغال کاندی ...... » .

له بلې خوا صباح الدین کشککي د موسی شفیق د کابینې د اطلاعاتو وزیر په دې عقیده دی چې :

د پاچا تره شاه ولی خان او د هغه زوی جنرال عبدالولی له محمد داود او محمد نعیم سره سیالی او مخالفتونه هغه مسایل دي چې د دموکراسی د تجربی په ناکامیدو کې له نظره نشی لویدی . »

پر دې ډول د دموکراسۍ د تجربې پیلامه چې په افغانستان کې د ترقی او پرمختګ پر خطر ډیرې هیلې وربورې تړل شوې وې له ناکامه انجام سره مخامخ شوه او له بده مرغه هیواد یې تر پخوا زیات په سیاسي انارشۍ ، اقتصادی رکود او خپل سري اخته کړ چې په نتیجه کې د حکومت له سقوط سره یوځای شاهي نظام هم له منځه ولاړ.

# څلورمه برخه

## دافغانستان پر اختیایي پروژو او خارجي مرستو ته یو اجمالي نظر

دافغانستان پر اختیایي او انکشافي پروژې دامان الله خان دسلطنت په وخت کې تر زیاتي توجه لاندې نیول شوې وې چې په هغو کې داوبو او بریښنا ، تیل او ګاز دپلټنو او استخراج ، نساجي اوتوکرانو اوبدلو ، تلفون ، تلګراف کرنې او اوبو لګولو ، شکرې او خوراکي موادو جوړولو او داورګاډي دپټلیو د غځولو پروژې شاملې وې . له دغو پروژو څخه په یو لړ باندني بیړني کارونه هم پیل شوي وو او حتی داورګاډي یو شمیر

ماشینونه او واگونونه هم له آلمان څخه راوړل شوي وو.

ددغو پروژو د ماشین آلاتو لپاره امان الله خان اروپاته په خپل تاریخي سفر کې (۲۸-۱۹۲۷) د یرې هلې ځلې کړې وې ، ځینې فابریکې یې خپله خریداري کړې او ځینې ددوستو هیوادونو د مرستو له لارې هیواد ته راوړل شوې . په هغه وخت کې د آلمان جمهوررئیس هند نبورگ دافغانستان انکشافی پروژو ته ۵ میلیونه مارک عاجله مرسته هم ورکړې وه .

خو څرنگه چې دسقوي اغتشاش اووطن دپرمختگ ددښمنانو له خوا دامان الله خان حکومت ړنگ شو نو دغه پروژې هم یا نیمکاره پاتې شوې او یاهم دغلو او داړه مارانو له خوا ماتې اوویجاړې شوې . له دې نه علاوه دفابریکو ځینې زیات ماشین آلات چې امان الله خان دخپل سفر په دوران کې په آلمان او فرانسه کې خریداري کړي وو . دافغانستان داغتشاش او بحران له امله په کلونو کلونو د کراچۍ په بندر کې پراته او تباه شول او یاهم په تحویلخانو کې بې استفادې وغورځیدل په دې جمله کې دننگرهار دگنیود فابریکې ( شکرې جوړلو فابریکه ) ځینې سامانونه هم یادیدای چې د کراچۍ په بندر کې دزنگ خوراک شوي وو .

په هر حال وروسته له ۱۹٤۰ م څخه داوبو لگولو او برېښنا پروژې به کندهار کې دامریکایي کمپنیو له خوا پکارولویدې او دهیواد په نورو برخو کې هم لږ او زیات پرمختیا یې کارونه پیل شول.

څرنگه چې وړاندې ورته اشاره وشوه ، له ۱۹۵۳ تر ۱۹٦۳ م پورې په

سلو کې ٦٥٪ پانگه اچونه له بهرنیو کومکونو څخه تامینیدل او خصوصي پانگه اچونه په ډیره لږ اندازه وه . دې لږوالی مختلف دلایل درلودل لکه : بهرنی رقابتونه ، دحکومتی ملاتړ نشتوالي اودباور او اعتماد لږوالی یې تر شالیدل کیده. که په دغه لړ کې دسترو قدرتونو او نورو خارجي هیوادونو سیاستونو ته نظر واچول شي نو معلومیږي چې په دغه برخه کې هم کوم ضمانت او گرنټي موجود نه وه چې دهغې له رویه بودجه یي بیلانسونه جوړ شوي وای. بهرنیو هیوادونو به چې زره و نو برخه به یې اخیستله او مرسته به یې کوله او که به یې نه و کوم مجبوریت یې نه احساساوه چې ولی مرسته نه کوی .

محمد داؤد په خپلې صدراعظمی کې دخپل هیواد دناپییلیتوب له ساتنې سره داکوشش کاوه چې درقیبو سترو قدرتونو شوروی اتحاد او امریکا تخنیکي او اقتصادي مرستې تر لاسه کاندي او همدارنگه نور دوست هیوادونه هم وهڅوي چې له افغانستان سره په انکشافي پروژو کې لاس ورکاندي .

درسمي احصائیو له مخې له ۱۹۵۲ تر ۱۹۷۸ پورې دامریکا متحده ایالاتو افغانستان ته ۹٫۵۲۳ میلون دالر بلاعوض مرسته اوسل ملیون دالره پورورکړی و . هغه پروژې چې دامریکا له مرستو څخه تمویل کیدې داوې : دښوونی او روزنی پروگرامونه ، اقتصاد او کرنه ، دکابل -کندهار ، هرات ، اسلام قلعه او کابل - جلال آباد دلویو لارو جوړول ؛ همدارنگه د درۀ صوف دډبرو دسکرو معدن ، دکابل دپوهنتون تعمیرات

او د مصرفی او تخمي غنمو تهیه کول او داسي نور .

البته د هلمند د پراختیا پروژه چې له پخوا موجوده وه او د کندهار هوايي ډګر چې په ۱۹۶۳ کې دلس میلیونه ډالرو په لګښت جوړ شوی و ، هم د امریکا په کومکي پروژو کې شمیرل کیدل . د تذکرو پرده چې د کندهار هوايي ډګر چې د الوتکو دلرې پروازونو لپاره دسوون مواد و داخیستلو تسهیلات په کې جوړ شوي و دشوروی اتحاد صدراعظم نکتاخروشچف سخت اندیښمن کړي و چې بنايي د شوروي پرضد دیوې هوايي اډې په توګه ورځنې کار واخیستل شي.

پورته ذکر شوو پروژو دوراندی بیولو لپاره ۱۰۵ تنه امریکايي کار پوهان ، استادان او فني کسان په کار مشغول وو . دهلمند پروژه چې تر ۱۹۶۳ پورې سل میلیونه ډالره خرڅ وربانديې شوی و په لومړیو وختونو کې د ځینو نواقصوله امله مطلوب حاصل نه ورکاوه او له همدی امله دا تورونه لګول کیدل چې - زیاتره د امریکا ضد ډولوله خوا - پروژه له سلهاوو میلیونو مصرف سره سره ناکامه شوي ده خوله ۱۹۶۵ وروسته دزابرونو دایستلو او نورو اصلاحاتو له امله د پروژې حاصلات زیات شول او هغه ۵۹۳ زره جریبه ځمکه چې ترکرنې لاندې نیول شوې وه په زره پورې حاصلات ورکړل.

له بلې خوا شوروی اتحاد له ۱۹۵۲ تر ۱۹۷۲م پورې ۵۷۲ ملیون ډالر پور او یوازې سل میلیونه ډالره افغانستان ته بلاعوضه مرسته ورکړې وه . البته د ثور له کودتا وروسته په دغو پورونو او مرستو کې یو د م زیاتوالی

راغيې ديوې بلې منبع په اساس له ۱۹۵۲ تر ۱۹۷۸ م پورې شوروی اتحاد افغانستان ته ۱.۲٦۵ ( يو مليارددوه سوه پنځه شپيته ) ډالره اقتصادی كريدت او ۱،۲٦۵ ( يو مليارد دوه سوه پنځه شپيته مليونه ) ډالر دوسلو پيرودلو پوځي كريدت وركړی و او بيا وروسته له كودتا تر ۱۹۸۵ م پورې دكابل درژيم په قول شوروی اتحاد ۹٤٦ مليونه ډالره افغانستان ته مرسته كړې وه . هغه پروژې چې دشوروی له مرستو تمويل كيدلې داوې :

دسيلو گانو جوړول ، دكابل او بگرام هوايي ډگرونو جوړول ، دننگرهار اوبولگولو پروژه دسرده ، نغلو او درونتې بندونه ، دگاز او تيل پلټنې ، كورجوړلو فابريكه ، پولي تخنيك ، دكابل او مزار تخنيكم دكندهار - هرات او كابل شيرخان بندر دلارو جوړول او مصرفی مواد شامل وو . تر ۱۹۷۸ پورې شورويانو ۷۱ پروژې تكميل كړې وې چې ۵۲ پروژې دروسانو له خوا وړاندې بيول كيدې .

ددغو پروژو لپاره ( ۱۰۵۰ ) يو زراو پنځوس تنه شوروی كارپوهان انجينيران استادان او فني كسان په كار مشغول وو چې البته په وروستيو كلونو كې يې شمير ډير لوړ شوی وُ .

په دغو پروژو كې دننگرهار پروژې او همدارنگه دتيل او گاز پروژې ډير انتقادونه راپورته كړي وو او ويل كيدل چې شورويان ددغو پروژو په وړاندې بيولو كې خپل ځانگړي مقاصد تعقيبوي .

دننگرهار پروژه چې په ۱۹٦۰ كې پيل او تر ۱۹۸۵ پورې لانه وه تكميل شوې داسې اټكل كيده چې دپخوانی ٤۵ زره جريبه ځمكې له

اصلاح برسيره به ۱۳۰ زره جريبه ځکه نوې ترکرنې لاندې راشي خو ځرنګه چې ددغو زمکو ډيره برخه دکرنې ښه خاوره نه درلوده نو دمجبوريت له مخې خاوره له نورو ځايونو راوړل کيده چې په دې ډول مطلوبه کرنی ته آماده شي . ددولتی منابعو په قول له ۱۹٦۰ تر ۱۹۸۱ پورې جمعاً ۸ زره ميليون افغانی صرف په دغې پروژې خرڅې شوې وې مګر بيا هم نورو مصارفوته يې اړه درلوده د پروژې له نارنج او زيتون حاصلاتو څخه دکال ۱۲۰ ميليونه افغانۍ عايدات لاس ته راتلل په داسې حال کې چې د پروژې مصارف له ۲۰۰ ميليون افغانيو هم جګيدل .

د پورتني حساب له مخې داسې معلوميده چې دغه پروژه د پرستيژ د پروژې په ډول ددې مقصد لپاره په دغه ځای کې غوره شوې وه چې خلک په تيريدو راتيريدو هغه ووينې او دسرحد دهغې غاړې خلک هم د پروژې دلوی والي ترتاثير لاندې راشي . په بله معنې دننګرهار پروژه زياتره دشوروی اتحاد دکرنې او صنعت دشهرت او دشوروی اتحاد دپروپاګند په مقصد جوړه شوې وه نه دافغانستان دخلکو دضرورت او غوښتنې په اساس .

دتيل او ګاز د پروژې په برخه کې بايد وويل شي چې دغه پروژه دشوروی اتحاد او نورو هيوادونو له فشار او مداخلو څخه خلاصه نه وه . دتيلو د پلتنی کار لومړي ځل دامان الله خان دحکومت په وخت کې په هرات کې پيل شوی ؤ مګر دشوروی دحکومت دمخالفت له امله ددغې پروژې کار دريدلې و . وروسته په ۱۹۵٤ م کې دتيلو د پلتنې لپاره يو

سویډنی شرکت سره قرار داد شوی و خو داخل بیا هم دشوروی دحکومت دفشار له امله کوم وړاندې تګ پکې نه و راغلی .

په ۱۹۵۷ م کې شوروپانو دافغانستان حکومت مجبور کړی وچې دتیلو دپلټنې لپاره ۱۵ میلیونه ډالر قرضه - چې دچکوسلواکیا دکارپوهانو له خوا به وړاندې بیول کیږي- ومنې . کوم وخت چې دتیلو علامې پیدا شوې نو دشوروی تخنوا کسپورت شرکت را منځ ته شو او دچکوسلواکیا ځای یې اشغال کړ .

په ۵۹-۱۹۵۸ م کې دافغانستان حکومت له امریکا څخه غوښتنه وکړه چې دتول افغانستان Stereographic نقشه جوړه کاندي ، شوروي مقاماتو شدیداعتراضونه وکړل چې خارجیان دې ددوی له سرحدونو څخه لرې شي په داسې حال کې چې دغو خارجي کارپوهانو دافغانستان په شمالی سیمو کې کار او پلټنې کولې .

په ۱۹٦۳ م کې دامریکا د خارجه وزارت په اسنادو کې وویل شول چې افغانستان شاید دامریکا دعلاقمندي لپاره لږ طبیعي زیرمې ولري خو دپلټنو کاربیا هم پر مخ ولاړ .

په ۱۹٦۳ م کې شوروپانو دتیلو دپلټنې او راکاړلو کار تول په خپل لاس کې واخیست او حساس معلوماتونه یې حتی له افغانانو څخه هم پټ ساتل :

سره له دې چې دتیلو دپلټنو کار مطلوبې نتیجې نه وې ورکړې خو دګاز په برخه کې په زړه پورې پر مختګونه وشول . دتیل او ګاز دپلټنو

قرار داد چې په ۱۹۵٦ م کې له شوروي کمپنۍ سره شوی و دهغه له مخې په ۱۹٦۷ م کې لومړنۍ موافقه د گاز د صادراتو متعلق له شوروي مقاماتو سره لاس لیک شوه.

له بلې خوا په ۱۹۷۳ م کې د تیل او گاز د پلټنې لپاره دهیواد په جنوب کې هم یو سلسله کارونه پیل شول. په ۷۵-۱۹۷٤ م کې آلماني جیالو جستانو په کتهه واز کې تیل پیدا کړل او د فرانسې د Total له کمپنې سره قرار داد وشو چې درا ایستلو مراحل یې وړاندي بوزي. خو بیا دغې کمپنۍ په نامعلومو دلایلو له کار څخه لاس واخیست او پروژه شنډه پاتې شوه.

په ۱۹۷٦ م کې یوې بریتانوي کمپنۍ په فراه کې تیل پیدا کړل اود امریکا یوه شرکت هم په دشت مارگو او ریگستان کې د پلټنې کارونه پیل کړل.

په ۱۹۷۵ م کې د محمد داؤد حکومت په شمال کې د تیلو د پلټنې کار بیا پیل کړ او د کار او پلټنو په نتیجه کې بیا معلومه شوه چې په آق دریا او قشقری سیمو کې تر ۱۲ میلیونو ټنو پورې د تیلو ذخیرې موجودې دي.

په ۱۹۷۷ م کې دافغانستان د طبیعي زیر موعمومې سروې د ملگرو ملتونو تر سرپرستۍ لاندې دافغانی او شوروي جیالو جستانو له خوا ترتیب شوه مگر د دغې سروې معلوماتو نه روسانو پټ ساتل.

نوري پروژې چې په هغو کې د نساجي ، بریښنا او د پکتیا د پراختیا پروژې راتلې د آلمان دهیواد له سل میلیون ډالره پور او بلاعوض مرستې

تخخه تمویل کیدلې .

همدارنګه دچین ولسي جمهوریت ۳۳ ملیون ډالره د پروان داوبو لګولو پروژې د کبانوا و مرغانو روزنې او دبګرامی د تو کرانو او بدلو فابریکې ته مرسته ورکړې وه .

د طبیعي زیرمو په لړ کې دلوګر دولایت دعینک په سیمه کې د مس زیرمې دپام وړ بلل کیدې . دیوې څیړنې په اساس دغه زیرمې تر ٦ میلیون ټنه او دیوې بلې احصائیې له مخې تر ۱۱،٥ میلیون ټنه مس اټکل شوې و.

همدارنګ اوسپنه چې دحاجې ګګ په سمیه کې تر ۲ ملیارد ټنو پورې اټکل شوې چې په دنیا کې دریمه لویه زیرمهٔ شمیرل کیږي .

شورویانو له اوله دا کوشش درلوده که دغه مس او اوسپنه دصافولو لپاره شوروی اتحاد ته انتقال شي . په ۷۷-۱۹۷٦ م کې د محمد داود حکومت دا هڅه کوله چې دافغانستان ددغو دطبیعې زیر مو درایستلو لپاره له نورو اروپايي یا امریکایې هیوادونو سره قراردادونه وکړي چې دافغانستان اتکا په شوروی باندې لږ کړای شي . دایران حکومت داورګاډي دخط دجوړلو لپاره د مرستی او پور وعده کړې وه او یوې فرانسوي موسسې ددغه خط نقشه هم جوړه کړې وه چې له هرات څخه تر کابل پورې رسیده اویو فرعی خط تر حاجی ګګ پورې هم تمدید یده . داسې تجویز هم شوی و چې دحاجې ګګ اوسپنه به دکراچې داوسپنې داوبه کولو هغې فابریکې ته لیږدول کیږي چې هغه پخوا شورویانو

پاکستان ته جوړه کړې وه.

خو دغه پروژه د بهرنيو مرستو د کمښت او د افغانستان د داخلي اوضاع په تاوتريخوالي کې راګډ د پاتې شوه . له بلې خوا په ۱۹۷۶ کې شوروي حکومت موافقه کړي وه چې په شمال کې د هغو ۱۲ ميليون ټنه تيلو زيرمې ته يوه د تيلو تصفيه خانه افغانستان ته جوړه کاندي . مګر شوروي مقاماتو له خپلې وعدې سره سره په دغه کار لاس پورې نه کړ .

په ۱۹۸۲ م کې د شورويانو په يوې احصائيي کې وښودل شول چې افغانستان د ٤٤،٦٦ ميليون ډالرو خام تيل شوروي اتحاد ته صادر کړي او په مقابل کې يې د ۹۸ ميليون ٤ لکه ډالرو په بيه صاف پترول له شوروي څخه پيرودلي دي.

همدارنګه شوروي موسسو او شرکتونو په افغانستان کې د جنګ اوناکرارۍ سره سره اعظمي کوشش کاوه چې د زمرد او لاجورد له معدنونو څخه پوره پوره ګټه پورته کړي چې په بدخشان او پنجشير کې د شوروي پوځونو تر مستقيم کنترول او يا د دوی د ګوډاګيانو په لاس کې وو . په همدې ترتيب د يورانيم له زيرمو څخه چه د هلمند په ولايت کې پيدا شوي وې هم فايده تر لاسه کوله .

به دې دول پراختيا يي پروژې اکثراً د شورويانو په لاس کې وې او امريکا او اروپائې هيوادونو يا دلچسپي نه اخيستله او يا هم له شوروي اتحاد سره په پټو تفاهماتو او معاملو او يا هم سياسي فشار له امله د افغانستان پر مختيايي پروژې او د طبيعي زيرمو پلټنې او استفادی

شوروی اتحاد ته ورپریښي وي.

په عمومي توګه له ذکرشوو پراختیایي پروژو څخه خلک په ټول افغانستان کې مستفید نشول او بیا کوم وخت چې د سړکونو جوړول او بندونو او سیلوګانو هوایي میدانونو کارونه سرته ورسیدل بیرته بیکاران زیات شول چې دغې مسئالې د اقتصادی بحران پراخوالی ته شدت ورکاوه.

# پنځمه برخه

## دساړه جنګ تودیدل او په افغانستان کې

## دژوروبدلونو منځ ته راتلل

ددنیا دسترو قدرتونو امریکا دمتحده ایالاتو او شوروی اتحاد ترمنځ که له یوې خوا ددیتانت سیاست روان و او دوی په ظاهر کې زیار ایسته چې له پوځي تکرونو او مخامخ جنګ ، جګړو څخه مخنیوی وکاندي او دهمدغې روحیې په اساس د زبر ځواکونو ترمنځ دجګې سطحې څلور عالي غونډې وشوې چې درې غونډې یې په شوروي اتحاد کې سرته ورسیدې خوله بلې خوا سیمه ییزو کشالو دوی مخامخ مقابلې ته راکشول.

په ۱۹٦۲ کې دکیوبا دشوروي میزایلو بحران چې دامریکاښارونه یې په نخښه کړي وو او دجان کیندي په کلک ګواښ اوعکس العمل

دخروشچف حکومت دهغو په ببرته اېستلو مجبورشو ددغو هيوادونو په روابطو کې خړ پړوالی راوستلی و . همدارنګه د ( U2 ) امريکايي الوتکې چې له پاکستان څخه په شوروي اتحاد کشفياتی الوتنې کولې او دهغه هيواد دهوايي ځواکونو له خوا راغورځول شوې وه بيا هم دغه روابط ساړه کړي وو .

په ۱۹۶۲ م کې دبرلين دښار په بحران باندې هم داختلافاتو غوغا پورته شوه او امريکاييانو او لويديځو هيوادونو له هوا څخه دبرلين ښارته ضروري مواد رسول په داسې حال کې چې دزمکې لارې دشورويانو او ختيځ آلمان ، له خوا قرنطين شوې وې .

خلاصه دا چې دجان کنيدی دحکومت په دوران کې حتی درې ځله دامريکا اوشوروي اتحاد ترمنځ داتومی جګړې امکانات دکيوبا -برلين او لاووس دمسايلو په سر را پيداشول چې نژدې و نړۍ له يوې لويې فاجعې سره مخامخ کاندي . په ۱۹۶۸ م کال کې دشوروي اتحاد پوځونو په چکوسلواکيا دوارساپکت غړي هيوادو باندې تيرې وکړاوهلته يې دالکسندر دوبچک رژيم ترستونی ونيوه چې کمونيزم يې له انساني عمل او خيرې سره غوښته . ددغه تعرض په مقابل کې امريکا او لويديځ هيوادونو کوم شديد رد عمل ونه ښود خو دختيځ او لويديځ دروابطو پر خړپړ تيا يې ډير اثر وغورځاوه .

په دغو مسايلو کې تاوتريخوالی دواړه زبرځواکونه دې ته هڅول چې دويتنام په جګړو کې له يوبل سره کلکه زور آزمېينه وکاندي . له دې امله

دواړو خواوو د ویتنام په جګړو کې خپل پوځیان ، سلاکاران او پرمخ تللې وسلې او مهمات په کار اچول . د ویتکانګ قواوو او شمالي ویتنام د جنوبي ویتنام سره سخته مبارزه وړاندې بیوله او امریکایي پوځونو هم د شمالي ویتنام د مقاومت د ځپلو لپاره له کافي شدت څخه کار اخیست .

له بلې خوا د امریکا د خلکو او د نړۍ د نورو سوله خوښوونکو هیوادونو مخالفت د ویتنام له جګړې سره زیاتیده په داسې حال کې چې له جنګ سره د مخالفت لپاره د شوروي او ویتنام حکومتونو هیڅکله چاته د امجال نه ورکاوه . د دغو مسایلو ترڅنګ په ۱۹۷۱ م کال کې د پاکستان اتحاد چې له دوه ټوټو یعنې لویدیځ او ختیځ برخو څخه جوړ شوی و مات شو او ختیځ پاکستان د بنګله دیش په نامه د خپلواکۍ اعلان وکړ چې د هند حکومت یې ډیره پلوي کوله او هند بیا د شوروي اتحاد سیمه ییز کلک اندیوال بلل کیده . د بنګله دیش له جوړیدو څخه د هند دواکدارانو ملاتړ د بنګالي مسلمانانو د سوکالۍ او خیر لپاره نه و چې د لویدیځ پاکستان د حکام د ناوړه چال چلن څخه په داد راغلي وو ، بلکې هدف دا و چې پاکستان کمزوری کړي داځکه چې پاکستان د امریکا د پکت غړی و ، او دا کار به د امریکا او لویدیځ په نقصان تمام شي .

په ۱۹۷۲ م کې د تیلو بحران هم منځ ته راغی او opec د موسسې عربي غړو چې له تیلو څخه د یوې وسلې په ډول د صنعتي هیوادونو پرضد کار اخیست نو له شوروي او ختیځ بلاک څخه یې امریکا او لویدیځ هیوادونو ته زیات نقصان او تاوان رسیده ، ځکه د هغوی مصارف ډیر وو او

زياتره د تيل مواد د منځني ختيځ له هيوادونو څخه پيرودل کيدل .

دشوروي اتحاد او امريکا مشرانو بيا هم کوشش کاوه چې د سيمه ييزو جګړو او په هغو کې دلويو قدرتونو له ګډيدلو څخه مخنيوي وکاندي . په همدې اساس په ۱۹۷۲ م کال کې ريچارد نکسن دامريکا لومړي جمهوررئيس و چې دشوروي له کمونستي انقلاب څخه ۵۵ کاله وروسته مسکو ته سفر وکړ . په دغه سفر کې د دواړو هيوادونو داړيکو دښه کيدو په خاطر د ( SALTI ) معاهده هم لاس ليک شوه چې داوږده واټن په ميزايلو يي بنديز ولګاوه .

له بلې خوا په ۱۹۷۲ م کال کې ريچارد نکسن چين ته هم يو تاريخي سفر وکړ او هلته يې له چيني مشر مائوسيتونګ سره وکتل او دشانګهای مشهوره اعلاميه يې لاس ليک کړه چې دشورويانو انديښنې يې راپيدا کړې وې .

وروسته په ۱۹۶۷ م او ۱۹۷۳ م کلونو کې چې دعربو او اسرايېلو ترمنځ دفلسطين دشخړې په سر دوه خونړي جنګونه وشول ، شوروي اتحاد دفلسطين او عربو او امريکا داسراييلو پر خوا ودرديدل . سره له دې چې دشوروي يا امريکا پوځيانو په دغو جګړو کې مستقيم ګډون نه درلود خو په غير مستقيم ډول ددوی پوځي تسهيلات او سلاکاران په جګړو کې ورګډ وو او ددوی له پرمخ تلليو وسلو څخه کار پکې اخيستل کېده .

په ۱۹۷۲ م کې دجنوبي امريکا په چلي هيواد کې د ALLENDE مارکسيست حکومت چې دانتخاباتو له لارې

قدرت ته رسیدلی و دیوې کودتا له لارې رنګ شو چې په غیر مستقیم ډول دامریکا له خوا ورسره کومک کېده . دنکسن او کسنجر حکومت دا ادعا کوله چې امریکا په سیمه کې دامن او استقرار ژمنه او تعهد کړی دی او دغه مارکسیستی حکومت ګواکې په سیمه کې امنیت او ثبات له منځه وړی .

په ۱۹۷۵ م کال کې دانګولا دهیواد کشاله چې پخوا دپرتګال مستعمره وه ، دامریکا او شوروي اتحاد دبلې سیالۍ سبب شوه په اول کې امریکا په دې اعتراض کاوه چې دجنوبی افریقا او شوروي له خوا دلانجې دواړه خواوو ته پوځي مرستې ورکول کېږي وروسته چې کیوبا خپل عسکر انګولا ته واستول او شورویانو MPL ته پوځي مرستې ورزیاتې کړې نو امریکا هم مجبوره شوه خپل پوځي کومکونه Unita او FNLA ډلو ته ورپراخې کاندي . په دغه اړ دوړ کې په ۱۹۷۵ م کې امریکایی پوځونه له کمبوډیا څخه په شا کیدو شول او په جنوبي ویتنام کې دسایګون ښار چې د جنوبی ویتنام پایتخت و دمخالفو قوتونو په مقابل کې سقوط وکړ . امریکایی پوځیان او سلاکاران چې دکمبوډیا دلاس پوځی حکومت او دجنوبي ویتنام مرستې ته ورغلی وو ، دسره خمر او ویتکانګ له قوتونو سره – چې دچین او شوروي پوځیان او پوځي مرستې یې ترشا ولاړې وې – په جګړه اخته وو . دهمدغو مقاومتونو په شکست امریکا هم مجبوره شوه چې خپل پوځونه له ویتنام څخه وباسي . ویتنام کې دامریکا له ۵۰ زرو زیات خلک ووژل شول او په سلګونو نور

امریکا ییان تېیان او اسیرشول . که څه هم دامریکا دشکست اصلي عوامل دویتنام له جنګ سره دامریکا دخلکو مخالفت و خوله کمبودیا اوویتنام څخه دامریکا د پوځیانو په شاتګ شوروي اتحاد ته تر ېخوا زیات جرآت ورکړ چې دامریکا او لویدیځ بلاک مقابل کې تعرضي ، دریځ غوره کاندي .

دامریکا خلکو د دنیا په مختلفو لانجو او کشالو کې دامریکا دپوځی مداخلې مخالفت کاوه په داسې حال کې چې دشوروي اتحاد خلکو اصلاً دخپل حکومت له سیاست سره دمخالفت کولو مجال نه درلود او هر مخالفت ځای په ځای له منځه وړل کیده . شوروي اتحاد یا په خپله دغسې کشالو ته ورګډیده او یا یې خپل پلویان وراستول چې مسایل دشوروي په ګټه تمام کړي . دهمدغو چټکو تحولاتو او انکشافاتو له امله دامریکا دجمهوررئیس جیمی کارتر امنیتي سلاکار Brezizinski په دغه وخت کی داخبره په ډاګه کړه چې دشوروي اتحاد جیوپولتیک تحرک او تلاشونه په دریمه نړۍ کې دامریکا د ګټو پرضد مستقیم خطربلل کیږي . . .

په دغه کړکیچنه او بحراني فضا کې چې سیمه ییزې شخړې له هند چین څخه ترمنځنی ختیځ او افریقا پورې روانې وې او اقتصادي بحران هم دبې ثباتیو موجب کیده افغانستان یې هم تر فشار لاندې نیولی و .

په افغانستان کې اقتصادي پرابلمونه ، دضروري موادو کمیابی او کمښت ، مظاهرې ، اعتصابونه ، بیکاري ، دولسی جرګې تعطیل او فلج

کیدل او د حکومتي ادارو یې پروایې اوبې امنیتې زیاتره دچپي گوندونو ترفشار لاندې یوه سیاسی مختنقه او خفه کوونکې فضا منځ ته راوړې وه . خلکو په شدت سره د یو بدلون توقع کوله چې اوضاع ژر ترلازم کنترول لاندې راشي .

په کابل کې د غه مهال اوازې خپرې شوې وې چې سردار عبدالولي د پاچا زوم د کودتا فکر لري او له بلې خوا اوریدل کیدل چې محمدداود پخوانی صدراعظم هم دد غه بدلون غوښتونکی دی .

محمد داود چې د اساسی قانون له مخې دبیرته قدرت ته رسېدو امکان نه درلود دځینو ځوانو منصبدارانو ځینی سیاسي شخصیتونو او محصلینو له خوا تشویق شوی و چې له بحران څخه دهیواد خلاصون په خاطر مېدان ته راووزي او قدرت ترلاسه کړي .

بالاخره نوموړی دیوې سپینې کودتا له لارې د ۱۹۷۳ م کال د جولای په ۱۷ چې د ۱۳۵۲ ش کال دچنگاښ له ۲۶مې سره سمون خوري په کابل کې قدرت ترلاسه کړ او په داسې حال کې چې محمد ظاهرشاه په ایتالیه کې و شاهي نظام ړنگ او پرځای یې جمهوریت اعلان کړ . پارلمان معطل او د پاچا صلاحیتونه دجمهوریت مشرتابه ته ولیږدول شول .

محمد داود په خپلې لومړنی ویناکې داسې وویل :

« زه خپل وطن ته دخدمت دمختلفو مسوولیتونو په اوږدو کی تل ددې هدف په لټه کې وم چې دافغانستان خلکو مخصوصاً دهیواد محروم او ځوان نسل ته د مادي او معنوي ودې او غوړیدنې یو مثبت او واقعی محیط میسر کړای شي چې په هغه کې دهیواد ټول خلک پرته له فرق او توپیر څخه

دوطن په آبادۍ او زرغونتیا کې ونډه واخلي او د مسوولیت احساس وکاندي . د یروختونه تیر شول او د هر کوششونه سرته ورسېدل څو هغه عوامل او علتونه چې د تجربوله مخې په مختلفو اشکالو د داسې هدف ته درسېدو خنډ کېدل تدریجاً له منځه یوسو او په خاصه توگه په هیواد کې داعتبار ور امنیت ټینگ کاندو ، چې اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو ته په ښه توگه اجازه ورکړي ، ځوان نسل ته د مسوولیت احساس ورویښوي ؛ له ارتجاعي او خرافي ودې او روزنې څخه مخنیوی وکاندي . دغو عواملو ته په پاملرنه دې ته اړتیا لیدل کیده چې زموږ په هیواد کې یو بدلون رامنځ ته شي . ما د خپل هېواد د نیکمرغه راتلونکې لپاره دیوې واقعي او معقولې دموکراسۍ له ټینگیدو څخه چې بنسټ یې دافغانستان د خلکو اکثریت ته په خدمت ولاړه وي پرته بله لارنه لیدله او نه وینم . زما په نظر دهمدا ډول ټولنیزې وضعې اصلي بنسټ د خلکو د کاملو حقوقو خوندي کول او د ملي واکمنۍ په اصل اعتراف دی چې باید دغو دوو اصولو ته په پټه او ښکاره تاوان ونه رسېږي . دغه پاکه هیله وه چې زه یې مجبور کړم لس کاله پخوا موږ ( ما او زما ملگرو ) خپل وروستی پیشنهاد او وړاندیز د پاچا حضور ته وړاندې کړو - د افغانستان د خلکو د خیر او ښیگڼې لپاره یې د عملي کیدو هیله وکړو دا چې هغه پاکه هیله ولې دهیواد په دغې بدحالۍ او بدمرغۍ باندې پای ته ورسېده او ولې هغه ضعیف النفس ملگري له اصلي هدف څخه واوښتل او د خطا په لاره لاړل اوږد داستان دی چې تفصیل یې په دې لنډوخت کې گنجایش نه لري او په یو مساعدو فرصت

کې به گران هیواد وال پرې خبرشي . په هرحال نتیجه هغه شوه چې هغه پخوانۍ هیلې اواسرې او هغه نیکې آرزوگانې په یوې دروغجنې دموکراسۍ چې بنسټ یې له پیل څخه په عقدو اوشخصي او طبقاتي گټو ، په دسیسو او ساخته کاریو ، په دروغو اوریا او دخلکو په غولونې ایښوول شوی و - بدله شي .

له پاکستان سره دارېکو په ارتباط باید ووایو چې دایوازینی هیواد دی چې دپښتونستان دمسئالې پر سر ورسره اختلاف لرو او تر اوسه یې په حل نه یو بریالي شوي . زموږ دایمي کوشش به دپښتونستان دقضیې دحل لپاره دوام وکاندي . . »

دجمهوریت له تینگیدو څخه وروسته پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه له پاچاهي څخه خپله استعفا اعلان کړه اودیو افغان په توگه یې خپل ځان دجمهوری نظام په خدمت کې معرفي کړ .

دمحمد داود دکودتا متعلق - یې چې دسرطان د ۲٦ مې په انقلاب شهرت وموند او دپاچاهي نظام پرځای جمهوریت راغی عکس العملونه مختلف وو. خو دافغانستان اکثرو خلکو محمد داود پیژنده ؛ دده دصدارت ددوران کارونه وریادوو نوېي ځکه دده جمهوریت هرکلی او هیله کیدله چې په وطن کې به نظم او امنیت راشي او دپرمختگ لارې به بېرته خلاصې شي . خو دهغې مرکزي کمیټې په غړو کې چې یې محمد داوْد په سرکې ولاړ و - د ځینو کېن لاسو موجودیت داندیښنې وړ و ، سره له دې چې محمدداود دخپل انقلاب ملگری یوازې وطنپال افغانان بللی

بین المللی عکس العمل هم متفاوت وو، ځینو لویدیځو حلقو دمحمدداؤد حکومت دشوروي اتحاد په ستراتیژیکو گټو کې شمیره . اما دامریکا دمتحده ایالاتو موقف دافغانستان دنوي رژیم په وړاندې له تشویش څخه خالي نه ښکاریده .

دامریکا حکومت خپل سفیر G . Neuman چې دپاچا داعتماد وړ سړی و تبدیل او دهغه پرځای یې Theodor . L. Eliot دنوی سفیر په توگه مقرر کړ ، الیوت په خارجه وزارت کې دمعین وظیفه درلوده .

دجمهوري نظام دبهرنی سیاست دښه روښانه کولو په خاطر محمد داود خپل ورور محمد نعیم دخپل خاص نماینده په توگه دوستو هیوادونو ته واستاوه ، چې دجمهوریت دجوړیدو اودجمهوریت دهدفونو اومرامونو په اړوند معلومات وړاندې کړي . دایران حکومت چې په افغانستان کې دجمهوریت په جوړیدو اندیښمن ښکاریده ژریې له نوی حکومت سره ددوستۍ او همکارۍ لاره ونیوله او داسی ژمنه یې هم وکړه چې دافغانستان پرمختیایي پروژو ته مرسته هم کوي . دپاکستان حکومت هم دمحمد داود دسوابقو په نظر کې لرلو سره خوشبین نه معلومیده خو په دقت سره یې بیاهم په ظاهره کې ددوستۍ سر ښوراوه .

محمد داؤد له قدرت نیولو وروسته دامنیت دښه کیدو او دااقتصادي گډوډ حالت دبهترۍ په مقصد کوشش پیل کړ چې له بهرنیو هیوادونو

څخه مرستې لاس ته راوړي . هغه خپل لومړنی سفر د دولت د رئیس په توګه د ۱۹۷٤ م کال په جون کی شوروي اتحاد ته وکړ چې هلته یی ډیر تود هر کلی وشو .

محمدداود له شوروي مشرانو سره په یوې میلمستیا کې د پاکستان پر حکومت کلک انتقاد وکړ او د پښتنو او بلوڅو له حقوقو څخه یې دفاع وکړه مګر شوروي مقاماتو - پاکستان سره د دوستی په خاطر له راديو څخه د نشر په وخت کې د پښتنو او بلوڅو د حقوقو پراګراف د محمد داود له ویناڅخه لرې کړی و.

د شوروي حکومت د محمد داؤد د سفر په ترڅ کې د افغانستان پراختیایی او انکشافي پروژو لپاره د ٤۲۸ میلیونو ډالرو پور اعلان کړ چې یو بې سابقې پور بلل کیده . مګر د سیاسي اوضاع د څیړونکیو په نظر داد شوروي حکومت د یو جوړ شوي پروګرام برخه بلل کیده ، چې غوښتل یی محمدداود تر ټولو لومړی د شوروي اتحاد مرهون کړي . له بلې خوا د افغانستان د جمهوري حکومت او د پاکستان د حکومت روابط په چټکی سره مخ په خرابیدو شول ځکه هلته ذوالفقار علی بوټو د پاکستان صدراعظم د بلوچستان او صوبه سرحد ایالتی حکومتونه د خودمختاری او بیلتون غوښتنې د احساساتو په لرلو ړنګ او مشران یی بندیان او ترمحاکمې لاندې نیولی وو او د افغانستان نوي حکومت اعتراضونه کول او د پښتنو او بلوڅو د مشرانو خلاصیدل یې غوښتل .

همدارنګه د افغانستان حکومت هغو بلوڅ مهاجرینو ته پناه ورکوله چې

دپاکستان او ایران له پوځي عملیاتو څخه چې په ۷۳- ۱۹۷۲ م کې یې په بلوڅانو دبیلتون پالنې په الزام سر ته رسېدل افغانتسان ته پناه راوړله. افغاني مقاماتو بلوڅ مهاجرینو ته لازمې آسانتیاوې او دهغوي او لادوته دزده کړې امکانات هم برابرول چې داکار دپاکستان دشکایت سبب گرځیده او هغه یې دپاکستان په چاروکې مداخله گڼله.

ذوالفقار علي بوټو یو ځل د ۱۹۷٤ په جون کې چې دصوبه سرحد په یوې عامې غونډې کې ویناکوله، دافغانستان دحکومت مشر محمد داود ته گواښ وکړ چې که وغواړي په څو دقیقو کې به دپاکستان بیرغ دافغانستان پر ارگ ودروي، دبوټو دغه بیان ته لومړي په هند کې دافغانستان سفیر عبدالرحمن پژواک داسې ځواب ورکړ:

« دیو حکومت مشر ته داسې پوچ ویل لازم نه دي او هیڅوک هم دانشي کولای چې په څو دقیقو کې خپل بیرغ دافغانستان په ارگ ودروي.. »

ددې ترڅنگ په ۷۵- ۱۹۷٤ م کې دذوالفقار علي بوټو حکومت ځینې اسلامي رديکال ( اخوانیان ) کسان - چې پخوا یې له افغانستان څخه پاکستان ته پناه وړې وه - دمحمد داود دحکومت پرضد تیار کړل او هغوی له یو شمیر ماؤیستانو سره په وسلو او پیسو سمبال او افغانستان ته واستول، چې په تخریبي کارونو او تحریکونو دافغانستان حکومت متزلزل او بې ثباته کاندي. دغه خلک په څوځایونو کې ددولتي مامورینو په وژلو بریالي هم شول خو په عمومي توگه دافغانستان خلک

د دوي تر تاثير لاندې راغلل . له دغو کسانو څخه ځيني گرفتار او زنداني هم شول او ځينو يې سختې شکنجې هم وليدلې .

دوخت په تيرېدو سره دافغانستان او پاکستان په دريځونو کې نرمښت راغی او په ۱۹۷٦ م کی محمد داود او ذوالفقار علي بوټو د يو بل هيوادونو ته رسمی سفرونه وکړل او روابط مخ په ښه کيدو شول .

ديادونې وړ ده چې محمد داود د پښتنو او بلوڅو د مشرانو ( خان ولي خان - عطاء الله مينگل ، غوث بخش بزنجو ، نواب خيربخش مري اونورو ) دخلاصون په باره کې ذوالفقار علي بوټو ته شخصي غوښتن ليک ورکړی و چې هغوي ژر ترژره دده په ضمانت له زندان څخه خوشې او دهغوی پر ضد محاکمه ختمه کاندي .

البته له ايران او پاکستان سره دافغانستان دحکومت داړيکو ښه کيدل شوروي اتحاد ته يو لړ تشويشونه راپيدا کول په خاصه توگه دايران ديوه پور اعلان چې په افغانستان کې يې داورگادي د پټليو دغځولو لپاره کړی و او يوې فرانسوي موسسې دهغې نقشه کشي په غاړه اخستې وه ، د شورويانو د زيات خپگان سبب کېده چې مبادا افغانستان کې ددوی گټې په خطر کې ولوېږي . له چين سره هم دافغانستان روابط دوخت په تيريدو سره ښه شول. چين په اول کې دافغانستان د جمهوريت پرضد تبليغات کول خو بيا ژر داخبره ورته معلومه شوه چې دافغانستان دبيطرفی سياست به ، لکه دپخوا په شان دوام ولري .

له بلې خوا دمحمد داؤد حکومت له سعودي عربستان ، کويت او عربی

متحده امارتونوسره دروابطو پراختیا غوښتله او هغوي يې تشويقول چې دافغانستان په پراختیايي پروژو کې برخه واخلي . په همدې دول دافغانستان حکومت دامريکا دمتحده ايالاتو له حکومت څخه دافغانستان داقتصادي پراختيا يې پلان دمالي لګښت لپاره دمرستې غوښتنه وکړه مگر امريکا يې مقاماتو دداسې پلانونو تمويل دقيقې سروې پورې مربوط وګڼل او له دې امله يې د افغانستان غوښتنې ته مثبت ځواب ورنه کړ.

دمحمد داؤد حکومت دقدرت له ټينګولو وروسته په (۷۶-۱۹۷۵م) دحکومت په اداري دستګاه کې په تصفيې لاس پورې کړ چې چپي ډلوته مربوط کسان چې يې دده سياسي شهرت ته يې صدمه رسوله برطرف کړي . فيض محمد دکورنيو چارو وزير چې ويل کيدل دپرچم ډلې پورې مربوط دی له يو شمير نورو لوړرتبه ، مامورينو سره له خپلو مقامونو برطرف شول او په اردو کې هم ۴۰ تنه دشوروی تعليم يافته منصبداران دجګړن قادرپه ګډون له خپلو وظيفو څخه ګوښه کړای شول . له حکومت څخه بهرهم دمخالفينو تعقيب روان و. اخوانيان و مائويستان دپوليسي مقاماتو تر شديد تعقيب لاندې وو.

له د ې نه وړاندې چې صرف يو کال درژيم له منځ ته راتلو څخه تير شوی و. پوليسو دمسلمان ځوانانو په ټولنه کې هم نفوذ کړی و او ددغې ټولنې څه کم دوه سوه مربوطين يې توقيف کړي او ددغې ټولنې مشران برهان الدين رباني ګلب الدين حکمتيار او يو شمير نور پاکستان ته

تښتیدلي وو. له بلې خوا د حکومت مخالفین هم کرار نه کیناستل، د ۱۳۵۲ ش په وروستیو وختو کې دافغانستان امنیتي مقاماتو د محمدهاشم میوندوال د کودتا خبر خپور کړ چې غوښتل یې جمهوری نظام رنګ کاندي. له ده سره ځینې نور خلک هم بندیان شوي وو. څه موده وروسته حکومت د میوند وال د مړینې خبر اعلان کړ چې دامنیتي مسئوولینو په قول یې ځان وژلی و دا چې حکومت په دې مورد کې قوي اسناداو شواهد وړاندې نشول کړای نو د خلکو رایه دا شوې وه چې میوندوال د تحقیق په وخت کې د پولیسو له خوا په وهلو او شکنجه کولو کې مړ شوی دی او په دې کار کې دشوروي دعمالو لاس دخیل ګڼل کیده.

د ۱۳۵٤ ش په چنګاښ کې ځینو اسلامي بنسټ پالو ته مربوطه کسان په سرخرود پنجشیر او لغمان کې له امنیتي مقاماتو سره په وسله وال مقاومت لاس پورې کړ ځینې خلک ددولتي مامورینو په ګډون مړه او ټپیان شوی هم وو. ویل کیدل چې دغه کسان د پاکستان داستخباراتو له خوا افغانستان ته د تخریب لپاره را استول شوي وو.

د ۱۹۷٦ م په دسامبر کې یوه بله کودتا داسلم وطنجار له خوا کشف شوې وه په کودتا چیانو کې چې مشري یې توپچې یو پخوانی قوماندان میر احمد کوله د مخبرۍ په منظور وطنجار هم ګډ شوی و.

د پورتنیو پیښو او بدلونونو په اساس د پرچم ګوند چې لومړی ځان دچنګاښ د کودتا (د ۲٦ سرطان انقلاب) له مجریانو او پلویانو څخه باله په خپل ټول زور د محمد داود دحکومت پر ضد ودرید او په تخریبی

فعالیت یې پیل وکړ. له بلې خوا مسلمان رډیکالو ډلو چې محمد داؤد یې له کمونستانو سره په همکارۍ تورناوه خپل مخالفت ته شدت او توسعه ورکړه.

د محمد داؤد حکومت هڅه درلوده د دغو دواړو مخالفو او دښمنو جریانونو په منځ کې خپل اصلاحي پروګرامونه هم وړاندې بوزي د ځمکو د اصلاحاتو له امله د حاصلاتو عمومي وضعه ډیره بهتره شوې وه او ډیر بې ځمکې خلک د یوې توټې ځمکې خاوندان شوي وو. په انکشافي پروژو کې د تیل او ګاز پلټنې تعقیب او پراخې شوې وې او د تیلو زیرمې په آق دریا او قشقري سیمو کې کشف شوې د دغو سیمو د تیلو اندازه تر ۱۵ میلیون ټنو پورې اټکل کیده او د افغانستان کورنیو مصارفو ته یې لویه مرسته کوله.

له بلې خوا په کتهواز کې آلماني او فرانسوي کار پوهانو ته د تیلو د پلټنې کار سپارل شوی و. او په فراه کې هم یو انګلیسي شرکت د پلټنې کار کاوه او په شمال کې د ملګرو ملتونو او جهاني بانک په مرستو یو لړ پروژې پکار لویدلې وې. خو څرنګه چې د ښوونځیو فارغانو ته بیکاري ورځ په ورځ زیاتیده او دولتي ادارو او موسسو نه یوازې دا چې د هغوی د جذبولو توان نه درلود، بلکه ډیرو وزارتونو د خپلو مامورینو شمیر هم لیږاوه د غو مسایلو د خلکو نارضایتیې منځ ته راوړه.

له بلې خوا په دولتي ادارو کې د اجراآتو بهبود نه لیدل کیده او د خلکو د شکایتونو د اوریدو لپاره چا وخت نه ضایع کاوه. ډیر دولتي کارونه

دداسې خلکو په لاس کې لويدلي وو چې د ٢٦ سرطان له انقلاب سره په اړيکو لرلو يې خپل ځانونه له قانون څخه جګ ګڼل . د ملي دفاع وزارت او دبهرنيو چارو وزارت چې لومړي د محمد داؤد له خوا اداره کيدل عملاً دداسې کسانو ، لکه سردار حيدر رسولي او سيد وحيد الله عبدالله په لاس کې وو چې صرف د محمد داؤد اعتباري خلک وو. سيد وحيد الله چې دخارجه وزارت د يو شعبې له معاونيت څخه يو دم د وزارت مقام ته رسيدلی و د ملي انقلاب په ګوند کې يې يوه حلقه جوړه کړې وه چې د فايدې پر ځای يې محمد داود ته تاوان ډير رسيده او ملي او وطنپاله خلک ورځ په ورځ د محمد داؤد له اړخ څخه لرې کيدل .

له بل پلوه په مسلح قوتونو کې هم وضعه ښه نه وه هلته د اصلاحاتو اثر لږ ښکاره کيده ، ځکه دوسله وال پوځ په مهمو ځانګو او شعبو کې دشوروی تعليم يافته ګانو او دخلق دموکراتيک ګوند غړو او پلويانو ځانونه ستر او اخفا کړي وو ددوی په مقابل کې دلويديځ تعليم يافته منصبداران او ملي اشخاص ډير کم وو چې دشورويانو د تخريبي عملياتو مخه ونيسې . ددغو حالاتو په منځ کې محمد داود د ١٩٧٧ م په فبروري کې لويه جرګه په کابل کې راوبلله چې په نوي اساسي قانون باندې چې مسوده يې ترتيب شوې وه نظر ورکاندي. لويې جرګې وروسته له څو ورځو بحثونو نوی اساسي قانون تصوب کړ چې دهغه په اساس افغانستان د يو سياسي ګوند سيستم پيدا کاوه .

کوم وخت چې دلويې جرګې له خوا محمد داؤد د جمهور رئيس په توګه

وتاکل شو او هغه خپلې نوې کابينې کې زاړه وزيران بيرته راوستل نو دخلکو مايوسې تر پخوا زياته شوه . د محمد داؤد له استبدادي تګ لارې سره پخوا هم نارضايتي موجوده وه .

له بلې خوا تر ټولو ګاونډيانو زيات دشوروي اتحاد روابط له افغانستان سره مخ په سر يدو شوي وو . دشوروي حکومت لومړي د محمد داؤد پر هغې تصفيې خفه وو چې کين اړخه ګوندونو ته منسوب خلک يې له حکومتي کارونو څخه ايستلي وو. وروسته شوروي مشرانو له پاکستان او ايران سره د افغانستان د مناسباتو په پراخيدو هم انديښنې درلودې او داسې يې ګڼل چې ګويا افغانستان دامريکا حلقې ته ورنژدې کيږي .

دامريکا دخارجه وزير H.Kissinger هغه سفر هم چې په ۱۹۷٦م کې يې کابل ته کړی و ، دشوروي اتحاد مشرانو وارخطا کړي وو څکه نو موږي د محمد داود له نوښتونو او سياستونو څخه دامريکا دحکومت بشپړ ملاتړ اعلان کړی ؤ چې په سيمې کې د ثبات او دهيوادونو ترمنځ د ښو مناسباتو سبب کيدل .

همدارنګه دشوروي حکومت دجهاني بانک او ملګرو ملتونو له مرستو څخه دشمال دسيمو داوبو او بريښناد پروژو برخه کې رضايت نه درلود او هغه يي دشوروي ګټو ته مضر ګڼل . دکوکچې دسين دبند دذخيرې جوړول او همدارنګه په خوش تپه او بلخ کې بندونه - چې دشورويانو په زعم يې داوبو کمښت منځ ته راووړ - هم دشوروی مقاماتو د زړه بدی باعث ګرځيدلې وو . دشوروي دحکومت مشران په دې ډير انديښمن شوي

وو چې دافغانستان یو شمیر منصبداران په دعالی زده کړو لپاره ناپیلو هیوادونو ( مصر ، هند یو ګوسلاویا ) او لویدیځ ته استول کیږي . په همدغو شرایطو کې چې د شوروي طرفدارو ډلو د محمد داؤد پر ضد شدید پروپاګندکاوه ، محمد داؤد مسکو ته سفر وکړ . عبدالصمد غوث یو پخوانی دپلومات په خپل کتاب « سقوط افغانستان » د دغه سفر په مورد کې د پاملرنې وړ مطالب لیکلې دي چې لنډ یزیې داسې دي :

« د ۱۹۷۷ م په پسرلی کې په داسې حال کې چې دشوروی اتحاد پټ کوششونه دخلق او پرچم د متحد کیدو لپاره روان وو ، دهغه هیواد رسمي مقاماتو دافغانستان ددولت پهٔ داخلي او خارجي سیاستونو کې د تازه رو شونو اونوي کړ نلارې په مورد کې سکوت اختیار کړی و . او په معمولي توګه یې دشوروي او افغانستان له دوستی، غوری کولې او ددې دواړو هیوادونو روابط یې له مختلفو اجتماعي اقتصادي نظامونو دلرلو سره سره د ګډ سوله ییز ژوند نمونه ګڼله او دغې غولوني او فریب ترهغې ورځې دوام وکړ چې د محمد داؤد حکومت د کمونستانو په لاس رنګ شو .

څرنګه چې وخت تیریده داؤد خان په زیاتیدونکې توګه دروسانو له پټو کړو وړ څخه خفه او ځوریده . دوه ورځې وروسته له هغه چې داؤد خان د ۱۹۷۷ م په فبروری کې د جمهوررئیس په توګه په لویې جرګې کې وټاکل شو . داؤد خان ماته ( صمدغوث ) او سید وحید عبدالله ته وویل چې هغه وخت رارسیدلې دی چې زه باید شخصاً دشوروی له لوړ مقام یعنې لیونید برژنف څخه وپوښتم چې آیا دشورویانو دورانکاری عملیات په

افغانستان کې دبرژنف په موافقې او تائید سرته رسیږي او یا له هغه پرته؟

هغه وویل بریژنف ،ته به ووایم هغه کارونه چې کیږي په هیڅصورت دشوروی دمشرانو له وینا ووسره - چې یې له افغانستان سره ددوستې په مورد کې کوي - سمون نه لري.

په نوموړي سفر کې دشوروي او افغانی هیئتونو ترمنځ د ۱۹۷۷م په ۱۳اپریل کې خبرې پیل شوې چې دشوروي له خوا پکې برژنف ، پودګورني او کاسیګین او دافغانستان له خوا محمد داؤد له خپل هیئت سره ګډون درلود . په وینا وو کې داسې مسایل ، لکه : دآسیا دسته جمعي امنیت ، دافغانستان او پاکستان دروابطو ښه والی او ناپیلتوب بحث لاندې راغلل ، دخبرو په یوې برخې کې برژنف ، لکه چې له بې خودې راویښ شوي وي له رئیس جمهور داؤد څخه پوښتنه وکړه : دایران پاچا ډیرې وسلې راټولوي ستاسې نظر په دې باره کې څه دی؟ او بیا یې زیاته کړه : دابران پاچا ته نه ښایې چې له شوروی څخه وډارشي ،ځکه شوروی تل له خپلو سوله ییزو او دوستانه نیتونو څخه هغه ته ډاډورکړی دی. آیا ایران دامریکا داندیوال په توګه غواړي دامریکا ګټې وساتي که خبره داوي دایوعاقلانه ساست نه دی . برژنف وپوښتل : آیا دایران واړه ګاوندیان د ایران دوسلو له لوېې زراد خانې څخه ویره او تهدید نه حس کوي؟

داؤد خان ځواب ورکړ زما په نظر ایران په سیمه کې تیري کوونکی رول نه لوبوي او افغانستان یقین لري چې دایران له تسلیحاتی زور او قوت څخه دار او ویره نشته . داؤد خان زیاته کړه سره له دې چې زه دوسلو په

راتولوکې داسې بې محابا مصرفونه نه تائیدوم څکه دغه کار ایران له تولنیز او اقتصادي پرمختګ د تکنیکي کوی او په زیان بې تمامیږي ،اما په ۱۹۷۵ م په سفر کې مې د دغې موضوع په باره کې د ایران له پاچا او نورو مقاماتو سره خبرې نه دي کړي .

دوهمه ورځ برژنف په خپله وینا کې وویل چې د افغانستان ناپییلتوب او بې طرفي د شوروي لپاره مهمه او په آسیا کې د سولې لپاره اساسي ګڼل کیږي . هغه داهیله څرګنده کړه چې د ناپییلیو هیوادونو جنبش د امپریالیزم د دسیسو او توطئو قرباني نشي . په دې لحظې کې برژنف مستقیماً داود خان خو او کتل او کوم شی یې وویل چې ګویا ترجمان یې ناکراره کړ .

برژنف شکایت وکړ په افغانستان کې د ناتو د غړو هیوادونو د کارپوهانو په شمیر کې چې د ملګرو ملتونو او نورو پروژو کې کارکوي د پاملرنې وړ زیاتوالی راغلی دي ، پخوا به د افغانستان حکومتونو لږ ترلږه اجازه نه ورکوله چې د ناتو د غړو هیوادونو کارپوهان د افغانستان په شمال کې ځای په ځای شي ، مګر دغه روش بیا نور په دقیقه توګه نه دی تعقیب شوی . شوروي اتحاد دغه انکشاف خطرناک او وخیم بولی او د افغانستان له حکومت څخه غواړي دغه کارپوهان چې د امپریالستې مقاصدو لپاره د جاسوسانو په توګه ګمارل شوی دي وباسي

داود خان په خپلې ځوابیه وینا کې داسې وویل :

موږ به هیڅوخت اجازه ورنه کړو چې موږ ته د کتې وشي چې څه دول خپل هیواد اداره کړو او کوم کسان په کومو کار وګمارو . دا چې څنګه او

چیر ته خارجي کارپوهان استخدام کړو کاملاً دافغانستان ددولت حق دی افغانستان که لازم وي بیوزله او فقیر به پاتی شي ولی په خپل عمل او تصمیم کې به خپله آزادي وساتي . له دغو خبرووروسته داود خان غوښتل چې مجلس ترک کړي بریژنف ورته رانژدې شو او وې ویل چې ماته یې ویلي دي چې تاسې جلالتمآب له ماسره یو خصوصي صحبت غواړئ زه د تاسې په اختیار کې یم هروخت چې تاسې ته مساعد وي ، سره ووینو .

داؤد خان په صاف اوجگ آواز چې ټول خلک یې واوري ځواب ورکړ:

غواړم تاسې جلالتمآب ته ووایم چې نور داسې صحبت ته احتیاج نشته.

داؤد خان له دغې وروسته له پودگورني او کاسگین سره دخدای پاماني لاس ورکړ او په بیړه دمذاکرې له کوټې څخه ووت.

په دې ترتیب دا سفر پرته له نتیجې او رسمي اعلامیې پای ته ورسید او دافغانستان خلک خبر نشول چې د داؤد خان او برژنف په خبرو کې څه تیر شوي دي ؟ داؤد خان فکر کاوه دمسئالې افشا کول به شورویان لامتعرض کاندي . که ددې ملاقات له جریان او داچې دشوروي او افغانستان دمشرانو په مذاکرو کې څه تیر شوي دي ، دجهان خلک خبر شوي وای ، شاید دافغانستان دحکومت دریځ او دشوروي له منگولو دخلاصون هلوځلو ته علاقمندي اوهمدردي پیداشوې وای او دشورویانو دسیسې او له دښمنۍ ډکې کارنامې چې په پټه یې دافغانستان داشغال لپاره سرته رسولې شنډې او خنثې شوې وای .

داؤد خان دامریکا او لویدیځ هیوادونو خبرتیا او په داسې مسالی کې دهغوی احتمالی دریځ هم دافغانستان په چارو کې مداخله تصور کوله او ددور اندیشي له امله یي نه غوښتل دشورویانو دمزید اشتعال سبب شي . دلویدیځ دسیاسی چارو د پوهانو په نظر دمحمد داود سیاسی تګ لاره دافغانستان او شوروی په سختو او پیچلو اړیکو کې بریالۍ او موفقانه وه .دا چې دافغانستان جبو پولتیک اوضاع له فنلند سره مشابهت لری نو که دمحمد داود مبارزه او دریځ دفنلند له جمهوررئیس (ککونن) څخه ښه نه و، نو ورسره برابر خو و ...

## دثور چپي کودتا یا دثور تش په نامه انقلاب : (۷ ثور ۱۳۵۷ مطابق ۲۷ اپریل ۹۷۸) :

دمحمد داود حکومت دحالاتو په تاو تریخوالي کې داهلې ځلې کولې چې له عربی او نورو دوستو هیوادونو څخه پر اختیا یي پروژو ته مرستې ترلاسه کړي او خلکو ته دروزګار لاره پیدا کاندي .

په ۱۹۷۷ م کې دپلان وزیر علي احمد خرم په خپل دفتر کې دیو شخص له خوا ووژل شو چې فکر کیده قاتل به افراطی اسلامي دلوته مربوط وي ځکه چې حکومت له هغوی سره په مجادله اخته و، بیا وروسته ووېل شول چې قاتل دنور محمد تره کي دپلان ،وزیر ورور و چې غوښتل یې عمومي امنیت ګډوډ او دحکومت پروګرامونه بې اعتباره کاندي .

محمد داود د ۱۹۷۸ م په فبروری کې یو ګوسلاویا ، کویت ، لیبیا ، هند ، پاکستان او بیا عربستان ، مصر او کویت ته سفرونه وکړل چې

ددوستانه اړيکو په پراخولو سره له هغوی څخه اقتصادی کومکونه واخلي. له بلی خوا د ۱۳۵٦ ش کال داسد په میاشت کې یعنې شوروی اتحاد ته دمحمد داود له ورروستی بی نتیجې سفر څخه وروسته دهند دکمونست گوند مشرانو هم په دغه لارکې زیار ایسته چې دغه دوه گوندونه یعنې خلق او پرچم سره متحد کړي دا دواړو گوندونوله لسو کلونو څخه زیات وخت جلاگوندي تشکيلات او ځانگړي رهبری کدرونه او فعالیتونه درلودل او ددوی ترمنځ مخالفتونه تر دې حده و و چې دیوبل مشران یې دسي آی ای په جاسوسی او مخبری تورنول.

ددغو هلوځلو او دشوروی مقاماتو د خاصې پاملرنې په نتیجه کې بالاخره دغه اتحاد د ۱۹۷۷ م په ۳ جولای کې ترسره شو او نورمحمد تره کي دنوموړي گوند دعمومي منشي په توگه وټاکل شو.

نورمحمد تره کی دثور له کودتا څخه صرف دوه میاشتې پخوا په یو لیک کې دهندد کمونست گوند یوولسمې (۱۱) مې کانگرې (کانگرس) ته داسې لیکلي وو:

«زموږ گوندبې له شکه خپل انقلابی رسالت په بشپړه آگاهی سره به هرې وسیلې چې ممکن وي سرته رسوي. ځکه نور زموږ گوند په ټولنه کې په یو بالقوه الترنتیف بدل شوی دي...

مگر سربیره په دغه جوړ شوي اتحاد په سیاسې بیروکې - چې ۱۱ غړي یې درلودل او مرکزي کمیټې کې چې ۳۰ کسه یې غړي وو - توپیر او اختلاف دپخوا په شان دوام درلود. دگوند نظامي سلولونه کاملاً جلا

ساتل شوي وو . داوضاعو دڅېړونکو په نظر دغه اتحاد يوازې او يوازې دشوروي حکومت په لارښوونه دمحمد داود دحکومت دړنګيدو لپاره منځ ته راغلې و چې پرته له دې ممکن نه و دا دوه ګوندونه په يوه لار سره روان شي .

Anthony Arnold دافغانستان دحالاتو يو مشهور څېړونکې وايې « چې ممکن دی دخلق اړخ به دشوروي دپوځي استخباراتو GRU او دپرچم اړخ به د KGB تر لارښودنې لاندې وو.

دباوري سرچينو په اساس ددموکراتيک ګوند دواړه اړخونو (خلق او پرچم) په ۱۹۷۱ م کې څه کم ٦ زره کسان دغړو او پلويانو په نامه درلودل چې ممکن نه و له دومره کسانو سره په افغانستان غوندې يو اسلامې هيواد کې چې دينې عقايدو پکې تاريخي استحکام درلود چپې او کمونستې انقلاب ترسره شي ....... » .

په اپريل کې دمحمد داود حکومت دناپيلو هيوادونو دوزيرانو هغې غونډې ته ترتيبات نيول چې د ۱۹۷۸ م کال دمئي له ٦ تر ۹ په کابل کې جوړيدونکې وه . ددغې غونډې لپاره کافی تدابير نيول شوي وو او دامنيت او نظم دساتلو په خاطر هم دبهرنيو ژور نالستانو تعداد او ورود محدود شوی و. دمحمد داؤد حکومت هڅه کوله چې ددغې غونډې په جوړيدو دناپيلو او نورو هيوادونو توجه د افغانستان خوا ته راواړوي او داوښيي چې افغانستان ديو ناپيلې هيواد په توګه دپرمختګ لپاره هلې ځلې کوي . په دې وخت کې دخلق او پرچم له خوا دا آوازې ګډې شوې وې

چې عربي هيوادونو افغانستان ته دډېرو کومکونو وعدې ورکړې او محمد داؤد به ژر دشوروي ضد دريغ اعلان کړی او دشوروي له مخالفينو سره به يو ځای شي . په دغه کړکيچنه اوضاع کې دخلق دموکراتيک گوند يو بنسټ ايښودونکی غړی ميراکبر خيبر دنامعلوموکسانو له خوا په کابل کې ووژل شو . دافغانستان حکومت دقتل پړه په اسلامي افراطيانو اچوله مگر دددموکراتيک گوند په خپله دامريکا دجاسوسۍ سازمان CIA په دغه کارکې دخيل گاڼه او ځينو نورو دافغانستان دحکومت پوليس ددغه قتل مسئولين بلل .

ددغې حادثې له امله په کابل کې دوامداره مظاهرې پيل شوې او دامريکا دسفارت په وړاندې دامريکا ضد او محمد داؤد ضد شعارونه ورکول کيدل .

« شبهای کابل » نومی کتاب چې د ثور کودتا او له ترکودتا وړاندی وروسته دخلق دددموکراتيک گوند په فعاليتونو رڼا اچوي ، دنوموړي قتل په مورد کې ليکې : « پرچميانو او خلقيانو دمير اکبر خيبر قتل دامريکا ، دکابل دحکومت اونورو مخالفينو کارگاڼه ولې کوم وخت چې دوی په خپله قدرت ته ورسيدل يوه کوچنی پلټنه يې هم په دې باره کې ونکړه چې دميراکبر خيبر دقتل مسئول څوک ؤ ... » .

وروسته بيا ځينې پرچميانو دخيبر قتل حفيظ الله امين پورې تاړه او ويل يې چې هغه ددغه کار مسئوول دی اوځينو خلکو داهم ويل چې مير اکبر خيبر د KGB ايجنتهانو دشوروي دسفارت په امر وژلی اوببر ک

کارمل هم په خپله له جریان څخه واقف و ( د خیبر او ببرک روابط په وروستیو وختو کې بې حده زیات خراب شوي هم وو ) .

په هر صورت د افغانستان حکومت د میر اکبر خیبر د ښخولو په مراسمو کې خپل نماینده واستاوه او له مظاهره چیانو سره یې له صبر او زغم څخه کار واخیست . خو د مظاهرو په دوام حکومتي مقامات مجبور شول چې د ۱۳۵۷ ش د ثور په اوومه د خلق د موکراتیک گوند د مشرانو په نیولو لاس پورې کاندې .

د حکومت له دغه اقدام سره سم د کودتا چیانو ټانکونه او توپونه په حرکت راغلل چې له وړاندې یې ترتیبات نیول شوي وو. ځینې ټانکونو او زغره وال قوتونو له پلچرخې څخه د هوایي قوې په مرسته جمهوري ارگ ، د دفاع وزارت د راډیو تلویزیون مرکز او وزارتونو ته حملو لاندې ونیول او په بیره یې د ارگ شا او خوا ځایونه اشغال کړل د کودتا چیانو مقابل کې د محمد داود دوفا دارو پوځې قطعاتو مقاومت تر همدې ورځې او شپې پورې په شدت دوام درلود . د همدغې ورځې ماښام کابل راډیو د اسې اعلامیه خپره کړه :

د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د پاچاهۍ ، استبداد او مطلقیت وروستۍ بقایا او د مستبد نادر خان د کورنۍ قدرت پای ته ورسید او د دولت ټول قدرت د وسله واله پوځونو د انقلابي شورې په لاس کې دي .

د ثور د کودتا یو موثر غړی د گرمن رفیع چې بیا وروسته د پرچم

دحکومت ددفاع وزیر شو له کودتا څخه صرف ٥ ورځې وړاندې له مسکو څخه راستون شوی و. اوداسې آوازې ګډې وې چې دشوروی دسفارت پوځې اتاشي په جمهوری ارګ باندې دحملې په پلان کې لاس درلود. همدارنګه دلویدیځ هیوادونو پوځې اتاشو او سلاکارانو چې په کابل کې یې دندې درلودې په دې عقیدې وو چې شوروی پیلوټانو مستقیماً په کودتا کې ګډون درلود او په جمهوری ارګ یې دیر دقیق اوروڼه او بمونه غورځول.

بالاخره دټانکونو او هوایي قوې په دوامداره حملو دارګ دمدافعې قوت مات شو او په ارګ کې محمد داود له خپل ورور محمد نعیم او دکورنۍ له ۱۷ تنو نورو غړو سره دکودتا چیانو له خوا ووژل شول. نورمحمد تره کي بیا وروسته یوه مطبوعاتی کنفرانس ته ویلي وو چې موږ فیصله کړې وه که چیرې په حزبي مشرانو حمله کیږي او بندیان کیږي او یا کوم بل ګوند حکومت رانګوی او قدرت اخلي نو موږ به کودتا دده په قول انقلاب کوو.

ببرک کارمل هم وروسته د ۱۹۸۱ م په ۲۷ اپریل کې یو هندي ژورنالست ته وویل چې شورویانو غوښتل چې دلته (افغانستان کې) انقلاب وشي. دوسله واله قوتونو انقلابی شورا چې دجګړن قادر په مشرۍ یې دکودتا لارښوونه کوله او دمحمد داود حکومت یې رنګ کوي و وروسته له دوه ورځو خپل ټول قدرت دخلق دموکراتیک ګوند ته ولیږدواه چې په هغه کې نورمحمد تره کي عمومی منشي دانقلابی شورا درئیس او

حفیظ الله امین او ببرک کارمل د صدراعظم د مرستیالانو په توګه وټاکل شول نور محمد تره کي د ۱۹۷۸ په ۳۰ اپریل کې د افغانستان د موکراتیک جمهورت اعلان کړ. جګړن قادر چې د محمد داود له خوا دارد و په تصفیې کې برطرف شوي و او د دغې کودتا لارښوونه ئې کوله دادی اوس د دفاع وزیر په توګه مقرر شو.

د نوموړی ګوند د خپرونو په اساس دا موضوع بیا وروسته څرګنده شوه چې تره کي، امین او ببرک پخوا داموافقه کړې وه چې انقلاب به د ۱۹۷۸ م په اوړي کې کیږي دا چې دوې میاشتې وړاندې انقلاب شوي و نو مسکوته هم د تعجب باعث ګرځیدلې ؤ.

د حکومت ټولې چارې په چټکۍ سره له مرکز څخه نیولی ترولایاتو پورې د خلق د موکراتیک ګوند د غړو له خوا کنټرولیدې او عمده مقامونه د دوی له خوا اشغال شول » د محمد داود د حکومت مشران او مهم غړي هرځاي ګرفتار او په پل چرخي کې زندانی شول یوشمیر وزیران د ملی دفاع دوزیر په شمول اعدام هم شول . انقلابی حکومت د ټولو مړوشوو کسانو شمیر ۷۳ ذکر کړی و چې اصلي شمیر تردې ډیر زیات و. د دغې کودتا په مورد کې د افغانستان د خلکو عکس العمل اکثراً له غم او اندیښنو څخه ډک ؤ، سره له دې چې یو شمیر خود غرضه کسانو چې د محمد داود شا او خوا نیولې وه او دهغه او د خلکو ترمنځ یې د فاصلې په پیدا کولو دهغه شهرت او اعتبار ته صدمه رسوله، د افغانستان خلک که څه هم د محمدداؤد د حکومت له ټولو کړنو څخه راضي نه و و مګر چا دهغه او

دهغه د کورنۍ په داسې بې رحمانه قتل روا داری نه درلوده .

د کودتا په باره کې بهرني عکس العملونه هم مختلف وو. د شوروي اتحاد حکومت لومړنی هیواد و چې د افغانستان انقلابی حکومت یې په رسمیت وپیژانده . بریژنف او کاسگین د افغانستان د نوي حکومت د مشرانو په نامه د مبارکۍ تلګرامونه ولیږل او د موفقیت او وړاندې تګ هیله او امیدیې ورنه کاوه .

شوروی اتحاد په داسې حال کې چې د کودتا په ګټه یې له خپلې مداخلې څخه انکار کاوه ژر تر ژره یې د کودتا پر ځای د انقلاب نوم په خپلو خپرونو کې استعمال کړ او هغه یې د افغانستان د کارګرو او زیارکښو خلکو په نماینده ګې انقلاب یاد کړ. ولې د تره کي حکومت د کمونستي یا سوسیالستي تاپه په خپل حکومت په کلکه رد کوله .

جنرال ګروموف د شوروی دیرغلګرو پوځونو یو مشهور قوماندان په خپل کتاب کې د ثور د کودتا په مورد کې داسې لیکلي دي : «د کابل له انقلابی حکومت څخه ملاتړ شوروی حکومت ته دا امکانات ورکول چې په یو وخت کې څو هدفونه په لاس راوړي . دامریکا حکومت په ایران کې له شکست څخه وروسته په آسیا کې د یو نوي ملګري او تړون غړي د پیداکولو په هڅه کې و. د محمدداود ځینې اقداماتو او کړنو دا ښودله چې امریکا به په دغه هدف کې کامیابي تر لاسه کاندي ، مګر د ۱۹۷۸م د اپریل بدلون اوضاع د شورویانو په ګټه واړوله او د غه بدلون شوروی اتحاد ته په سیمې کې د یو ستراتیژیک بریالیتوب په توګه سرته ورسید ... ».

## اماد امریکا عکس العمل څنګه ؤ ؟

امریکا د جهان ستر قدرت چې د محمد داود حکومت یې د خونړۍ کودتا له امله په وینو کې نسکور لیده او له بشری حقوقو څخه یې په بې ساري توګه سرغړونه مشاهده کوله ، هیڅ کوم عکس العمل ونښود ، بلکه اتومات یې د کابل رژیم په رسمیت وپیژاند او خپلو عادي روابطو ته یې دوام ورکړ. څو موده وروسته دامریکې نوی سفر Adolph Dubs په کابل کې خپله وظیفه اشغال کړه او په داسې حال کې چې د افغانستان خلکو د خلقیانو - پرچمیانو په مقابل کې مقاومت او پاڅونونه جوړول دامریکا روابطو او د مرستې پروګرامونو د کابل له حکومت سره د پخوا په شان پرمخ تلل .

د آلمان ، کانادا او بریتانیې حکومتونو دافغانستان د نوي حکومت متعلق داسې نظر درلوده چې په نوي حکومت کې د نشنلزم او کمونیزم مخلوطیت باید په نظر کې ونیول شي او د غه رژیم دومره باید بیرته ونه وهل شي چې د شورویانو په غیږ کې ولویږي . دامریکا ځینو سیاست پوهانو هم له دغه دریځ سره نژدې والې ښوده . د ګاونډ یو هیوادونو ایران ، پاکستان او چین عکس العملونه متفاوت وو. د ایران پاچاهي حکومت چې په سیمې کې دامریکا لوی متحد بلل کیده ، په خپله له چپي مخالفو حزبونو او سازمانو او اسلامی مذهبی ډلو سره په بی سابقې مجادلو او کشمکشونو اخته شوی و او د افغانستان د حالاتو په مورد کې یې پر ته له اندیښنو څرګندونو کوم کار نشو کولای . په پاکستان کې د جنرال ضیا

الحق پوځي حکومت چې له عامه مخالفتونو او بين المللي انزوا سره مخامخ و ، دافغانستان له نوي حکومت سره يې ددوستۍ لارونيوله او د ۱۹۷۸ په سپتامبر کې جنرال ضيا کابل ته رسمي سفر وکړ چې د دواړو هيوادونو روابط سره ښه وساتي . البته دچين حکومت له شوروی سره دخپلو ايديالوژيکي اختلافونو پر مبنا کابل حکومت ته دوستانه نظر نه درلود او حزبي تبليغات هم کول .

## په افغانستان کې دننه وضع څنګه وه ؟

دخلق او پرچم په ګډ حکومت کې چې جګړن قادر ددفاع وزير اونور احد نور داخله وزير و (د او اړه د پرچم غړي اوجګړن قادر د KGB غړي هم بلل کيده ) پوځي او امنيتي قوتونه او دانقلاب ساتنه توله ددوی په لاس کې وه خو حفيظ الله امين چې په اردو کې ډير خلک درلودل ددغې وضعې تحمل نشو کولای او څرنګه چې هغه خپل ځان دانقلاب قوماندان باله نو له دې امله په حکومت کې تشنج مخ په زياتيدو شو.

ددغو اختلافونو دزياتيدو په نتيجه کې دپرچم دډلې مشران سفارتونو ته وليږل شول او له لنډې مودې وروسته له سفارتونو څخه هم برطرف او تر تعقيب لاندې ونيول شول خو هغوی تولو دمخه مسکو ته پناه وړې وه.

دخلق او پرچم حکومت چې له يوې خوا په خپلمنځي کش اوګير اخته و. له بلې خوا يې دخپلو سياسي مخالفينو او رقيبانو په نيولو ، ځورلو او وژلو هم لاس پورې کړی و چې ساحه يې ورځ په ورځ پراخيدله . دحکومت

واکدارانو دانقلاب لارد یوموهوم طبقاتي جنگ د تطبیق لپاره نیولې وه.
پوچو انقلابی شعارونو او افراطي اصلاحاتو دخلکو ځوریدل منځ ته راوړل
. دافغانستان په تاریخ کې دا لومړي ځل و چې یو چپې او دشوروی
دکمونستي ایډیالوژي طرفداره گوند قدرت ته رسیدلې و . دافغانستان
خلکو چې دحکومت له چال چلن ، زنداني کولو ، وژلو او انقلابی کړنو او
اصلاحاتو څخه اندیښنه او ویره درلوده ، په هر ځای کې یې واړه اوغټ
مخالفتونه پیل کړل او په کندهار ، هرات ، کنړ اولغمان کې له حکومتی
قواوو سره وسله وال مقاومتونه هم منځ ته راغلل.

د ۱۹۷۸ م په دسامبر کې دشوروی مشر تابه دافغانستان دنوي
حکومت ټول غړي د تره کي په مشري مسکو ته وغوښتل چې ددوستئ
اوهمکارئ نوی تړون له شوروي سره لاس لیک کاندي . په دغه تړون کې
چې د۱۹۷۸ م په۵ دسامبر په مسکو کې دشوروی دحکومت مشرانو او
دافغانستان دانقلابی حکومت تر منځ لاس لیک شو ، په څلورمه ماده کې
یې د پوځي مرستی داسې ذکر شوی و چې دواړه خواوې به یو له بل سره
سلا مشورې کوي او د توافق په اساس به په داسې اقداماتو لاس پورې
کوي. چې ددواړه هیوادو امنیت ، استقلال او زمکنئ بشپړتیا تضمین
کاندې.... ».

دشوروی حکومت ۱۲ میاشتې وروسته دهمدغې مادې په استناد په
افغانستان پوځي یرغل وکړ ، په داسې حال کې چې حتی دهمدغې
معاهدې خلاف نه له چاسره سلا مشورې شوې وې او نه هم دافغانستان

حکومت له خوا شوروي پوځ ته کومه بلنه ورکړشوې وه .

له شوروي اتحاد سره دکابل دکودتايي حکومت ملگرتيا اونژديوالی او دانقلابی کړنلارو تبليغ دافغانستان دخلکو دعمومی ناخوښی او نارضايتی سبب گرځيدل . دخلقيانو حکومت چې په خپل زعم يې د افغانستان دخلکو دسوکالي او عدل اوانصاف دتامين په مقصداته انقلابی فرمانونه يو په بل پسې علان اونافذکړي وو دهغو دتطبيق له امله دخلکو له استقبال نه ، بلکه مخالفت سره مخامخ کيده.

اتم نمبر فرمان چې دزمکو ددموکراتيک اصلاحاتو په باره کې و او دزمکې دملکيت حداو اندازه يې ( تخمين ۳۰ جريبه فی کورنی ) تعينوله او دحکومت په خيال يې بزگران او خواري کښبان له پخوانيو ظالمانه روابطو څخه ژغورل بيا هم دخلکو دخوشالي او اطمينان سبب نه گرځيده. عامو خلکو دزمکو ويش ، دپور اوگروي منع کيدل او دښځو آزادي دکمونستي او کفر او الحاد پر خوا دقدمونو اخيستل بلل . له کمونستي طرفدارکودتايي حکومت سره دمخالفت او د خلکو دانديښنو د رفع کولو په خاطرد ۱۳۵۷ م دثورپه لومړي هفته کې دجلال آباد فرقې دحکومت په مقابل کې پاڅون وکړ او دخلق او پرچم منصبدارانو په وژلو او بندي کولو يې دفرقې اختيارات په لاس کې ونيول مگر له کابله ورغلو دکوماندو او روسي مشاورينو په مرسته دغه پاڅون سخت وځپل شو او زيات شمير مسلمان او وطن دوسته منصبداران او پوځيان پکې ووژل شول.

همدارنگه دهيواد په نورو برخو کې هم مخالفتونه پورته کيدل ،

دبغلان په درهٔ صوف کې هم که امنیتي قواوو سره نښتې وشوې چې تلفات یې درلودل.

د ۱۳۵۷ دحوت (کب) دمیاشتې په وروستیو کې دهرات دخلکو پاڅون منځ ته راغي. هلته دهرات دفرقې یو شمیر منصبداران له خلکو سره یو ځای شول او دښار کنترول یې له خلقي حکومت څخه واخیست.

ددغه پاڅون له امله په لس گونو شوروي سلاکاران او منصبداران هم ووژل شول چې هلته یې په پوځي او نورو برخو کې کار کاوه. په داسې حال کې چې ښار او فرقه دحکومت له کنترول څخه خارج شوې وه له شین ډنډ څخه زمکني پوځ او له شوروي څخه مستقیماً پوځې الوتکو په هرات پوځي عملیات پیل کړل چې درې ورځې یې دوام درلود. ددغو عملیاتو په نتیجه کې دهرات ښار بیرته دحکومت لاس ته ورغی خو تخمین ۲۵ زره پوځي او ملکي خلک پکې ووژل شول.

همدادول دهیواد په نورو برخو کې هم په خپل سر مقاومتونه او محالفتونه ښکاره شول. مثلاً د ۱۳۵۸ ش په حمل (وری) کې دبادغیس اوغور خلکو، په ثور کې دلوگر خلکو په سرطان کې دلغمان اوبیا دوردگ او میدان خلکو په جوزا کې دپل چرخې دزندان بندیانو یو په بل پسې پرته له کوم تنظیم او تنسیق دحکومت په مقابل کې په قیامونو او مخالفتونو لاس پورې کړ چې له اخ او ډب، له وهلو ټکولو او مرگ ژوبلې څخه خالي نه وو.

دغه رازد ۱۳۸۵ ش کال دجوزا دمیاشتې په وروستیو ورځو کې

د کابل ښار دچنداول خلکو قیام وکړ او خلقي حکامو په بې رحمانه ډول وټکاوه په سلګونو بې ګناه ښاریان په کې هلاک شول. دهمدې ۱۳۵۸ ش کال داسد په میاشت کې د کابل په بالاحصار کې نظامیانو قیام وکړ چې په خشونت وټکول شول.

د ۱۳۵۸ ش په ۲۱ سنبله کې دا سمار دقطعې پاځون او له مجاهدینو سره یو ځای کیدل د کابل حکومت ته سخته ضربه ګڼل کیده. همدارنګه د ۱۳۵۸ ش په عقرب کې د کابل په ۷ کیلو متری کې دطره خیلو مسلمانو خلکو قیام او د کابل په هوایي ډګر باندې حملې د کابل حکومت له سختې وار خطایی سره مخامخ کړي و. حکومتي قواوو دغه قیام شنډ کړ او یوزیات شمیر خلک پکې مړه او بندیان شو ل.

د ۱۳۵۸ په منې او ژمي کې دهیواد په شمالي برخو دکندز او تخار په ولایاتو کې هم ځینې بی امنیتی او له حکومتي قواوو سره نښتې منځ ته راغلې چې پخوا آرامې سیمې بلل کیدې.

د کابل خلقي حکومت دامنیت دټینګولو او دمخالفتونو دکرارولو او ځپلو لپاره ډیرې هلې ځلې کولې خو دا ورته ډیره مشکله وه چې دافغانستان په ټولو برخو کې امنیت ټینګ کاندي او له بهر څخه دتګ راتګ مخه ونیسي، دافغانستان جنوب ختیځې برخې او سرحدي سیمې چې له ۱۵۰۰ میلو څخه زیات سرحد جوړوي نشي کیدای چې په آسانی کنترول شي. دغې مسالې که له یوې خوا د کابل دحکومت کمزوري زیاتو له خوله بلې خوا یې جهادي قوتونو ته امکان ورکاوه چې دچریکي جګړو

لپاره دهغو ځایونو په غرونو او رغونو کې پټ شي . شوروی پوځي سلاکارانو چې شاید دافغانستان دخلکو دملی مقاومت بنه اټکل نه وکړی ، په خپلو جنګي پلانونو یې له سره نظر کاوه چې البته ددوی دغه هڅې دکابل په حکومت کې دتشنج او تفرقې له امله هم له مشکلاتو سره مخامخ کیدې او بلې خوا دشوروي مشرانو او دکابل دحکومت دصدراعظم حفیظ الله امین تر منځ بې اعتمادي مخ په زیاتیدو وه .

دشوروي حکومت چې دهرات له پیښو سخت اندیښمن شوی و جنرال Alexei Yepishev یې له شپږو نورو جنرالانو سره داوضاع دلیدنې او څیړنې په خاطر افغانستان ته واستاوه او یو شمیر نوې وسلې یې هم دکابل حکومت ته واستولی چې دامنیت په ټینګولو او انقلاب ضد په ټکولو کې څنې کاروا خلي .

ددغو جریانونو په منځ کې د ۱۹۷۹ م په فبروری کې دامریکا دمتحده ایالاتو سفیر A.Dubs چې یو تجربه کار دیپلومات او دکمونستې هیوادونو متخصص و په کابل ښار هغه وخت دڅو کسو له خوا برمته ونیول شو چې له خپل کور څخه دفتر ته روان و . اختطاف کوونکو چې دترافیک لباس اغوستې و سفیر دکابل هوتل یوې خونې ته بوته او دخوشي کیدو لپاره یې شرایط اعلان کړل . مګر وروسته دپولیسو او برمته نیوونکو تر منځ چې ویل کیدل دستم ملې دګوند غړي وو د توپکو ډزې وشوې او په پای کې ټول کسان دسفیر په شمول ووژل شول .

داسې هم ویل کیدل چې ددغه کار شاته لوی لاسونه وو او داې

غوښتل چې په دې کار د کابل دحکومت او امریکا روابط خراب کاندې او افغانستان ژر له نورو هیوادو څخه جلا او کاملاً یې په شوروی متکي کړي.

دامریکا حکومت د دغه قتل ملامتی د کابل په حکومت اچوله او د ۱۹۷۹ م په اگست کې رئیس جمهور کارتر یو فرمان لاس لیک کړ د دغه فرمان پر اساس له افغانستان سره دامریکا ټول کومکونه قطع کیدل تر هغه وخته چې د کابل حکومت مسئوولیت ومني او له پیښې څخه بښنه وغواړي.

له بلې خوا د خلق گوند او حکومت کې هم اختلافونه زیات او علني شوي وو. د ۱۹۷۹ په سپتامبر کې حفیظ الله امین صدراعظم خپل سیاسي مشر او دانقلابی شوری رئیس نور محمد تره کی له قدرت څخه وغورځاوه چې بیا وروسته یې دمړینې اعلان هم خپور شو. داسې ویل کیدل چې برژنف د شوروي مشر، نور محمد تره کې ته - چې دناپیلو هیوادونو له کنفرانس (هاوانا) څخه وطن ته راستنیده او په مسکو کې یې لنډ توقف درلود - خصوصي میلمستیا ورکړې او هغه ته یې توصیه کړې وه چې امین له قدرت څخه گوښه کړي او له ببرک کارمل سره روغه وکاندي کارمل هم هلته له تره کي سره لیدلي وو امین له دغه جریان څخه په خبریدو لاس ورباندې برکړ. پرچمیانو امین چې دامریکا تحصیل یافته و دامریکا په جاسوسی تورناوه او شورویانو هم له امین څخه اندیښنه درلوده، نو ځکه څو څو ځله ناوړه قصدونه وشول چې هغه له

منځه يوسي . د تره کي له پيښې وړاندې امين ٤ نفره وزيران له وظيفو لرې کړي وو چې هغوې بې ځنډه د شوروي په سفارت کې پټ او له هغه ځايه يې دامين پر ضد فعاليتونه وړاندې بيول . په داسې حال کې چې د شوروي حکومت او سفارت تر آخره پورې دا موضوع پټه ساتلې وه .

حفيظ الله امين له تره کي سره په تصادم کې د شوروي سفارت دافغانستان په کورنيو چارو کې په لاس وهنې تورن کړ . او د شوروي سفير پوزانف ته يې چې له مقتدرو کمونستانو څخه شميرل کيده امر کړی و چې ژر ترژره له افغانستان څخه ووزي . دغه کار چې سابقه يې نه درلوده برژنف او شوروي حکومت ته د تحمل وړ نه بلل کيده چې د دوی پروګرام شنډ او دامين پر ځای تره کي له منځه لاړشي . د دغو حالاتو تر څنګ د ۱۹۷۹ په ٤ اکتوبر په کابل کې د شوروي پر سفارت حمله وشوه چې شپږ (٦) نفره روسي پرسونل پکې ووژل شول . د شوروي حکومت له دغې حادثې څخه هم سخت ناراضه شوی وو .

د ۱۹۷۹ م په جولای کې د ختيځ آلمان سفير په کابل کې دامريکا شارژ دافير ته ويلې وو چې مسکو داسې انګيري چې د کابل د رژيم د مخ په زياتيدونکو ستونزو حل بايد له صدارت څخه دامين په ليرې کولو سرته ورسيږي .

وروروسته بيا چې د ۱۹۷۹ م په سپتامبر کې حفيظ الله امين د حکومت د مشر په توګه قدرت په لاس کې واخيست نو هڅه يې کوله چې له شورويانو څخه فاصله ونيسي . له همدې امله امين دامريکا له شارژدافير

ځخه په يوې رسمي کتنې کې د دواړو هيوادونو د اړيکو د ښه والي او د کومکونو د بيرته پيل کيدو غوښتنه کړې وه . يوه مياشت وروسته حفيظ الله امين د انگ پيلې او ښکاره د امريکا مرسته وغوښته او تقاضا يې وکړه چې امريکا بايد موقعيت او سيمه ييزې پيښې په واقعي توگه تر کتنې او ځيړنې لاندې ونيسي .

مگر د امريکا حکومت چې د مسکو او امين ترمنځ په تاو تريخوالې خبرو يوازې يو امريکايي ډپلومات له دهلي څخه کابل ته واستاوه چې اوضاع مطالعه او د افغانستان غوښتنه تر کتنې لاندې ونيسي . دغه ډپلومات بيا وروسته ويلې وو چې امين د امريکا کومکونه غوښتل ، مگر دهغو په مقابل کې حاضر نه و کوم شي ورکړي .

د حالاتو څيړونکو په داسې حال کې چې د امريکا د حکومت يوې بلې غلطۍ او تېروتنې ته گوته نيوله داسې استنتاج يې کاوه چې امين د شورويانو د دسيسو او فشارونو له امله په دې فکر کې شوی و چې پر خپله تگ لاره نوی نظر وکاندي . څرنگه چې انور سادات په ۱۹۷۲ م کې خپل اړيکې له شوروی اتحاد سره وشلول، امين هم دغې نتيجې ته رسيدلې و . د پاکستان د خارجه وزير آغا شاهی سره د ليدلو لپاره دده هڅه او تلوسه چې د کابل د سفر پروگرام يې درلوده د همدغې موضوع يو دليل شميرل کيده .

حفيظ الله امين چې د شورويانو له کلک فشار سره مخامخ و د پرچميانو او د تره کي د پلويانو له خوا هم په کړار نه و پاتې شوی . د امين پرضد تبليغاتو په لړ کې په جولای ۱۹۷۹ م کې د پرچميانو له خوا يوه

شبنامه د کابل د ښار په لارو کوڅو کې غورځول شوې وه چې غټ مطالب یې دا و :

« ..... هدف های انقلابی باید همان باشد که به وسیلهٔ میر اکبر خیبر اظهار شده ، ایدیالوژي کارگران با حمایت شوروی .و دیگر کشور های سوسیالستې باید به عنوان چراغ رهنما مورد استفاده قرار گیرد . اعمال رژیم سر دستهٔ جنایتکاران جرفه یې ( امین ) شامل دستگیري وشکنجهٔ ، بدون تبعیض زنان و دختران ، با لابردن منافع امپریالیزم امریکا شکنجه های حیوانی انقلابیون واقعې ، غارت خانه های مردم بیگناه که تماماً جنبه های حکومت آدولف هتلر میباشد ، پیشرفت انقلاب و دفاع از تمامیت ارضی واستقلال وطن غیر ممکن است مگر با حذف فوری امین ودستیارانش . مرگ برامین وپارتی زن های فاشست او ، مرگ برسیا ، مرگ بر اخواني ها ، مرگ برمائویست ها ، پیش به سوی اتحاد ووحدت نیروهای دموکراتیک ... » .

له بل پلوه د افغانستان د خلکو مقاومت د خلق د گوند او حکومت په مقابل کې ورځ په ورځ زیاتیده . د شوروی اتحاد مرکزی کمیتې ۱۹۷۹ م په وروستیو کې اعتراف کړی و چې ضد انقلاب د افغانستان په ۱۸ ولایاتو کې خپل فعالیتونه وړاندې بیولی او د حکومت اجرات یې له ناکامۍ سره مخامخ کړي دي .

حفیظ الله امین له سپتامبر څخه پخوا د پیښو او اجراآتو مسئوولیتونه د پخوانی حکومت په غاړه اچول او د قانونیت . عدالت او مصئوونیت تر

شعار و نو لاندې يې هڅه درلوده چې خپل استبدادي چال چلن جبيره کاندي او په خلکو کې ځانته طرفداران پيدا کړي خو له چپي او شوروي طرفدار رژيم سره د اسلامي او نورو مخالفو ډلو زياتيدونکې مخالفت ، بيکاري بې روزگاري او اقتصادي بدحالي او داختلاف عمومي روحيې دهغه هلې ځلې له ناکامي سره مخامخولې .

# شپږمه برخه

## دساړه جنګ وروستۍ مرحلې او په افغانستان کې دجنګ داورلمبې

لکه چې پخوا ورته اشاره شوې وه . دساړه جنګ ددوران وروستۍ او ډیره سخته مرحله په افغانستان کې منځ ته راغله او داهغه وخت پیل شوه چې شورویانو دافغانستان په کورنیو چارو کې له لاس وهنو وروسته پوځي تجاوز او یرغل وکړ.

شوروي اتحاد چې، لکه د ځاري روسیې واکدارانو غوندې دکوچنیو ګاونډیو هیوادونو آزادۍ ته درنښت نه کاوه او په مختلفو پلمویې دهغوې په کورنیو چارو کې مداخلت او لاس وهنه کوله په افغانستان کې ددوی پټ لاسونه هغه وخت ښکاره شول چې دثور کودتا دافغانستان قانوني حکومت ړنګ کړ او وروسته یې علناً په خپلو پوځونو افغانستان اشغال کړ.

پخوا له دي چې شوروي اتحاد په افغانستان پوځي يرغل وکړي . يولړ مهمو پيښو دنړۍ حالات تر تاثير لاندې راوستي وو. دشوروي اتحاد دروابط له چين سره - چې دواړه د کمونيزم مهم مرکزونه شميرل کيدل - مخ په زياتو خرابيدو وو او چين يو ځل بيا دهغو سيمو غوښتنه ، شروع کړې وه چې پخوا شورويانو په زور له چين څخه نيولې دي .

له بلې خوا پر ويتنام باندې د چين حملې ( ۱۹۷۹م) دشوروي اتحاد او چين مناسبات خراب کړي وو ځکه ويتنام دشوروي متحد او پلوی ګڼل کيده.

ددې په مقابل کې دچين روابط له امريکا سره مخ په ښه کيدو وو . په ۱۹۷۸ م کې رئيس جمهور کارتر خپل امنيتي سلاکار Brzizniki چين ته ليږلې و ، چې دهغه هيواد مشران تشويق کړي چې په بين المللي مسايلو کې زيات ونډه واخلي .

وروسته په ۱۹۷۹م کې دنګ سيا وپنګ Deng xiaoping دچين دصدارعظم مرستيال امريکا ته رسمي سفر وکړ او ددې سفر له امله ددواړو هيوادونو دروابطو پراختيا لپاره لاره اواره شوه .

همدغه وخت په کيوبا کې دشوروي اتحاد ديوې پوځي فرقې موجوديت يو ناڅاپه رسوا شو چې د امريکا حکومت ته يې تکان ورکړ . همدا مهال دامريکا جمهور رئيس داسې خاص هدايات (Directive) لاس ليک کړي وو، چې دهمدغو هداياتو په اساس ديو محدود اتومي جنګ امکاناتو ته لاره او اريدله .

له بل طرف څخه شورویان په مصر او سومالی کې له افتضاح سره مخامخ او مجبوره شوي وو چې خپل پوځې سلاکاران له هغو هیوادونو څخه وکاږي ، همدارنګه دشوروي اتحاد او عراق په دوستانه روابطو کې تاوتریخوالی راغلی او پخوانی کیفیت یې له منځه تللی ؤ .

ددغو انکشافاتو تر څنګ دچین او جاپان مناسبات چې په کلونو کلونو ساړه وو مخ په ښه کیدو شوي وو. او د ۱۹۷۸ م په آګست کې چې کومه معاهده لاس لیک شوې وه دهغې په اساس دمناسباتو پراختیا دشوروی اتحاد حکومت ته نورې اندیښنې پیدا کړې وې .

که د پورته ذکر شوو پیښو او بدلونونو په منځ کې دشوروی اتحاد ستراتیژیک هدفونو ته نظر واچول شي ، لیدل کیږي چې شوروي اتحاد لاندیني مرامونه په خپله ستراتیژي کې تعقیب کړي او له هغو څخه دګټو اخیستلو په مقصد یې مبارزې پرمخ بیولې دي .

۱ - دشوروی اتحاد له پولو دهغو سیمو په ګډون چې له جاپان - چین او منګولیا څخه په زورنیول شوې دي دفاع او ساتنه .

۲ - دشوروی اتحاد په ګټو کې د آسیایی منابعو تحلیل او په کار اچول .

۳ - دسایبریا له طبیعې زیرمو څخه ګټه پورته کول او هغو ته دبهرنیو کومکونو راجلبول .

٤ - په آسیا کې دشوروي دنفوذ او اغیزې پراخول Unconven-tional طریقې سره .

۵ - دانقلاب له ګټو څخه په دوستو هیوادونو ( کوریا - ویتنام او

افغانستان ) کې دفاع کول.

٦- له آسیا يي هیوادونو سره د تجارت له لارې د تکنالوژۍ او صنعتي موادو په لاس راوړل.

د دغې ستراتیژۍ د عملي کیدو لپاره یو لوی پوځي ماشین ته ضرورت و او شوروی اتحاد په دغه وخت کې لاندې یاد شوي پوځونه او پوځي وسایل په لویو یادو شوو سیمو کې درلودل :

۱۵۰۰ نوې او مدرن الوتکې او ۶۰۰ بم غورځوونکې الوتکې

۱۲۰۰ لوي دلرې واټن راکټونه او ۲۵۰۰ ورسره اتومي خولۍ

۵٤ فرقې منظم عسکر

٤۰۰ جنګي لویې کشتۍ او ۱۳۳ او بتلونه

له دې امله نو نه یوازې دا چې شوروی اتحاد د افغانستان د اشغال په فکر کې لویدلې و ، بلکه دا یې غوښتل چې په سرعت او چټکتیا سره د خپلو ستراتیژیک رقیبانو او سیالانو په مقابل کې خپل مواضع کلک او مستحکم کاندي.

د لته د امیر عبدالرحمن خان نظریات د دیر پام او غور ور ګڼل کیږي چې د روسانو په مورد کې یې ۹۸ کاله وړاندې څرګند کړي وو.

امیر عبدالرحمن خان په خپله سوانح کې چې په ۱۹۰۰ م کال انګلستان کې ترجمه شوې داسې لیکلي دي :

« ........ د روسیې پالیسي په آسیا کې دا ده چې په هرصورت چې وي په درستۍ یا غلطۍ ، په دوستۍ یا دښمنۍ په خوشحالۍ یا خپګان ، په

سوله او یا په جنګ باید اسلامي سلطنتونه له منځه ولاړ شي ، دوی به خوشحاله شي . چې که د ترکیې امپراطوري چې په هغې کې تقریباً ټول عربی هیوادونه شامل دي له منځه ولاړه شي . دافغانستان او ایران پاچاهی باید هم له منځه ولاړې شي او که پاتې کیږي نو صرف د بې ځانه شیانو ( ابزار ) په توګه دې دروسیې په خدمت کې وي او دابه تو پیرونه لري چې دوی باقي پاتې دي او که نه . ددوی دوام باید دروسیې د مطلب تراخیستلو پورې وي . زه فکر کوم چې دروسیې تعرضي پالیسي ورو او دوامداره خو کلکه او بی تغیره ده . که یو وار یې قدم وړاندې کړ بیا دریدل ورته نشته او لا رنه بدلوي . ددوی دوړاندې تګ عادت د پیل غوندې دي پخوا له دې چې پښه کښیږدي هغه ځای ښه ازمیيي او هر کله چې پښه کیښوده نو بیا بیرته تګ او شاتګ ورته نشته ..... ».

دشوروی اتحاد دحکومت په خپلې دغې سابقې دداسې یو لوی جنګی ماشین په لرلو سره دا توان پیدا کړی و چې هر ځای کې چې وغواړي خپل پوځونه پلي کړي او خپلې وسلې واستوي البته دکودتاګانو ، بلواګانو او دحکومتونو ماتول او جوړول ورته آسانه کارو .

دشوروی حکومت ته دخپل دغه تعرضی دریځ لپاره دبریژنف دکتورین مخې ته پرات واو ددې دکتورین په اساس شوروی اتحاد مسئوولیت درلود چې دیوسو سیالستې رژیم دقدرت په ساتنې کې مداخله وکاندي ولو که دوارساله پکټ څخه بهر هم وي . څرنګه چې پخوا وویل شول په افغانستان کې دقدرت مبارزه چې دنورمحمد تره کي په له منځه

وړلو تمامه شوې وه بریژنف په غصه کړی واو پتیلې یې وه چې امین په زور له منځه یوسي . د ۱۹۷۹ م په ۱۱ جون کې دشوروی مشر بریژنف په یوې رسمي میلمستیا کې داسې ویلي ووچې موږ به خپل دوستان ( په افغانستان کې دشوروی طرفداران ) په مشکلاتو کې پرې نه ږدو . په دی اساس دشوروي اتحاد پوځونو دکرسمس دد عیسویانو اختر ، په وخت کې ( ۲۷ دسامبر ۱۹۷۹ م ) دحفیظ الله امین حکومت نسکور کړ . د KGB یو افسر Kuzichkin چې په ۱۹۸۲ کې له شوروی څخه وتښتیداو لویدیځ ته یې پناه یووړه وویل :

دامین پر هستوګنځي باندې دکې جې بې دخاصو عسکرو له خوا چې دافغانی عسکرو جامې یې اغوستې وې حمله وشوه . دغه موضوع یو شوروي تاریخ پوه هم تائید کړې وه . دامین پر هستوګنځي باندې حملې کې تخمین ۲۰۰ شوروی عسکر او منصبداران هم په قتل ورسیدل ، خو ډیر تلفات دامین دګارد دعسکرو وو چې ترپایه یې سخت مقاومت کاوه . حفیظ الله امین په همدغه ورځ ددسامبر ۲۷ دتپۀ تاج بیک په جنګونو کې ووژل شو . له امین سره ۷ نفره غټ خلقیان هم ووژل شول .

دشوروی حکومت چې په خپل دغه مداخلت ټول بین المللي قرار دادونه او معاهدې تر پښو لاندې کړې او دامین له وژلو او دهغه دحکومت له چپه کولو وروسته یې ببرک کارمل چې شوروي کې اوسیده دقدرت پر څوکۍ کښیناوه چې دغه عمل ټولې نړۍ ته سخت تکان ورکړی و . ببرک کارمل د ۱۹۷۹ په ۲۸ دسامبر په ۷۲- T تانک کې له بګرام هوایي

ادي ځخه چې دشورويانو په لاس کې وه ، کابل ته راوستل شو او حفاظت يې روسيي عسکرو کاوه . شوروي حکومت دخپلې پوځي مداخلې داسې استدلال کاوه :

۱- دپوځي مرستې غوښتنه دکابل دحکومت له خوا شوې وه .

۲- دغه مرسته د ۱۹۷۸ م ددواړو هيوادونو دتړون په اساس سرته رسيدلې ده .

۳- له خپل ځان ځخه دفاع دملګرو ملتونو دمنشور له ۵۱ مادې سره سمه ده .

ځرنګه چې په افغانستان باندې تجاوز کيده او دافغانستان حکومت له شوروي اتحاد ځخه دمرستې غوښتنه کړې وه مثبت ځواب ورته ورکړ شو . ».
مګر دشوروي حکومت دغه دليل هيڅ نشو منلای او شوروي هيڅوخت داثابته نشو کړای چې پوځونه يې دافغانستان دکوم حکومت په بلنه هلته استول شوي وو . ځرنګه به ممکن وي چې حفيظ الله امين دې داسې بلنه ورکړې وي چې شوروي پوځونه دې راشي او هغه دې مړ کاندي . له بلې خوا ببرک کارمل لا په شوروي کې ديو پناهنده په توګه ژوند کاوه او هيڅ کوم دولتي قدرت يې نه درلود .

حقيقت دا و چې دشوروي حکومت چې د ۱۹۷۹ م په جنوري کې دايران دپاچاهي حکومت له ړنګيدو او هلته ديو اسلامي حکومت په جوړيدو سخت لړزيدلی و او له حفيظ الله امين سره يې هم روابط ښه نه وو . ځکه امين د KGB په فعاليتونو اعتراض کاوه او غوښتي يې وو چې

شوروي مشاورين دی هم بیرته لاړشي ، لـه دغسې حالت نه شورويانو داسې نتيجه اخيستې وه چې دهغه هيواد په جنوبی سرحدونو کې به هم يو مخالف حکومت منځ ته راشي ، او دابه دشوروی ګټو او هم برم او پرستيژ ته غټه صدمه وي . کوم وخت چې حفيظ الله امين ته دده د آشپز په لاس دزهرو رکولو دسيسه - چې روسانو جوړه کړی وه - ناکامه شوه نو بريژنف پتيیلی وه چې ژر تر ژره يې په پوځي قوت له منځه يوسي .

ديادونې وړده چې دامريکا د CIA اداري داسې بيش بيني کړې وه چې شوروي اتحاد به په افغانستان پوځي يرغل ونه کړي ځکه دابه د SALT2 تړون چې روسانو ته ډير ارزښت لري ، - له منځه يوسي .

بايد وويل شي چې دشورويانو ديرغل په وخت کې څه کم ٤ زره شوروي افراد اوسلاکاران په افغانستان کې ووچې يوشمير شوروي عسکر په پټه د ١٩٧٩ م کال ددسامبر په لومړيو وختونو کې کابل ته راوستل شوي وو ، وروسته ٥ زره عسکر دهوا له لارې په ٢٤-٢٥ او ٢٧ دسامبر دکابل هوايي ډګر کې ښکته شول . له دې نه پخوا دګارد خاص Elite Guard ١٠٥ نمبر هوايي مهمه قطعه چې په فرغانه کې پرته وه په پټه دبګرام هوايي ډګر ته ليږدول شوې وه ، ديوی بلې منبع په قول دشوروي ١٠٨ نمبر اردو چې دځمکې له لارې افغانستان ته داخل شوې و ، دجنرال توخارينف او مارشال سوکولف په مشرۍ د ١٩٧٩ م کال د دسامبر په ٢٦ دکابل پر ښار يرغل ته ورننژدې شول او ژر دغه لښکر له ١٠٣ نمبر کماندو فرقې سره چې له وخته يې ځان رسولی و ارتباط کلک کړ .

وروسته همدغو يرغل گرو پوځونو په ډيره بيړه کابل کې پر دولتي ادارو او وزارتونو او د مخابراتو مرکزونو قبضه وکړه . دشوروي پوځونو دغو حملو او کارنامو په ډاګه ښووله چې دوی د حفيظ الله امين د حکومت ړنګولوته راغلي او هيڅا دوی نه دي رابللي .

په دې ترتيب په ۲۷ د دسامبر کې شوروي پوځي قطعاتو د حفيظ الله امين هستوګنځی ( تپه تاجبيک ) په ډير شدت او کم نظيره خصومت تر حملولاندې نيولی او حکم يې ورکړی و چې ټول دې په قتل ورسيږي . شوري مشاورينو افغاني پوځيان له پخوا په دې نامه خلع سلاح کړي وو چې بايد دژمي لپاره پوځي تجهيزات بدل شي . ځينو شوروي سلاکارانو دافغاني قطعاتو آمران خپله بې وسلې کړي او ياهم وژلي وو پر امين باندې حمله کې د کوماندو قطعې قوماندان شوروي ډګروال ( بي يرينوف ) چې يې دافغاني عسکرو جامې اغوستې وې هم په دې اشتباه چې دامين له هستوګنځی ځخه راوتلی او شايد افغاني منصبدار به وي دروسانو له خوا ووژل شو .

( ديادونې وړده چې تخمين يوه مياشت وړاندې په يوه توطئه کې اسدالله امين دخارجه وزارت معين ( دحفيظ الله امين وراره او زوم ) دشوروي مشاور له خوا په توپک زخمي او دامين دحکومت ددوران لوی درستيز جنرال يعقوب په عين مجلس کې وژل شوی و . شوري سلاکارانو او دشوريانو - افغاني ايجنټانو حفيظ الله امين ته داسې ښودله چې دهغوی له اطلاع سره سم دانقلاب ضد خلک په کابل دلويې حملې تدارک

کوي او له دې امله يو شمير عسکر د هوايي ډګر او مهمو ځايونو د حفاظت لپاره ور استول کيږي حفيظ الله امين هم د غفلت په خوب ويده و د اباور يې کړی و چې شورويان په رښتيا د ده د ساتنې او دفاع لپاره خپل زامن هلته ورليږي . د دغو پوځي عملياتو پلان General Ivan Pavlosty جوړ کړی و چې د ۱۹۷۹ م له اګست تر اکتوبر پورې کابل کې و هغه د شوروي د دفاع د وزارت معين و .

له پورته ذکر شوو عساکرو څخه وروسته ۸ زره روسي عسکر او له جوپه په ډيره بيړه د ز مکې له لارې کابل ته ورسيدل او ورپسې د شوروي د سرو لښکرو منظم ټولګي چې په ټانکونو زغره وال موټرو او لويو توپونو او ميزايلو سمبال وو له ز مکنيو سرحدونو څخه پر افغانستان تجاوز وکړ او د هيواد ښارونه ، مهم ځايونه او سرحدونه يې يو په بل پسې اشغال کړل ، اول ځل د دغه راننوتې پوځ شمېره ۸۵ زره تنه ښوول شوې وه .

د ازويستيا Azvestia د ورځپاڼې سياسي خبريال Alexander Bovin د ۱۹۸۰ م کال په اپريل کې پر افغانستان باندې د شوروي پوځي تجاوز متعلق داسې ليکلي وو :

« ... د اوضاع انکشافاتو موږ مجبوره کړو چې دغه کار وکړو . موږ يا بايد عسکر ليږلي وای او يا مو پريښودلي وای چې د افغانستان انقلاب ړنګ او هيواد يې د ايران د پاچاهۍ په سرنوشت مبتلا شوی وای . موږ چې پوځونه وليږل دا يو عادي تصميم نه و ؛ موږ پوهيدلو چې د انقلاب ضد او مذهبي افراطيانو کاميابي او د فيوډالانو غچ او انتقام اخيستل به

دوینو حمام جوړ کړي او د چیلي دهیواد دانقلاب ضد له جنایاتو نه به هم تیری منځ ته راشي موږ پوهیدلو چې دانقلاب ضد کامیابی به په دغه هیواد کې دامریکا پراخ پوځی حضور ته لاره اواره کاندي . افغانستان چې له شوروي سره ګډې سرحدي پولې لري او دابه زموږ دهیواد امنیت ته لوی خطر وي موږ پوهیدلو چې دعسکرو لیږل به په مدرنه نړۍ کې که قانوني هم وي محبوبیت پیدانه کړي مګر په دې هم پوهیدلو چې موږ به یو ستر قدرت نه یاستو که له دغه بدرنګه اما ضروري تصمیم څخه ځان تیر کاندو . . »

دشوري پوځونو دغې حملې او دافغانستان دحکومت ړنګیدلو په نړیواله سطحه مخالفتونه راوپارول ، ملګرو ملتونو او ناپیلو هیوادونو دغه حمله ژراو په کلکه وغندله .

داروپاتولو کمونستی ګوندونو - پرتله له فرانسې - څخه دشوروي پوځونو تجاوز وغانده او دیوګوسلاویا او رومانیا هیوادونو چې سوسیالستې حکومتونه هم درلودل دشورویانو دغه عمل تقبیح کړ . دغه عکس العملونه دشوروي حکومت ته له توقع څخه لرې ښکاریدل .

دامریکا جمهور رئیس جیمی کارتر په افغانستان باندې دشوروي پوځونو یرغل وغانده او وې ویل :

« په افغانستان باندې پوځی تیري دشوروي او لویدیځ هیوادونو ترمنځ ژور اختلاف رامنځ ته کړی یو مقصد یې دخلیج دتیلو دشارګونو پریکول او بل یې دروس دپتر Peter the great دخوب رښتیا

کول دي چې د تودو اوبو بندرونو لپاره يې درلودل . دا يو داسې مهم بحران دی چې له دوهم جهانی جنګ څخه راپدې خوا منځ ته راغلی دی . »

د غندنې تر څنګ دامریکا حکومت یو لړ اقتصادی بندیزونه لکه دغلې او پرمخ تللې تکنالوژۍ دورکول بندول هم اعلان کړل او همدارنګه په مسکوکې داولمپیک له جهاني لوبو څخه هم پریکون وشو . له بلې خوا د SALT2 د معاهدې لاس لیک هم وځندول شو ، چې د شورویانو لپاره یې ډیر اهمیت درلود .

اروپايي ټولنې European Community چې دستر و قدرتونو ترمنځ د دیتانت له شکست څخه اندیښنه درلوده ، دامریکا د تادیبي اقتصادي بندیزونو او دوسلو د کنترول د مذاکراتو له سرولو څخه ملاتړ ونه کړ په تیره بیا فرانسې او جرمنی . اروپايی ټولنه په دې عقیده وه چې دافغانستان د نا پیلتوب تعهد دې وشي او شوروي دې خپلې قواوې بېرته وباسي .

د ملګو ملتونو دامنیت شوری د ۱۹۸۰ م کال د جنوری په ۸ مه دافیصله په اتفاق وراندې کړه چې شوروی پوځونه دې فوري له افغانستان څخه وایستل شي خو د شوروي نماینده دغه فیصله ویټو کړه . وروسته د ملګرو ملتونو عمومی ټولنې د ۱۹۸۰ م کال د جنوری په ۱٤ مه په خپلې اضطراري غونډې کې دافغانستان په حالاتو باندې له بحث څخه وروسته په ډیر لوی اکثریت پر ۱۰٤ رایو دغه فیصله تصویب کړه چې خارجي پوځونه دې له افغانستان څخه ژر ووزي . دافغانستان آزادی ، ملي

واکمنۍ او بیطرفي دې اعاده شي او دافغانستان خلکو ته دې فرصت ورکړی شي چې خپل حکومت په خپله وټاکي.

دملګرو ملتونو فیصلې پسې داسلامی هیوادونو تولنې Organization of Islamic Countries دشورویانو دیرغل له غندلو سره دا وړاندیزوکړ چې دافغاني پارتیو (ګوندونو) اومسکوترمنځ به دیو دیالوګ اومذاکرې ترتیب جوړکاندي چې دداخلی حل دطریقی په اساس شوروي پوځونه له افغانستان څخه ووزي . اسلامي تولنې دافغانستان دڅوکۍ دخالی پریښودلو فیصله وکړه او دایی زیاته کړه چې ترهغې شورویان په افغانستان کې وي دا څوکۍ دې خالی پاتې شي .

مګر دشوروي حکومت چې دبیرته تګ په فکر کې نه و دمذاکرو تول وړاندیزونه یی بې ځنډه ردکول .

وروسته لارد کرنګټن دبریتانیې پخوانی خارجه وزیر چې دزمبابوی دکشالې په حل کې یی شهرت پیداکړی و ، دافغانستان د بیطرفی طرحه داروپایی تولنې مجلس ته وړاندې کړه چې دهغې په مورد کې لازم غور وکاندي او دشوروي پوځونو دبېرته وتلو لپاره مناسب اقدامات ترسره شي. مګر دفرانسې نماینده ، لارد کرنګټن له وړاندیز سره موافقه ونه کړه اووادیی ویل چې فرانسه دافغانستان دقضیی دحل په باب ځانګړی نظر لري ، چې هغه نظر هیڅکله معلوم هم نشو .

دامریکا حکومت چې په ایران کې یی دپلوماتان دحزب الله ځوانانو له

خوا د ۱۹۷۹ م کال په نومبر کی برمته نیول شوي وو اوبیا دهغوی د نجات پلان دایران د تبس په دښته کې دامریکا یی هیلی کوپترو په سقوط شنډ شوی و ډیر مصروفیت درلود او دافغانستان مسالی ته یی دومره توجه نه درلوده .

له بلې خوا اندراګاندی چې په هند کې بیرته قدرت ته رسیدلی وه ،دشوروي حکومت ته یی ډیر اهمیت درلود او دشوروي دریځ یي په جنوب ختیځ اسیا کې قوي کاوه ددې ترڅنګ له ایران سره هم دشوروي روابط مخ په ښه کیدو وو . په دې ترتیب دشوروي موقف په سیمه کې غښتلی کیده ، په داسی حال کې چې دامریکا ګټې له خطرونو سره مخامخ وې .

دشوري مشرتابه په سیمه کې یوازې پاکستان ترملامتي او سرزنش لاندې نیولی و او دا انتقاد او اعتراض یې ورباندې کاوه چې پاکستان دامپریالیزم دګوډاګی په توګه دافغانستان دانقلاب ضد ته مرسته اوکومک ورکوي . ببرک کارمل چې دهغه لومړی رادیویی وینا د ترمذ له رادیو څخه خپره شوه بیا وروسته په کابل کې دا ادعا وکړه چې « کابل ته دکرسمس په مهال دشوروي پوځونو داستولو مقصد داو چې دامین له نقشې څخه مخ نیوی وکاندی .ده وویل چې امین غوښتل دیوجهادی مشر په مرسته دافغانستان نیمایی خلک ووژنی او په دې کارکې له هغه سره دامریکا دجاسوسی سازمان CIA، انګلیسانو ، چینایانو او اسراییلو مرسته کوله » .

اما دشورویانو دتجاوز په مقابل کې دافغانستان دمسلمانانو خلکو

عکس العمل سره له دغو مسایلو مخ په زیاتیدو و او دافغانستان په مظلومو خلکو کې دشورویانو او دکابل دگوډاگي حکومت پر ضد دنفرت اوکرکې روحیه ورځ په ورځ قوي کیدله .

## *- آیا دشورویانو دپوځي یرغل په مقابل کې بین المللی عکس العملونه قوي او اغیزمن وو ؟

له هغه وخته چې شوروی اتحاد په افغانستان پوځي یرغل وکړ همدا پوښتنې کیدلې چې شوروي دنړیوال ستر قدرت په توگه ټول بین المللی قوانین او دگاونډیتوب مختلف تعهدونه او تړونونه تر پښو لاندې کړل او په افغانستان یې له شرمه ډک تجاوز وکړ ، آیا دبین المللی قوانینو دماتولو په الزام دکوم هیواد له خوا په جنگ تهدید شو ؟

شوروی اتحاد چې په خپل پوځی قدرت له زرهاوو توپونو ، ټانکونو راکټونو او الوتکوسره دافغانستان مظلوم خلک په یوه تحمیلی جنگ کې راگیر او په سخته مرگ ژوبله اخته کړل آیا دهغه پر ضد په آزاده نړۍ کې خلکو اعتراضونه او احتجاجونه - لکه دکوریا او ویتنام په جنگونو کې چې کیدل - وشول ؟

شوروي اتحاد چې یو کوچنی مسلمان هیواد ترخپل پوځی اشغال لاندې نیوه آیا په اسلامی نړۍ کې څه شدید رد عمل وښودل شو او دشورویانو له ظلم زیاتې څخه چې په ملیونو افغانان دمهاجرت تریخ او له غمه ډک ژوند ته مجبوریدل ، آیا آزاده نړۍ او ناپییلو هیوادونو له دغو ظلمونو پرده پورته کړه او دافغانانو مظلومیت یې جهان ته روښانه کړ ؟

دشورويانو دپراختيا غوښتنې اوله چل او پلمو ډک چال چلن په مقابل کې آيا دنړۍ خپلواک هيوادونو او اسلامي ملکونو په شوروي څه تعذيرات ولګول او يا دراکړې ورکړې قراردادونه ورسره وځنډول ؟

له بده مرغه دغو ټولو پوښتنو ځوابونه تر ډيره حده منفي دي او کوم شی چې شوي هم دي هغه ډير لږ او ناوخته سرته رسيدلي په اصل کې شوروي اتحاد چې له امريکا سره دستراتيژيک برابري حق لاس ته راوړی و په خپل پوځی او ديکتاتوری قدرت يې ډډار او تهديد داسې فضا منځ ته راوړې وه چې چاسره داجرئت او مجال نه و پاتې چې دشوروي په مقابل کې له مخالفت او مقاومت څخه کار واخلي .

بوازې دامريکا متحده ايالاتو چې پوځی او اقتصادي توان درلود او کولای يې شول چې دشوروي اتحاد په مقابل کې ودريږي خو له بده مرغه نه يې غوښتل او يا يې نشول کولای چې کلک او جدي دريځ ونيسي او شوروي مجبور کاندي چې خپل پوځونه له افغانستان څخه بېرته وباسي (دامريکا متحده ايالاتو په خپل کلک مخالفت په کوريا او ويتنام کې دکمونستانو وړاندې تګ شنډ کړی و او دجنوبی کوريا او جنوبی ويتنام دخلکو مرستې ته يې خپل پوځيان هم ليږلي وو )

دثور دکودتا په مقابل کې دامريکا نرمښت دشوروی اتحاد پولتيکل بيرو ته داسې مفکوره خلق کړې وه چې شايد افغانستان امريکا ته دومره اهميت نه لري او هغه دشورويانو دنفوذ په ساحه کې بولی ، دثور دکودتا په وخت کې دامريکا خارجه وزير سايرس ونس په مسکو کې و اوله شوروي

مقاماتو سره یې موافقې لاس لیک کولې پرته له دې چې هلته کلک عکس العمل وښیي .

په همدې ډول دامریکا دحکومت اندیښنه او مصروفیت په تهران کې دخپلو برمته شوو دپلوماتانو په باره کې او وروسې د ۱۹۷۹ م کال په نومبر کې دامریکا په سفارت ، په اسلام آباد کې دیوې قهرجنې ډلې له خوا حمله او وراچونه- ددې پیښې له امله دډیرو امریکائیانو له پاکستان څخه وتلو یو منفي ذهنیت پیداکړی و او شورویانو ته یې جرئت ورکړی و چې په افغانستان کې هرڅه چې غواړي هغه سرته ورسوي . له بل پلوه دکارتر امنیتی سلاکار Brzizenski په دغه وخت کې ویلی وو:

«په افغانستان کې یو فرصت په لاس راغلی چې دروسانو پزه په لړ خطر په وینو ولړل شي . »

دبرژنسکی له خبرو داسی استنتاج کیده چې امریکا ته دشوروي تجاوز یو ښه فرصت ښکاریده چې خپل زاړه انتقامونه له شوروي څخه واخلي .

ځینو امریکائیانو په افغانستان کې له شورویانو سره مقابله یو ارزانه وسیله هم ګڼله چې روسانو ته دعبرت درس ورکاندي .

هغه اقتصادي بندیزونه چې امریکا په شوروي اتحاد لګولی وو ، په دې اغیزمنتوب پیدانه کړ چې کانادا او ارجنتاین دامریکا ځای ونیو او شوروي اتحاد ته یې دغلی صادرات پیل کړل او اروپایی هیوادونو هم دبندیزونو څه خیال ونه ساته . په اروپا کې دفرانسې سوسیالست حکومت

له شورویانو سره تاوده مناسبات درلودل او داچې کمونستان دفرانسې په حکومت کې شامل وو نو دشوروي اتحاد په خاص ډول خیال ساتل کیده .
یوازی انگلستان دامریکا له نظریاتو سره نژدې والی څرگنداوه .

کوم وخت چې دامریکا دجمهوررئیس جیمې کارټر دوکتورین اعلان شول په هغه کې راغلي وو که هر بهرنی قوت هڅه وکړی چې دفارس خلیج تر کنترول لاندې راولي دا به دامریکا په گټو حمله وګڼل شي او دغسې حمله به په ټول قوت په شا وټمبول شي . »

دامریکا دغه نرم دریځ دا معنې هم درلوده چې اصلی اندیښنه دامریکا گټو ته په خلیج کې ده نه دافغانستان داشغال په برخه کې .

ددې ترڅنگ دامریکا ځینې پوځې سلاکارانو دانظر یه هم ورکړې وه چې دشوروی اتحاد پوځې ستر قدرت به دافغانانو مقاومت صرف په څو هفتو کې له منځه یوسې .

دامریکا حکومت ددیتانت دسیاست پر ځای چې دشوروی اتحاد له پوځې یرغل سره یې ماهیت له منځه تللې و ، دبیړنی عکس العمل یا غبرگون دځواک Rapide deployment force په جوړولو لاس پورې کړ ، چې دامریکا او لویدیځ له گټو څخه په خلیج کې دفاع او ساتنه وکاندي .

له بلې خوا په اسلامي هیوادونو کې هم شوروي تجاوز په مقابل کې یو متحد او گډ دریځ نه لیدل کیده . د ۱۹۸۰ په جنوری کې داسلامې هیوادونو کنفرانس دغه ژمنه وکړه چې له مهاجرینو او دافغانستان له

جهادي ډلو څخه به ملاتړ کوي اما عملاً په دغه لار کې موثر اقدامات نه ليدل کيدل . له دې نه علاوه دايران ، عراق جنګ هم ددې سبب شوی و ، چې اسلامي هيوادونه افغانستان ته لږ توجه واړوي . شوروي اتحاد ددغې جګړې په اوږدو لو کې - چې دوه خواوو ته يې پټې او ښکاره وسلې ورکولې - ماهرانه رول لوباوه چې ددغې جګړې له امله دافغانستان حالات له خلکو هير کاندی . دايران جمهوري اسلامي او دپاکستان اسلامي حکومت هم هريوه ځانګړې کړنلاره او موخه درلوده . دايران اسلامي حکومت چې نه شرقي او نه غربي شعارونه ورکول ، عملاً يې له شوروی اتحاد سره ښه روابط ساتل ، حتی ځينې وختونه ايرانی مقاماتو افغانی مهاجرين په موټرو کې بيرته سرحد ته کرځول او دکابل دګوداګي حکومت پوليسو ته يې سپارل . دايران حکومت چې شوروي يرغل غندلی و مهاجرين يې په خپل هيواد کې پريښودل خو په جهادی ډلو کې يې صرف شيعه ډلو ته مرسته ورکوله او بس .

دپاکستان حکومت ته چې دامريکا او اروپايې ټولنې له سختو اقتصادي بنديزونو سره لاس وګريوان واو له چين څخه يې په پور وسلې پيرودلې او دجنرال ضياً الحق پرضد دتقريباً ټولو سياسي ګوند وشديد مخالفت او مقاومت روان و په افغانستان باندې دشوروی حمله يو غيبې دادشو . پاکستان يوناڅاپه بيرته دامريکا په دوستانو کې شامل شو او له کمونيزم سره دمقابلې په پروګرام کې د مليار دونو ډالرو مرستې ورته راسرشوې خو بيا هم دپاکستان حکومت ته خپله بقا او استحکام مطرح وه

نه دافغانستان دقضيې له حل سره بيرنۍ مرسته .

که دغو دواړ اسلامي هيوادونو په اسلامي وجاييو او دگاونډيتوب په پاس په يوه واحد دريغ له افغانستان څخه دشوروي دسرو پوځونو دبيرته وتلو غوښتنه کړې وای نو ضرور به دشورويانو په دريغ کې بدلون راغلې و او سوله ييز حل ته به يې ژر غاړه ايښې وه .

ددې ترڅنګ دنا پيلو هيوادونو عکس العمل هم په دغه جنبش کې دنفاق له امله کمزوري شوی و دنا پيلو هيوادونو تولنې دخپل يو اساسگذاړ غړي په بده ورځ چې ديو ابر قدرت دبې رحمه پوځونو ترحملې لاندې راغلې و يو کلک او دوامداره دريغ ونشو نيولای . په دغه جنبش کې هند او کيوبا دشوروي اتحاد خيال ساته او ځينو نورو هم دامريکا خاطر خواهي کوله . له همدې امله دنا پيلو هيوادونو جنبش بې اتفاقه او کمزوری شوی او يوازې يو سمبوليک حيثيت وربا تې شوی و .

په دادول حالاتو او په داسې شرايطو کې چې نه دامريکا ستر قدرت او نه داروپايي تولنې هيئت دشوروي اتحاد دظالمانه حملې په مقابل کې کوم کلک او پوخ دريغ نيولی ؤ ، نه کوم هيواد دافغانانو مرستې ته عسکر وليږل او نه هم دملگرو ملتونو موسسې په خپلو فيصلو کې دداسې کومک غوښتنه وکړه ، نه اسلامي تولنې او نه هم گاونډيو هيوادونو دافغانستان دمظلوم ملت په کړاو او تباهۍ دزړه کلک درد او مخالفت څرگند کړی وو او نه هم حتی دشوروي پوځيانو نوم دملگرو ملتونو په قطعنامو کې ياد يده چې بايد له افغانستان څخه بيرته ووزي ، نو دشوروي يرغلگرو پوځونو بې

رحمانه هجوم په مقابل کې د مقاومت او مسوولیت د روند پیتی یوازې او یوازې افغانانو ته پاتې شوي و . ځو د خپل ایمان په زور او په خپلو سر ښندونو او سربازیو له خپل وطن ، دین او ناموس څخه دفاع وکاندی . باید زیاته شی چې د کوریا په جنګ کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورای دا فیصله کړې وه چې د شمالي کوریا د حملې په مقابل کې چې د شوروي اتحاد له خوا یې ملاتړ کیده جنوبی کوریا ته پوځی مرسته ورکړل شی او په دې اساس بین المللی قواوې د امریکا د پوځ په مشری د جنوبي کوریا کومک ته ورغلې وي .

همدا ډول د انګولا موزنبیق ، سومالی او ایتوپیا په لانجو کې هم د امریکا او لویدیځو هیوادونو په مرسته او ملاتړ د شورویانو د طرفدارو رژیمونو په مقابل کې مبارزی په کار لویدلې وي .

د افغانستان مظلوم ملت چې د شورویانو له لاس وهنو کود تا ګانو او لاس پوځو حکومتونو څخه خپل آرام ژوند له لاسه ورکړی و او په ناڅاپې توګه د یو ستر قدرت له پوځی حملی سره مخامخ شوی و پرته له دې بله چاره نه درلوده چې خپل مخالفت او مقاومت ته په خپله ادامه ورکاندي .

## *- د ایران او پاکستان روابط له شوروی اتحاد او امریکا سره او دد غو هیوادونو د ریځونه د شوروی یرغل متعلق !

**الف:** د ایران چاری او مسایل په ۱۹ مه پیړۍ کې د بریتانیې او روسیې تر اغیزو لاندې وو او د جارج تون د پوهنتون د ستراتیژیک څیړنو د مرستیال Hunter په قول هم بریتانیې زیار ایسته چې د روسیې

دپراختیا غوښتنې مخه ونیسي .

له بلشویک انقلاب څخه وروسته دایران سره اړیکې دترکمنچای Turkmachai معاهدې له شرایطو سره ورته بلل کیدې یوازې دایډیالوژي عنصر هم ور زیات شوی وو . دترکمنچای معاهدې (۱۸۲۹م) روسانو ته بیحده زیات امتیازات ورکړی وو تردې حده چې دایران ددولت دمشر په ټاکلو کې یې دویتوحق هم درلوده . کوم وخت چې رضا شاه دقزاقی پوځ مشر لومړی ددفاع وزیر او بیا په ۱۹۲۵م کې دپهلوی کورنی Pahlavi Dynasty بنسټ کیښود نو بلشویک حکومت دڅاري روسیې او بریتانیې هغه امتیازونه وغندل چې دایران اداره یې په خپلو منځو کې ویشلې وه . وروسته په ۱۹۲۱ م کې دبلشویک روسیې او ایران تر منځ ددوستۍ او همکارۍ یونوی تړون لاس لیک شو .

له ۱۹۲۵ تر ۱۹۴۱ پورې د رضا شاه په دوران کې چې دایران دترقۍ اوداستعمار گروپرضد هلې ځلې کیدلې شورویانو په خپل نوی شهری او پخوانیو اړیکو دخپل اغیز منتوب لپاره پټ او برالا کوششونه پکار اچولی وو .

ددویم نړیوال جنګ په دوران کې دانګلیس او شوروی پوځونو یوځل بیا ایران اشغال کړ او رضاشاه پرته له مقاومته له قدرت څخه گوښه کړای شو او په ځای یې دده ځوان زوی محمدرضا دایران دپاچاهی په تخت کښینول شو . دایران شمالی سیمې دشورویانو او جنوبی سیمې دانګریزانو په لاس کې ولویدې شورویانو غوښتل چې شمالی سیمې په

شوروي ورګډې کړي نوڅکه داقلیتونو دحقوقو څخه دملاتړ په نامه یې
د آذربایجان او کردستان د جمهوریتونو د جوړښت کلک ملاتړ کاوه ، مګر
دامریکا په شدید مخالفت سره شورویان مجبور شول خپل پوځونه دایران
له شمال څخه بیرته وباسي سره له دې چې شوروي پوځونه په شاشول خو د
دوی په خط روان حزب توده او د شوروي پلوې نورې دلې دایران په ملکې او
پوځي چارو کې فعالې وې ترهغه چې په ۱۹۴۹ م کې دایران پر شاه
دناوړه قصد په تور حزب توده غیر قانوني وګرځید . وروسته بیا چې په
(۱۹۵۱-۵۳م) دوکتور مصدق قدرت ته ورسید او د ایران شاه ایتالیې
ته وتښتید حزب توده په لویه پیمانه له مصدق څخه ملاتړ کاوه . کوم وخت
چې شاه دامریکا په مرسته بیرته قدرت (۱۹۵۳م) ته ورسول شو او خپل
مخالفین یې وټکول دایران حکومت دامریکا کلک ملګری او متحدشو .
وروسته ایران دسنتو اوسیاتو په پوځي پکتونو کې غړی شو چې شوروی ته
یې نورې اندیښنې هم راپیدا کولې .

کوم وخت چې دشوروي نوی مشر تابه دسوله ییز ګډ ژوند
Peaceful Coexistence تګ لاره غوره کړه نو دایران له
شاه سره یې نوی اړیکې جوړ کړل او شاه په ۱۹۵٦ م کې مسکو ته لاړ .
شورویانو داقتصادی مرستو وړاندیز وکړ مګر شاه هغه ونه منل خو د هغو
له امله یې امریکا تشویق کړه چې له ایران سره دامنیت موافقه نامه ژر
لاس لیک کاندي چې هغه په مارچ ۱۹۵۹ م کې ترسره شوه . دغې موافقې
دایران او شوروي روابط لاپسی ساړه کړل ترهغه چې دایران حکومت په

۱۹۶۲ م کې شوروي ته رسماً خبر ورکړ چې په خپله خاوره کې به دشوروي ضد میزائیل نه ځای پر ځای کوي.

په کورنیو چارو کې دشاه درژیم پر ضد مخالفت لږ او دیر روان و او مخالفینو دشاه دحکومت دمشر وعیت مسأله پورته کوله؛ په دې خاطر په ۱۹۶۳ م کې په قم کې دشیعه ملایانو په مشرۍ هم مظاهرې وشوې.

په ۱۹۷۲ م کې چې دایران رول په خلیج او دهند په نیمې وچې کې مخ په زیاتیدو شو او دتیلو دبیو دلوړوالي له امله شاه دډیرو وسلو پیرودل پیل کړل شوروي ته نورې اندیښنې هم پیدا شوې او دې کوششونو ته یې لاس واچاوه چې دایران شاه له نورو خواوو تر فشار لاندې ونیسي.

شوروي اتحاد چې په عنعنوي توګه یې دایران اتنیکي اقلیتونه او دهغوی داتونومي مسایل دخپلو هدفونو لپاره استعمالول او په اتنیکي خطونو ( لیکو ) یې توته توته ایران په خپله ګټه ګڼه نویې ځکه دآذربایجان او کردستان له خپلواکۍ څخه په ټینګه ملاتړ کاوه. په ۱۹۷۳ م کې دحزب توده په یو سند کې چې دشوروي اتحاد نظریه یې روښانه کوله داسې لیکل شوي وو :

« دټولو خلکو دبشپړ مساوات لپاره اتنیکي ګروپونه او ملي اقلیتونه چې په ایران کې اوسیږي اوددوی په خپله خوښه اتحاد چې دهیواد زمکنی تمامیت ساتی هغه وخت ترسره کیږي چې محرومو خلکو او «ملیتونو» ته اتونومي ورکړل شي..... » ددغو جریانونو تر څنګ د ۱۹۷۰ م په لسیزې کې دشوروي او ایران تخنیکي او تجارتي اړیکو ښه وده کوله. په ۱۹۶۳ م

کې د تخنیکي او اقتصادي همکاریو له تړون څخه وروسته د مسکو او تهران تر منځ یو تجارتي پارتنرشپ هم انکشاف وکړ. ایران شوروي اتحاد ته طبیعي ګاز صادراوه او شوروي په اصفهان کې د ذوب آهن دیوې فابریکې جوړېدل ومنل چې په سیمې کې یې ساری نه لیدل کیده . بیا وروسته په بوشهر کې د اتومی مرکز جوړېدل هم د شورویانو په مرسته پیل شول. د ۱۹۷۰ م دلسیزې په لومړیو کې د شاه حکومت چې د تیلو له عایداتو څخه په یوه سیمه ییز قدرت بدلیده نو، شوروي مخالفت هم ورسره زیاتیده . ایران په دغه موده کې څه د پاسه ۸ ملیارده ډالره له پاکستان - مصر - عمان او ترکیې سره مرستې کړې وې « د محمد داود د جمهوریت په دوران کې د شاه حکومت افغانستان ته هم دیو ملیارد ډالرو پور او کومک ،داورګاډي د لارې د جوړولو لپاره ژمنه کړې وه چې هیڅکله تر سره نشوه . شاید د شورویانو فشار به یې یو دلیل وچې غوښتل یې افغانستان په خپلو پورونو کې ډوب کړي . »

شوروي اتحاد د ایران له همدغو فعالیتونو سره د مقابلې په خاطر له یوې خوا عراق ته وسلې او کومکونه ورکول او له بلې خوایې د پاکستان مقابلې کې هند ته پریمانه اقتصادي او پوځي کومکونه رسول .

د ایران شاه غوښتل په سیمه کې خپل سیاسي مشر توب جوړ کاندي او د امریکا دیو متحد په توګه د شوروي اتحاد د فعالیتونو مخه ونیسي . ایران نور خپل ځان یو حایل Buffer نه ، بلکه د شوروي د پراختیا غوښتنې مقابلې کې وروستی دفاعي خط باله . د ایران شاه په دغې

پالیسی له امریکا څخه د ۱۵ ملیارد و پوځي سازاو سامان او پرمخ تللې وسلې واخیستلې چې په سیمه کې یې ساری نه درلود . له بلې خوا شاه په ۱۹۷۵ م کې ایران یو ګوندیزه حکومت اعلان کړ او درستاخیز په نامه ګوند د حکومت لارښوونه په لاس کې واخیسته . همدا مهال د شاه مخالفینو په قم کې بیا مظاهرې وکړې چې د شاه ټولو مخالفینو ( شیعه بنسټ پالو او مارکستانو اونورو ) پکې ګډون کړی ؤ . دغو مظاهرو په ۷٦ او ۱۹۷۷ کې هم ځای ځای دوام پیدا کړ . شاه خپلو پولیسو ته هدایت کړی ؤ چې مارکسستان او فند منټلستانو سره سخت چال چلن وکاندي . له دې امله د امنیتي قواوو او مظاهره کوونکو په اخ او ډب کې یو شمیر مړه او ټپیان هم شول .

کوم وخت چې په افغانستان کې د ثور کودتا وشوه . د ایران د شاه مخالفینو او ترټولو زیات کمونستی ډلو خپلو مبارزوته د شاه پر ضد شدت ورکړ او شاه ( په ۱٦ جنوری ۱۹۷۹ د امریکا په یوه پټ تجویز له ایران څخه ووت او په لومړی فروری ۱۹۷۹ آیت الله خمینی د شاه د مخالفینو د مشر په توګه له څو کلونو تبعید وروسته ایران ته راستون شو .

وروسته چې د امریکا د برمته شوو دپلوماتو موضوع رامنځ شوه داسې آوازې او ریدل کیدې چې شاید امریکا به د پلوماتانو د خلاصون لپاره له پوځې زور څخه کار واخلي . د همدغو آوازو له امله د ۱۹۸۰ م په جنوری کې بریژنف د شوروي مشر خبرداری ورکړ چې شوروي اتحاد به د ایران په کورنیو چارو کې مداخله ونه زغمي.

V.A.Kuzichkin په تهران کې د KGB پخوانی آمر چې له شوروي څخه بریتانیې ته پناهنده شوی و لیکلي دي چې د حزب توده او شوروي زیات شمیر ایجنتان د ایران د اسلامی جمهوریت په پوځي او ملکې ادارو کې ورګډ شوي او په پټ او برالا فعالیتونه کول .

کوم وخت چې د ایران اسلامی حکومت د نه شرقي او نه غربي شعارونه پورته کړل نو د شوروي له خوا وریاندې اعتراضونه وشول چې شوروي د ایران اسلامی انقلاب سره مرسته کړې او باید ورسره ښه معامله وشي .

سره له دې چې آیت الله خمینی پر افغانستان د شوروي حمله وغندله خو د ایران او شوروي د روابطو په تل کې کوم بدلون رانغي تر ۱۹۸۳ م پورې چې حزب توده غیر قانونی اعلان نیده په زرګونو افغانی کډوال او د شوروي ضد خلک یا د کابل د لاس پوځی حکومت قواوو ته وسپارل شول او یا له ایران څخه تیښتی ته مجبور کیدل .

• د دې په مقابل کې د ایران او امریکا اړیکې له لومړیي جهاني جنګ څخه مخ په پراخیدو شوې و . په ۱۹۱۹ م کې د امریکا خارجه وزارت په تهران کې خپل هیئت ته هدایت ورکړو چې د امریکا مخالفت له Anglo-Persion موافقی سره واضح ښکاره کاندی چې له ایران سره یې نیمه استعماري چال چلن درلوده . له دوهم جهانی جنګ څخه وروسته امریکا خپل فشار ته ( د شوروي او بریتانیې پر ضد ) له ایران څخه د شوروي پوځونو د وتلو په باب دوام ورکړ تر هغې چې شوروي قواوې له شمالي ایران څخه په شا ووتلې .

دبریتانیې دقدرت په زوال امریکا ورو ورو هغه موقعیت تر لاسه کاوه چې پخوا بریتانیي درلوده ، همدارنګه دامریکا پالیسی هغه چال چلن اختیار اوه چې پخوا دبریتانیې له خوا دشوروي اتحاد په مقابل کې کیده . کوم وخت چې دمصدق دپاڅون له امله دایران شاه ایتالیې ته وتښتیدنو امریکا په خپل مستقیم کومک شاه بیر ته قدرت ته ورساوه . دامریکا دغه اقدام چې زیاتر د مارکسستی ډلو دنفوذ دمخنیوي لپاره تر سره شوې و دشاه دحکومت مشروعیت ته یې هم تاوان رساوه چې دامریکا په زور قدرت ته رسیدلې و . له دوهم جهانی جنګ څخه وروسته اصلاً دامریکا په پالیسی کې درې عمده هدفونه تعقبیدل :

۱- دشوروي دپراختیا غوښتنیې مخنیوی .

۲- دامریکا او دلویدیځو ملګرو هیوادونو ته دتیلو او پترو ډالر دبهیدلو ساتنه او محافظت .

۳- داسرائیلو دامنیت ساتنه او حراست .

ددغو هدفونو په خاطر امریکا په سیمه کې پوځې پکتونه او تړونونه جوړول او هغو ته چې خاص اهمیت ورکاوه . دایران شاه له امریکا سره دښو روابطو په خاطر یو لویدیځ کنسر سیوم ته دتیلو امتیاز ورکړ او پدې ډول دایران اړیکې له امریکا اولویدیځ سره په بیړه مخ په پراخیدو شول . په ۱۹۵۵ م کې ایران دبغداد دپکټ - چې بیا وروسته دسنتو Central Trerty Organization- په نام یادیده - فعال غړی شو چې دناتو دشوروی ضد فعالیتونو یوه کړی بلل کیده

امریکا ایران ته پوځي او اقتصادي مرستې ورکولې او دایران دامنیتی سازمان ساواک غړي یې روزل او لارښوونې یې ورته کولې ورو سته بیا دسنتو ترڅنګ په ۱۹۶٤ م کې دایران - پاکستان او ترکیې تر منځ د ترقی لپاره دسیمه ییزې همکارۍ سازمان Regional coop-eration for Development جوړ شو چې مرکزیې په تهران کې وُ . ددغه سازمان هدف دټولنیز واقتصادي او کلتوري همکاریو پراختیا بلل کیده خو په اصل کې د Cento سازمان له دغه سازمان سره مرسته او همکاري کوله چې مرکز یې په انقره کې وُ . په ۳۰ مې ۱۹۷۲ م دامریکا جمهوررئیس ریچارد نکسن ایران ته لاړ او شاه ته یې ډاډ ینه ورکړه چې له اتومی وسلو پرته هرډول وسلی له امریکا څخه پیرودلي شي له دې کبله ایران له ۱۵ ملیاردو ډالر و څخه زیاتې وسلې واخستلې چې ایران یې دسمیې په یو نظامی ځواک تبد یلاوه . دوکتور کیسنجر په دې عقیدی وُ چې په درنو وسلو سنبال ایران او اسرائیل به وشي کړای چې په سیمه کې عربی هیوادونه او نور په توازن کې وساتی او داسرائیل دمصئوونیت ضمانت وکاندي .

دشاه حکومت دامریکا په ډاډینه او دتیلو په ثروت له یوې خوا دکمونیزم ضد مجاد لو کې برخه اخیستله او له بلې خوا یې دخپل سیاسی مشرتابه او دفارسی کلتور دودې اودانکشاف لپاره کار کاوه . دشاه حکومت په عمان کې دضفار دآزادی دجنبش دځپلو لپاره پوځیان واستول او همدارنګه یې په ۱۹۷۳ م کې دپاکستان پوځ ته مرستی ورکولې چې

دبلوځانو داپوزيشن دتکولو لپاره يې پوځي عمليات وړاندې بيول . په ۷۶-۱۹۷۵ م کې دخوراکي موادود بيې لوړيدل او دبيکارۍ زياتيدل دمخالفينو تبليغاتو ته قوت ورکاوه او دشاه ديکتاتوري دامريکا دعمل نتيجه ګڼل کيدله چې دغه بحران يې منځ ته راووړی و . په ۱۹۷٦ م کې کوم وخت چې جيمي کارتر دامريکا جمهور رئيس بشري حقوق دخپلې پاليسۍ دمرکزي موضوع په توګه اعلان کړل نو دشاه دمخالفينو او حکومت ترمنځ تاو تر يخوالی په چټکۍ سره زيات پراخيده په دغه وخت کې داسی ويل کيدل چې امريکا يو عبوري پلان تر لاس لاندې لري او دهغه په اساس به دايران له آزادو سياسي او مذهبي شخصيتونو څخه يو موقتی حکومت جوړ شي ؛ شاه به قانونی سلطنت کوي، آزاد انتخابات به ترسره کيږي ؛ خميني به ايران ته راستنيږي او دشاهی نظام په باره کې به دخلکو نظريات غوښتل کيږي . په دې ترتيب شاه پور بختيار صدراعظم وټاکل شو اوشاه په موقتی توګه له ايران څخه ووت .

د ۱۹۷۹ م په ۱۱ فروري دخميني له راستنيدو وروسته دشاهي نظام دپلويانو او دخميني دطرفدارانو ترمنځ وروستۍ کلکې نښتی هم وشوې خو کومی نتيجې ته ونرسيدي . دشاه دحکومت غټ کسان اکثراً ګرفتار او اعدام شول او په زرګونو نور تر توقيف او تحقيق لاندې راغلل .

دشاه دحکومت ړنګيدل دامريکا رول او اغيز منتوب ته په ايران کې خاتمه ورکړه او دامريکا حکومت مجبور شوچې په سيمې کې دقواوو دتړازن لپاره دپاکستان او چين سره په يو دول اتحاد لاس پورې کاندي .

ب - له پاکستان سره د شوروي اتحاد د روابطو متعلق باید وویل شي چې د برتانوي هند له ویش څخه وروسته چې د پاکستان هیواد منځ ته راغي او له هند او افغانستان سره یې ستونزې او اختلافات درلودل خو په سپتامبر ۱۹٤۷ م کې شوروي اتحاد د پاکستان د غړیتوب لپاره د ملګرو ملتونو په موسسې کې رایه ورکړه . د پاکستان په لومړیو کلونو کې د انګلیس حکومت د د غه هیواد له ګټو څخه په شوروي اتحاد کې نماینده ګي کوله . په ۱۹۵۰ م کې چې د شوروي او پاکستان تر منځ سفارتي تعلقات برقرار شول . ستالین د شوروي مشر لیاقت علی خان د پاکستان صدر اعظم ته بلنه ورکړه چې له شوروي اتحاد څخه کتنه وکاندي. شوروي په ۱۹۵۲ م کې پاکستان ته ۱۲۰ زره ټنه غنم مرسته او بیا د ۱۵۰ زرو ټنو غنمو په بدل له پاکستان څخه داومو موا دو پیرودل پیل کړل چې د دواړو هیوادونو تر منځ تجارت وده وکاندي .

وروسته چې پاکستان د سنټو او سیاتو د پوځي پکتونو غړي شو او په خپل هیواد کې یې امریکا ته پوځي اډې ورکړې د شوروي او پاکستان مناسبات ساړه شول په خاصه توګه چې په ۱۹۶۰م کې امریکایي U-۲ الوتکې د پیښور له اډې څخه په شوروي اکتشافي الوتنی کولې . څرنګه چې شوروي په خپله ستراتیژي کې د جنوب ختیځې آسیا بدلونونو ته ډیر اهمیت ورکاوه نو د ممکنه محبوبیت او نفوذ د پیدا کولو په خاطر یې په ۱۹۶۶ م کې د تاشکند غونډه جوړه کړه څو د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر پر سر لانجې کې منځګړیتوب وکاندي . ایوبخان د پاکستان

جمهور رئیس په ۱۹۶۶ م کې شوروي ته په رسمي سفر لاړ او مقابلتاً کاسگین دشوروي صدراعظم هم له پاکستان څخه دلومړی ځل لپاره کتنه وکړه . پاکستان دشوروي دخوشحالۍ لپاره په ۱۹۶۸ م کې دامریکا پوځي اډه په پیښور کې وتړله ..

په ۱۹۷۱ م کې دبنگله دیش دجدا کیدو په خاطر چې دهند او پاکستان روابط دجنگ له امله بحراني شوي وو دشوروي او پاکستان اړیکې هم خرابې وې . په ۱۹۷۲ م کې ذوالفقار علي بوتو دپاکستان جمهور رئیس مسکو ته رسمي سفر وکړ او په ۱۹۷۴ م کې بیا شوروي ته لاړچې د دواړو هیوادونو مناسبات سره حسنه کاندي . په اقتصادي او تخنیکي برخو کې هغه کومکونه چې په ۱۹۶۱ م کې دشوروي اتحاد له کریدت څخه دپاکستان دگاز او تیلو دپلټنې لپاره پیل شوي وو تعقیب شول او شوروي اتحاد په ۱۹۷۲ م کې پاکستان ته دذوب آهن یوه فابریکه ورکړه چې په لومړنی ظرفیت یې د ۱،۱ میلیون ټن اوسپنې دتولید توان درلود . همدارنگه شوروي دبریښنا یوه لویه فابریکه ۲۱۰ میگاواټه د Gudda په سیمې کې جوړه کړه چې دپاکستان دبریښنا سیستم مدرن کاندي . په همدې لړۍ کې په ۱۹۷۶ م د ۱۰۰۰ کیلواټو په قوت دمنځنۍ څپې یو غټ براډ کاستنگ رادیویي ستیشن اسلام آباد ته نژدې جوړ شو چې ددرې نورو ستیشنونو ترڅنگ یې چې هغه هم دشوروي له تخنیکي مرستو څخه جوړ شوي وو دپاکستان په مختلفو سیمو کې خپرونې کولې ددغو پروژو لپاره هر کال په لس گونو پاکستانیان

د تخنیکي زده کړو لپاره شوروي ته استول کیدل .« د یادونې وړ ده چې له پاکستان سره د همدغو تخنیکي او اقتصادي کومکونو په پرتله افغانستان ته شوروي اتحاد کوم داسې امداد نه ؤ کړي ، بلکه د شوروي کومکونه عمدتاً د سیلو ، سرکونو او مکروریانو نوڅخه عبارت وو چې د شوروي له کریدتو نو څخه افغانستان کې جوړ شوي او یا تر کار لاندې نیول کیدل .

شوروي اتحاد چې د بوتو له حکومت سره یې روابطو ښه وده کوله نو نه یوائې دا چې د محمد داؤد جمهوري حکومت او پاکستان تر منځ یې د روابطو ښه کیدو ته مرسته نه کوله ، بلکه نه یې غوښتل چې حتی د اختلاف موضوع ( د پښتنو او بلوڅو د حقوق ) هم یاده کاندې . »

په جولای ۱۹۷۷ م کې چې جنرال ضیا الحق د ذوالفقار علی بوتو حکومت د کودتا له لارې رنګ او د قدرت واګی په لاس کې واخیستلې نو د شوروي او پاکستان روابط بیا بحراني شول ، سره له دې چې ضیا الحق له شوروي سره د ښو اړیکو وعدې ورکړې دې .

سر بیره پر دغو انکشافاتو او پر افغانستان د شوروي پوځي یرغل دسامبر ۱۹۷۹ م کې د شوروي او پاکستان تر منځ درې سندونه د راډیو - تلویزیون د همکاریو او کلتوري تبادلاتو لپاره هم لاس لیک شول چې د دواړو هیوادونو مناسبات تاوده کاندې . له بلې خوا له پاکستان سره د امریکا روابط د پاکستان له جوړښت څخه ښه او دوستانه وو . د امریکا او پاکستان تر منځ په ۱۹۵۰ م په لسیزې کې اقتصادي او تخنیکي موافقې

لاس لیک شولې او امریکا پاکستان ته لومړنی اتومي ریکتور ورکړ چې د یر ارزښت یې درلود . په ۱۹۵٤ م کې د پاکستان او امریکا تر منځ یوه موافقه د Mutual Defence Assistance لاس لیک شوه چې د پاکستان استحکام او امنیت ته یې زیاته ګټه رسوله . وروسته پاکستان ۱۹۵٤ کې د سیاتو SEATO او په ۱۹۵۵ کې د بغداد د پکټ چې بیا وروسته د سنتو CENTO په نامه یاد یده غړی شو او امریکا ته یې په خپلې خاورې کې پوځي اډې ورکړلې . د U-۲ امریکایي الوتکې له پیښور څخه په شوروي اتحاد اکتشافي الوتنی کولې چې د سترو قدرتونو ترمنځ یې بحران منځ ته راوړي و . په ۱۹٦۵ م د پاکستان او هند له جګړې وروسته د امریکا حکومت پاکستان ته په خپلو پوځي امدادونو بندیز ولګاوه چې په سیمې کې د پوځي انډول او ثبات سره مرسته وکاندي . په ۱۹۵۹ م کې د پاکستان او امریکا تر منځ یوه داسې دفاعي موافقه لاس لیک شوه چې پاکستان باندې د حملې په صورت کې امریکا د پاکستان دفاع او حفاظت ته ورد انګل .

د پاکستان د کورنی جګړې له امله او د هغه غیر عادلانه چال چلن په نتیجې کې چې بالاخره په ۱۹۷۱ م کې د بنګله دیش د خپلواکي سبب شو د سیمې حالات او د قواوو انډول له نوو خطرونو سره مخامخ شو چې امریکا ته یې هم کلکه اندیښنه پیدا کوله . په ۱۹۷۲ م کې د امریکا خارجه وزیر د یوېږ ماموریت په قصد له پاکستان څخه د پاکستان د جمهور رئیس په خاصه الوتکه کې پیکنګ ته سفر وکړ چې د چین او امریکا تر منځ

تفاهمات او سیمه ییز همکاري ته زمینه برابره کړي او دویتنام دجګړې دخاتمې لپاره لاره پیدا کاندي ، نو له دې امله دپاکستان دحکومت او امریکا مناسبات ددغې همکاري په نتیجه کې مخ په ښه کیدو شول چې پخوا تا وتر یخوالي پکې راغلې و . په ۱۹۷۵ م کې هغه بندیزونه چې امریکا په خپلو پوځي مرستو پاکستان باندې لګولي وه رفع شول او پاکستان ته دامریکا پوځي او اقتصادي مرستې بیا رواني شوې . باید زیاته شي چې دافغانستان حکومت پاکستان ته دامریکا دغه مرسته تقبیح کړې وه چې به سیمه کې به نور تاو تریخوالی راولي ، په دغه وخت کې دافغانستان دجمهوریت او پاکستان روابط ډیر بحراني وو او دغو مرستو دافغانستان په حکومت فشار زیاتاوه »دذوالفقار علی بوتو دحکومت په دوران کې چې پاکستان له چین او شوروي سره پوځي او تخنیکي روابط ټینګول او له چین څخه یې وسلې تر لاسه کولې دامریکا سره په روابطو یې بد اثر غورځیده ځکه دواړه هیوادونه دپوځي پکتونو غړي او دوست هیوادونه وو .

ذوالفقار علی بوتو چې په خپل دوهم ځل انتخاباتو کې ( ۱۹۷۷ م) دخپل ګوند ( پیپلز پارتی) په ګټه زیاتی مداخلې وکړلې او دمخالفو ګوندونو له سخت مخالفت او مقاومت سره مخامخ شو نو داسې الزامونه او تورونه یې په اپریل ۱۹۷۷ م کې پیل کړل چې ګواکې امریکا دپاکستان سوله ییز اتومی پروګرام نه غواړي او له دې امله دپاکستان دبې ثباته کولو لپاره یې ملا تړلې ده . دبوتو دهمدغو تورونو او عملونو په نتیجه کې

دامریکا پوځي او اقتصادي مرستې یو ځل بیا په پاکستان بندې شوې چې ددغه هیواد بحراني حالات یې لاپسې خرابول .

په جولای ۱۹۷۷ م کې چې جنرال ضیاء الحق دبوتو حکومت رنګ او پوځي حکومت یې اعلان کړ ،نو دپاکستان او امریکا په اړیکو کې یو نوی باب خلاص شو . امریکا دضیاالحق له حکومت څخه دعمومي انتخاباتو غوښتنه کوله او په دې موضوع یې بیا هم ټینګار کاوه چې پاکستان دې داتومي څیړنې له پروګرام څخه لاس واخلي . ( باید زیاته شي چې دپاکستان او افغانستان روابطو دضیا الحق په وخت کې دمحمد داؤد درسمي سفر په نتیجې کې ښه انکشاف کاوه چې په مارچ ۱۹۷۸ م کې یې اسلام آباد ته کړی و . دغه وخت جنرال ضیا الحق خبر یالانو ته ویلي و دافغانستان او پاکستان تر منځ دیوازیني اختلاف ( دپښتنو او بلوڅو مسأله ) دسوله ییز حل لپاره لار نژدې شوې ده چې دکلونو کلونو لپاره یې ددواړو هیوادونو مناسبات خراب کړي دی . )

پاکستان په ۱۹۷۹ م کې دسنتو له پوځي پکټ څخه ووت او په سپتامبر ۱۹۷۹م کې دناپیلو هیوادونو غړی شو چې په افغانستان کې دثور کودتا او په ایران کې دشاه ضد جنبش یې عمده عوامل ګڼل کیدل . دپاکستان واکدارانو غوښتل که په دې ډول دشوروییانو له فشار او غضب څخه خلاصون پیدا کاندي او دپاکستان موجودیت له خطرونو څخه وژغوري . په افغانستان باندې دشوروییانو له پوځي یرغل څخه وروسته دپاکستان او امریکا په روابطو کې یو بل پړاو پیل شو او پاکستان په سیمه

کې تقریباً هغه موقعیت عملاً په لاس راوړ چې پخوا دشاه رژیم درلوده . دپورته ذکر شوو حالاتو او بدلونونو تر څنګ کوم وخت چې دشوروي اتحاد پوځونو پر افغانستان بې رحمانه پوځي یرغل وکړ او دافغانستان مظلوم خلک یې د تحمیلي جنګ لمبو ته وغورځول نو دایران او پاکستان غبرګون او عکس العملونه دشورویانو په مقابل کې له احتیاط او محافظه کارۍ څخه ډک وو . دغو هیوادونو چې افغانستان دشوروي داستعماري ښامار په خوله کې لیده ، نو له وهمه یې پړکي لړزیدل .

دافغانستان دمظلوم ملت سترګې دامام خمیني پر خوا ډیرې او ښتې چې شاید دشورویانو پر ضد به دیو بین الاسلامي اتحاد او تعاون غږپورته کړي خو ددې خلاف دایران حکومت له امریکا سره دمخالفت په نامه لادې ته هم حاضر نه و چې دلویدیځ او امریکا کومکونه افغاني مقاومت ته دایران له لارو څخه ورتیر شي . له بلې خوا دضیا الحق پوځي حکومت چې دخپل مشروعیت په لانجه کې له کورنیو او بهرنیو مقاومتونو او فشارونو سره مخامخ وو دافغانستان دمظلومو او محرومو خلکو دفریاد پورته کولو پر ځای یې دخپل هیواد دمشکلاتو شور او واویلا جګوله چې خپل حکومت ته مرستې او کومکونه ترلاسه کاندي .

ایران او پاکستان له شوروي اتحاد سره دخپلو پخوانیو تعلقاتو اوموجوده حالاتو په نظر کې نیولو سره کوشش درلوده چې افغاني مهاجرین تر خپل کلک کنترول لاندې وساتي او په راتلونکو بدلونونو کې خپلې ګټې په محاسبه کې ولري.

# اوومه برخه

## ملي مقاومت او مقدس جنگ

دافغانستان په تاریخ کې بهرني تیري او تجاوزونه تل په ملي مقاومتونو ، عمومي پاڅونونو او د پښتونولۍ او افغانولۍ په دود او دستورونو دفع او رفع شوي دي چې دافغانستان په لرغوني تاریخ او پېښ لیک کې یې ډیر مثالونه لیدل کیږي .

له کومه وخته چې داسلام مقدس دین افغانستان ته راغی او دافغانانو له مذهبي عقایدو برسیره یې دهغوي دژوند په سیاسي ،فرهنګي او ټولنیزو برخوهم اثرو غور ځاوه نو اسلامي جهاد او ملي مقاومتونو په نظر او عمل کې داسې سره تاو او جوش وخوړ چې دهغو له امله ملي او اسلامي مقاومتونه او غورځنګونه په بې ساري توګه پیاوړي او غښتلي شول. له

دې وروسته دافغانستان په وطن او دين مين خلکو دخارجي متجاوزينو ، تيري کوونکو اوجهان خوړونکو فاتحانو مقابلې ته دمقدس جنګ او ملي مقاومت په ولولو راوتلې او له خپل وطن ، دين او ناموس څخه يې دفاع کړې ده چې دتاريخ پاڼې له دغو کارنامو څخه ډکې دي .

څرنګه چې شوروي اتحاد له ټولو بين المللي قوانينو او دښه ګاونډيتوب له لس ګونو معاهدو او تړونونو خلاف په سوله غوښتونکي افغانستان پوځي يرغل وکړ او په خپلو زرګونو ټانکونو ، توپونو ، الوتکو او راکټونو سره يې دافغانستان په ښارونو ،لارو او بندرونو خيټه واچوله او دخپلې خوښې ګوډاګيان يې دقدرت په څوکۍ کښينول نو دافغانستان مظلومو خلکو بله چاره نه درلوده مګر دا چې لکه خپلو پلرونو غونډې دملي مقاومت او جهاد سنګرونه جوړ او په ملي پاڅونونو لاس پورې کړي او هغه مقاومت ته پراختيا ورکاندي چې لېخوا يې دکابل دګوډتايي حکومت په مقابل کې پيل کړې وو .

دافغانستان دخلکو دخپلو سريزه مخالفتونو په سلسله کې چې په خپله دخلکو له خوا جوړېدل او منځ ته راتلل د ۱۹۸۰ م په ۲۱او ۲۲ فبروري کې دکابل ښاريانو په بولوي او عمومي اعصاب او مظاهري لاس پورې کړ څو خپل مخالفت دشوروي پوځ له موجوديت سره ښکاره کاندي. همدا ډول دشپې له خوا دکابل خلکو دخپلو کورنو په سر دتايپ ريکارډونو په واسطه دالله اکبر آواز پورته کاوه څو له خپل دين سره مينه او علاقه او له کمونستانو سره مخالفت ښکاره کړي .

ځرنګه چې شوروي پوځيانو او د کابل ګوډاګي حکومت د داسې سوله ييزو مظاهرو د تحمل نه درلود نو په ټانکونو او هلي کوپټرونو د مظاهرو او اعتصاب کوونکو مقابلې ته راووتل او د سوله ييز مظاهره کوونکو په مقابل کې چې شعارونه يې ورکول شورويان دې له افغانستان ځخه ووزي له توپ او ټانک ځخه کار واخيست او په نتيجه کې يې تخمين ۳۰۰ تنه هلکان او نجونې او نور ښاريان ووژل شول او په سل ګونو هم ټپيان شول همدارنګه امنيتي قواوو تقريباً ۵ زره کسان په مظاهرو کې د ګډون په الزام بندي خانو ته واچول.

په نورو ښارونو کې هم د غه ډول چال چلن روان و او هر ډول مخالفت په شدت سره ټکول کيده. په سرحدي سيمو کې زمکني او هوايي حملو ته دوام ورکول کيده، چې د دغو وحشيانه حملو له امله په زرګونو بيګناه خلک مړه او زخمې او په لکونو نور هم له وطن ځخه بهر ته کډوالۍ او مهاجرت ته مجبور کيدل.

سره له دې چې د شورويانو او د کابل د ګوډاګي حکومت دواکدارانو رويه او چال چلن کله په زور او کله په رضا کله په نرمښت او کله په سختيا روان و خو د ملي مقاومت طوفان ورځ په ورځ قوي کيده او د ژوندانه په ټولو برخو يې اثر غور ځاوه. له همدې امله له دولتي ادارو ځخه نيولې تر پوهنتونونو، فارمونو او فابريکو پورې خلک د جهاد تر تاثير لاندې راتلل او په زرګونو خلکو له خپل کار يا تحصيل سره مقاطعه کوله. د مثال په توګه ۱۹۷۸ م کې د کابل پوهنتون ۲۰ زره محصلين درلودل خو د شوروي

پوځونو داشغال په لومړیو کلونو کې دغه شمیر صرف ٤ زرو ته راټیټ شوی و . همدارنګه د دولت مامورین د ځارندوی او پوځ خلک ورځ په ورځ له خپلو کارونو تښتیدل او له حکومت سره یې په دې ډول خپل مخالفت څرګنداوه . سره له دې چې د مهاجرت ژوند هم له ډیرو ستونزو رنځونو او مشکلاتو څخه ډک وُ خو بیا هم هغه افغانان چې پاکستان او ایران ته مهاجر کیدل په دې کوشش کې به ووچې خپل ځوانان د جهاد سنګرونو ته بیرته واستوي او د وطن د آزادي لپاره خپل ملي او اسلامي مسئولیتونه ادا کاندي .

په همدې احساس لومړی په پاکستان او بیا ایران کې د جهادي ډلو فعالیتونه پیل شول دغو فعالیتونو له یوې خوا مجاهدینو ته د بین المللي مرستو او کومکونو آسانتیاوې برابرولې او له بلې خوا یې د افغانستان په حالاتو او واقعاتو نړیوال خبر کول . همدارنګه هغه وطن پالونکې افغانان چې اروپایې او امریکایي هیوادونو ته مهاجر کیدل د جهاد او ملي مقاومت د ملاتړ او له شوروي یرغلګرو سره د مقاومت او مخالفت په خاطر یې تولنې او سازمانونه جوړول چې هغوې هم افغانستان ته د بین المللي کومکونو په راجلبولو او د افغانانو د مظلومیت د آواز په رسولو کې اکثراً ارزښتناکه رول لوباوه . په پاکستان کې د جهادي ډلو ترمنځ د جمعیت اسلامی او حزب اسلامي نقش ترټولو مهم او د پام وړ وُ چې مشري یې برهان الدین رباني او ګلب الدین حکمتیار کوله . دوی چې له ۱۹۷۳ م څخه تبعید او په پاکستان کې اوسیدل او له پاکستاني مقاماتو

اوجماعت اسلامي سره يې ښه روابط درلودل نو د مهاجرينو او مجاهدينو په مسايلو او هم دبين المللي مرستو او كومكونو په تنظيم او ويشلو كې دصلاحيت خاوندان ګڼل كيدل .

د ۱۹۸۰ م په وروستيو وختو كې د پاكستان حكومت دافغانستان دمقاومت او جهاد له لس ګونو ډلو او حزبونو يوازې اووه تنظيمونه په رسميت وپيژندل چې ادعايې درلوده دافغانستان دمقاومت ځخه نماينده ګي كوي . دغه تنظيمونه داوو :

۱ - حزب اسلامي دانجينير ګلب الدين حكمتيار په مشري

۲ - جمعيت اسلامي داستاد برهان الدين رباني په مشري

۳ - دنجات ملي جبهه د حضرت صبغت الله مجددي په مشري

٤ - ملي اسلامي محاذ د پير سيد احمد ګيلاني په مشري

٥ - اتحاد اسلامي داستاد عبدالرب رسول سياف په مشري

٦ - حركت انقلاب اسلامي دمولوي محمد نبي محمدي په مشري

۷ - حزب اسلامي دمولوى محمد يونس خالص په مشري .

له بلې خوا په همدغه وخت كې د پاكستان دحكومت مقاماتو ټولو ډلوته چې ډيرو يې په افغانستان كې خپلواك او مستقل جهاد كاوه رسمي هدأيات صادر كړل او له هغوئ ځخه يې وغوښتل چې د پيښور له كوم تنظيم او حزب سره ځانونه ونښلوى كه نه نو له مرستو او كومكونو ځخه به محروم پاتې شي . په بل عبارت پاكستاني مقاماتو دبين المللي مرستو او كومكونو دويشلو لپاره داصلاحيت ځان ته وركاوه چې افغاني جهادي

ډلې تر خپل کنترول لاندې راولي . البته ځينو ډلو صرف د کومکونو داخيستلو په خاطر په دغه کار لاس پورې کړ او ځينو نورو خپلو مستقلو مبارزو او جهادي فعاليتونو ته دوام ورکاوه.

په دغې برخې کې بايد زياته شي چې په افغانستان باندې د شوروی پوځونو يرغل ، جنرال ضياء الحق د پاکستان د حکومت مشر ته هم يو خطر حسابيده او هم يو ګتهور فرصت چې له هغه څخه د خپلې بقا لپاره ګټه واخلې. خطر په دې معنې چې په افغانستان کې د شوروي سرو پوځونو د پاکستان بقا ته هم خطر رامنځ ته کاوه او ګتهور فرصت دا چې د ضياء الحق حکومت چې په داخل کې په زياتيدونکي مخالفت او په خارج کې له کلکې سياسي انزوا سره مخامخ شوی و چانس پيدا کړ چې له دغه بحران څخه ځان په سلامتي و باسي او د ډيرو کلونو لپاره په قدرت کې پاتې شي . بايد زياته شي چې جنرال ضياء الحق په ۱۹۷۹ م کې پخوانی صدراعظم ذوالفقار علي بوټو چې يې په کودتا کې په ۱۹۷۷ م کې له قدرته غورځولی و د يو سياسې قتل په تور محاکمه او بيا په دار وځړاوه ، په داسې حال کې چې د ښېښې او عفوې لپاره يې د ډيرو هيوادو مشرانو او بين المللي ټولنو پر له پسې غوښتنې کړې وې . وروسته جنرال ضياء الحق د ۱۹۷۹ م د اکتوبر لپاره تجويز شوي عمومي انتخابات وځنډول او ټول سياسې فعاليتونه يې هم بند کړل او له دې امله له عامه نارضايتي سره مخامخ و . د امريکا حکومت او د اروپا ټولنې هم ګرد اقتصادي کومکونه پر پاکستان بند کړي وو او د ضيا الحق له کړنلارې سره سخت مخالفت کيده .

کوم وخت چې شورویانو په افغانستان پوځي تجاوز وکړ، دا تول بهرنی مخالفتونه مخ په ختمیدو شول او داسې شرایط منځ ته راغلل چې خارجي نړۍ مجبوره شوه له ضیاء الحق سره سازش وکړي او دا د دې لپاره چې افغانستان ته د مرستو درسولو لار پیدا شي. د امریکا سیاسي او پوځي تحلیل گرانو له حالاتو څخه داسې نتیجه ایستلې وه چې که د شورویانو کنترول په افغانستان ټینګ شي دا کار به د شورویانو هند سمندرګي ته درسیدلو او په آسیا کې د تسلط او برلاسۍ معنې ورکړي نو ښایي چې امریکا د پاکستان پوځي ظرفیت تقویه کړي چې په سیمه کې د ایران د پاچا د حکومت له ړنګیدو وروسته د امریکا یوازیني متحد پاتې شوی دی.

په دې ډول جنرال ضیاء الحق چې تر پرون پورې د کتاتور او مستبد بلل کیده او تعزیرونه وربا ندې لګیدل یو دم د امریکا په خوږ دوست بدل شو چې چاپې خیال هم نشو کولای. د امریکا حکومت د ۱۹۸۰ م په مارچ کې پاکستان ته د ۴۰۰ میلیونو ډالرو یو اقتصادي کومک اعلان کړ، مګر د پاکستان حکومت په هغه هیڅ خوشحاله نشو ځکه جنرال ضیاء الحق چې د حالاتو له حساسیت څخه آګاهي پیــــــداکړې وه. دغه کومک د پینټس Peanuts په نامه یاد کړ او هغه یې ډیر ناکافي وباله.

د جمي کارتر له دورې څخه وروسته چې رونالډ ریګن د امریکا جمهوررئیس وټاکل شو نو د ۱۹۸۱ م په سپتامبر کې د شورویانو پر ضد د امریکا په دریځ کې غټ بدلون راغي. رونالډ ریګن حکومت پاکستان ته ۳،۵ زره میلیون ډالر (درې ملیارده) پوځي او اقتصادي کومکونه اعلان

کړل چې ساري يې نه وليدل شوي . په دې ډول پاکستان له اسرائيلو او مصر څخه وروسته دامريکا ډير لوی کومک اخيستونکی هيوادو شو.

جنرال ضياء الحق له امريکا يې مقاماتو څخه دا غوښتنه هم درلوده چې افغانی مهاجرنيو او مجاهدينو ته بايد مرستې او کومکونه د پاکستان دحکومت له لارې وويشل شي .

جنرال ضيا الحق چې د پاکستان په سياسي ډګر کې کاملاً تنها او يوازې پاتې شوی و له جماعت اسلامی سره يې روابط ټينګ کړل چې دهغه ګوند په ملاتړ خپلې حکمرانی ته مشروع رنګ ورکاندې . له بلې خوا جنرال ضياء الحق خپل مناسبات له حزب اسلامې او جمعيت اسلامې سره کلک او پراخ کړل چې دهغوې له طريقه په افغاني جهادي تنظيمونو کې خپل اثر او رسوخ ته پراختيا ورکاندې .

په دغه ترتيب کوم کومکونه چې ددنيا له ګوټ ګوټ له انفراد يا حکومتې او يا خيريه موسسو څخه دافغانستان دخلکو په نامه راتلل دپاکستان حکومت دعسکری استخباراتو اداری ISI لاس ته ورتلل او هغوی اختيار درلود چې کومې ډلې ، چاته او کوم ځای کې يې ورکړي او يانه .

جهاد افغانانو کاوه ، وينې دافغانانو تويېدې ، کورونه او ښارونه دافغانانو ورانيدل خو داحق يې نه درلود چې بين المللې مرستې او خيراتونه مستقيماً ددوی لاسو ته ورسيږي . ددوی لاس دنورو ترتيبو لاندې شوی و . داجنګ افغانانو کاوه مګر دنړۍ دساره جنګ له سببه

فایده او ګټه یې دنورو لپاره سنجول کیده. له بلې خوا له پاکستان څخه وروسته دایران ګاونډي هیواد دافغاني کډوالو دوهم تم ځای شمیرل کیده ! او
افغاني مهاجرینو دایران له اسلامي حکومت څخه چې دیو انقلابي حکومت په توګه یې دمظلومو مسلمانانو دننګې او ملاتړ خبرې کولې دوینې، ژبنیو او کلتوري ګډو اړیکو په اساس داهیله کوله چې دافغانستان له مظلومو خلکو حمایت وکړي او له شوروي اتحاد څخه وغواړي چې خپل پوځونه له افغانستان څخه بیرته وباسي.

مګر دایران حکومت سره له دې چې دنه شرقي اونه غربي شعارونه یې ورکول له شوروی سره یې دوستانه روابط ساتل او حاضر نه و چې افغاني مهاجرینو ته دهستوګنې له آسانتیا وو پرته له شوروی سره خپل مناسبات خراب کاندي.

که څه هم دایران اسلامي حکومت په لومړي سرکې دشورویانو پوځې یرغل وغانده او آیت الله منتظري چې د آیت الله خمیني ځای نیوونکی بلل کیده او همدارنګه صادق قطب زاده دایران دخارجه چارو وزیر دافغانستان له خلکو څخه ددفاع په منظورد شوروي اتحاد پرضد کلک او سخت دریځونه ونیول او له هغوی څخه یې مکرر وغوښتل چې خپل پوځونه له افغانستان څخه بیرته وباسي خو دایران په حکومت کې دبدلونونو له امله دغه دفاع او ملاتړ په خپل حال پاتې نشواو دافغانستان له قضیې څخه دایران حمایت ورځ په ورځ مخ په کمیدو و.

ایراني مقاماتو افغاني مهاجرین دعراق پرضد جګونو ته هم بیول او

ـ حینو منابعو په اساس ددغو افغانانو شمیر له ۵ تر ۱۰ زرو کسانو ذکر شوی چې دایران او عراق په جګړې کې هلاک شوي دي .

په ۱۹۷۹ م کې دافغانستان په هزاره جات کې دشورای اتفاق په نامه یوه شوری چې مشري یې سید علی بهشتي درلوده اوپه جهادی فعالیتونو کې یې برخه اخیستله خو دوی دایران داسلامي حکومت خط او تګ لاره نه تعقیبوله ، همدارنګه سید جګړن هم یو مستقل جهادي سازمان درلود .

په ۱۹۸۲ که ځینو هزاره ګانو دایران له اسلامي انقلاب څخه په الهام اخیستلو د پاسداران جهاد اسلامي او دنصر سازمان جوړکړ او دشیخ آصف محسني دله هم دحرکت اسلامی په نامه فعاله شوه چه مرکزونه یې په ایران کې وو. دنصر سازمان ، دایران دمذهبی مشر امام خمیني خط تعقیباوه.

دایران حکومت دافغانی مهاجرینو ترمنځ دژبې او مذهب مسایل په دقیق توګه په پام کې نیول . له دې امله دغه دلې چې دایران په مرسته یې فعالیتونه کول فارسي ژبي او اهل تشیع ووچې دمهاجرو شمیریې تر پنځه لکو نه رسیده. مګر ددوی په مقابل کې افغانی سني مذهبه مهاجرین چې شمیر یې تر یو نیم ملیون رسیده دسیاسي فعالیتونو اجازه نه درلوده او کومه مرسته هم نه ورسره کیدله .

دایران حکومت چې له عراق سره په جګړې اخته شوی و او له شوروی اتحاد څخه یې وسلې او دجنګ نور ضروریات ترلاسه کول ورو ورو دشوروی سیاست خوا ته نژدی کېده او له امریکا سره په مخالفت کې دي

ته حاضر نشو چې دافغاني مهاجرينو لپاره داروپا او امريكا پوځي اوخيريه مرستې دايران له لارې افغانستان ته وليږدول شي . له دې امله مجاهدين مجبوره وو دغه سامان د پاكستان له لارې دافغانستان لويديځ برخو ته ورسوي چې هم يې ډير وخت نيوه او هم گران تماميدل .

د ايران داسلامي حكومت واكدارانو پر له پسې هڅې كولې چې په افغانستان كې دايران داسلامي انقلاب طرفداران ترخپلې روزنې لاندې ونيسي ، مگر ځينو شيعه مشرانو لكه شيخ آصف محسني او سيد جگړن هم دايران له لاس وهنو سره مخالفت كاوه او خپل جهادي فعاليتونه يې په افغاني شكل وړاندې بيول .

شوروي اتحاد چې دافغانستان د مجاهدينو له وحدت څخه داريده ، دايران په چال چلن يې خوشحالي ښودله چې افغانان په خپلو منځو كې سره ولوېږي او جهاد ضعيف او ناكامه شي . اوس به وگورو چې د كابل حكومت دخپلې بقا لپاره څه كول .

## الف : دقدرت دټينگولو لـــپاره دكابل دگـــوډاگي حكومت هلې ځلې :

دشوروي پوځونو له يرغل سره سم چې ببرك كارمل قدرت ته ورسول شو ، دخلق او پرچم دگوندونو تر منځ اختلافونو بيا هم شدت پيدا كړ ، ځكه دشوروي پوځونو له خوا دحفيظ الله امين پر وژلو او دهغه دحكومت په ړنگولو دخلق گوند خپگان درلود . په داسې حال كې چې د پرچم گوند له خلقيانو څخه دقدرت اخيستلو او خپل حاكميت دټينگولو په مقصد له

شورویانو سره صمیمانه همکاري کوله . ببرک کارمل دشوروی اتحاد له کمونستي ایډیالوژي څخه په کلکه ملاتړ کاوه او دشورویانو دسیاستونو کامیابی یې په افغانستان کې غوښتله .

د ۱۹۸۰ م په جون کې ۱۳ تنه خلقیان ددرې وزیرانو په ګډون ګرفتار او اسدالله سروری دخلقیانو مشرچې دصدارت مرستیال و مغلستان ته دسفیر په توګه ولیږل شو چې له افغانستان څخه لرې وساتل شي . نور خلقیان په حکومتي مقامونو کې یا ترتعقیب او څارنې لاندې ونیول شول او یا وسلې ترې واخیستل شوې چې دپرچمیانو او هم دانقلاب ضد په مقابل کې بې وسلې پاتې شي .

ددغو دواړه ډلو مخالفتونه او رقابتونه په اردو - څارندوی ، خاد او ددولت په نورو ادارو کې محسوس وو . خاد او څارندوی ته ورځ په ورځ زیات قدرت او صلاحیت ورکول کیده او په درنو وسلو او مهماتو سنبالیدل . دخاد او څارندوی دقطعاتو ترڅنګ دشوروي سپتسناز Spetsnaz کوماندو چې په کشف او تعقیب ، پلټنې او دمخالفینو دوژلو په تاکتیکو نوکې ښه مهارت درلود ، په امنیتي چارو کې مرسته کوله او دشپې له خوا به یې لارې او کوتلونه ترتعقیب او څارنې لاندې نیول او په مجاهدینو به یې ناڅاپي حملې کولې . دوی دعامه خلکو په تعقیب او آزار او دشپې له خوا په تحقیق او ځورولو غوښتل چې داطراف خلک په ویره کې وساتي چې له مجاهدینو سره همکاري و نه کاندي .

دپوځې او اداري چارو دښه سمون او مراقبت لپاره شورویانو او دکابل

ګوډاګي حکومت، افغانستان په ۹ نه اداري زونونو وویشه. په همدې

ترتیب شورویانو دافغانستان له شمالي سیمو سره بالکل جلا چال چلن

درلود او له جنوب سره جلا. په شمال کې دګاز او تیلو دپروژو پراخیدل او

دترقي او عمران کارونه ترسره کیدل خو د افغانستان په جنوب کې

ورانولو، تباه کولو او ویجاړولو ته دوام ورکول کیده. شورویانو دشمال

دخلکو له اتنیکي پیوندونو ځخه دګټو اخیستلو انتظار درلود او هغوی ته

په تبلیغ او پروپاګند ددوی داتنیکي ورونو وراندې تګ (په شوروي

خواکې) ورته مخ کې ایښودل کیده چې دوی هم دهغوی لارونیسي. په

شمال کې پوځي او امنیتي عملیات عموماً دخاد یا دحکومتي ملیشو له

خوا سرته رسیدل او په ټول شمال کې صرف دوه فرقې عسکر او یو شمیر

ملیشه پراته وو. په داسې حال کې چې دشوروی پوځ ټول زور دافغانستان

په جنوب کې متمرکز شوی و. دشورویانو او دکابل دګوډاګي حکومت

پوځي عملیات عموماً په جنوب کې سرته رسیدل.

سید نسیم شاه میهن پرست چې دشمال دزون مشرو (تر ۱۹۸۵ م)

پخوایې ۱٦ کاله په تاشکند او مسکو کې تیر کړی وو او هلته یې خپله

ښوونه او روزنه بشپړه کړې وه. کله چې په ۱۹۸۲ م کې افغانستان ته

راستون شو نو سم دلاسه دمرکزی کمیټې غړی شو او قدرت ته ورسید،

داسې وضعه دنورو سیمو له خلکو سره نه کیدله. دغه کار دشمال له

اتنیکي مسایلو سره دشورویانو علاقه او توجه ښه روښانه کوله.

دشمال په زون کې دستم ملي غړو ته هم لویه برخه ورکړ شوې وه چې

اوس يې د اتونومي په ځای د کامل خپلواکۍ او جدايي غږ پورته کړی واودغه لپاره يې مبارزه کوله .

له بلې خوا ځرنګه چې د تحميل شوې جګړې لارښوونکو روسانو درک کړې وه چې يوازې په زور او پوځي قوت نشي کولای خپل مرامونه سرته ورسوي او د کابل د حکومت لپاره دوستان او پلويان پيداکړي ،نود خلکو د غولونې په مقصد يې د سياسي او ټولنيز سازمانونو په جوړولو لاس پورې کاوه او په ډول ډول تبليغاتو يې خلک دهغو غړيتوب ته تشويق او مجبوړول . ددغو کوششونو په ترڅ کې يوهم د ملي جبهې جوړيدل وو چې د کاميابې لپاره يې ډير مصارف وشول ، همدارنګه په ۱۹۸۱ م کې پلار وطنه جبهه Father Land Front يوه بله ټولنه وه چې له سپين ږيرو ، تقاعدی مامورينو ، زمکه والو ،تاجرانو او بی روزګاره ځوانانو څخه جوړه شوې وه . په دغې ټولنې په سل هاوو ميليونه افغانی خرڅيدې چې که د کابل حکومت ته ولسي ملاتړ پيدا کاندي .

له بلې خوا ببرک کارمل د مسلمانی په تظاهر د اسلامی مسايلو او شئونو ديو ديپارټمنت اعلان وکړچې بيا وروسته وزارت ته هم لوړ کړای شو ، خو دخاد داداري ترکنترول لاندې و . دغه وزارت دازبکستان او قزاقستان له اسلامې مرکزونو سره مستقيم ارتباط درلود او هڅه يې کوله چې د کابل رژيم ته اسلامی څيره ورکاندي . دشوروی اسلامي تبليغ هم ددوی له خوا کيده . داسلامی چاروو زير مولوی عبدالولی حجت چې د تخار له خلکو څخه و تر ۱۹۸۶ م پورې په دغه دنده پاتې شو . نوموړی

پخوا په ۱۹۶۰ م کې دستم ملي دگوند په فعالیت کې بندي شوی هم وار
بیا وروسته په کفر ویلو هم متهم شوی و.

د اسلامی شئونو دغه وزارت دببرک کارمل او دکابل دحکومت دمشر تابه دغه مرام دیر تبلیغاوه چې د ۱۹۷۹ م له ۲۷ دسامبر څخه وروسته د ثور انقلاب نوې مرحلې ته داخل شوی او داد هر مسلمان افغان وظیفه ده چې له حکومت څخه ملاتړ او حمایت وکاندي او له بې لارې شوو عناصرو سره چې دوینې خوړونکي امریکا یې امپریالیزم له خوا کرایه شوی دی مقابله وکړي .... ».

وروسته چې حکومت د ټولو مسجدونو او نورو دینی موسسو کنترول په لاس کې واخیست او دخاد / واد اداري د اسلامي شئونو دوزارت له لارې دوی ته معاشونه ورکول . څه کم شل زره ملایان دنوموړی وزارت لیست کې شامل شوي وو. دغو ملایانو ته به داوظیفه هم ورکول کیده چې تبلیغ وکړي چې اسلام له مارکیسزم او سوسیالیزم سره مخالف نه دی ، بلکه دواړه ګډ هدفونه سره لري .

دافغانستان خلک چې دکابل دحکومت له دغو چل او پلمو څخه په تنګ شوی وو په خپلو سترګو لیدل چې مسجدونه د پولیسو په مرکزونو تبدیل شوي او مقصد یې دخلکو له غولونې او دمخالفینو له تعقیب آزار او ځورولو څخه پر ته بل شی نه دی ، خلکو به چې موقع موندله د مسجدونو امامان به یې دخاد او روسانو دجاسوسی په تور وهل او وژل نوله دې امله ، ملایان حتی ممبر ته له کلاشینکوف سره تلل.

په همدې ډول د اطراف او د سرحد د خلکو راجلبولو لپاره وخت په وخت دجرګو په جوړيدو لاس پورې کيده او د رشوتونو ، تحفو او امتيازونو په ورکولو د قبايلي مشرانو او خوانينو له خوا ابلاغيې او فيصلې خپريدې چې ګوېا له انقلاب څخه يې دفاع او د ضد انقلاب سره يې مخالفت ښودلی دی.

د دغو جرګو په لړ کې د ولی خان کوکي خيل جرګه مشهوره وه چې د ډیورند د کرښې د دواړو خواوو څخه تخمين ۵ سوه ( ۵۰۰ ) خلکو ګډون پکې کړی و . د کابل حکومت د غې جرګې ته داخلي او خارجي ژورنالستان او عکاسان وربللي وو چې د جرګې مفصل ګزارشات خپاره کاندي حتی د مسکو تلويزيون د دغې جرګې تول جريان په ډيره علاقه نشر کړ چې د دوی په زعم په هغې کې له شوروي دوستو قواوو څخه هرکلې او د انقلاب ضد پکې غندل شوی و . همدا ډول د هزاره قوم جرګه چې د کابل حکومت ورباندې ډير مصرف کاوه او په وسلو سنبال ليدل چې که د انقلاب ضد مخنيوی وکاندي .

د دې ترڅنګه د اسې چپي ګوندونه او سازمانونه هم جوړ شول چې ناراضه ساده لوحه کسان په لومو کې ښکيل او د حکومت د مقاصدو لپاره يې استعمال کړي په دې لړ کې "د افغانستان د زحمتکشانو سازمان ( سازا ) چې څو جنګې غندونه يې هم جوړ کړي و ډير فعاليت درلود . د دغه ګوند جنګې لګښت او مصارف د ملی امنيت د وزارت له خوا ورکول کيدل مګر د ګوند مشرانو د عوامو د غولونې او فريب لپاره د غه ګوند د حکومت

مخالف نبوده او په حکومت باندې یې انتقادونه او اعتراضونه هم کول .

له بلې خوا شورویانو او د کابل ګوډاګي حکومت د مجاهدینو په لیکو کې د نفوذ کولو او د هغوي د ناکامولو لپاره ځینو قامي مشرانو او بانفوذه کسانو ته رشوتونه ورکول او ځینې نور خلک یې په وړیا وسلو د مجاهدینو په ضد استعمالول ، د مثال په توګه په ۱۹۸۲ م کې د کابل حکومت د شینوارو له یوې قبیلې سره یو لیکلی توافق لاس لیک کړ چې هغوي د پیسو په مقابل کې د جلال آباد - تورخم لویه لاره وساتي . بیا وروسته د مجاهدینو له خوا هغوی ته د زیاتو پیسو په ورکوو د غه توافق عملی اهمیت له لاسه ورکړ .

له بل پلوه شورویانو ډیر کوشش کاوه چې د مجاهدینو قوماندانان د کابل د حکومت طرفداري ته راواړوي او په مجاهدینو کې نفاق واچوي . په دغه باره کې د لویدیځ یو مشهور ژورنالست ادوارد ګراردي په خپل کتاب « افغانستان د شوروي جنګ » کې د شورویانو او چریکانو داوربند په باب داسې لیکلي :

« د ۱۹۸۲ له پیل څخه احمد شاه مسعود د شوروي داشغالګرو پوځونو سره دیوې بې ساري متارکې ( اوربند ) لپاره موافقه وکړه . هغه کړ کیچنه مسأله چې په داخل او خارج کې یې د مقاومت کلک او شدید عکس العملونه تر شا درلودل . یو شمیر خلکو داسې ویل چې د پنجشیر قوماندان ځان په کمونستانو خرڅ کړی دی چې د پټو موافقو له مخې د کابل له رژیم سره وړاندې شي ځینو نورو شایعاتو کې راتلل چې مسعود

غواړي په دولتي ادارو کې ګډون وکړي . . . .

د ۱۹۸۳ جنورې په لومړیو وختو کې دروسانو یو لوړ رتبه مامور د پنجشیر له قوماندان سره د لیدلو لپاره دده چریکي محدودې ته ورغې چې له دولتي پوستې څخه چندان لرې نه وه او له مسعود سره یې داورېند معاهده لاس لیک کړه . له دغه اورېند څخه یو مقصد داو چې د پنجشیر خلکو ته وښودل شي چې له حکومت سره د دوستی له لارې کولای شي خپل ضروريات په آسانۍ تر لاسه کاندي ، بل دا چې وښیې چې مشهور جهادي قوماندان ( احمد شاه مسعود ) هم حاضر شوی چې له شورویانو سره د مذاکرې له لارې وړاندې شي په دې وسیله شورویانو غوښتل نورقوماندانان هم تشویق اود مقاومت په لیکو کې نفاق واچوي . »

همدارنګه روسي جنرال بوريس ګروموف په خپل کتاب ( سرې لښکرې په افغانستان کې ) لیکي : « په ۱۹۸۲ کې موږ بریالي شوو چې له احمد شاه مسعود سره کلک تماس ونه ونیسو چې د شوروي پوځونو دوتلو تروخت پورې یې دوام درلود . نوموړي زیاتوي : د دغې معاهدې په اساس مسعود خپلې ډلی ته امر کړی و چې د دولتی قواوو پر ضد فعالیت څخه لاس واخلي او خپله مبارزه تر ټولو لومړی د جمعیت اسلامي د مخالفو سازمانونو اوډلو پر ضد وړاندې بوزي . . . . . »

له بلې خوا کوم وخت چې په ۱۹۸۳ م کې دستم ملي ګوند رسماً په حکومت کې ګډون وکړ نو د مجاهدینو پرضد یې فعالیتونه تر بخوا زیات شول . په دغه مورد کې د « کرباس پوش های برهنه پا » کتاب داسې

ليکي:

« .......... دستم ملي مفکوره او له پښتنو سره ضديت او دښمنۍ چې دبدخشانيو په نامه منځ ته راغلې وه او په حقيقت کې دهغوی لې بدخشي وو د ( سازمان انقلابی زحمتکشان ) په نامه يې يو سازمان جوړ کړی و اوځو نفره تاجيک شوي روسان هم چې په ښکاره ددغه کار تشويق کوونکي وو دملګري ..... د نفاق اچوونکو ملګرو په ډله کې ورزيات شول مګر وطن دوستان چې ددغه سازمان په ماهيت او ملی ضدعملونو وپوهيدل له هغه ځخه بيل شول .دبدخشان او نورو ولاياتو خلک هم ورو ورو له سازمان ځخه جدا کيدل او يولږ شمير دامنيت دوزارت جبره خواره له ځو کنډکو سره يکې پاتې شول چې دمجاهدينو پرضد جنګيدل ..... ».

دشوروي متجاوز حکومت دافغانستان دخلکو د آزادۍ داحساساتو دماتولو لپاره په دغو ذکرشوو کړنو ورنو لاقانع نه و او دقامي مليشو په جوړولو يې هم لاس پورې کړ چې ديو قوت په توګه دافغانستان دمظلومو خلکو پرضد استعمال شي . په قامی مليشو کې درشيد دوستم او ګليم جم مليشې زيات شهرت پيدا کړی و . ځکه چې په خپلو پوځي او جنګي عمليا تو کې به يې دخلکو له وژلو ، تکولو او تباهی ځخه مخه نه اړاوه . دغه مليشه اکثراً له ازبکو ځخه جوړه شوې وه ،خو شريفو وطن پالونکو ازبکان دهغوی له نوم ځخه شرميدل او ځانونه يې ورځخه لرې ساتل . په دغې مليشې کې ځينې هغه يتيمان هم ليدل کيدل چې دشوروی پوځونو لاپخوا له ورانو شوو کورونو ځخه په زور بيولی وو.

داسماعیلیه فرقه دبغلان اوبدخشان په ولا یاتو کې یو کوچنی مذهبی اقلیت دي دشورویانو په هدایت دد غې فرقې دمشر زوی دبغلان والي وټاکل شو او ورپسې مرستـه ورسره وشوه چې یوه قومي ملیشه جوړه کاندی . هغه له ۱۳ زرو کسانو څخه ملیشه قوه جوړه کړه چې په هرډول وسلو سنبال وه او دمجاهدینو پرضد استعمالیدله .

همدارنګه دعصمت مسلم ملیشه چې په کندهار کې جوړه وه او په وسلو او پوځي وسا یطو سبنال شوی وه وظیفه درلوده چې په جنوب لویدیځ کې دپاکستان اوافغانستان ترمنځ سرحدونه کنترول او محافظت کړي .

له بل پلوه په ۱۹۸۵ م کې شوروی پوځونو ته ډیرې نوې وسلې ورکړل شوې وې او څه دپاسه ( ۵۰۰ ) پنځه سوه فعالې الوتکې یې په اختیار کې وي . دکنړ په سختو جګړو کې له همدغو الوتکو څخه ډیر کاراخیستل کیده . شورویان په ۱۹۸۶ م کې دنورو بریالیتوبونو تر څنګه په دې هم بریالی شوي وو چې په پکتیا کې دمجاهدینو دروزنی او تمرین یو غټ مرکز په ژوره Zhaware کې اشغال اوویران کاندي چې یو شمیر مجاهدین پکې مړه او ټپیان هم شول .

اصلاً د ۱۹۸٦ م له پیل څخه دشورویانو په حملو کې دسپتسنازبد نامه کوماندو اوشوروي هوایی او زمکنیو قوتونو په کلکې همکاری عملیات وشول .دکابل حکومت دادعوه هم کړې وه د مجاهدینو شل نور مرکزونه یې له منځه وړي اوتر ۲۵۰۰ تنو پورې مجاهدین یې مړه او یوډیر شمیرهم ټپیان کړي دي .

شورویانو د بگرام په هوایي میدان کې د مصنوعي سپوږمۍ له لارې مسکو سره مستقیم ارتباط درلود او خپل پروگرامونه یې د شوروی مشرانو له اوامرو سره سم اجرا کول. همدارنګه په شینډنډ کې د هوایي ځواک او مختلفو الوتکو ترڅنګ د SS ۲۰ گرځنده میزایل هم ځای په ځای کړل شوي وو.

په دې ډول د شوروی پوځ هلې ځلې د کابل د گوډاگي رژیم د ټینګښت او غښتلي توب لپار په شدت روانې وې او په سیاسي او ټولنیز برخو کې هم بې شماره کوششونه کیدل چې په خلکو کې د حکومت طرفداران پیدا او مخالفین د انقلاب ضد په نامه له منځه یوسي.

باید زیاته شي چې په پورته ذکر شوو گوندونو ( خلق او پرچم ) ، سازمانونو او ملیشو کې ځینې وطن دوسته ، قام پالونکي خلک هم وو چې له حکومت سره د همکارۍ ترڅنګ یې د خپل مظلوم ملت د گټو لپاره هم فعالیت کاوه او د ملي مقاومت له ډلو سره یې مرسته او همکاري کوله. د همدغو همکاریو او وطني احساساتو له مخې ځینې وختونه د مقاومت او جهاد ډلو د شوروي پوځونو له حملو نجات پیدا کاوه او یا هم د شوروي قطعاتو د نقل او حرکت خبر مجاهدینو ته ورکول کیده چې په نتیجه کې به شورویانو ته د سر او مال تاوانونه رسیدل.

## ب: د اتحاد لپاره د جهادي ډلو هلې ځلې:

څرنگه چې پخوا وویل شول په ۱۹۸۰ م کې له هغو ټولو افغاني ډلو او ټولنو څخه چې یې پیښور کې تنظیمونه ، او حزبونه جوړ کړي وو،

دپاکستان حکومت صرف اووه تنظیمونه په رسمیت وپیژندل چې د مهاجر ینو او مجاهدینو په چارو کې یې ډیر مشغولیت درلود .

دغو تنظیمونو بیا خپل منشور هم اعلان کړ چې په اوه ډلیز اتحاد یا ډیدل او لاندې حزبونه او تنظیمونه پکې شامل وو :

۱ - حزب اسلامی دانجینیر گلب الدین حکمتیار په مشری

۲ -جمعیت اسلامی داستاد برهان الدین ربانی په مشری

۳ -حرکت انقلاب اسلامی د رفیع الله مؤذن په مشری

٤ -جبهه نجات ملی دمحمد میر په مشری

۵ -حزب اسلامی د مولوی محمد یونس خالص په مشری

٦ - اتحاد اسلامی ذاستاد رسول سیاف په مشری

۷ - حرکت انقلاب اسلامي دمولوی نصر الله منصور په مشری .

سره له دې چې دغه اتحاد په خپلو فعالیتونو پیل وکړ خو ددوی ترمنځ دجمعیت اسلامی اوحزب اسلامی اثر او رسوخ په دې ترټولو زیات ښکاریده چې پخوا پیښور ته راغلي او له مربوطو مقاماتو سره یې ښه روابط درلودل . له بلی خوا ددغو دواړو حزبونو دریځونه او مناسبات له جماعت اسلامی سر هم ډیر نژدې وو . جماعت دپاکستان د حکومت ملاتړ کاوه . په ۱۹۸۱ م کې جهادي اعتدالی ډلو دیو شمیر نورو ټولنیز موثر شخصیتونو په گډون دغه کوشش پیل کړ چې په کوټه بلوچستان کې لویه جرگه جوړه کړي او پخواني پاچا ته دبیرته راتلوبلنه ورکاندي . خو درد یکال تنظیمونو د مخالفت له امله - چې پاکستانی مقاماتو یې هم

پلوي کوله - دغه تجويز عملي نشو او د لويې جرګې جوړيدل هم تر نامعلومې مودې پورې وځنډيدل .

د تنظيمونو ترمنځ د اختلافونو په اساس په ۱۹۸۳ م کې يوبل اتحاد د مجاهدينو د اسلامي اتحاد په نامه منځ ته راغی چې په هغه کې د غو ډلو او اشخاصو ګډون درلود :

۱ - جبهه نجات ملی -- حضرت صبغت الله مجددی ،

۲ -محاذ ملی اسلامی---پير سيد احمد ګيلانی ،

۳ - حرکت انقلاب اسلامی --- مولوی محمد نبی محمدی،

بايد وويل شي د دغو تنظيمونو مشران پر ته له بناغليو صبغت الله مجددی او سيداحمد ګيلانې چې د پيری او مرشدی شهرت او سوابق درلودل ، نور تول په پاکستان کې هسک او د جهاد په دوران کې شهرت ته ورسيدل .

وروسته بيا د مجاهدينو د اسلامي اتحاد مشرانو د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه د ليدلو لپاره روم ته سفر وکړ او پاچا هم وروسته له مذاکرو داسې څرګنده کړې وه چې د افغانستان د قضيې د حل په باب به مؤثر قدمونه واخلي.

د اعتدالی اتحاد دغه اقدام ردیکال او افراطی ډلو زيات مخالفت راوپاراوه چې د پاچا له بيرته راتګ سره يې له پخوا پيل کړی و . له بلی خوا د پاکستان جمهوررئيس جنرال ضيا الحق د اسلامی کنفدريشن Confedration د مفکورې شوقي هم و او د خپلو سياسی پلويانو

دجماعت اسلامي او نورو دخوشالۍ لپاره هم دغه موضوع پوړته کوله که په راتلونکې کې دپاکستان او افغانستان ترمنځ داسې یو کنفدریشن منځ ته راشي ( غالباً دجنرال ضیا دغه مفکوره دهغه شکست دتلافۍ لپاره هم معنا ورکوله چې دپاکستان پوځ شرقي پاکستان کې خوړلی و . ) له دې امله دافغاني رادیکال تنظیمونو مشرانو ( حزب اسلامي - جمعیت - او اتحاد اسلامي ) دکنفدریشن پلوي کوله او دافغانستان او پاکستان ترمنځ یې دسرحد له منځه تلل هم غوښتل . له بلې خوا دمجاهدینو دیو پراخ اتحاد دجوړیدو او دیو جلای وطن حکومت دتشکیل په منظور سعودي عربستان کوشش وکړ چې تولې جهادي ډلې دغه کار ته وهڅوي خو دغه تجویزاو وړاندیز له پیل څخه په دې موثریت پیدانه کړ چې عربستان دجلای وطن حکومت جوړښت دپخواني پاچا ظاهرشاه ترمشرۍ لاندې غوښتلی و . بیا وروسته په ۸٦ - ۱۹۸۵م کې دمجاهدینو مشرانو دامریکا متحده ایالاتو ته هم سفرونه وکړل او هلته یې دامریکا له جمهوررئیس رونالدریګن سره هم لیدنې کتنې وکړلې .

له بلې خوا په ایران کې له هغو اتو افغاني شیعه ډلو څخه په ۱۹۸۷م کې دایراني مقاماتو په لارښوونه او مرستههیو ګوند جوړ شو چې دحزب وحدت اسلامي په نامه یادیده . ددغه حزب په جوړیدو که له یوې خوا دافغاني متفرقه ډلو فعالیتونه توحید او متمرکز کیدل له بلې خوا ، دایران دتګ لارې تعقیبول هم پکې تضمین کیدل چې په افغانستان او سیمه کې یې پر مخ بیوله .

څرنګه چې په ایران کې د پښتانو افغاني ډلو او د پېښور د تنظیمونو ترمنځ همکاري او تعاون نه و د حزب وحدت په جوړېدو سره هم کوم بدلون پکې را نه غې ، بلکې د افغانستان په قضیې کې د ایران او پاکستان د دریځونو په اساس د دوی اختلافونه لازیات هم شول .

کوم موقتي حکومت چې د ژنیو د موافقوله لاسلیک کېدو وروسته د پېښور د تنظیمونو له خوا جوړ شو، حزب وحدت په حکومت کې د ۲۵ فیصده څوکیو غوښتنه وړاندې کړه ، چې د پېښور تنظیمونو مخالفت وکړ او د حزب دا ادعا یې رد کړه. په عمومي توګه د جهادي اعتدالي تنظیمونو او اوه ډلیز اتحاد ترمنځ اختلافونه له یوې خوا او په رادیکال او سخت دریځه اسلامي ډلو کې خپلمنځي اختلاف چې علتونه یې ظاهراً په شخصي سیالیو او رقابتونو کې لیدل کېدل . له بلې خوا په افغانستان کې دننه هم په جهادي فعالیتونو اثر غورځاوه او د بې مفهومه جنګ جګړو سبب هم کېدل.

د مثال په توګه د شمال په سیمو کې په کراتو د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی ترمنځ وسله وال اخ او ډب منځته راغی او د احمد شاه مسعود او ګلب الدین حکمتیار ترمنځ سیالي او دښمني تردې حده پورې ورسیده چې مسعود د حزب اسلامی ځینې افراد او قوماندانان د یو بل مرګ ژوبلې په بدل کې ونیول او د تالقانو په ښار کې یې په دارو ځړول. همدارنګه په هلمند او کندهار کې څو څو ځله د حرکت انقلاب اسلامي او حزب اسلامي ترمنځ وسله والې نښتې وشوې چې دواړو خواوو ته یې درانه تلفات

درلودل.

ددې ترڅنګ د شیعه او سني په نامه هم د نومورو تنظیمونو د پلویانو ترمنځ کله کله نښتې کیدلې چې د کابل د حکومت د عمالو له خوا هم ورته لمن وهل کیده.

د همدغو شخصي او تنظیمي اختلافونو له امله ؤ چې د افغانانو جهاد او ملي مقاومت یو مرکز پیدا نشو کړای او د شوروي ظالمو پوځونو په مقابل کې پاڅون او مقاومت ګډوډ او متفرق پاتې شوی و. البته که له یوې خوا د پردي ترشا خارجي لاسونه فعال وو، چې د افغانستان جهاد او مقاومت له واحد مرکزیت او مشرتابه څخه بې برخې پاتې کړي، خو له بلې خوا د ټولو جهادي مشرانو له طرفه داسې کوم صادقانه کوشش هم ونه لیدل شو، چې د اتحاد د دښمنانو دسیسې شنډې کاندي. د همدغو تفرقو او توپیرونو نتیجه وه چې په ۱۹۸۹ م کې په جلال آباد باندې د مجاهدینو د برید په وخت کې د مجاهدینو مشرتابه د جنګ په تنظیم او لارښوونه کې پاتې راغلل او دا چې ولې داړه یې او ګوریلایي جنګ یو دم جبهه یي جنګ واوښت او په نتیجه کې په زرګونو مجاهدین مړه او زخمیان او بریدونه ناکام شول دیرې پوښتنې یې منځ ته راوړې وې.

دا هم دیادونې وړ ده سره له دې چې پورته ذکر شوي تنظیمي اتحادونه د پاکستان د حکومت تر تاثیر لاندې وو او د هغوی په مرسته او لارښوونه یې خپل فعالیتونه وړاندې بیول خو د دوی په منځ کې داسې ډیر غړي او مشران هم وو چې د افغانانو په چارو کې د خارجي لاس وهنو سره سخت مخالفت او

دملي گټو د ساتنې لپاره فعاليت کاوه .

## ج : دجنګ بې رحمي او دبشر له حقوقو سرغړونې :

دشوروي اتحاد له پوځي تجاوز او دافغانستان دخلکو دملي مقاومت او جهاد له پيله له بشري حقوقو سرغړونې او په جنګ کې بې رحمي داسې موضوعات دي چې دځانګړو رسالو او کتابونو ليکل غواړي اصلاً د ثور له تورې کودتا څخه وروسته دافغانستان دخلکو عادي ژوند له داسې قيداوبست ، تيري او تجاوز سره مخامخ شو چې چاپې خيال هم نشو کولای.

دکودتا په لومړي دوران کې ځينې ډير سياسي مخالفين په بيړه توقيف او له منځه يوووړل شول؛ پرته له دې چې دهغوې په مورد کې عادلانه قضاوت او يا هم دمدافعې چانس ورکړ شـــــي . په دغه جمله کې محمد موسى شفيق پخوانی صدراعظم چې يو عالم او وتلی سياست پوه شخصيت و په زندان کې ووژل شو . همدارنګه دمحمد داؤد دکورنۍ او دمجددي دکورنۍ ګڼ شمير کسان زنداني او هلاک شول او همدا چال چلن له عالمانو ،منورينو او مخالفو سياسي شخصيتونو په مقابل کې وړاندي بيول کيده . يو بل پخوانی صدارعظم نوراحمد اعتمادي هم په دغه ډول ځوموده وروسته په زندان کې ووژل شو.

دخلق او پرچم حکومت چې خپل ګوند دکارګرې طبقې مخکښ او دمحرومو طبقو يعنې بزګرانو او کارګرانو دحق مدافع معرفي کاوه خو په عمل کې يې له هيڅ قسم ظلم او تيري څخه مخ نه ګرځاوه .

په مارچ ۱۹۷۹ م کې د کونړ په کراله کې حکومتي قواوو د سیمې تخمین ۱۲۰۰ کسه خلک را ټول او تر سوال او ځواب لاندې ونیول چې دوی ولې دانقلاب ضد سره مرسته کوي . دغو خلکو چې د حکومتي مشرا تهام رداوه نو پوځي قوماندان دوی ته امروکړ چې پر مخې په ځمکه پریوزي چې پر یوتل نوعسکروته داور امرو شو او په دې دول پر دغو ټولو کسانو ګولۍ واورول شوي ، ځینې مړه هم نه وو چې بلدوزر خاورې پرواړولې.

د کابل حکومت بندیانو او تورنو کسانو ته د قانوني دفاع حق نه ورکاوه او هرهغه څه چې د دوی زړه غوښت هغسې به یې کول . د پل چرخي زندان چې اصلاً ٥ زره بندیانو لپاره جوړ شوی وو له زرګونو بندیانو څخه ډک شو ، چې اکثراً له ډیرو سطحي او سرسري پوښتنو څخه وروسته ډله ډله په پولیګون کې وژل کیدل .

کوم وخت چې حفیظ الله امین له تره کي څخه وروسته د قدرت پر ګدۍ کښیناست د څه کم ۱۲ زرو خلکو د نومونو لستونه د کابل دامنیه قوماندانۍ په دفاترو کې اعلان شول دا کسان د پل چرخي په خونړي زندان کې وژل شوي وو. حفیظ الله امین د دغو پیښو مسوولیت د پخواني حکومت په غاړه اچاوه مګر بیا وروسته شاید د خلکو د شدید عکس العمل په لحاظ دغه لستونه خپاره هم نشول .

د شوروی له تجاوز څخه وروسته د کابل ګوډاګي حکومت خپل سلف په وخت کې د وژل شوو کسانو شمیر ٤٨٥٤ تنه وښود په داسې حال کې چې ځینو نورو منابعو وژل شوي کسان تر ۱۲ زرو هم زیات اټکل کړي وو.

له هغه وخته چې دشوروی یرغلګرو پوځونو دافغانستان دښارونو ، بندرونو ، او مهمو ځایونو کنترول تر لاسه کړ ، دبشر په حقوقو تیری او تجاوز له حده واوښت ، شوروي پوځونو دامنیت دساتلو په نامه هر وخت او هر ځای ته چې غوښتل تلل او پوځي عملیات یې اجرا کول هیڅ داسې یو مرجع او مقام نه و چې ددوی مخالفت وکاندي او یا هم ددوی دکار او عمل پوښتنه وکولای شي .

نړیوال له سره میاشت له ۱۹۸۱ م څخه له کابل نه شړل شوې وه چې مبادا دافغانستان دخلکو له مصیبت څخه جهان خبر کاندي یو ازې په ۱۹۸٤ م کې ملګرو ملتونو یو مخصوص راپور تر وټاکه چې دافغانستان دحالاتو په باره کې راپورونه ورکاندي ، مګر دکابل حکومت اعلان کړی و چې ددغه راپور تر خبرونه او راپورونه په رسمیت نشي منلای .

دشوروي او دکابل دلاس پوځي حکومت ځواکونو دمخالفینو پرضد دپراخو پوځي عملیاتو تر څنګ دښارونو ، کوتلونو ،بندرونو ،ملکي اوعسکري مهمو ځایونو تر شا او خوا په میلیونونو دانسان ضد ماینونه غورځول چې دمخالفینو له تګ راتګ او دملکي خلکو له تیښتې څخه مخنیوي وکاندي ، په دغو ماینونو کې تر ټولو خطرناک Butterfly mine ګڼل کیده چې دوه ډوله رنګ یې درلوده او کوچنیان به وربانديې غولیدل . دهمدغه ماینونو دچاودیدو له امله په زرګونو کوچنیانو خپل لاسونه او پښې له لاسه ورکولې . دنړۍ دروغتیایي موسسې داټکل له مخې تقریباً یو میلیون افغانان دهمدغو ماینونو له کبله بې لاس او پښو

شوي دي .

دشوروی لښکرو چې دافغانانو دمقاومت دماتولو او دعامه خلکو دډاراو تخویف په خاطر باغونه، فارمونه او کاریزونه وران ویجاړ کول په داسې جنایاتو یې هم لاس پورې کاوه په جګړو کې یې لږ ساري لیدل شوی دی .

James Rupent دواشنګټن دورځــپــانې راپورترچې د ۱۹۸۵م په دسامبر کې افغانستان ته تللی و داسې لیکلې چې (ما په سل ګونو بزګران او کروندګرو لیدل چې دشوروي هیلی کوپترو او میګ الوتکو په بمباریو کې وژل شوي وو او له دې امله دافغانستان په ډیرو ځایونو کې ښځو دکرنې چارې په ډیر زحمت وړاندې بیولی او حتی یوازې دشپې له خوا به کښت او کرکیده ...... ».

له بلې خوا شوروي عساکر چې په جنګونو کې مجاهدینو ته تسلیمېدل په وار وار سره یې بین المللی خبریالانو ته ویل چې موږ ته داسې هدایت راکول کیده چې کوم وخت چې یو ځای کې عملیات کوي باید چې هیڅ څوک درڅخه ژوندی پاتی نشي، چې دعملیاتو دجریان خبر چا ته ورکړي.

Garik Muradovich یو شوروي فراري تبعه وویل : «که مجاهدین په سړک حکومتی موټرونو ته اور اچوي شورویان دهغه په انتقام کې دملکي خلکو په کورونو باندې حملې کوي . دوی مجاهدینو باندې بمونه نه غورځوي ، بلکه دعامه خلکو په کورونو یې اچوي ..... ».

په اپریل ۱۹۸۵ م کې شوروي پوځونو دلغمان دکڅ په سیمې کې

رسیدلو فصلونوته اور واچاوه او تخمین دوه زره کورونه یې هم چپه کړل چې د دوی په زعم د غو خلکو د حکومت مخالفینو ته مرسته او پناه ورکوله.

د شوروي قواوو د جنایاتو په اړوند د بین المللی موسساتو له راپوررونو څخه روښانه شوې ده چې شوروي پوځونو له ۱۹۸۰ م را په دې خوا له Lethal agents او Super nerve agent څخه څو ځایه کار اخستې دي چې کیمیاوي زهرجن ګازونه بلل کیږي .

د شوروي پوځونو له جنایاتو څخه د یوبل مثال په توګه د لوګر د ولایت د پات خواب شانه د سیمې پیښه د یاد وړ ده او هغه دا چې په ۱۳ سپتامبر ۱۹۸۲ م کې یو شمیر سپین ږیرو او کوچنیانو د شوروي پوځونو د زمکې او هوایي عملیاتو له ډاره چې د دوی سیمې ته نږدې روان وو یو کاریز ته پناه وړې وه چې د شورویانو له شره په امان کې پاتې شي ، خو کوم وخت چې شورویانو کلي محاصره کړ په دغه کاریز کې یې وروسته له فیرونو څخه لاسي بمونه وغورځول چې د هغه له امله ۱۰۵ تنه د کاریز په منځ کې ټول هلاک شول .

په همدې ډول په ۲۲ د سامبر ۱۹۸٤ م کې د کندز د چار درې په ولسوالۍ کې شوروي پوځیان په ټانکونو کې هغې سیمې ته ننوتل او په دې پلمه چې د دغه ځای خلک د شورویانو مخالف ذي پر ته له پوښتنې یې د خلکو په وهلو او ټکولو لاس پورې کړ او تخمین ۲۵۰ کسه بیګناه خلک یې ووژل .

د يو بل راپور په اساس د ۱۹۸٤ م په نومبر کې په امام صاحب کې تخمين ٦ سوه خلک محض په دې اتهام د شوروي عسکرو له خوا ووژل شول، چې په هغې سيمې کې مجاهدينو دوه شوروي هيلي کوپترونه را غورځولي وو.

شوروي پوځونو مجاهدينو جنگيالي په عمومي توگه د جنگ د بنديانو په نامه نه منل او د جنگ د بنديانو لپاره هيڅ کوم خاص ځاي هم نه و. د شوروي پوځ څخه تښتيدلو عسکرو بين المللي موسسو ته داخبره کړې چې نيول شوي مجاهدين به اکثراً ترمرگه وهل کيدل او يا به څو څو نفره يوځاى تړل کيدل او د ټانگ يا توپ په ډزو به وژل کيدل.

د کابل د حکومت چال چلن هم له ظلم او ستم څخه ډک و. په اصل کې د ثور له کودتا راپه دې خوا هرحکومت د مخالفينو له شکنجې او ځورولو څخه کار اخيستى دى چې دا شکنجې اکثراً د اگسا دادارې بيا وروسته کام او دخاد دادارې بيا وروسته د واد په تحقيقاتي مرکزونو کې ورکول کيدلې په دغو شکنجو کې وهل، ټکول، دوژلو گواښ، دو ښتانو شکول د نوکالو ايستل په اوبو کې ډوبول، بې خوبې ورکول او برقي شوکونه ډيرذکر شوي دي.

د دوى په مقابل کې تنظيمونو او جهادي ډلو چې د افغانستان د خلکو د مدافعې لپاره يې په مقاومت او جهاد لاس پورې کړى وو هم بې رحمى او د بشرى حقوقو څخه سرغړونې کولې. ځينو جهادي تنظيمونو ځانته تحقيقاتى او د پلټنې مرکزونه هم درلودل، چې تورن او مظنون کسان به په کې تحقيق او په سزا رسيدل. افغانى عسکر به چې په جگړو کې اسير شول

عموماً خوشي کیدل خو منصبداران به د مجاهدینو له بندیانو سره د تبادلې په مقصد ساتل کیدل. جهادي ډلو دحکومتي مامورینو او مستخدمینو له ځورولو علاوه تورنو کسانو ته شکنجې هم ورکولې او په ځینو مواردو کې به یې دهغوی له اعدام څخه ډډه نه کوله. په داسې حال کې چې دا ډول بندیانو یا تورن کسانو به دخپلې قانونی دفاع وسایل او امکانات هم نه درلودل او جهادي ډلو هم چا ته ځان مسئوول نه گاڼه.

په ۱۹۸٤ م کې د جهاد په نامه یو مستند فلم دځینو اروپایې هیوادونو په تلویزیونونو کې وښودل شو چې په کندهار او شاوخوا کې یې دحاجي لطیف دډلې جهادي فعالیتونه څرگندول. ددغه فلم په اساس په لس گونو عسکر او پولیس له حکومت سره د کار کولو په گناه او یا هم دبریتونو دلرلو له امله چې د کمونستانو علامه پیژندل شوې وه د جهادي ډلو له خوا توقیف او په مشکلاتو اخته کیدل او ځینې هم په صحرایي محکمو کې په اعدام محکومیدل. ویل کیدل چې دحاجي غریب په نامه یو تن چې له پاکستان څخه کندهار ته راستون شوی و تبرگی گرځاوه او له خپلو ملگرو سره یې دبریتورو خلکو په ځورلو او وژلو صرفه نه کوله.

له بلې خوا هغه سیمې چې به د مجاهدینو ترکنترول لاندې راتللې دبې امنیتی او خپل سري له امله یې خلکو ته ډیر نور مشکلات منځ ته راوړل. ددغو ډلو د مربوطینو له خوا په لاروځنځیرونه اچول کیدل چې خلک دوی ته د تیریدو راتیریدو تکس ورکاندي.

له بلې خوا ځینو ډلو دمجاهدینو په نامه د کابل په شاا و خوا سیمو کې

سنگرونه نیولی وو او د پوځي سیمو دویشتلو په نامه یې دښار مختلفې برخې په راکټونو او توپونو ویشتلې چې دسراو مال درانه تاوانونه یې عامو خلکو ته اړول .

د « تلک خرس » په کتاب کې لیکل شوي دي پاکستاني مقاماتو پتیلي وه د کابل ښار وران او ویجاړ کاندي ، ځکه د دوی په قول د کمونستانو عمده مرکزونه هلته جوړ شوي وو.

البته دغه قضاوت په خپل ذات کې ظالمانه و چې د روسانو او د کمونستانو مرکزونو په خاطر ټول ښار ویجاړ کړای شي ، څینوتش په نامه جهادي ډلو د بریښنا او تلفون پايي او پلونه هم په بمونو الوزول په داسي حال کې چه هغه د ملت مال و ، نه د کابل د حکومت . یوه بله موضوع هم دیاد وړده چې د سکد Scud خطرناکو راکټونو پورې اړه لري . د سکډراکټونه چې په بګرام ، کیله ګي ، مزار شریف او شین ډنډکې تعبیه شوي وو او د شوروپا؛ په لاس استعمالیدل برسیره پر دې چې درانه تلفات او تاوانونه یې منځ ته راوړل دډیرو خلکو د کنیډو او عصبی ناروغیو سبب هم ګرځیدل.

ددغو راکټونو داستعمال له امله په ۸۸-۱۹۸۹ کې د مجاهدینو ډلې له سختو مشکلاتو سره مخامخ شولې . د یوې باوري منبع ( سرچینې ) پر اساس په جلال آباد باندې د مجاهدینو د حملې په شپوورځو کې د کابل واکدارانو بې شمیره سکډ راکټونه د جلال آباد په شااو خوا غونډیو وویشتل چې په نتیجه کې په سلها وو بیګناه خلک مړه او ټپیان شول .

همدارنگه د دغو راکټونو په استعمال د اسعدآباد په ښار کې هغه وخت څه باندې ۵۰۰ تنه ووژل شول چې د پاکستان د مهاجرو له کمپونو څخه د سولې په هیله وطن ته تازه راستانه شوي وو. د لویدیځو خبري سرچینو له مخې شورویانو څه د پاسه ۲۰۰۰ دوه زره سکد راکټونه افغانستان ته راوړي وو چې تقریباً ټول د مجاهدینو پرضد هغه هم یوازې د پښتنو په سیمو کې استعمال شول چې البته دغې موضوع په خپل ذات کې له پښتنو سره د شورویانو خصومت یو ځل بیا روښانه کاوه .

یو مشهور امریکایي لیکوال Bruce Richardson په افغانستان کې د عامه وژنو په ارتباط ویلي دي : « له ۱۹۸۳ م تر ۱۹۸٦ م پورې په افغانستان کې په بشري حقوقو د تیري او تجاوز او ډله ییز قتلونو (جینوساید) شدیده دوره وه ، مګر د افغانستان موضوع د بین المللي محافلو توجه لا رانغله ځکه چې کمبودیا ستونزه راغلې وه ، په افغانستان کې د ملکي خلکو وژنه او د کلیو او بانډو له منځه وړل د شورویانو د مخصوصو قطعاتو له خوا په دوامداره توګه دوام درلود ...... ».

د دغو مسایلو ترڅنګ لس ګونه افغاني سیاسي او جهادي شخصیتونه په پاکستان کې ترور او لادرک شول چې د قاتلانو او مجرمانو د پیداکولو او د دغو حوادثو د مخنیوي لپاره هیڅ لازم او موثر اقدامات ترسره نشول .

له بل پلوه کوم وخت چې جهادي ډلو په کابل کې قدرت ترلاسه کړ

( اپریل ۱۹۹۲م) نو دافغانستان دمظلومو خلکو د هیلو او توقعاتو خلاف په بشری حقوقو د تېري او تجاوز او انسانی کرامت ته دسپکاوي او اهانت یوبل تور دوران منځ ته راغی چې چاپې تصورهم نشو کولای.

برسیره پر دې چې په زرگونو بیگناه افغانان دجهادي ډلو دقدرت په سر جگړو کې مړه او ټپیان شول په دولتی او شخصي شتمنیو او جایدادونو داسی چور او تالان جوړ شو چې ساري او سابقه یې په نه وه لیدلې شوي.

له پورتنیو توضیحاتو څخه داسوال پیدا کیږي چې آیا دافغانستان دمظلومو خلکو له دغو غمونو او مصیبتونو څخه دنړی خلک په لازمه توگه خبر کړای شول او که نه ؟

آیا بشری ټولنې او دبشر دحقوقو مدافعانو ،لکه نوروځایونوغوندې دافغانستان په مورد کې کلک او ضروری عکس العملونه وښودل ؟ آیا دملگرو ملتونو موسسې ددغو وژنو ډله ییز قتلونو او دبیگناه خلکو دکړولو په باره کې لازمې پلټنې او فیصلې وکړې ؟ آیا دجنگ دمجرمینو شوروی او افغانی اشخاصو دمحاکمه کولو په ارتباط څه اقدامات وشول؟

آیا دمجاهدینو دادارې له جوړیدو وروسته دقتلونو او عامه تباهي په باب کوم خاص اقدامات او تحقیقات دملگرو ملتونو له خوا وشول او که نه؟

دغه ټول مسایل دملگرو ملتونو او دبشری ټولنو دژورې توجه او پاملرنې وړ گڼل کیږي او په دغو برخو کې کلک اقدامات دجنگ له ځپلو سره بېخلنه مرسته کولای شي.

# اتمه برخه

## قامي نفاق اچونه او فرهنگي تخريبات

افغاني ټولنه، لکه دنورو هيوادونو او ګاونډيو ملکونو ټولنو غونډې له مختلفو قامونو جوړه شوې ده . له پيړيو پيړيو راهيسې دغې ټولنې ديو واحد ملت په توګه خپل اتحاد او يووالي ساتلى او ددغه هيواد ورونه قامونه دژوندانه ډيرولوړو ژورو کې داسې سره يو موټى او متحد پاتې شوي چې دافغانستان لرغونى او له برمه ډک تاريخ يې په خپله ښه شهادت ورکوي .

طبيعي ده چې ځينې وختونه په يوې ټولنې کې کشالې او ستونزې منځ ته راځي او ځينو هيوادونو کې له قام ، ژبې او مذهب څخه راپورته شوي اختلافونه په کړکيچونو او بحرانونو ختم شوي او داخلي او ډب او نښتوسبب شوي دي چې مثالونه يې دنړۍ په مختلفو هيوادونو کې ليدل کيږي .

مگر له نیکه مرغه په افغانستان کې داډول اختلافونه او ستونزې ډیر لږ او په ندرت منځ ته راغلې او عموماً داسې مسایل دافغانی او اسلامی دود او دستور په رڼا کې حل او فصل شوي او هیڅکله افغانستان دگاونډیو هیوادونو په پر تله په قامی او سکتارستي جګړو کې نه دي لویدلې چې حقایق دافغانستان او ګاونډیو هیوادونو په مقایسه کې ښه لیدل کیداي شي .

په افغانستان کې دشوروي اتحاد مداخلو او پوځي تجاوز سره سم دقام ، ژبې او مذهب په نامه اختلافونو ته لمن ووهل شوه ؛ تقویه شول او نورو ګاونډیانو ( ایران او پاکستان ) ته هم لاره خلاصه شوه چې دافغانستان په همدغو مسایلو کې لاس وهنې وکاندي .

دتاریخي شواهدو په اساس شورویانو دخپلو تجربو له مخې لاندې طرزالعملونه دمسلمانانو دپاڅونونو په ځپلو کې موثر او مهم ګڼل :

– په مخالفینو کې داستخباراتو ژوره رخنه کول او په اتنیکي اساس دحکومت ضد خلکو او ډلو سره مرسته کول .

–دمقدم هدفونو پر ضد دعملیاتي ضربو دورکولو لپاره دقوي حملي توانايي پیداکول .

– په چټکۍ سره ملکي خلکو ته درانه تاوانونه اړول او دښمن ته ملاتړ کمزوري کول .

دهمدغو دستورونو په رڼا کې کوم وخت چې شورویانو په مرکزي آسیا کې خپل کنترول ټینګاوه ، ددوی له لومړینو اقداماتو څخه دا ؤ چې په

ګاونډیو هیوادونو ( دافغانستان په ګډون ) کې کلکه استخباراتي شبکه ټینګه کاندي . دهمدغو شبکو دفعالیت له امله په ۱۹۲۷ م کې شوروي استخباراتو وکولای شول چې خپل تښتیدلي مخالفین په ربنا ورغ دایران له ښارونو څخه بیرته وتښتوي چې یومثال یې دستالین سکرتر Boris Bajanov و چې په ۱۹۲۸ م کې ایران ته تښتیدلی ؤ او دهمدغو فعالیتونوپه اساس بیرته یو وړشو . شوروي اتحاد چې په خپله له مختلفو قامونو او نژادونو ( تر ۶۰ قامونو زیات ) جوړ شوی او دروس قام تل جګ او ممتاز مقام درلودلی او دخپلو اقلیتونو حقوق یې تر پښو لاندې کړي دي په افغانستان کې یې ځان داقلیتونو دحق طرفدار معرفي کاوه .

که دروسانو تاریخ ته لنډنظر و اچول شي معلومیږي چې دغه قام خپل نشنلزم تل غښتلی ساتلی او خپله ژبه او کلتور یې له نورو جګ ګڼلی دی . دهمدغه احساس له امله وچې دروسانو نشنلزم له مارکسیزم او لنینزم سره داسې تاو او جوش پیدا کړ چې په نتیجه کې په سوسیال امپریالیزم و او ښت او دنورو ملکونو او هیوادونو دلاندې کولو حرص ورسره پیدا شو .

دمستندو او دقیقو احصائیو له مخې په ۱۹۸۶ م کې روسانو داتحاد شوروي نیمایي نفوس جوړاوه خو ۸۳ په سلو کې وزیران او ددولتي کمیټو رئیسان ، ۸۵ په سلو کې دمرکزي کمیټې سکرتران او ۸۸ په سلو کې دپوځونو عالي او ستر قوماندانان ټول روسان وو نه بل څوک .

له بلې خوا په ۱۹۸۲ م کې دسلاف نژاد ( دروس نژاد ) څخه پرته نورو خلکو دسیاسي بیرو ۲۴ په سلو کې برخه جوړوله ؛ دغه شمیر په ۱۹۸۸ م کې صرف

۵ فیصدو ته راکوز شو . برسیره پردي په ۱۹۸۸م کې تقریباً دشوروي ټول مشرتابه روسان وو . په همدي قسم روسان چې په نورو جمهوریتونو کې اوسیدل ټول مهم وظایف او مقامونو هغوې پورې اړه درلوده او دعوامو غولونې لپاره صرف څو کسه دجمهوررئیس ، صدراعظم ووزیر په نامه نومول کیدل چې کوم اختیار او صلاحیت به ئې نه درلود .

همدغه حال او روش له ښارانو څخه وروسته دشوروي روسانو له خوا تعقیب شوی او تراوسه له قفــــقاز څخه نیولی تربالتیک او مرکزي آسیا پورې دوام لري.

خو سره له دغو ټولو بی عدالتیو بی انصافیو او ستمگریو روسان خپل هیواد ته دسولی او عدالت او دبزگرانو ، خواري کښانو هیواد وایي او په نورو دبې عدالتۍ نیوکه کوي .

دشوروي اتحاد حکومت چې دچیچن او انگوش مسلمان مظلوم خلک دحق غوښتنې په گناه په بې رحمۍ تکوي او دمرکزي آسیا تاجیک ، ازبک، ترکمن قزاق او قرغز خلک له سیاسی مذهبي او کلتوري آزادۍ او حقوقو څخه محروم ساتي مگر دخپلو استعماري مقاصدو لپاره دافغانستان قامي اومذهبي مسایلو ته لاس اوږدوي او په ریا او فریب داقلیتونو دحق پلوي کوي.

دهمدغو تگلارو په اساس او همداسی تحریکاتو او لمسونونو له امله دکابل لاس پو څو حکومتونو هم قامي مسایلو ته لاس اچولی و او محض دخپلو گټو لپاره يې دافغانستان دورونو قاموتر منځ بې اتفاقي ته لمن

وهلې ده . له يو لړ مستندو راپورونو څخه معلومېږي چې د شوروي حکومت مشرتابه د افغانستان د خلکو له جهاد سره د مقابلې لپاره په فاشستي ليونتوب د کابل ګوډاګي حکومت ته له شره ډک داسې هدايتونه ورکول :

- دښمن متفرق کړئ او د دې منظور لپاره له قامي نژادي او مذهبي نفاقونو څخه په هر مورد کې چې کار ورکړي ګټه واخلئ .

- په پوهانو او روشنفکرانو چې انتقاد خوښونکي وي او په خاص توګه د قامي او مذهبي کورنيو مشرانو ته او روڼفکره قشر ته مربوط وي اعتماد ونه کړئ او خپل نظريات وړاندي بوزئ .

- په هره سيمه کې قوي ګوندي حلقې جوړې کړئ .

- ديو ملي او اسلامي اردو د جوړيدو مخه ونيسئ .

- کمونستي ايديالوژي ته رونق ورکړئ مارکسيزم لينينيزم ته وده او قوت ورکړئ او له محلي واقعيتونو سره يې يو ځای کړئ . خپله ايديالوژي ديوې بريالۍ او ګټونکې ايديالوژي په شان وځلوئ .

د شوروي حکومت د دغو هدايا تو په اساس هغو خلکو چې ظاهراً دوررولۍ عدل او برابري چغې وهلې په واقعيت کې يې د افغانستان ورونه قامونه ديو بل په ضد استعمالول . پښتانه د تاجيکانو په خلاف سنيان ، د شيعه ګانو په خلاف ، ښاريان د اطرافيانو په خلاف .

د دغو مسايلو ترڅنګ د افغانانو د جنګې روحيې د ماتولو لپاره د اعلاميو په ترڅ کې وار په وار داسې ابلاغيدل چې د ثور انقلاب په شانه

تلونکی دی ، دشوروي اتحاد ملاتړ نه تمامیدونکې دی . په همدې قسم د دولت مامورین، معلمین ، کارگران او مستخدمین ترفشار لاندې نیول کیدل چې په گوندکې گډون وکاندي په ایدیالوژیکي متینگونو کې برخه واخلي او د مخالفت په صورت کې به د دوي کوپون ، معاش او کیدای شي کارهم له لاسه لاړ شي .

له بلې خوا د کابل حکومتونو د شوروي حکومت د تگ لارې په تعقیب د فرهنگي پالیسی په تطبیقولو کې هم هڅه کوله چې د افغانستان لپاره مختلف مرامونه پکې وړاندې بیول کیدل .

د زیاتې روښانتیا لپاره که په افغانستان کې د شورویانو فرهنگي پالیسی ته یو لنډ نظر واچول شي نو معلومه به شي هغوی چې د بشر دوستی ، انصاف او برابری تیرې په سینو وهلی څومره په خپله د دروغو خیانتونو او جنایتونو په زړنو کې ډوب شوي وو .

**الف : د فرهنگي پالیسی ترنقاب لاندې د شورویانو چل او پلمې :**

شورویانو په خپلو تبلیغاتو کې د غه مسایل خپرول چې شوروی اتحاد او له هغه څخه وړاندې تزاري روسیې د لویدیځ امپریالزم په مقابل کې د افغانستان له خپلواکۍ څخه مدافعه او ملاتړ کړی او د بریتانیې غوندې یې په افغانستان جنگونه نه دي تحمیل کړي او ښه گاونډیتوب یې ساتلی دی نو پدې اساس باید چې د فرهنگي او کلتوري پیوندونو او مسایلو لپاره مرکزي آسیا خواته پاملرنه وشي نه د هند نیمې وچې او فارس خواته .

له بلې خوا افغانستان ته د شوروي پوځونه د سوسیالستی انترنشنلزم

دمسوولیتونو له مخې استول شوي چې انقلابی رژیم دافغانستان له دښمنانو څخه وساتي . البته دشورویانو دواړه ادعا وې له حقایقو څخه لرې وې ځکه پخوا شوروي دافغانستان به بدخشان کې ځینې سیمې او پنجده داسې ونیولی چې هیڅکله یې بیرته خوشې نه کړې او بل دا چې افغانستان دشوروی پیمان غړي نه و او دپوځ داستولو جوازیې نه درلود .

شورویانو په خپله فرهنګې پالیسې کې دقامونو دحقوقو دبرابري پر اصل داسې ښودل چې ګواکې شوروی اتحاد واقعاً د افغانستان دقامی اقلیتونو سره همدردي او مینه لري او دهغوې دثقافت او کلتور پیاوړتیا غواړي . په داسې حال کې چې ددغو قامونو دیو بل پر ضد او بیا داکثریت قام ( پښتنو ) پر ضد استعمالول ، دا واضحاً روښانه کوله چې حقیقت دشورویانو دادعا خلاف محض دافغانستان دخلکو دملی وحدت دماتولو په خاطر دی اوبس . شوویانو په خپل قلمرو کې داقلیتونو دسرتکولو او هم دشاو خوا هیوادونو په هکله چې هغوې ورته د مداخلی تمه درلوده ، په کافي اندازه زړو استعماري سیاستونو څخه ګټه اخیستلې وه .

د « بیل یې کړه ایل یې کړه » Divide and rule سیاست (دبرتانوي استعمار زوړسیاست ) دهغو لپاره چې دشوروي عملونه یې په ژوره توګه څیړل په آسانی معلومیدل .

شوروي حکومت دخپلو پراخو تجربو په اساس داسی فکر کاوه چې په افغانستان کې دسیاسي تګ لارې ترڅنګ باید به فرهنګي پالیسې پراخه او هماهنګه فعالیتونه ترسره شي چې دحکومت غښتلی توب ته زمینه

برابره کاندي نو دشوروي آثارو - کتابونو - مجلو او اخبارو -سیلاو را روان شو . دڅور له کودتا څخه وروسته چې دشورویانو له پټو پلانونو پرده پورته شوه . داخبره پوره معلومه شوه چې هغه هیواد له پخوانه دافغانستان د اشغال خوبونه لیدل .

له کودتا سره جوخت افغانستان دکابل پوهنتون کې دروسې ژبې دیپارټمنټ پرانستل شو دکابل او جلال آباد په پوهنتونو نوکې دروسي مطالعاتو مرکزونه منځ ته راغلل او شوروی فلمونه په سینما اوتلویزیون کې نمایش ته وړاندي کیدل خو شورویانو خوف درلود چې پښتانه به له نورو څخه زیات دنوی انقلابی حکومت سره مخالفت وکړي ، نو شورویانو سره له دې چې نور محمد تره کې او ببرک کارمل تر منځ دروغې جوړې کوششونه کول خو په دې عقیده وو چې د دوی فرهنگې پالیسې به ببرک کارمل په مطمئنه توگه وړاندې بوزي .

څرنگه چې ببرک کارمل قدرت ته ورسیده ، دشوروي فرهنگي پالیسې هم یوې نوې مرحلې ته داخله شوه . شورویانو دپرچم ډله د تاجیکو او فارسی ژبو او دخلق ډله دپښتنو نماینده گڼله : له دې امله دخلقیانو ضد ډلې او عناصر تشویقیدل او پښتانه بیرته وهل کیدل . له دې نه علاوه دستم ملی گوند چې افراطې تاجیکان ،هزاره گان او ازبکان یې غړي و او د پښتنو پر ضد یې مبارزه کوله اوپه ۱۹۸۳ م کې رسماً دپرچم له گوند سره په قدرت کې شامل شو .

ددې لپاره چې اقلیتونه په خپلو پوچو تبلیغاتو بې لارې کړي نو

دحکومت مقاماتو د «ملیتونو» موضوع ته لمن وهله او دهرچاپه تذکره کې دهغه ملیت لیکل کیده . دغه کار چې هم دواحد افغان قام روحیه کمزوره کوله : په خلکو کې یې دڅان څانی مفکوره منځ ته راوړه چې په خپل ذات کې یې دحکومتی مقاماتو دروغ اوریا دواحد افغان ملت او افغانستان لپاره رسوا کول .

دتعجب ځای دا و چې ځینی پښه یې خلک یې - چې پښتو یې مورنی ژبه شوې ده - مجبور ول چې په تذکره کې خپل ملیت پښه یې ولیکې نه پښتون . اما ځینی هغه زیات پښه یي او پښتانه چې دوخت په تیریدو سره فارسي ژبی شوي وو مجبوریدل چې په تذکره کې ځان تاجیک ولیکي نه پښتون . له دې چال باز یو څخه موخه او هدف دا و په هر ډول چې ممکن وي پښتانه له اکثریت څخه وغورځول شي .

له بل پلوه دافغانستان دتعلیمي موسسو دروسي کیدو لپاره هلې ځلې روانې وې او په نوي تعلمي نصاب کې روسي ژبه اجباري شوه او په ۱۹۸۰ م کې چې داستادانو لومړنی کانگرس په کابل کې جوړ شو په هغه کې دشوروي اتحاد او نورو کمونستي هیوادونو څیړونکو گډون کړی و ، دروسی ژبې زده کړې او ښوونې ته دیو عاجل او اساسی ضرورت په توگه توصیه شوې وه چې دروسي ژبي سلاکاران مشغول وو . ددوی وظیفه داوه چې کابل پوهنتون دفرهنگي پالیسي په اساس عیار او پاک کاندي . دشوروي افغان ددوستی په مرکزونو کې روسي ژبه وړیا ښودله کیده او په هروزارت کې دافغان شوروي ددوستی خونې پرانستې وې . استادانو ،

زده کوونکو او کار ګرانو ته مفت سکالر شپونه او بورسونه ورکول کېدل چې شوروي اتحاد ته سفرو کړي . په دې ډول په زرګونو افغانان د شورويانو ترنظر لاندې په کار لوېدل او په زرګونو نور په مختلفو برخو کې شوروي ته استول کېدل چې شورويانو د هغوی آينده ته د اميد سترګې درلودې .

د يوې احصائيې له مخې په ۱۹۸۰ - ۱۹۸٤ م کلونو کې له ٦۰ زرو څخه زيات افغانان شوروي او نورو کمونستي هيوادونو ته استول شوي وو . د يوې بلې احصائيې له مخې له ۱۹۸۰ م تر ۱۹۸٦ م پورې مجموعاً ۱۷ ميليونه کتابونه او درسي مواد په شوروي کې په مختلفو ژبو چاپ شوي وو او افغانستان ته راوړل شول . ښکاره ده چې د غه ټول کتابونه او خپرونې له هغو مطالبو او مفاهيمو څخه ډکې وې چې د افغانستان فرهنګي ودې لپاره شورويانو سپارښتنه کوله .

د شوروي حکومت چې د اقليتونو په چارو کې يې خاصې تجربې درلودې نو په پوځي عملياتو کې يې هم قامي او ژبني مسائيل په نظر کې نيول . مثلاً شورويانو د تاجيکانو او نورو وسله واله قطعاتو په تاديب او تو بيخ کې پښتانه استعمالول او بر عکس پښتانه به يې د اقليتونو پر ضد استول چې په دې ډول د افغاني ټولنې د قامونو ترمنځ د ښمنۍ را پيدا کاندې .

د ببرک کارمل حکومت د پښتو ژبې پر ضد هم يو لړ مستقيم اقدامات ترسره کړل . په لومړي سر کې يې پښتو ټولنه چې د پښتو ژبې دودې او انکشاف په خاطر جوړه شوې وه رنګه کړه او د هغې په ځای ي دژبو او

ادبیاتو مرکز جوړ کړ. له بلې خوا د پښتو ژبې کورسونه هم له منځه یوړل شول د پښتو انکشاف اداره چې دافغانستان د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې وه د کودتا په لومړی کال رنګه شوه. ددولت په خپرونو کې پښتو ژبه دافغانستان د ملي او رسمي ژبې په توګه له خپل پخوانی مقام څخه ولویده او په رسمي خپرونو کې ( رادیو تلویزیون اونورو ) له فارسي وروسته شوه.

همدارنګه د کابل ګوډاګي حکومت په ابتدا کې د سرحدونو د وزارت نوم هم دقامونو او ملیتونو دوزات په نامه واړاوه البته د غه نوم د شوروی د کمیساري هغه نوم ته ورته و چې د ملیتونو لپاره تاکل شوی و. دقامونو او ملیتونو وزارت د کې جي بی او خاد / واد تر کنترول لاندې اداره کیده.

بیا وروسته د ملیتونو وزرات ځانته وزارت شو او د سرحد وزارت نوم دقومونو او قبایلو په وزارت واوښت.

سلطان علی کشتمند د ببرک صدراعظم چې د شورویانو له فرهنګي پالیسي څخه یې کلکه پشتې بانی کوله د هزاره جات لپاره یې داسې یو ډول خود مختاري په لاس راوړه چې له شوروي پوځونو څخه یې په امن کې وساتي او دراتلونکې لپاره یې تقویه او ترې کار واخلي.

په دې منځ کې د ایران اسلامی حکومت ته هم زمینه مساعدیدله چې خپل سیاسي، کلتوري اومذهبی اثر او رسوخ په افغانستان کې ټینګ کاندي. سره له دې چې د ایران د کمونست ګوند ( حزب توده ) یو شمیر فراریان په افغانستان کې اوسیدل او په رادیو تلویزیون او نورو موسساتو

کې یې کار کاوه ، خو د ایران د اسلامي حکومت روابط د افغانستان له گوډاگي حکومت سره ښه او خوشگوار ه وو .

د همداسې یوې فضا له امله و چې انا هیتا راتب زاد د کابل د حکومت وزیرې په تاجیکستان کې په یوه رسمي محفل کې له کمونستورونو څخه غوښتنه وکړه چې « زما هیواد ته کومک وکړئ چې اوس د تاجیکانو له خوا وریاندې حکومت کیږي او اختیار یې له پښتنو څخه اخیستل شوی دی .......... » .

د کارمل حکومت دې موضوع ته هم لاس واچاوه چې د هیواد نوم بدل کاندي په دې برخه کې د باختر او خراسان نوم و نه د پرچمیانو او ستمیانو د مشرانو په خولو کې گرځیدل چې په دې ترتیب د افغانستان نوم هم له منځه یوسي . سره له دې چې په دغې موضوع ډیر کار وشو خو گوډاگي حکومت د اجرئت ونشو کړای چې د افغانستان تاریخي نوم بدل کاندي .

د شوروي په فرهنگې پالیسي کې د افغانستان د ماتولو او ویشلو لپاره پټ پلانونه هم رسوا کیدل . مثلاً د ۱۹۸٦ م په وروستیو وختو کې د مرکزي آسیا د کمونست گوند یو لوړ رتبه هیئت کابل ته راغی چې د افغانستان په سرحدي ولایاتو کې د اقتصادي ، فرهنگې او تجارتي پراختیا مختلفې جنبې وڅیړي ۱۹۸٦ م په نومبر کې د کابل د حکومت له خوا د دغه اعلان خپور شو :

« .......... موږ تصمیم نیولی دی چې د هیواد شمالي برخې د انقلاب ضد له بقایا وو څخه پاکې کړو او د مرکزي آسیا له شوروي جمهوریتونو

سره ګډ اقتصادي روابط او دوروولی همکاري رامنځ ته کړو . موږ به دشمال ولایتونه دبدخشان په ګډون د ترقي او پرمختیا په یوې لوې برخې اوانتر نیشنلستې موډل واړوو ...... ».

له بلې خوا داقلیتونو دنفوس دزیات ښوولو په مقصد ځینې ازبکان او ترکمنان له شوروي جمهوریتونو څخه افغانستان ته راوستل کیدل او د کابل حکومت په بې لارې کوونکو تبلیغاتو داسې ښودله چې په افغانستان کې ګواکې درې میلیونه ازبک او یو میلیون قرغزاو قزاق خلک ژوند کوي . په داسې حال کې چې د دقیقو احصائیو په اساس د ثور له کودتا وړاندې دازبکانو شمیر یوازې یو میلون او قرغزان ۳۰ زره تخمین شوي وو.

دافغانستان دقامونو په مورد کې یو پیا وړي امریکایي لیکوال بروس ریچردسن Bruce Richarason په خپل کتاب کې داسې لیکي :

« ...... دشوروي اتحاد په عمومی ستراتیژي کې دپښتنو دسیمو خالي کول او دافغانستان دقامي جوړښت بدلول پټ کړای شوي وو. دغه هدف دشوروي په سیستم کې له دغه ستراتژیک اهمیت څخه دک هیواد دمنحل کول او شاید په تدریجي توګه د مرکزي آسیا جمهوریتونو پورې دافغانستان دضمیمه کولو په مقصد تعقیبیده ، چې دافغانستان ازبکان ، تاجیکان او ترکمنان له هغوی سره قامی تعلقات لري ، دغه دول یو بدلون بې له شکه داحمد شاه مسعود ترمشری لاندې چې یو تاجیک دی په آسانی سرته رسیدلای شوه . دشپږ میلیونو مهاجرینو له جملې څخه

اکثریت پښتانه دي چې ددوی د مهاجریدو لپاره له ډیر و پلمو څخه کار اخیستل شوی دی . هوایي بمباریو ددوی کلي او بانډې له خاورو سره برابرولې او هیلي کاپترونو ددغو ځایونو خلک د فرار او تیښتې په حال کې وځپل . ددوی کلي او بانډې به دډله ییزو وژلو په مقصد نښه کیدې او په ډول ډول له دښمني ډکو طریقو د سیمو د اوسیدونکو د آواره گۍ لپاره کار اخیستل کیده . د پسو نو او غویو رمې او گلې تباه کیدې . کروندې او فصلونه یې د پخیدو په وخت سوځول کیدل ؛ باغونه او فارمونه یې ویجاړیدل چې مهاجر شوي خلک بیرته ونشي کړای چې وطن ته را ستانه شي . داوبو لگولو ټول سیستم چې دافغانستان کرنه ورته اړه لري تباه کیده او لږ دې امله به د کرنې شنې زمکې په وچو د ښتو تبدیلیدلې .

له جنگ پخوا دافغانستان د مجموعي نفوس له ۱۰ تر ۱۷ فیصده ووژل شو . دافغانستان نفوس د ثور له کودتا څخه وړاندې ۱۵،۵ ملیون ثبت شوی و .

پښتنو ته چې دقامي پاکونې په مقصد تر حملو لاندې نیول کیدل په دواړو کټه گوریو کې ( پخوا او له وطن څخه بهر ) درانه تلفات ورسیدل . دغه ارقام ښیي چې له ۲۵ تر ۳۱ په سلو کې د پښتنو نفوس وژل شوی دی . څرنگه چې ۲/۳ تر ۳/٤ تلفات په ټولو کټه گوریو کې ( دا ډول چې دوژل شوو او تېپیانو شمیر دوطن څخه لرې شمیر سره یو ځای کړای شي ) د پښتنو دي او دغه شمیر د ۸۰ تر ۹۳ فیصده د پښتنو نفوس ښیي . که له ۱۹۹۲ م څخه وروسته وطن ته راستنیدو موضوع منځ ته نه وه راغلې دغې

مسالې په افغانستان کې د پښتنو اکثریت په موثر ډول متفي کاوه او دسیمې زړ کلن هویت او کرکتر به یې بدل کړی وای.........».

## ب : ښوونه او روزنه دسیاسي لوبې وسیله :

د ۱۹۸۰ م په لسیزې کې دافغانستان دښوونې او روزنې چارو سخته صدمه ولیدله او دسیاسی مداخلو له امله تعلیمې سویه په نه اټکلیدونکې اندازې ښکته ولویده . دا تصور نه کیده چې دافغانستان دځوان نسل روزنه به په دې حد د پیښو او حوادثو ښکارشي .

دحکومت مقاماتو له خوا په انقلابی او غیر انقلابی : دحکومت طرفدار او مخالف په نومونو دشاګردانو ویش اختلافات رامنځ ته کول او دهیواد تعلیمي چارې دحکومت د له همدغې پالیسی او اهدافو سره سمې سمبالیدلې . دځوانانو دموکراتیک سازمان دغو اختلافونو ته شدت ورکاوه او دځارندوی مقاماتو هم هغه شاګردان بندیانو چې په هغوی به دحکومت د مخالف تاپه لګیدله او اکثر مواردو کې به یې حقیقت هم نه درلود .

اصلاً د کابل حکومت دشوروي سلاکارانو په لارښوونه دافغانستان دځوان نسل دروزنی لپاره داسې پروګرامونه جوړ کړي و چې ددوی په زعم باید دافغانستان راتلونکي نسل پوه او انقلابی وروزل شي . په دغو تعلیمي پروګرامونو کې پرورشګاه وطن ( دوطن روزنتون ) د پیش آهنګانو سازمان او دځوانانو سازمان هغه تشکیلات وو چې ډیره توجه او لګښت ور باندې کیده .

په پرورشگاه وطن کې واړه کوچنیان ، دوژل شوو منصبدارانو او لادونه او دجګړو په میدان کې پاتې شوي یتیمان روزل کیدل . دغې پرورشگاه ته ځینې نور ماشومان هم داخلیدل او هر کال یو شمیر شوروي ته هم استول کیدل . په ۱۹۸٤ م کې دشوروي اودکابل دحکومت ترمنځ یوه موافقه هم لاس لیک شوه چې دهغې پهٔ اساس په هر کال دوه (۲) زره کوچنیان شوروي ته استول کیدل او شوروي موسساتو به هغوی ته لس کلن بورسونه ورکول . البته له دغو شرایطو سره پرته له حزبي اشخاصو ، نورور خلکو زړه نه ښه کاوه چې ددوی کوچنیان په وړکتوب کې دلسو کلونو تعلیماتو لپاره شوروي ته لاړ شي چې په څرګنده به یې په کړو وړو کې کمونستي افکار تاثیر وکاندي .

په همدې دول دپیش آهنگانو سازمان هم په سیاسی ملحوظاتو کې پیچل شوي و . په دغه سازمان کې به ما شومان له لس کلنی شاملیدل او په زور یا رضا به دغه کار سرته رسیده . په نوموړي سازمان کې به ماشومانو ته داسې ښوونه او روزنه ورکول کیده چې دګوند مشران (مقصد له حاکم ګوند څخه ) له مور او پلار څخه مهم او مستحق دي او شوروي اتحاد ددوی یوازینی دوست او حامي هېواد دی دغه ماشومان به په دې هم مجبور یدل چې دخپلو کورنیو او میلمنو په راشه درشه اود شوروي اتحاد په مقابل کې دهغوی داحساس متعلق خپلو سرګروپانو ته همیشه را پورورکړي او ددوی اداره له دغو مسایلو څخه پوره خبره وي . ددغه ګروپ شاګردان به هم دمنځنی آسیا هیوادونو ته استول کیدل .

همدارنګه دځوانانو دموکراتیک سازمان ته شاګردان له ۱۵ کلنی نیول کیدل؛ ددوی اخبار په کابل چاپیده او په هغه کې به سربیره په نورو موضوعاتو دحاکم ګوند، ځوان قشر او شوروي اتحاد ستاینه کیدله. په مظاهرو او میتینګونو کې به دکابل دحکومت او شوروي اتحاد ملاتړ او ننګه او دمخالفینو غندنه کیده. دهمدې ګروپ شاګردانو ته به دښوونځیو او دولتي ادارو دساتنې چارې هم ورکول کېدې او په ټولنیز چارو کې به یې کوشش کاوه چې په خلکو کې دحکومت ملاتړ زیات کاندي.

دغو مسایلو چې دافغانستان په تعلیمي چارو کې سابقه نه درلوده ښوونې او روزنې ته سیاسي شکل ورکړ هغه هم دحکومت تر امر او نهي لاندې. دغه کار دتعلیمي موسسو کیفیت او مزیت ته سخته صدمه ورسوله.

له بلې خوا دښوونځیو په درسي پروګرامونو کې له ۱۳۵۷ تر ۱۳۶۶ ش پورې درې ځله بدلونو منځ ته راغلل او حکومتي مقاماتو دشوروي اتحاد دتدریسي پروګرامونو په نظر کې نیولو سره دغه بدلونونه پلې کول. یو ځل دتعلیم حد له ۱۲ ټولګې څخه لسم ټولګې پورې راکوز شو او یو شمیر مضامین هم له پروګرام څخه وایستل شول او پر ځای یې بزګري او کارګري ښوونې داخل شولې چې ددوی په اصطلاح ښوونه او روزنه انقلابي کړای شي.

وروسته له یوې مودې چې په شوروي کې دښوونځیو داسې پروګرام بوولسم (۱۱) ټولګې پورې لوړ کړای شول، دکابل واکدارانو هم دشوروي

په تنقلید پروګرام تر یوولسم ټولګي پورې را ټیټ کړ.

ډیر وخت لا نه ؤ تیر شوی چې د ښوونې او روزنې وزارت یو ځل بیا د شوروي د سیستم په تقلید ښوونځی تر ۱۲ م ټولګي پورې بیرته جګ کړل. د غه تغیر او بدلون سر بیره پر دې چې د شاګردانو وخت ضایع کاوه، هغه لګښتونه یې هم بابیزه او بې نتیجې ګرځول چې د درسي موادو په چاپ او برابر ولو کې به لګیدل او د افغانستان غوندې یو بې وزله هیواد ته یې بې ځایه تاوانونه منځ ته راوړل.

څرنګه چې وړاندې اشاره وشوه له ګوندي او غیر ګوندي شاګردانو سره رویه او معامله کې ډیر توپیر و. ګوندي شاګردان به چې د انقلاب د دفاع په نامه عسکري خدمت ته تلل عسکري دوره به یې په تعلیم کې شمیرل کیده او په دې ترتیب د عسکري دورې ترخیص به یې له دپلوم سره یو ځای ترلاسه کاوه. هغه شاګردان چې د طب د پوهنځي په دوهم یا دریم ټولګي کې وود تحصیل له بشپړولو پرته یې مستقیماً د دوکتورې دپلوم تر لاسه کاوه. له بلې خوا د افغانستان په تعلیمي سیستم کې به پخوا اکثراً تحصیلي بورسونه، هغه شاګردانو ته ورکول کیدل چې د پوهې او لیاقت خاوندان به وو، مګر د غه معیارونه له ګوندي او سازماني موضوعاتو سره له منځه ولاړل او د بورسونو په ویش کې ګوندي ملحوظات سخت په نظر کې نیول کیدل.

د دې ترڅنګ اخلاق، ایمانداری او پاک لمن توب ته د زړو عقایدو او بورژوازي فکرونو په نامه په تحقیر او سپکاوي کتل کیدل او سازماني

شاګردانو به نورو ته دغه سپکاوی کاوه .

له دې برسېره د دولتي استخباراتو مربوطو کسانو پرته له دې چې علمي درجه او ډپلوم ولري ، دګوندي يا قامي ونډې او سهميې په نامه د پوهنتون په علمي هيئت کې تاکل کيدل چې ښکاره خبره وه هغوی به علمې او فني چارې يوازې دګوند او سياسي ايدياليوژي له زاويې ليدلې .

د همدغو ملحوظاتو له امله بيطرفه زده کوونکي او محصلين اکثراً ناکام او د ښوونې او روزنې له نعمت څخه بې بهرې کيدل ، په داسې حال کې چې دګوند او سازمان غړی او مربوطين او د تاجرانو ، خانانو او حکومت پورې تړلو ملکانو زامن به له ټولو امتيازونو مستفيد کېدل .

د شاګردانو ناکامي ، بې سرنوشتي او بيکاري له يوې خوا او د تعليمي موسسو په ګوندي او پوليسي مرکزونو اړول له بلې خوا د دې سبب شوي وو چې شاګردان او استادان له هيواد څخه مهاجرت ته مخه کړي . ځکه شاګردان ، استادان ، داکتران ، انجينران او پوهان يا بايد د شورويانو له تعليمي پاليسي سره يو ځای شوي وای او د هغوی ناولي مرامونه يې پر مخ بيولای او يا هم ترې بيل شوي وای چې بيا يې هم له د مهاجرت او کډوالۍ له سخت ژوند څخه بله چاره نه درلوده .

## ج : اردو د خپل ملت په دښمنۍ کې :

د ثور له کودتا سره د افغانستان د ملي اردو شان او حيثيت هم له منځه لاړ او نور هغه وقار او اعتبار ورپاتې نشو چې اردو به د هيواد د تماميت او استقلال ساتونکې او د ملت د عالي ګټو مدافعه کوونکې بلل کيده . پوځ

او پوځیان چې دافغانستان دخلکو داکثریت دهیلو خلاف دیوې پردې او بیګانه ایدیالوژۍ په خدمت کې ودرېدل داکار لومړی په خپله پهاردو کې د اختلافاتو سبب شو او وروسته دخپل ملت پر ضد استعمال شول .له کودتا څخه وړاندې دافغانستان اردو ۹۰ زره نفر اټکل کیده چې د ملی مکلفیت په سیستم به افغانان په ۲۲ کلنۍ کې ددوو کلونو لپاره جلبیدل .

دغه اردو دلویدیځ هیوادونو یو څه پخوانۍ وسلې درلودې خو بیا وروسته تقریباً ټولې وسلې یې دشوروي اتحاد او سوسیالستي هیوادونو څخه پیرودل شوې وې . اردو ، تخمین ۲۰۰ جنګي او پوځي باروړونکې الوتکې او همداراز ټانکونه او توپونــــه درلودل چې څه زاړه او څه نوي له شوروي اتحاد څخه پیرودل شوي وو.

له کودتا دمخه پهاردو کې تر ټولو زیات دخلق دموکراتیک ګوند جالونه غوړولی وو او داردو مهم مقامونه بې په پټه او برالا په لاس کې وو .البته دغه زمینه په دې دغه ګوندته مساعده شوې وه چې دشوروي وسلو داستعمال او زده کړې لپاره افغاني منصبداران شوروي او ختیځ بلاک ته استول کیدل او له دې امله به اکثراً په حزبي او سیاسي چارو کې ګډیدل .

دمحمد داود وروستۍ هلې ځلې چې پهاردو کې یو توازن راولی او افغانی منصبداران پوځې زده کړو لپاره ناپیېلو هیوادونو او لویدیځې اروپا ته واستوی دکودتا درامخ ته کیدو له امله نیمګړې پاتې شوې .

دشوروي اتحاد او ختیځ بلاک تعلیم یافته منصبدارانو او فنی اشخاصو په پرتله – چې پهاردو کې یې حساسې څوکۍ اشغال کړې وې – دلویدیځ

تعلیم یافته گانو او نورو وطنپالونکو انهول هیڅ برابر نه و چې د تخریباتو مخنیوي وکړای شي .

په اردو کې د شوریانو د نفوذ او د خلق د دموکراتیک گوند د فعالیتونو په نتیجه کې د ثور کودتا ترسره شوه . په داسې حال کې چې پرته له یو شمیر محدودو منصبدارانو نورو و نشول کولای د کودتا عواقب درک کاندي او په دې وپوهیږي چې د وطن آینده به څرنگه شي چې دوی د یو سیاسي گوند او ایدیالوژی لپاره د توپونو خولې د خپلو خلکو پر خوا اړوي. له کودتا څخه وروسته په لنډه موده کې د خلق او پرچم اختلافونو په اردو کې یو بل کشمکش راپیدا کړ چې یې په نتیجه کې له اردو څخه د منصبدارانو او افرادو زړه بدوالی او تیښته مخ په زیاتیدو شوه .

سره له دغو مسایلو د ۱۳۵۷ ش د کب د میاشتې په لومړي ورځ د جلال آباد فرقې د حکومت په مقابل کې پاځون وکړ خو له کابل څخه د تازه دم عسکرو او شوروي سلاکارانو په مرسته دغه پاځون وځپل شو .

همدارنگه په همدغې میاشت کې د هرات فرقې پاځون وکړ او پوځیان له خپلو خلکو سره یو ځای شول چې حکومتی طرفدارو پوځیانو ته یې سخت شکست هم ورکړی و ، مگر له شوروي څخه د هوایي ځواک مداخله او له شین ډنډ څخه زمکنۍ قوې مداخلې دغه مقاومت او قیام ناکامه کړ.

د ۱۳۵۸ ش په سنبله کې د اسمار قطعې هم پاځون وکړ او وربسې تو له له مجاهدینو سره یو ځای شوه . تر دې پوځې قطعی د مخه د ۱۳۵۸ ش کال

په اسد کې کې د کابل د بالاحصار پوځې قطعاتو په شورش لاس پورې کړ خو ژر د هوايي او زمکنيو ځواکونو له خوا وتکول شول . په همدې قسم دافغانستان په مرکز او ولاياتو کې د سياسي کش او ګير تر څنګ داردو کشمکش هم روان و .

هغه وخت چې شورويانو په افغانستان پوځې يرغل کاوه ، د شوروي دحکومت مشرتابه له دغې مثالي لويه انديښنه درلوده چې ګويا دافغاني اردو عکس العمل به څرنګه وي ؟ له همدې امله دشوروي پوځي تجاوز پروګرام ډير عميق پراخ او هراړخيز سنجول شوی و چې دشوروی دهوايي او زمکنيو ځواکونو له ډير والی څخه مخالفين مات او مرعوب شي .

دشوريانو له يرغل څخه وروسته اردو له يوې بلې تصيفې سره مخامخ شوه او پرچميانو فرصت پيدا کړ چې خپل رقيب خلقيان او دامين طرفداران او نور ملی دريځه منصبداران په دغه وخت کې له کاره ګوښه کاندي .

دشوروي پوځ له راتګ سره سم دافغاني پوځ ملی د ريځ لا نور هم راټيټ شو او اردو دلاس پوځي حيثيت پيدا کړ . شوروي پوځونو په عملياتو کې افغانی پوځيان په مخ کې استول ، چې په شاتيښته ونشي کړای ، له دې امله دافغانی اردو تلفات تل زياتيدل . په ۱۹۸۲ م کې يو جګړن چې د پکتيا له جنګونو څخه پاکستان ته ... يدلی و ، وويل چې په دغو جګړو کې څه د پاسه ۳ زره افغانی پوځيانو وژل شوي په داسې حال کې چې مجاهدينو ډير لږ تلفات ورکړي وو .

هر څومره چې له افغانی پوځيانو سره دمجاهدينو چال چلن سختيده په

هماغه اندازه له اردو څخه تیښتې امکانات کمیدل ، مثلاً د ۱۹۸۲ م په سپتامبر کې چې مجاهدینو د جلال آباد پر فرقې حمله وکړه او ۷۲ عسکر یې اسیرونیول ، له دې جملې څخه یې ۳۷ نفره په دې اعدام کړل چې ولې یې له دښمن سره همکاري ته ادامه ورکړې وه .

د ۱۹۸۲ م په نومبر کې د سالنگ په پوځي عملیاتو کې یوه لوا له ټولو پوځي وسایطو سره مجاهدینو ته تسلیم شوه . په ۱۹۸۵ کې له اردو څخه ٤۰ نفره لوړ رتبه منصبداران تقاعد او پر ځای یې داسې کسان مقرر شول چې تازه له شوروي څخه راستانه شوي وو.

شوروي پوځ په دغه وخت کې د ۱۹۸۱ م راهیسې د خپلې جنگي پالیسی په اساس دغه مرامونه تعقیبول :

Search and destroy - پیدا کول او له منځه وړل .

Starvation — قحط او فاقه راوستل .

Free fire zones - د آزادانه فیر سیمې ټاکل .

Depopulation Certain areas - د ځینو خاصو سیمو بې نفوسه کول .

د همدغو مرامونو د تحقق په مقصد افغانی اردو د شورویانو تر څنگ ډېل خدمتونه سرته رسول .

په ۱۹۸٦ م کې شوروي او افغانی پوځیانو د پکتیا په ژوره کې د مجاهدینو په یولوی سنگر او روزنځای حمله وکړه چې یو شمیر زیات مجاهدین په کې مړه او ټپیان شول . شوروی پوځونه له دغه ځای څخه ژر په

شا شول او ژوره بيرته د مجاهدينو لاته ورغله . وروسته د ۱۹۸۷ م په نومبر كې لس زرو شوروى او افغاني پوځيانو په خوست باندې له زمكې او هوا څخه عمليات ترسره كړل او مجاهدينو ته يې د سر او مال درانه تاوانونه ورسيدل .

روسي جنرال بوريس گروموف چې د شورويانو د يرغلگر اردو يو فعال منصبدار و په خپل كتاب كې ليكي چې په ۱۹۸۷ م كې د افغانستان تخمين ۸۵ فيصده قلمرو د مجاهدينو په كنترول كې و او د كابل حكومت يوه سيمه په بلې پسې له لاسه وركوله .

كوم وخت چې د شوروي اتحاد مشرتابه په دې فكر كې شو چې له افغانستان څخه د خپلو پوځونو د بيرته ايستلو لپاره لاره اواره كاندي ، نو د كابل د حكومت اردو ته يې زيات سر او صورت وركړ چې د دفاعي طاقت يې غښتلى شي . د يوې احصائيې له مخې په دغه وخت كې افغانى اردو دغه وسايط درلودل :

۱۹۳ جنگي الوتكې ؛ ۷٤ هيلي كوپترونه ؛ SU ٦۰ الوتكې ؛ ۳۰-SU۲۲ الوتكې ، ۱۵ ميگ ۲۳ الوتكې ؛ ۳۰ ميگ ۲۱ الوتكې ، ٤۰ ميگ ۱۷ الوتكې او ٦۰۰ د طيارې ضد توپونه او همدا رنگه يو شمير زيات ټانكونه او زرهي موټرې .

د ۱۹۸۸ م په ۱۲ اگست كې چې شوروي پوځونه له كندز څخه په وتلو وو ، مجاهدينو په ښار حمله وكړه ځينې خلك پكې مړه شول او د ښار دوكانونه او مغازې چور او چپاول شوې . افغاني پوځيانو د شوروي هوايي ځواكونو په مرسته له دريو ورځو وروسته د كندوز ښار بيرته ونيو او

دغه جریان د پوځیانو روحیات قوي کړل .

وروسته د ۱۹۸۹ م په ٦ مارچ چې مجاهدینو په جلال آباد حمله وکړه نو د پخوانیو تجربو په اساس داخل هم افغاني پوځیانو سخت مقاومت وکړ او دهوايي ځواکونو ، سکډ راکټونو او په بې شماره لګښتونو یې مجاهدین په شا وتنبول . البته شوروي پوځي سلاکارانو په دغه جنګ کې زیاته برخه درلوده او مهم رول یې لوباوه .

له بلې خوا په اردو کې د خلقیانو او پرچمیانو رقابت او خصومت بیا هم روان و او د ۱۹۹۰ م په ۵ مارچ کې جنرال شهنواز تني ( خلق ګوند ته مربوط ) د نجیب د حکومت د رنګولو لپاره په کودتا لاس پورې کړ خو بریالي نشو . د دغې ناکامې کودتا په نتیجه کې پرچمیانو یو ځل بیا د خلقیانو په تصفیې لاس پورې کړ او د خلق ګوند تخمین ۳ زره غړي او طرفداران په اردو او ملکي ادارو کې له وظایفو بر طرف شول .

د سیاسي مبصرینو په قول شوروي سفیر یولي ورنڅوف کودتا ته د جنرال تني په لمسولو کې ماهرانه رول درلود ، ځکه غوښتل یې چې په دې ډول د خلق او پرچم ترمنځ اختلافات او تشنجات نور هم زیات کاندي ځو ددوی اړتیا او اتکا پر شوروي اتحاد تر پخوا ډیره شي .

ورنڅوف چې د کابل د حکومت له مخالفینو سره د مستقیمو مذاکرو صلاحیت درلود ، هڅه کوله چې د اردو تر څنګ د ملیشو تشکیلات هم تقویه کاندي . له دې امله قامي ملیشې ، سرحدي ملیشې ، د ځوانانو او ښځو ملیشې جوړې شوې او تر پخوا زیات په وسلو سنبال شوې . دلارو ،

سرکونو ، کلیو او ښارونو دساتنې په چارو کې یې له څارندوی او پوځي قطعاتو سره همکاري کوله . دافغانستان دشمال او هرات ملیشو حتی دشوروي اتحاد له جنوبي سیمو سره همکاري درلود او له پاسپورت او ویزې پرته یې تګ راتګ درلوده. دهمدغو روابطو په اساس شوروي پوځونو دوسلو ګودامونه دشمال دغو ملیشو ته وسپارل چې دکابل له حکومت سره کلکه همکاري وکاندي . یوسیاسي مبصراو څیړونکي .

Youssef Bodansky په دغه اړوند داسې ویلي دي :

« .......... شوروي مقاماتو داشغال له لومړي وختو څخه تخمین شل زره نفر دافغانستان دشمال له خلکو څخه شوروي ته بیولي او ترپوځي ښوونې اوروني لاندې نیولي وو ، چې دیوې احتیاطي قوې په توګه د ۱۹۸۰ م دلسیزې په پای کې چې شورویان له افغانستان څخه وتل (۱۹۸۹ م ) دغه قوه افغانستان ته راوستل شوه چې یو دم دجوزجاني ملیشې په نوم کندهار کې ښکاره شوه او ډیر ژر یې په بې رحمی ؛ قتل او قتال کې شهرت پیداکړ . همدغه ملیشه بیا وروسته دکابل دحکومت دغتې ضربتي قوې په توګه دمخالفینو پرضد هرځای استعمالیدله ... ».

دنجیب الله دحکومت په وروستیو وختو کې دتخمین ٤٠ زره وسله وال پوځ ترخنګ تریو لک نفر ملیشه قواوې هم موجودې وې چې له حکومت څخه یې دفاع کوله .

کوم وخت چې نجیب الله دملګرو ملتونو دسولې پلان ومانه او غوښتل یې له وظیفې ګوښه شي ، داقلیتونو دغې ملیشې او په اردو او دولتي

اډارو کې اقلیتونو ته مربوط خلک اکثراً دده له مخالفینو سره یو ځای شول او دی یې له قدرت څخه وغورځاوه .

د نجیب الله د حکومت له ړنګیدو سره د افغانستان اردو هم مخ په ورانیدو شو او د مجاهدینو لومړنی حکومت له ساده ګۍ او لنډفکرۍ او یا د معرضو ګاونډیانو په دسیسې اردو ته د عمومي بخښنې په نامه رخصت ورکړ چې د هغوی ځایونه مجاهدین ونیسي . البته پوځي منصبداران او افراد چې د شمال له اتحاد سره یو ځای شوي وو د هغوی په خدمت کې پاتې شول .

# نهمه برخه

## په دوو وروستيو لسيزو کې په افغانستان کې دسترو قدرتونو پاليسي

دامريکا متحده ايالات او شوروي اتحاد دنړۍ ددوه سترو سيالو او رقيبو ځواکونو Super Powers په توګه په دوو وروستيو لسيزو کې داسې پاليسي ګانې وړاندې بيولې چې معمولاً په ظاهر کې يې دښو او دوستانه اړيکو غوښتنې ځرګندولې ، خو په باطن او پټه کې يې ديو او بل د کمزورې کولو هڅې نه سپمولې .

شوروي اتحاد چې د ۱۹۷۰ م په لسيزې کې دامريکاله متحده ايالاتو سره دستراتيژيک برابري Stratigic Parity حق په لاس راوړی و ورځ په ورځ يې جرئت او جسارت پيدا کاوه چې په نړيوالو چاروا کې

مستقلانه عمل او ابتکارونه وکاندي .

امـریکـا چې دویتنام دجنګ له شکست ، دایران دپاچاهی رژیم لـه ړنګیدو او په افریقا او لاتین امریکا کې دشورشونو او انقلابونو له امله تدافعي حالت کې لویدلې وه هڅه کوله چې خپل مخکښانه قدرت او موقعیت بیرته تر لاسه کړي. د ۱۹۸۰ م دلسیزي په پیل کې درونالد ریګن حکومت دامریکا په تاریخ کې تر ټولو زیات پوځي لګښتونه وکړل چې ساری یې نه دړلود .

ریګن غوښتل چې امریکا دوسلو جوړولو په مسابقې کې بیرته د مخکښانو دریځ ته ورسوي او له بلې خوا خپل سیال او رقیب شوروي اتحاد ته اقتصادي ستونزې او مشکلات را پیدا کاندي .

د کریملن مشرانو بریژنف ، اندروپف او چرنینکو په ظاهره د دیتانت شعارونه ورکول خو رونالدریګن په دې عقیده و چې له دیتانت څخه یوه طرفه ګټه جوړه شوې او څه چې شورویان غواړي هغه پکې کوي .

ریګن په سپینې ماڼۍ کې په خپل لومړي مطبوعاتي کنفرانس کې دشوروي دمشرانو په تګ لارو دانتقادونو په ترڅ کې وویل :

« ...... شوروي مشرانو دخپل انقلاب له پیل څخه تل په کانګرسونو کې داویلي دي چې ددوی موخه او هدف نړیوال انقلاب او دیوسوسیالست یا کمونست دولت جوړیدو ته ارتقا ورکول دي . دغو هدفونو ته رسیدل ، دامعنی لري چې دوی باید پلمې وکړي ، دروغ ووایي او خلک وغولوي .... ».

دغه دواړه ستر قدرتونو ( امریکا او شوروي ) په سیمه ییزو او بین المللي ستونزو او شخړو کې سربیره په کامیابیو یا ناکامیو ، وړاندې تګونو یا په شاکیدنو ، دغې مسألې ته هم کلکه پاملرنه کوله چې سوړ جنګ په تود جنګ بدل نشي او داتومي خطرناکې وسلې له استعمال څخه تر ممکن حده پورې مخنیوی وشي .

په افغانستان باندې د شوروي اتحاد له پوځي یرغل څخه وروسته د دغو دواړو هیوادونو سیاستونه په بیړه د ساړه جنګ یوې نوې مرحلې ته داخل شول او امریکا د خپلو سیمه ییزو او بین المللی ګټو لپاره دافغانستان دجهاد او ملی مقاومت مرستی ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول لاس وړاندې کړ چې له خپل سیال شوروي ستر قدرت څخه خپل زاړه انتقامونه هم واخیستلای شي .

## الف : په تیرو دوو لسیزو کې دشوروي اتحاد عمومي پالیسی ته یوه لنډه کتنه :

له هغه وخته چې شوروي اتحاد له خپل نړیوال سیال او رقیب دامریکا متحده ایالاتو سره دستراتیژیک برابری حق حاصل کړ ، له کومه وخته چې دویتنام او کمبودیا په جګړو کې دامریکا دسیاستونو دشکست له امله دشوروي اتحاد نړیوال قدرت مخ په زیاتیدو شو ، او له هغه زمانه چې دبریژنف دوکتورین دسرو پوځونو دوړاندی تګ او پراختیا غوښتنی لپاره دفتوی حیثیت پیدا کړ ، نو دشورویانو په چال چلن او له ګاونډیو هیوادونو سره په اړیکو کې ژور بدلون منځ ته راغی چې یې له پخوا څخه ډیر فرق او

توپیر درلود .

دروسی جنرال گروموف دغه وینا چې « دامریکا حکومت دایران دپاچا درژیم له ړنگیدو وروسته په سیمې کې دیو نوي هم پیمان ملګري په لټه کې و مګر دافغانستان داپریل دمیاشتې بدلون وضعه د شوروي په ګټه واړوله » هر چاته داحقیقت روښانه کړ چې شورویانو ولی دغه د ثور (اپریل) بدلون ته بیا دانقلاب رنګ ورکړی و .

دغه بدلون چې د کابل ګوډاګیو حکومتونو دانقلاب ثور په نامه تبلیغاوه په رښتیا سره هغسې چې ګروموف ویلي و و یوازې او ضاع دشورویانو په ګټه اړوله او دهغوی منافع پکې مطرح وونه دافغانستان دخلکو . په دې ډول د ۱۹۷۰ م دلسیزې په پای کې دشوروی اتحاد له خیرې څخه هغه نقاب ولوید چې تخمین ۵۰ کاله یې له افغانستان سره دښه ګاونډیتوب او دیو بل سرحدونو احترام او نه مداخلې په نامه په مخ غوړولی و . شوروي پوځونو په ۲۷ دسامبر ۱۹۷۹ په افغانستان پوځې یرغل وکړ او دخپلې خوښې یو حکومت یې قدرت ته ورساوه .

دشوروي حکومت د دغې پوښتنې په ځواب کې چې ولې یې پوځونه افغانستان ته ننوتلي دي ، په دغه ځواب ټینګار کاوه چې دشوروی پوځي محدود قطعات دافغانستان دحکومت په بلنه هغه هیواد ته تللي او هغه وخت به بیرته وایستل شي چې بهرنی مداخلې پاي ته ورسیږي او دافغانستان حکومت یې دبیرته وتلو غوښتنه وکاندي . دشوروي حکومت دغه ځواب دروسیې دسفیر هغه ځواب ته ورته و چې په ۱۹۲۲م

دافغانستان دحکومت داحتجاج په مقابل کې ورکړی و .

په کابل کې دروسيي سفير Roskolnikov په بخارا باندې دروسی بلشويک پوځونو د تجاوز متعلق د افغانستان دباندنيو چارو وزارت سخت احتجاج ته د ۱۹۲۲ م په ۲۲ فبروري داسې ځواب ورکړي ؤ: « ........ دخيوا او بخارا دخپلواکۍ دموقف په باره کې بايد ووايم :زما حکومت تل دخيوا او بخارا دحکومتونو آزادي ته احترام لري . هغه محدود قطعات چې مورېورې تعلق لري هغه دهغو ضرورتونو په اساس استول شوي دي چې دبخارا حکومت يې غوښتنه کړې وه . په دې موضوع موافقه شوې ده هر وخت چې وغواړي نو زموږ يو عسکر به هم دبخارا خاوره کې باتې نشي. زموږ دوستانه کومکونه په هيڅ ډول دبخارا دمستقل هيواد پرضد مداخله نه ده .که دبخارا حکومت خپله غوښتنه بيرته واخلي او داوښيي چې دوروولي له دغو کومکونو څخه خوشحاله نه دی نو زما هيواد به په بيړه خپل عساکر بېرته وباسي ..... ».

د تاريخ په شهادت دشوروي حکومتونو دغه ټولي وعدې دروغ وختلې او ددوی پوځونه هيڅکله هم له بخارا او خيوا څخه په شانشول . دشوروي دمحدودو قطعاتو جمله دبلشويک له انقلاب څخه را په دې خوا تل دشوري حکومت دمقاماتو له خوا دفريب لپاره استعمال شوې او په همدې سلسله کې دشوروي مشر بريژنف دکمونست گوند ۲٦ کانگرس ته په ۱۹۸۱ م کې داسې وويل :

« په هغو شرايطو کې چې موږ مجبور شوو چې ديو دوست هيواد له خوا

غوښتل شوي پوځي کومک ته مثبت ځواب ووایو . دشوروي د محدودو قطعاتو په مورد کې مونږ تیاریو چې دافغان حکومت له موافقې سره سم یې بیرته وباسو ........ ».

مگر شوروي حکومت هیڅ ثابته نشوه کړای چې کوم حکومت داغوښتنه کړې وه چې اوس یې دبیر ته ایستلو تقاضاو کاندي .

د ۱۹۷۹ م له ۲۷ دسامبر وروسته چې شوروي پوځونو له ځمکې او هوا پر افغانستان تجاوز وکړ او په بیړه یې کابل او نور مهم ښارونه او پوځي قشلې اشغال کړې ؛ دشوروي اتحاد په سیاسي ستراتیژي کې دکابل دحکومت دبنسټ استحکام او په پوځي ستراتیژي کې دافغانستان دخلکو دمقاومت له منځه وړل اساسي هدفونه ښکاریدل ، په داسې حال کې چې دافغانستان خلکو پخوا له دې شوروي اتحاد ته دښه گاونډي په سترگه کتل .

دکابل دحکومت د تقویې لپاره په داخل او خارج کې ډیر فعالیتونه پیل شول . په داخل کې په زور یا په رضا دسیاسي مخالفینو په پیرودلو یا دارولو او تابع کولو ډیرې هڅې پیل شوې ، په خارج کې شوروي او دختیځ بلاک هیوادونو له افغانستان سره نوي اړیکي ټینگ کړل او دشوروي په فشار ډیر نور هیوادونه دې ته تیار شول چې دافغانستان له حکومت سره همکاري وکاندي .

شوروي اتحاد دافغانستان د دوو گاونډیو پاکستان او ایران په مقابل کې مختلف دریځونه ونیول . دایران اسلامي حکومت دې ته تشویقیده

چې دبې طرفي دريځ ونيسي او يا دکابل له حکومت سره چې هغه هم لږ نرلږه دامريکا ضد موقف لري ګډاو مشترک اهداف پيدا کاندي .

دپاکستان حکومت ته له پيل څخه دشوروي حکومت ګواښونه او تهديدونه متوجه شوي وو چې ولې انقلاب ضد ته له هغې لارې مرسته رسيږي . دشورويانو هدف داو ، چې دافغانانو دجهاد دکمزوري کولو لپاره پاکستان او ايران سره بيل وساتي . دشوروي خارجه وزير ګروميکو په نوي دهلي کې پاکستان ته داسې اخطار ورکړ چې که دامپرياليزم ګوډاګې شي نو راتلونکې ژوند به يې په خطر کې وي .

له بلې خوا پاکستان په هوايې تجاوزنو تهديد يده چې دافغانستان په چارو کې له لاس وهنې څخه صرف نظر وکاندي . پاکستاني مقاماتو هرکال دشوروي او افغاني الوتکو سل ګونه هوايي تجاوزونه قيدول او په ۱۹۸٦ م کې پاکستان شکايت وکړ چې ۷۰۰ ځله يې په فضايي قلمرو دشوروي او افغاني هوايي ځواکونو له خوا خلاف ورزي شوې او يو شمير خلک مړه او ټپيان شوي هم دي .

دايران حکومت چې يو ازې تبليغاتي اعتراضونو لاندې راته دشوروي پوځونو له خوا ګواښ او تهديد سره مواجه نشو او نه هم دهغوی په سرحدي سيمو هوايي بمبارد يا مرګ ژوبله منځ ته راغله .

په دغو تاکتيکونو دشوروي اتحاد ظالمو پوځونو چې په اول کې يې شمير ۸۵ زره نفر ويل کيده د افغانستان په مظلومو خلکو هغه بدې ورځې راوستې چې په نتيجې کې يې په لکونو خلک مړه او په ميليونو نور

مهاجرت او کډاولۍ ته مجبور شول . د شوروي بیرحمه قوتونو د دې د جهان خوړونکو مشرانو په هدایت د افغانستان په ځوریدلو ، غمځپلو خلکو په زرهاوو ټنه بمونه په زرگونو د سکد ، اوریگان او لونا خطرناک راکټونه واورول چې له دې لارې د دوی تش په نامه انقلاب ټینګ او د انقلاب ضد له منځه یوسي . شوروي یرغلگرو د کابل گوډاگي حکومت له افرادو سره د افغانستان آبادۍ فارموته ، بندونه ، باغونه او کاریزونه داسې وران ویجاړ کړل چې د چنگیزله یرغل څخه پرته یې ساری نه لیدل کیږي . تر ۱۹۸۵ م پورې د افغانستان جنوب او جنوب لویدیځ سیمې کاملاً له اوسیدونکو څخه خالي شوې او وریسې نورې برخې ترشدید فشار لاندې راغلې .

د دغو مسایلو تر څنګ شورویانو د افغانستان له طبیعي زیرمو څخه د گټې پورته کولو په مقصد بیړني فعالیتونه هم پیل کړي وو ، چې د نفت او گاز زیرمې یې په سرکې راتلې . د افغانستان د نفت او گازله زیرمو څخه چې د افغانستان په شمال کې پرتې دي له پخوا هم شوروي ته صادرات کیدل . په ۱۹۷۹ م کې سربیره په نورو ځایونو د گاز درا ایستلو یو نوی ځای د شبرغان په جرقدوک کې تر استفادې لاندې راغې چې زیرمو یې د شوروي په ٤٥ کیلو متري کې موقعیت درلود . د جرقدوک د گاز په را ایستلو سره د افغانستان د گاز تولیدات دوه برابره شول او ۷۰۰۰۰ ملیون فیت مکعب ته ورسیدل . د دغې ذخیری اټکل پخوا په ۱۹۷۷ م کې ۵۰۰ تریلیون کیوبک فیت شوی و او شورویانو ٦۰ میله یو پایپ لاین له

افغانستان څخه شوروي ته غځولې و ، چې دهغه پواسطه گاز شوروي ته ولیږدول شي . باید زیاته شي چې له پخوا څخه شورویانو دافغانستان دگاز میترونه په شوروي خاوره کې نصب کړي وو . او یوازې شورویانو ، نه افغانانو ته دا صلاحیت و چې هغه کنترول کاندي .

شورویانو اول کې د ۱۰۰۰ کیوبک فیت گاز په مقابل کې افغانستان ته ۱۷ امریکایي سنته بیه ورکول چې بیا دغه بیه په ۱۹۷۶ کې ٤٦ سنتو ته جگه شوه خو دا قیمت دایران دگاز په مقابل کې بیاهم درې چنده ټیټ و .

د ثورله کودتا څخه وړاندې افغانستان ته دکال ٥٤ میلیون ډالر دگاز له مدرکه حسابیدل ( په قرضو کې ) بیا دغه مبلغ په ۷۹-۱۹۷۸ کې ۹۷ میلیون دالرو ته جگ کړای شو .

وروسته چې شورویانو دافغانستان گاز په ( ۲،۲۳ ) ډالر یوزر کیوبک فیت پیروده ، دخپل گاز بیه یې په ۱۹۸۱ م کې ۵،۱۰ ډالره وه . دشورویانو داحصائیې په اساس له ۱۹۷۹ م تر ۱۹۸۱ م پورې شورویانو له افغانستان څخه ۲ ، ۵ ملیارده کیوبک متر گازوارد کړی و چې دیو زر کیوبک متر گاز بیه ٤۸ ډالره تعین شوې وه . په داسې حال کې چې بین المللي قیمتونه دیو زر کیوبک متر گاز لپاره ۱۱٤،۷۸ ډالروته رسیدل .

یوازې په پورته ذکر شوو دوه کلونو کې دقیمتونو دتفاوت له امله دافغانستان خساره ۸ ، ۳۳۵ ملیون ډالره کیدله چې دافغانستان لپاره

لویه خساره وه . په همدغه پرتله دورپسې کلونو دغه تاوان زرهاوو ملیونو ډالروته رسیدلای شي.

شورویانو له ۱۹۸۰ م څخه دافغانستان دگاز ټول کالنی عاید دورورولې مرستو یعنې ، دهغه محدودو قطعاتو دمصرف لپاره گرځول پیل کړل چې دافغانستان دخلکو دملی مقاومت دځپلو لپاره یې استولي وو. په دې حساب شورویانو دافغانانو دقتل کولو پیسې په خپله په افغانانو تادیه کولې .

دبین المللي احصائیو په اساس له شوروي یرغل څخه وروسته هر کال له ۷۰ تر ۱۰۵ میلیارده کیوبک فیت گاز له افغانستان څخه شوروي اتحاد ته وړل کیده .

په همدې ډول ۱۵ میلیون ټنه دنفتو زیرمه چې په آق دریا کې تثبیت شوې وه هم دشوروي مقاماتو له خوا تر استفادې لاندې راغله او دشوروي پوځونو د مصارفو لپاره ورځنې کاراخیستل کیده او یو مقدار شوروي ته هم صادریدل .

له دې کبله په افغانستان کې دشوروي اتحاد دجنگي مصارفو او لگښتونو په باب Yuri Gankovsky دختیځ دمطالعاتو دمرکز غړی چې د ۱۹۸۶ م په نومبر کې دمیخائیل گورباچف په هیئت کې هند ته تللی و ، وویل:

« دافغانستان جنگ شوروي ته یو سنت هم نه تمامیږي موږ هرڅه چې افغانتسان ته لیږو بیرته بې بیه اخلو . افغانستان په شمال کې دگازلویې

زيرمې لري چې هغه موږ ته راکوي . له دې برسيره وچه ميوه ،پنبه او پوستکي هم راليږي ....... ».

د دې ترڅنګ شورويانو د افغانستان د مس او وسپنې له زيرمو څخه هم داستفادې هڅې پر مخ بوتلې ، دلوګر د عينک مس ديوې سروې په اساس ٦ مليون ټنه او دبل راپور له مخې يوولس نيم ميليون ټنه تخمين شوي دي. د همدغو راکړو ورکړو په مقصد شورويانو په ١٩٨٢ م کې د حيرتان پول تکميل کړ چې له ټولو څخه زيات يې د شوروي پوځونو لپاره د جنګې وسايلو په ليږدولو کې کار ورکړی دی .

د شوروي حکومت چې په کلونو کلونو يې دا کوشش کاوه چې دافغانستان اقتصاد په خپل ځان پورې وتړي بالاخره دغه هدف ته ورسيد او د افغانستان په سلو کې ٧٠ تجارت شوروي او نورو سوسيالستي هيوادونو ته اړاو منحصر شو .

له بلې خوا د شوروي حکومت په دروغو او غولونې له ١٩٨١ م څخه دافغانستان دشاو خوا حالاتو د سوله ييز حل موضوع هم پورته کوله په دې شرط چې د کابل حکومت په رسميت وپيژندل شي او د بهرنۍ مداخلې د قطع کيدو ضمانت ورکړ شي .

له بريژنف څخه وروسته د شوروي حکومت مشرانو اندرپف Andropov او چرنينکو Chenenko يو داسې اقدام هم ونه کړ چې د خپل سياسي سلف غلطۍ او تيرو تنې اصلاح کاندي او دافغانستان موضوع افغانانو ته پريږدي او يا يو واقعي سوله ييز حل لپاره قدم وړاندې

کړي.

هماغسې چې بلشویکانو د ځارانو نیول شوي ځایونه خوشې نه کړل او د مرکزي آسیا خلک یې په کمونستي زور او د ټانک او توپ په وسیله مسکو ته تابع کړل؛ د مسکو دغو مشرانو هم د ځار بریژنف تګ لاره پرې نښوده او په افغانستان کې یې قتل او قتال ته ادامه ورکړه.

یوازې میخائیل گوربچف چې د ۱۹۸۵ م په مارچ کې د چرنینکو له مړینې وروسته د شوروي حکومت د مشری مقام ته ورسید، لږتر لږه په دې فکر کې شو چې د افغانستان شخړې ته د حل لاره پیدا کړي.

گوربچف چې په نوو فکرونو او نظریو New Political thinking د شوروي په بهرنی سیاست کې بدلون غوښتنو د ستیراتیژیک برابریو په ځای له امریکا سره اقتصادی پرمختګ او انکشاف ته اولیت ورکړ، چې د شوروی اتحاد اقتصادي زوال ته چې له تاریخې رکود سره مخامخ شوي و د نجات لاره پیدا کړي.

گوربچف د ۱۹۸۶ م په فبروري کې افغانستان له وینو ډک زخم یا ناسور ټپ Bleeding wound په نامه یاد کړ او د شوروي پوځونو د بیرته ایستلو څخه خبرې یې وکړې.

گوربچف بیا د کمونست گوند ۲۷ کانگرس ته په یوې وینا کې وویل: د انقلاب ضد او امپریالیزم افغانستان په ناسور ټپ تبدیل کړی دی.

گوربچف په دې ښه پوهیدلی و چې د افغانستان جنګ او دغه لګښتونو د شوروي اتحاد له پخوا وران اقتصاد لا پسې له ورانۍ او بحران

سره مخامخ کړی دی .

په ۱۹۸٦ م کې ګورباچف د کابل په حکومت او ټګ لاره کې یو لړ بدلونونه راوستل او د ببرک کارمل په ځای چې د شورویانو د یرغل په نتیجه کې په څوکۍ کښېنول شوی و ، ډوکتور نجیب الله د خاد داستخباراتي اداري رئیس د کابل د حکومت د مشرۍ لپاره غوره کړ چې د شوروي له نظریاتو سره سم له مخالفینو سره د روغې جوړې لار ونیسي .

دوکتور نجیب الله چې د مسکو له تجویزونو سره خپل فعالیتونه عیار ول د لومړي قدم په توګه یې د ملي پخلاینې پروګرام اعلان کړ چې له جنوری ۱۹۸۷ م څخه وروباندې عمل پیل شو . د دغه پروګرام مقصد داؤ چې له مخالفینو سره د ثور د انقلاب دارزښتونو په تحفظ قدرت وویشي او د حکومت دریځ غښتلې کاندي .

په دغه ارتباط په نوي اساسي قانون هم کار پیل شو او د ۱۹۸۷ م په نومبر کې دراغوښتل شوې لویې جرګې له خوا تصویب شو .

په دغه اساسي قانون کې سره له دې چې اسلام دافغانستان درسمی دین په توګه تثبیت شوی و ، او د پارلمانی دموکراسی په اساس دګوندو تعدد ، فردی او د نطق او بیان آزادي ګانې پکې قید شوې وې مګر زیات قدرت جمهور رئیس او د پراقتدار ګوند ( دوطن ګوند ) پورې اړه درلوده چې د خلکو د نا امیدی سبب کیده .

همدارنګه په ۱۹۸۸ م په کابل کې د شوروی اتحاد د قدرتمنده لوی سفیر ورنځوف ایران ته سفر وکړ او هلته یې د هزارګانو د حزب وحدت له

مشرانو سره دهزاره جات دخود مختارۍ پر مسالې خبرې وکړې چې که دوی دحکومت له کړنلارو څخه پوره ملاتړ وکاندي .

دشوروی او ایران دهمدغو پټو معاملو او تفاهماتو له امله وو چې دایران حکومت په الوتکو کې بامیان ته کومکونه رسول او نجیب الله دکابل دګوډاګي حکومت مشر ددغه سوال په ځواب کې خبر یالانو ته بې ځوابه و چې څرنګه ایرانی الوتکې په خپل سر په افغانستان کې الوتنې کوي اوحزب وحدت او نوروته کومکونه رسوي. معلومداره چې پوځي کومکونه له تولو لومړی راتلل .

له بل پلوه دګوربچف حکومت له ۱۹۸۷ م څخه دخپلو هوايي قواوو تلفات په افغانستان کې لیدل چې ورځ په ورځ مخ په زیاتیدودي ، نو دې ته حاضر شو چې شوروی پوځونو ته دتیښتې لار پیدا کاندي . دشوروی او امریکا د تفاهماتو او دکابل او پاکستان دحکومتونو دمذاکراتو په نتیجه کې د ۱۹۸۸ م په اپریل کې دژنیو موافقې دپاکستان او افغانستان تر منځ لاس لیک شوې چې دهغو په اساس دشوروي پوځونه په مصوونیت له افغانستان څخه په شا لاړل او دشوروی مشرتابه پوزه په ځای شوه .

سره له دې چې دشوروی یرغلګرو پوځونو په وتلو سره دشوروي اتحاد مستقیمه مداخله په افغانستان کې ختمه شوه خو تر د ۱۹۹۱ م دسامبر پورې دکابل حکومت ته یې هره میاشت د میلیونو دالرو مالي او پوځي مرستې رسولې چې هغه حکومت له بشپړ سقوط څخه وساتي . وروسته بیا چې دکابل دحکومت ړنګیدل حتمي شول نو دشوروی حکومت لاس بیا هم

دکابل دحکومت په بقایا وو او ددوستم او دشمال دنورو ملیشو له طریقه فعال پاتې شو . په دې ترتیب په دوو وروستیو لسیزو کې دشوروی اتحاد پالیسي په افغانستان کې دبدنامی ، ناکامی او سقوط په لور روانه وه چې دهغې له امله نه یوازې داچې مظلوم افغانستان په اور کې وسوځیده ، بلکه دشوروي اتحاد په ظلم او تجاوز جوړه شوې امپراطوري هم داسې ورکه او نابوده شوه چې چا یې تصورهم نشو کولای . که دشوروی اتحاد حکومت دومره ملیاردونه روبل چې دافغانستان دورانی او تباهې لپاره خرڅ کړل او دیوتش په نامه انقلاب لپاره یې دافغانستان مظلوم خلک داور لمبو ته وغورځول ، دافغانستان دترقی او پرمختګ لپاره لګولي وای شاید چې په لس ګونو پروژې وربانديې تکمیل شوې وای او دافغانستان بیچاره خلکو ته به یې ښه ژوند او روزګار برابر کړی وای او په هغه صورت کې به ټول افغانان له شورویانو قلباً ممنون او دهغوی داحسانونو مرهون شوي وای .

## ب : په تیرو دوه لسیزو کې دامریکا عمومي پالیسي ته یوه لنډه کتنه :

دافغانستان په مقابل کې دامریکا عمومي پالیسی د ۱۹۷۰ م په لسیزې کې سړه د ۱۹۸۰ په لسیزې کې توده او د ۱۹۹۰ په لومړیو کلونو کې بیرته په کرختی او بې علاقګی منتج شوې ده .

که دډموکراسی دتجربې په دوران کې افغانستان ته امریکا او لویدیځ هیوادونو لازمې اقتصادي مرستې ورکړې وای یقین دی چې دډموکراسی

دودي او غښتلی توب او دافغانستان دناپییلتوب دساتنی لپاره به یې موثررول لوبولی وای او په دې ترتیب به دشوروي اتحاد دپټولاس وهنو او زیاتیدونکي اقتصادي او سیاسي فشارونو مخنیوی ممکن شوی وای چې ، په وروستیو کلونو کې یې شدت پیدا کړی و .

بیا وروسته چې دمحمد داؤد رژیم دثور په کودتا کې رنګیده په داسې حال کې چې دامریکا خارجه وزیر هنری کیسنجرله کودتا څخه وړاندې په کابل کې په یوې وینا کې دمحمد داؤد دحکومت دریغ دسیمې دثبات لپاره ستایلې هم و ، که دامریکا حکومت یو څه عکس العمل ښکاره کړی وای ( په دغه وخت کې سایرس ونس دامریکا نوي خارجه وزیر په مسکو کې له شوروي مقاماتو سره تجارتی موافقې لاس لیک کولې ) او دافغانستان په آزادۍ او ناپییلتوب دامریکا ټینګار څرګند شوی وای بې له شکه شوروي به داسې بې غمه او بې پروا په افغانستان کې لاس وهنې نه کولې .

وروسې چې شوریانو په افغانستان پوځي یرغل وکړ او امریکا دافغانانو له مقاومت او جهاد څخه دملاتړ لپاره نژدې شوه ، دافغان دغمځپلي ملت له خوا یې هر کلي وشو چې دشوروی ستر قدرت په مقابل کې ورسره مرسته وکاندي .

د ۱۹۹۰م په لومړیو کلونو ( ۱۹۹۲م ) چې دافغانانو جهاد ددیرو سربښندنو او قربانیو او ددوستو هیوادونو په مرسته او ملاتړ دکامیابۍ پړاو ته ورسید او هیله وه چې ژر به یو مشروع او دافغانانو داکثریت دتائید

ور یو حکومت منځ ته راشي او دستړي ستومان افغان ملت د مه به جوړه شي یو ځل بیا د امریکا په پالیسۍ کې بې دلیله سربښت منځ ته راغی چې دهغه له امله دافغانستان غمیزه دساړه جنګ دوروستۍ کشالې په توګه لا ینحل پاتې شوه .

لویدیځ هیوادونو او امریکا هماغسې چې دمحمد داؤد هلوځلو ته چې دافغانستان په اردو کې دشورویانو دنفوذ دکمولو په خاطر پیل کړې وې مرسته ونشوه کړای ، هماغسې یې دشورویانو دپوځي یرغل په مقابل کې هم واحد او متحد عکس العمل ونشو ښودلای .

سره له دې چې جمهور رئیس کارتر دشوروي اتحاد پر ضد یو لړ اقتصادي بندیزونه ولګول خو داروپایې هیوادونو او امریکاتر منځ داختلافونو له امله یې موثر او اغیزمن رول ونشو لوبولای . وروسته بیا امنیتي سلاکار برژنسکي Brezizinski د۱۹۷۹ م په ۳۱ دسامبر په دغې موضوع ټینګار ښکاره کاوه چې که پاکستان باندې تیرې وشي نو واشنګتن به دزور له استعمال څخه کار واخلي .

البته دغسې بیانونو شورویانو لا تشویقول چې په افغانستان کې په خلاص لاس هر څه چې غواړي تر سره کړي . خو کوم وخت چې په ۱۹۸۱ م کې رونالدریګن دجمهوري غوښتونکي ګوند کاندید دامریکا دجمهور رئیس په توګه انتخاب شو دامریکا په خارجي سیاست کې غټ بدلون راغی او امریکایې مقاماتو آماده ګي ښکاره کړه چې دافغانستان له مقاومت څخه به ملاتړ کوي . رونالدریګن په خپلو لومړنیو ویناوو کې

دنکسن ، کسنجراد کارتر پرخارجي پالیسیو انتقادونه وکړل . چې دهغوی سستو او کمزورو دریځونو او په تجارتي معاهدو کې دمسامحه کاریو دغه نتیجه شوه چې دشورویانو پر اختیا غوښتنه دغه بحران منځ ته راوړي .

رونالدریګن دشوروي حکومت دشیطانی امپراطوری په نامه یاد کړ او دشورویانو له پراختیاغوښتنی سره دمقابلې لپاره یې له مجاهدینو او دپاکستان سره د مرستې او تعاون تیاری څرګند کړ .

وروسته بیا دریګن په دوکتورین Reagan Doctrine کې پر دغه اصل تاکید کیده چې امریکا به د آزادۍ هغو مبارزینو ته چې خپلو هیوادونو کې دکمونستي حکومتونو مقابل کې مقاومت کوي مرستې ورسوي . په دې لړکې له افغانستان څخه علاوه نکاراګو ، انګولا ، کمبودیا او ایتوپیا هم راتلل چې دامریکا له خوا ورسره دکومک وعده کیدله . دامریکا مشرانو چې دویتنام دجګړې دترخو خاطرو له امله نه غوښتل په کوم بل ځای کې یې پوځي مقابلې کې پیښه بنده شي نو له دې کبله ، دشوروي اتحاد دپراختیا غوښتنې په مقابل کې یې دوسلو جوړلو مسابقې ته زور ورکاوه او داهغه شي و چې دشورویانو اقتصادي بحران نشو زغملای . له دې امله دشوروي مشرانو پر له پسې ددیتانت د سیاست په اساس دوسلو په کمولو ټینګار کاوه .

دامریکا دکانګرس غړو چې په شدت درونالدریګن له پالیسی ملاتړ کاوه او حتی ځینو محافظه کارانو ټینګار درلود چې باید په افغانستان

کې له فرصت څخه استفاده وشي او شورويانو ته د عبرت درس ورکړل شي.
په دې لړ کې Charles Wilson د کانګرس غړي په ټينګار سره ويل چې « موږ په ويتنام کې ٥٨ زره مړي ورکړي چې روسانو تر اوسه په افغانستان کې نه دي ورکړي ....... ما له ويتنام څخه روحي عقده اخيستې او شورويان يې هم بايد مزه وڅکي ......».
وروسته چې په ١٩٨٤ م کې يو ځل بيا رونالډريګن د امريکا جمهور رئيس وټاکل شو ، د امريکا سياست د شورويانو په مقابل کې له پخوا زيات تند او تيز شو او د شوروي حکومت لپاره يې سخت مشکلات راپيدا کړل.
په ١٩٨٥ م کې چې رونالډريګن او د شوروي نوي مشر ميخائيل ګورباچف په ژنيو کې سره وليدل نو د افغانستان په موضوع د لومړي ځل لپاره په لوړه سطحه خبرې وشوې.
د دې ترڅنګ مجاهدينو ته د امريکا له خوا د امريکايي و سلو استول پيل شول چې د جنګ په اوضاع کې يې لوى بدلون راوست . له ١٩٨٦ م څخه چې امريکا ستينګر راکټونه د مجاهدينو په لاس ورغلل نو د شورويانو د هوايي ځواک فشار مخ په کميدو شو . د ١٩٨٧ م په دسامبر کې ريګن له ګورباچف سره په واشنګټن کې وکتل او د ليدنې په ترڅ کې د ژنيو د مذاکرو او د شوروي عسکرو د وتلو موضوع په جدي توګه مطرح شوه .
په ١٩٨٧ م کې د امريکا کانګرس مجاهدينو ته ٦٦٠ ميليونه ډالره مرسته اعلان کړه او په ١٩٨٨ م کې امريکايي مقاماتو فيصله وکړه چې

هره میاشت به دسل میلیونه ډالرو معادل وسلې او مرستې مجاهدینو ته ورکاندي .

دامریکا ددغو مرستو په مقابل کې شوروي اتحاد دخپلو پوځونو له ایستلو وروسته هره میاشت تخمین درې سوه میلیونه ډالره وسلې او مرستې دکابل حکومت ته ورکولې .

له بل پلوه دامریکا حکومت پاکستان ته داسې پوځي او اقتصادي مرستې ورکړې چې ساری یې نه لیدل کیده . په ۱۹۸۱ م کې پاکستان ته دری نیم ملیارده ډالر پوځي او اقتصادي مرسته ورکړل شوه او ورپسې دریگن دکار په دوهمه دوره (۱۹۸۸م) کې پاکستان ته نور ۱ ،٤ ملیارده ډالره اقتصادي او تسلیحاتي کومکونه ورکړل شول چې د ۱۶ ، F جنگي الوتکو ، نوو میزایلو او توپونو د پاکستان اردو په بې ساري توگه غښتلې کړه .

مجاهدینو ته دامریکا د پوځي مرستو په باره کې باید وویل شي چې دغه مرستې لومړی پاکستان ته ورکول کیدې او بیا د پاکستان د پوځي استخباراتو دادارې ISI له طریقه مجاهدینو ته ویشل کیدې . دغه پروسیجر دافغانانو له غوښتنو سره سم نه و . افغانانو هیله درلوده چې که دغه مرستې دامریکا له خوا مستقیماً وویشل شي هم به دبې ځایه څنډ او هم به دناوړو استفادو مخنیوی ممکن شي . مگر دغې غوښتنې ته کومه پاملرنه ونشوه . په اسلام آباد کې دامریکا لوی سفیر Arnie Raphel یو ځل په ۱۹۸۸ م کې ویلي وو چې « موږ غوښتل هغوته

زيات مرسته ورکړو چې زيات روسان مړه کوي . . . . . . ».

مجاهدينو ته د امريکا له دغو امدادونو څخه د پاکستاني مقاماتو د ناوړه استفادو ډيرې خبرې اوريدل کيدې ، مگر هيڅ يې د مخنيوي لپاره اقدام ونه کړ ويل کيدل چې پاکستانيان خپلې زړې وسلې مجاهدينو ته ورکوي چې هغو مره موثريت نه لري او پر ځای يې امريکايي او اروپايي جديدې وسلې چې مجاهدينو ته رااستول کيږي هغوی يې خپل ځان ته زيرمه کوي او هم ځينې وختونه له همدغه وسلو څخه يوه برخه په بازار کې هم په غټو پيسو پلورل کيږي .

د همدغو مسايلو په ارتباط په ۱۹۸۷ م کې يو امريکايي سازمان Federation American Afghan Action يو مفصل گزارش خپور کړ چې لنډيزيې داسې و :

« . . . . . . . . له هغه يو ميليارد او سل مليونه ډالره مرستې څخه چې د کانگرس له خوا تر ۱۹۸٦ م پورې افغاني مقاومت ته ورکړ شوې وه له ۴۰ څلويښت فيصدو څخه لږه هغوی ته رسيدلې او باقي يې خوړل شوي ده . د دغه سازمان مشرې Andy Eiva وويل چې له دغو پيسو څخه څه د نکاراگوا کانتره ته تللي او په ميليونونو ډالر پاکستاني جنرالانو غبن کړي چې مجاهدينو ته د مرستو په ويشلو گمارل شوي وو. نوموړې زياته کړې چې لږ تر لږه دوه پاکستاني جنرالان په يوه شپه کې په همدغو پيسو ميليونران شول . . . . . » .

د امريکا حکومت چې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو په شا تلل

غوښتل نود دغه هدف لپاره دې ته حاضر شو چې د ژنيو موافقې له شوروي سره لاس ليک کاندي ، مګر په دې موضوع يې له شوروي حکومت سره هيڅ يو تفاهم ونشو کړای چې د افغانستان راتلونکې حکومت دې څرنګه جوړ شي .

د امريکا پوځي مرستو او کومکونو د ۱۹۹۱م تر پايه پورې مجاهدينو ته دوام درلود او بيا يې د امريکا او شوروي په منفي سيمتری سره خاتمه پيدا کړه . په ۱۹۹۱ م کې امريکا د ملګروملتونو د سولې له پلان څخه ملاتړ پيل کړ چې يو نوی موقف بلل کيده .

په ۱۹۹۲ م کې چې د کابل حکومت ړنګ او د مجاهدينو له تشنجه ډکه اداره منځ ته راغله امريکا د بيطرفۍ په نامه ځان ګوښه کړ او ويل يې چې له وسله والو ډلو څخه د هيچا طرفداري نه کوي . د غه دريځ د شورويانو لاس بيا هم په افغانستان کې قوی وساته ، ځکه چې د رباني حکومت يې په رسميت پيژانده او ښه روابط يې سره ساتل . امريکا چې د شورويانو د اشغال په وخت کې د کابل ګوډاګي رژيم سره سياسي روابط ساتل او د مجاهدينو حکومت يې په رسميت نه پيژانده په دغې مرحلې کې يو مبهم دريځ نيولی و .

# لسمه برخه

# دژنیو موافقې او شوروي پوځونو پـه شاتگ

## الف : دژنیو موافقې د ۱۹۸۸ م اپریل :

کوم وخت چې دشوروي حکومتی دملگرو ملتونو دامنیت دشوري د ۱۹۸۰ م ۸ جنوری، فیصله - چې شوروي پوځونه دې ژر له افغانستان څخه ووزې - ویتو کړه نو دملگرو ملتونو عمومي تولنې د ۱۹۸۱ م دنوامبر په ۱۸ دخپلو وړاندینیو فیصلو په تعقیب دافغانستان اشغال وغانده او عمومی منشي ته یې داصلاحیت ورکړ چې دافغانستان قضیې ته سیاسي حل راپیدا کاندي . ددغې فیصلې په اساس له جون ۱۹۸۲ م

ځخه د ملګرو ملتونو د موسسې له خوا د افغانستان د مسئالی سوله ییز حل لپاره یو لړ خاص فعالیتونه پیل شول.

د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنی پورتنې فیصلې څلور اساسي فقرې درلودلې په دې ترتیب چې :

۱- د افغانستان حاکمیت ، ځمکنی تمامیت ، سیاسی خپلواکي او دنا پیلیتوب کرکتر ساتل .

۲- د افغانستان د خلکو د غه حق ته احترام چې خپل حکومت په خپله جوړ کاندي او خپل سیاسي اقتصادي او ټولنیز سیستم پرته له بهرنۍ مداخلې ، خوف او تهدید ځخه وټاکی .

۳- له افغانستان ځخه د بهرنیو پوځونو په فوري توګه بیرته وتل .

٤- د داسې شرایطو منځ ته راتګ چې د افغانی کډوال پدې بریالی شي په خپله رضا په امن او احترام خپلو کورونو ته ستانه شي .

د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د غه غوښتنې هر کال تکراریدې مګر کوم عملی وړاندې تګ یې په دې نشو کولای چې د شوروي نماینده په امنیت شوری کې د دغې پر ضد موقف نیوه او نه یې غوښتل چې د افغانستان مسأله د ملګرو ملتونو له لارې حل شي .

له بلې خوا شوروي حکومت د کابل له ګوډاګي حکومت سره یو ځای له ۱۹۸۱ م ځخه د افغانستان د شا او خوا د اوضاع په نامه د سوله ییز حل لپاره داسې شرایط هم وړاندې کول چې د کابل حکومت دې په رسمیت وپیژندل شي او په افغانستان کې دې بهرنۍ مداخلې د بندیدو ضمانت ورکړ شي .

خو څرنګه چې دافغانستان دخلکو مقاومت او سرښندنو دوام پیدا کړ او دشورویانو تلفات مخ په زیاتیدو شول هغه هم دیو کوچني او مظلوم ملت له خوا نو دسوله ییز حل غوښتني دشورویانو او ددوی د ګوډاګیانو له خوا زیاتې شوې .

میخائیل ګوربچف دشوروي نوی مشر چې دخپل هیواد دزاړه ظالمانه سیستم نړیدل یې احساس کړي وو نو له ټولو لومړی یې داکوشش پیل کړ چې خپل پوځونه له افغانستان څخه بیرته وکاږي ، خپل لګښتونه کم کړي او دغربي نړۍ په مرستو دخپل هیواد وروست شوی اقتصادي ماشین ترمیم کاندي .

له همدې امله شورویانو دملګرو ملتونو د هیئت له هلو ځلو سره علاقه وښودله چې دافغانستان دمسالې دسیاسي حل لپاره یې پیل کړې وي .
امریکائیانو هم چې دشورویانو تلاش ولید دملګرو ملتونو له کوششونو څخه یې خپل ملاتړ څرګند کړ .

په دې ډول دملګرو ملتونو خاص هیئت سیمې ته متواتر او پرله پسې سفرونه وکړل چې دافغانستان او پاکستان او د نورو ذید خلو هیوادونو نظریات راټول کاندي .

دشوروي حکومت دې ته زیات اندیښمن و چې دشوروي پوځونو له وتلو څخه وروسته به څه ډول حکومت په افغانستان کې په ځای پاتې شي ؟ مسکو دې خبرې ته هم خپله آماده ګې ښودله چې دخلق دمرکراتیک ګوند له حکومت څخه پرته به بل حکومت هم قبول کاندي خو که بیطرفه وي .

له همدی امله دفنلند او اطریش د بیطرفی شکلونه په مطبوعاتو کې
څرگندېدل . په دې ارتباط د شوروي مقاماتو ظاهراً دافغانستان له
پخواني پاچا محمد ظاهر شاه سره هم په ایتالیې کې رابطې ایجاد کړې
وې چې که هغه افغانستان ته ستون شي او یو بیطرفه حکومت جوړ کاندي
. ویل کیدل چې شوروي مقاماتو د ملگرو ملتونو خاص استازي دیگو کور
دویز دې ته تشویقا وه چې که له ظاهر شاه او ضیا الحق سره د غه مسایل
مطرح کاندي . ضیا الحق هم د ظاهرشاه له راستنیدو سره خوش بیني پیدا
کړې وه .

د پاکستان حکومت دیو د غسې بیطرف حکومت د جوړیدو لپاره
د شورویانو د غوښتنو په ځواب کې ویلې وو چې بهتره به وي چې
د مجاهدینو له مشرانو سره مخامخ خبرې وکاندي ، مگر د شوروي حکومت
نه غوښتل چې د مجاهدینو له مشرانو سره مستقیم تماس ونیسي .

جنرال ضیا الحق له پیل څخه دې ته علاقمند وُ چې که په کابل کې
د دوی دوست حکومت جوړ شي . وروسته بیا چې د ضیا الحق له تگ لارې
سره عامه نا رضایتي او بین المللی فشارونه زیات شول د پاکستان په دریځ
کې هم نرمښت راغی او جنرال ضیا الحق د ۱۹۸۷ م په نوامبر کې
خبریالانو ته وویل چې په افغانستان کې هر مؤقتی حکومت باید له درې
عناصرو ( مجاهدین ، مهاجرین ، او د کابل د حکومت اړخ ) له اعتماد او
همکارۍ څخه برخوردار وي . جنرال ضیا الحق داسې ښودل چې په موقتي
حکومت کې به د خلق د موکرتیک گوند ته مربوط کسان دریمه برخه

ځوکې ولري . مګر ددغو نظريو دعملي کيدو لپاره جديت او حقيقت نه ليدل کيده .

په امريکا او پاکستان کې محافظه کار سياست پوهانو په دې عقيده وو چې دشوروي پوځونو له بيرته وتلو څخه وروسته به دکابل حکومت په څو مياشتو کې نسکور شي . نو له دې امله دتنظيمونو مشرانو همدا غوښتنه پرله پسې تکرار وله چې دشوروي پوځونه دې بې له قيد او شرط څخه ووزي او دکابل حکومت دې قدرت پريږدي او مجاهدينو ته دې تسليم شي .

له بلې خوا دشوروي حکومت چې دجنګ له لګښتونو څخه سخت نارامه و ديوې چټکې مفاهمې غوښتنه کوله ، ګورباچف د ۱۹۸۸ م په ۸ فبرورۍ کې دا اعلان وکړ چې که دقدرت دويشلو لپاره دافغانانو مذاکرې نتيجه ورکړي او که نه شوروي حاضر دی په ژنيو کې مذاکروته کښينې او موافقې لاس ليک کړي چې دهغو په اساس به د ۱۹۸۸ م په ۱۵ مئې کې له افغانستان څخه دشوروي پوځونو بيرته ستنيدل پيل شي .

دشوروي دمشر ددغې وينا په مقابل کې جنرال ضياء الحق انديښمن شوی و چې شايد دنجيب حکومت به په کافي اندازې قوي شوی وي . چې دهغه له پاتې لاړ کيدو سره به دمهاجرينو جنجالونه دحل لار پيدا نه کړي او مهاجرين به بيرته لاړ نشي نو ځکه پاکستان ديو عاجل تصميم له وجې اعلان وکړ چې دنجيب له حکومت سره به موافقې لاس ليک نه کاندي .

وروسته بيا چې دامريکا دخارجه وزارت معين Michael .H.

Armacost اسلام آباد ته لاړ ، نو دجنرال ضیا الحق په دریځ کې بدلون راغی او دې ته حاضر شو چې دنجیب له حکومت سره موافقې لاس لیک کاندي .

دژنیو دغې موافقې د ۱۹۸۸ م په ۱٤ اپریل کې دملګرو ملتونو تر سر پرستۍ لاندې پاکستان او افغانستان دخارجه وزیرانو له خوا لاس لیک شوې چې په هغو کې دغه ژمنې او تعهدونه شوي وو چې دشوروي وسله وال پوځونه به په نه میاشتو کې له افغانستان څخه په شا کیږي ، پاکستان او افغانستان به دیو بل په کورنیو چاروکې مداخله نه کوي ، پاکستان به په خپله خاوره کې دقامي نژادي او سیاسي ډلو او افرادو له تمرین او تسلیح څخه مخنیوی کوي او مهاجرین کولای شي په خپله خوښه او رضا خپل وطن ته ستانه شي .

ددغو موافقوتر څنګ یوه ځانګړې اعلامیه دامریکا دخارجه وزیر George Shultz او دشوروي اتحاد خارجه وزیر E. Shevardnadze له خوا هم لاس لیک شوه چې دضمانت کوونکو هیوادونو په توګه دموافقو تطبیق او عملي کیدل موثر کړي .

په پیښور کې افغاني جهادي مشرانو مختلف عکس العملونه وښودل . اعتدالي تنظیمونو دغه موافقې وستایلې چې د شوروي پوځونو شاتګ ته یې لاره برابروله خو رديکال اسلامي مشرانو موافقې وغندلې او دهغو پر ضدیې دریځ ونیو .

محمد خان جونیجو دپاکستان صدراعظم له موافقو څخه دملاتړ او

هر کلي په ترڅ کې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو په شا وتل دامپرياليزم د انجام په توګه وستايل .

په همدې ډول Sir Geoffery Howe د برېتانيې خارجه وزير وويل چې دغې موافقې به ټولو افغانانو ته لاره خلاصه کاندي چې يو سوله ييز او جامع حل ته سره ورسيږي .

د امريکا په سنا کې سناتور Peck,s او سناتور Humphrey چې د افغانستان د جهاد له پلويانو څخه وو د ژنيو په موافقو خپل خپګان څرګند کړ او هغه يې د مجاهدينو له خرڅولو ( پلورلو ) سره برابر وګڼل .

د ژنيو د موافقو له لاس ليک څخه وروسته د امريکا د بهرنيو چارو وزير Goerge Shultz وويل چې امريکا قصد نه لري چې خپل کومکونه افغاني مقاومت ته ودروي ، بلکه دا کومکونه به تر هغو پورې دوام ولري چې شورويان د کابل حکومت ته وسلې ليږي يعنې تر هغه وخته چې شورويان د کابل حکومت ته وسلې ورکوي ، موږ هم د مقاومت ډلو ته وسلې ورکوو.

شوروي حکومت په اول کې په متقابل ډول د وسلو د مرستو بندول يا Symmetrical cessation of Military supplies په دې دليل رد ول چې شوروي د ۱۹۲۱ م د تړون په اساس مجبوريت لري چې افغانستان ته وسلې ورکړي . اما بيا وروسته شورويانو خپل دريځ بدل کړ او د ۱۹۸۸ م په اپريل کې په پټه مثبه سمتري Positive Symmetry

قبوله کړه چې دهغې په اساس امریکا او شوروي دواړو جګړه مارو یا متحاربو ډلو ته دوسلو لیږل ومنل .

باید زیاته شي چې دغه موافقې چې ددواړه سترو قدرتونو ترمنځ له بی اعتمادۍ او بې باورۍ نه په ډکه فضا کې منځ ته راغلې وې په یو بل ډول یې دجنګ دوام ښودنه دسولې راوستل په دغو موافقو کې نه دافغانستان مستحق نمایندګان موجود وو اونه هم دجهادي ډلو استازی او کسان . فقط دکابل دګوډاګی حکومت چې دهغه پر ضد دملت پاڅون او جهاد روان و او پاکستان دحکومت نمایندګان وو اوبس . ددغو موافقو له نورو عمده کمبوتیو څخه داابهام هم وو چې شوروي پوځونه څومره راغلي وو او څومره اوس بیرته ایستل کیږي ؟ ځکه ددوی اصلی شمیر هیڅ وخت معلومت شوی نه و . بل داچې ملکي اشخاص ، لکه د KGB افراد دسرحدی ګاردسپاهیان چې دکابل دحکومت ساتنه یې کوله دوتلو په پلان کې شامل و او که نه ؟ همدارنګه دشوروی سلاکارانو په باره کې هم څه نه وویل شوي چې په زرګونو کسان په افغانستان کې اوسیدل . ددې ترڅنګ دیو شمیر بلغاریایي . کیوبایی او دختیځ آلمان او نورو کمونستی هیوادونو دپوځیانو په باره کې چې افغانستان ته استول شوی وو او دهند حکومت چې د ۱۹۸۵ م دمعاهدې په اساس یې افغانستان ته پیلوټان آماده کول هم سکوت اختیار شوی و .

ترټولو زیاته داندیښنې خبره داوه چې دپوځیانو دوتلو طرزالعمل هم معلوم نه و او هیڅ دا مساله نشو تائیدولای چې څومره پوځیانو په کومو

لارو ووتل . يوازې د ملگرو ملتونو څو کسه شاهدان په کابل او اسلام آباد کې ناست وو چې شکايتونه يې ثبتول .

له بلې خوا د هغو پوځي مرکزونو په باره کې چې شورويانو په مختلفو جنگي وسايلو سنبال کړي وو او د هغو پوځې سازاو سامان او دوسلو د زيرمو په باره کې چې په زرهاو وتنه وسلې پکې ځای په ځای شوې وې هيڅ نه وو ذکر شـــــوي چې آيا هغه هم بيرته ايستل کيږي ، حريق کيږي او يا څنگه ؟ .

د يو سياسي مبصر په قول گورباچف چې د ژنيو د موافقو په اساس خپل پوځونه له افغانستان څخه ايستل د شوروی اتحاد داوږدې مودې گټې په نظر کې نيولې وې ځکه يې د ملي پخلاينې له سياست څخه ملاتړ کاوه او د کابل حکومت ته دا توصيه کيدله چې خپل سياسي او استخباراتي کارونه ( خاد / واد ) تر زمکې لاندې پر مخ بوسي او د خلکو په منځ کې تيت او پټ فعاليتونه وکاندي .

داښکاره خبره ده چې د ژنيو د موافقو لويه گټه شورويانو ته ورسيده او د هغوی ظالم او متجاوز پوځونه د ملگرو ملتونو تر سر پرستۍ لاندې په آرامۍ له افغانستان څخه په شا ووتل . د گورباچف د غه اقدام په دنيا کې د شورويانو د تجاوز او تيري د هيريدلو لپاره زمينه برابره کړه او په عين حال کې يې د شوروي مشر تابه ته د سوله غوښتونکې شهرت ورکړ . د گورباچف نړيوال نوم او شهرت جگ شو او د مجاهدينو پر ضد پروپاگندونو لمن پيدا کړه چې په هغو کې په ضديت بنسټ پالنې او تعصب تورنيدل .

همدا دول گوربچف په دې برياليې شو چې دشوروي اتحاد سياسي او اقتصادي روابط له امريکا او اروپا سره ښه کاندي او دخپل هيواد وران اقتصاد ته دنجات لاره پيدا کړي . له چين سره هم دشوروي اتحاد اړيکې چې په افغانستان کې دشوروي پوځونو دموجوديت له امله خرابې شوې وې مخ په ښه کيدو شول .

## ب : دشوروي پوځونو په شاتګ :

دشوروي حکومت چې دژنيو دموافقو په اساس فرصت پيدا کړی و خو خپل پوځونه له افغانستان څخه په شا کړي . په ډيره بيړه يې دخپلو پوځيانو د ليږدولو کار د ۱۹۸۸ م په مئي کې پيل کړ چې يې له ټاکل شوي پروګرام سره سم له افغانستان څخه بير ته وباسي .

دشوروي مشران چې په ۱۹ پيړۍ کې له کابل څخه دانګريزي استعماري پوځ له غم لړلي شکست او شاتګ څخه خبر وو په دې خوف او انديښنه کې لويدلي وو چې مبادا شوروي پوځونه هم پداسې بدسر نوشت ګرفتار شي . د دافغانستان انګليس ، په لومړي جنګ کې ( ۱۸٤۲ ) له ۱٦ زره انګريزي پوځ څخه يوازې داکتر برايدن ژوندې تللی او نور ټول له تيغه تير شوي وو . دافغانانو او انګريزانو په دوهم جنګ ( ۱۹۷۹ ) کې هم انګريزي پوځونو دميوند په تاريخي جنګ کې له ماتې خوړلو وروسته ، له کندهار څخه دهند په خوا شکست او تيښتې ته مجبور شوي وو .

شوروي جنرالانو دهرات - تورغونډۍ له لارې دوتلو مشکلات نه حس کول ، مګر ددوی زياته انديښنه دسالنګ حيرتان له لارې وه چې له

سختو غرونو او رغونو تیریده او دبرید او حملی امکانات په کې ډیر لیدل کیدل . په دې اساس شوروي جنرالانو له ځینو محلي جهادي قوماندانانو سره یو لړ پټې مذاکرې او موافقې هم وکړې چې شوروي پوځونه په مصوونیت له افغانستان څخه خارج کړای شي .

څه وخت چې شوروي یرغلگر پوځونو له افغانستان څخه په شاتگ پیل وکړ نو ددوی دوروستی قافلې عسکر جنرال بوریس گروموف و ، چې د ۱۹۸۹م په ۱۵ فبروری دحیرتان له پله څخه په شرمنده گي او کوزسرووت او هلته دهغو شوروي کورنیو سره مخامخ شو چې دسرحد په څنگ کې دخپلو هغو زامنو احوال ته منتظر وو چې دافغانستان جنگ ته استول شوي وو او هیڅ خبر او احوال یې ورته نه وراغلی .

له بلې خوا دکابل گوډاگي حکومت د ۱۹۸۹م په فبروری کې دشوروی پوځونو دشاتگ له ختمیدو سره جوخت اضطراری حالت اعلان کړ چې دهغه په اساس دحکومت ځای یوې شل کسیزې پوځې شوري ونیو . داضطراری حالت له مقرراتو سره سم دامنیتي قواوو له خوا په سلگونو کسان داحتمالی مخالفینو او دمجاهدینو دپلویانو په تور بندیان شول او کابل ته دخلکو او نقلیه وسایطو په تگ راتگ سخت کنترول ولگید .

دلویدیځ نړۍ دڅیړونکو په عقیده دشوروي پوځونو له وتلو څخه وروسته دکابل حکومت وسله وال قطعات داسې اتکل شوي وو ۴۰ زره عسکر و تر ۲۰ زرو پورې خاص گارد ، ۳۵ زره دشوریانو له خوا روزل شوی څارندوی ، تخمین سل زره ملیشه او دخاد قوه . دخاد دقوی اصلي

شمیر معلوم نه و څکه خاد د ۱۵۰۰ تنو KGB افسرانو له خوا اداره او روزل کیده . په ۱۹۸۸ م کې یوازې دخاد بودجه د ۱۶۰ میلیون ډالرو معادل ښودل شوې وه چې ډیر لوړ مصرف ګڼل کیده . د یوې بلې احصائیې له مخې د کابل د حکومت وسله وال پوځیان ۱۶۵ زره ، د داخله وزارت قوه ۹۷ زره او د خاد / واد قوه کې یې ۵۷ زره کسان شامل وو.

له دې نه علاوه د کابل حکومت ته د شوروي پوځونو له میراث څخه زیاتي وسلې د سکډ Scud او لونا Luna خطرناک راکټونه ورپاتې شوي وو او تر ۳۰۰ فعالې پوځي الوتکې یې هم درلودې چې کولای یې شول خپل حکومت کلک وساتي . د کابل ګوډاګي حکومت د پوځي تاکتیکونو په اساس خپل وسله وال قوتونه یوازې په ښارونو او دولایتو په مرکزونو کې راجمع کړي وو او لرې پرتې سیمې یې عمدتاً خوشې کړې وې څو د مجاهدینو له خوا اشغال شي.

دغه تاکتیک د مجاهدینو ډلو ته داسې کاذب امیدونه پیدا کړي وو چې ګواکې د کابل حکومت کمزوری شوی او ډیر ځایونه یې خوشې کړي نو له دې امله به شاید لوی ښارونه هم په آسانۍ سقوط وکړي چې واقعیت داسې نه و. له بلې خوا د ۱۹۸۸ م په اپریل کې اسلام آباد ته نژدې د Ojheri د سیمې په یوې پوځي ډیپو کې لویه چاودنه وشوه چې په هغې کې د تخمین ۸۰ میلیون ډالرو وسله او پوځي سامان چې مجاهدینو ته زیرمه شوی و ټول له منځه ولاړ . پاکستاني مقاماتو په دغې پیښې کې د خاد /واد لاس داخل ګانه خو بیا وروسته په ISI باندې هم الزام لګیده

چې دامریکایي هیئت له هغې پلټنې څخه ځان وژغوري چې دستنګرراکټونو دشمیرلو پر کار بوخت وو. هغه وخت دستنګر راکټونو دپلورلو او تروررستې ډلو ته دهغو د رسیدلو په باب ډیر مسایل اخبارونو کې چاپ شوي وو. په هر حال که دغه وسله دمجاهدینو لاس ته ورغلې وای نو یقیناً به دشوروي پوځیانو دوتلو مساله له سختو مشکلاتو سره مخامخ شوې وه.

دشوروي حکومت دخپلو پوځیانو دمصوون شاته کیدو په خاطر د ۱۹۸۸ م په ۲۸ نوامبر یولی ورنځوف دشوروی دخارجه چارو دوزارت معین اسلام آباد ته واستاوه چې دمجاهدینو له مشرانو سره مخامخ خبرې وکاندي. بیا وروسته د ۱۹۸۸ م په ۳ او ٤ دسامبر دعربستان په طایف کې دورنځوف او دمجاهدینو داستازو تر منځ هم مذاکرې وشوې او مجاهدینو موافقه وکړه چې دشوروي پوځونو ته به په امنیت او مصئونیت دخروج اجازه ورکړي. خو که په تاکلې موده کې له افغانستان څخه خارج شي.

په دغه اساس د ۱۹۸۹ م په ۱۵ فبروري دشوروي حکومت په قول دهغه هیواد زمکنی او هوایي پوځونه له افغانستان څخه وایستل شول چې له ۲۷ دسامبر ۱۹۷۹ م څخه دغه هیواد ته استولی شوی و. جنرال بوریس ګروموف په خپل کتاب کې دغه اعتراف کړی دی چې زموږ جنګ افغانستان کې د ۱۹۸۹ م په ۱۵ فبروري پای ته ورسید خوله دې نه ډیر وړاندې دشوروي دپوځونو شکست او دجنګ دبایللو خبرې پورته شوې

وي . جنرال گروموف دشوروي پوځيانو دشمير متعلق زياتوی چې په نه (۹) کلونو کې د شوروی سرو پوځونو (۵) لکه افراد او منصبداران افغانستان ته راغلل او په شوروی پوځې يو نتمونو کې يې وظايف سرته ورسول .

دشوروی سرو پوځونو چې په اويا ۷۰ کاله کمونستي نظام کې دنه ماتيدونکو ځواکونو په توگه شهرت او اعتبار گټلی وو ، په افغانستان کې له داسې رسوايي او تاريخې شکست سره مخامخ شول چې ساری او مثال يې نه ليدل کيده . همدغو پوځونو چې دشوروی دمشرانو په وينا دافغانستان دخلکو دفاع ته استول شوی وو ، تر بل هر متجاوز پوځ څخه زيات دافغانستان مظلوم او بيگناه خلک په مرگ ژوبله غم او مصيبت اخته کړل او په ميليونو نوريې دکډوالی او مهاجرت له غمه دک ژوندته مجبور کړل .

دبين المللی سنجشونو او اټکلونو له مخې د ۱۹۷۹ م له ۲۷ دسامبر د ۱۹۹۱م تر دسامبر پورې څه کم ۱/۵ مليون افغانان وژل شوي وو او له يو ميليون څخه زيات بی لاس او پښو ، معيوب او ټپيان شوي وو . تخمين ٦ ميليونه افغانان خارجي هيوادونو ته مهاجر او تقريباً ۲ ميليونه نور په وطن کې دننه دبد بختی او کډوالی په ژوند اخته شول .

دباوري سرچينو په قول دشورويانو دپوځي اشغال په وخت کې څه کم (۱۱٤۱۸) کلي يا بيخي وران يا نيمايي تخريب شول او تر (۱۰٤۵۲۱۲) کورونه له منځه ولاړل . همدارنگه ۳۳٦۱ ښوونځې هم

وران او په کنډوالو بدل شوي دي .

له بلې خوا څخه د پاسه ( ۱۱۱٤۰۰۰۰ ) پسونه او وزې ، ( ٤۱۸۱۰۰۰ ) د قره قل پسونه ( ۱۷۳۹۰۰ ) غوايي او ( ۱۷۸۰۰۰ ) آسونه هم د دغو جنګ جګړو له امله له منځه تللي دي .

سربيره پر دې د شورويانو او د کابل د ګوډاګي حکومتونو له خوا په افغانستان کې لږ تر لږه تر ۲۰ میلیونو پورې مختلف ماینونه ښخ او ځای پر ځای شوي دي چې هره ورځ په لس ګونو کسان بې لاس او پښو کوي او د مرګ کندې ته يې غورځوي .

په دغه کور ورانوونکې او تباه کوونکې جنګ کې د شوروي يرغلګر پوځونو ته هم د سر او مال درانه تاوانونه ورسيدل ، چې اصلي حساب يوازې په خپله شورويانو ته معلوم دی او بس . شورويانو په لومړيو وختو کې خپل مړي شوروي ته استول خو کله چې هلته هم د خلکو مخالفتونه او عکس العملونه مخ په زياتيدو شول نو بيا شوروی مقاماتو خپل چلن بدل کې او چا ته نه معلوميدل چې شورويان خپل مړي څه کوي .

دژنيو د موافقو له لاس ليک وروسته شورويانو له خپل مصلحت سره سم خپل ځانی تلفات يوازې ( ۱۳۳۱۰ ) تنه مړه او ۳٥٤۷۸ نفره زخمي او ۳۱۱ کسه ورک وښودل چې د سياسي مبصرينو په قول له واقعي شمير څخه ډير لږ معلوميدل .

د پوځي او سياسي څيړونکو له نظره د امريکا متحده ايالاتو له ۱۹٦۲م تر ۱۹۷۳ م پورې د ويتنام په جنګ کې ( ٥۸۱۳٥ ) تنه مړه او

( ۱۵۳۳۰۲ ) نفر زخميان ورکړي وو .

څرنګه چې دسر و پوځونو دجنايا تو له امله په خپله شوروي اتحاد کې هم اعتراضونه او عکس العملونه منځ ته راغلل او د شوروي مشهور سياسي ناراضي او انسان دوست شخصيت سخاروف د غه جنايتونه غندل او طرفدارانو يې هم په دې لاره کې فعاليت کاوه نو له دې امله د ۱۹۸۹م په اکتوبر کې د شوروي خارجه وزير E. Shevardnadze ادوارد شوردنازې داسې اعتراف وکاوه :

۱ - .... موږ دانساني عامه ارزښتونو خلاف افغانستان ته لاړو او له مدني او قانوني معيارونو څخه موسختې سرغړونې وکړلې .... ».

همدارنګه شواردنازې د ۱۹۹۰ م په جون کې د شوروی اتحاد عالي شوری ته دافغانستان په باب وويل :

۲ - موږ دافغانستان په جنګ کې تخمين سل مليارد ډالر خرڅ کړل... ».

که پورتني مصارف رښتياوي او دشوروي پوځونو داشغال په کلونو وويشل شي دهر کال لپاره به لس ميليارد ډالر شي چې دشوروي حکومت دافغانستان دهغو بيګناه او مظلومو خلکو دوژنې ، کړونې او تباهی لپاره مصرفول چې په کلونو کلونو يې روسانو او شورويانو ته دښو ګاونډيانو په سترګو کتل . له بلې خوا دشوروي حکومت دخپلو پوځونو له په شاکولو څخه وروسته بيا هم آرام نه کښيناست او دافغانستان دحکومت دپايښت او تقويې لپاره يې پوځي او مالي مرستو ته ادامه ورکړله . حتی په ۱۹۸۹

م کې شوروي هوايي ځواکونو د کندز د ښار په بیرته نیولو کې برخه واخیسته او د کندز ښار له مجاهدینو خلاص او د کابل حکومت ته بیرته په لاس ورغی. همدارنګه په جلال آباد او پکتیا کې هم شوروي سلاکارانو او د مخصوص ګارډ افرادو د کابل د حکومت په طرفداري په هوايي او زمکنیو عملیاتو کې ګډون وکړ.

همدارنګه د شوروي پوځي مرستې د افغانستان ګوټ ګوټ ته په بیړه او چټکۍ رسول کیدلې. د موثقو سرچینو په قول یوازې د ۱۹۸۹ م په مئې کې ٦ سوه کارګو الوتکې له وسلو ډکې کابل ته ورسول شوې او په همدې ډول شوروي حکومت ۵۰۰ د سکډ راکټونه، ۱۲۰ نوي ټانکونه او یو شمیر نوې مدرن الوتکې هم د کابل حکومت ته ورکړلې او داددې لپاره چې د مجاهدینو د فشار په مقابل کې مقاومت وکړای شي.

# يوولسمه برخه

## دسياسي حل لپاره هلې ځلې اودموؤقتي حکومت دجوړيدو مسأله

دافغانستان دکشالې دشوله ييز او سياسي حل لپاره د ملګرو ملتونو هلې ځلې له ۱۹۸۲ م څخه پيل شوې وې چې دقضيې ددواړو خواوو دغوښتنو په نظر کې نيولو سره دغې پيچلې مسألې ته دحل لاره پيدا کاندي .

په دغو هلو ځلو کې هغه وخت موثريت او اغيز منتوب راپيدا شو چې دشوروي اتحاد دمشرتابه دې ته غاړه کيښوده چې له افغانستان څخه خپل پوځونه په شا کړي . له بلې خوا د شوروي زعامت دهمدغه مقصد لپاره په دې لټه کې شوی و چې څرنګه دکابل په حکومت کې لازم بدلون

راولی . دجنرال گروموف دشوروی دیرغلگر پوځ یو مهم مشر په خپل کتاب ( سره پوځونه په افغانستان کې ) لیکلې : ( داروښانه ده چې په ۱۹۷۹ م ) کې (کې جي بي) دافغانستان حکومت ته دببرک کارمل په گمارلو کې تیروتنه کړې وه . هغوې شاید دافکر کاوه چې دکارمل تیټه انتلکتوئل سطحه او سازماندهی به په خپلو حزبی او پوځې سلاکارانو جبران کاندي . دی زیاتوي چې جنرال وارینیکف چې ډیر وخت افغانستان کې پاتې شوی و په دې عقیدې دی چې ببرک کارمل نه دخپلو همکارانو اعتماد درلود نه دخلکو او نه هم زمونږ دسلاکارانو . هغه یو یاوه او پوچ خولی ویانداو جنبه باز انسان وٌ چې په چالاکی یې ځان په انقلابی گفتارونو کې پټاوه .... » . همدا ډول دگوربچف سیاسي لوړ سلاکار دوبرینین ویلي وو ، چې کارمل باید لرې وغورځول شي .

له دې امله میخائیل گوربچف چې دافغانستان په حکومت کې بدلون راووست او په مئې ۱۹۸٦ م کې یې دببرک کارمل پر ځای دوکتور نجیب دخاد دادارې رئیس دبل گوډاگي په توگه قدرت ته ورساوه نو دسیاسي حل لپاره هیلې هم مخ په زیاتیدو شوې . دکابل حکومت او شورویانو له یوې خوا او دمجاهدینو مشرانو او ددوی پلویانو له بلې خوا دسولی په پروسه کـــــــې کوششونه زیات کړل چې هر جانب دخپلو گټو لپاره تلاش کاوه .

د ۱۹۸۷ په ۱۵ جنوری کې چې نجیب الله له مسکو څخه راستون شو دمسکو له دستور سره سم دشپږ میاشتو لپاره یې عمومی اوربند اعلان او

دروغـې جـوړې او ملي پخـلاينې په پروگرام کـې يې له مـجـاهدينو څخـه وغوښتل چې په حکومت کې گډون وکاندي . مگر د مجاهدينو له خوا دغه تجويز رد شو او پر ځای يې دا غوښتنه وشوه چې مجاهدين د کابل د گوډاگي حکومت پر ځای له شورويانو سره مخامخ خبرې غواړي .

نجيب الله له بلې خوا په خپل گوند کې د کارمل د طرفدارانو له مخالفت سره هم مـخامخ و او د دغـه کش او گير په نتيجه کې د ۱۹۸۷ م په مئې کې ببرک کارمل د لنډې مودې لپاره توقيف او د پل څرخي د زندان مزه ئې هم و څکله او ورپسې شوروي ته د تداوی په نامه واستل شو .

د دې تر څنگ نجيب د خپل موقف د پياوړي کولو په خاطر ډير خلقيان له زندان څخـه خلاص کړل چې يو شميريې له ۱۹۷۹ څخـه مـحبوس پاتې شـوي وو . همـدارنگه نجيب الله د ځمکو په ريفـورم هم له سـره غـور وکړ او د هغه حد يې تر ٤٥ ايکړو جگ کړ چې په خلکو کې محبوبيت پيدا کاندي . ورپسې نجيب الله د ۱۹۸۷ م په ۳۰ نومبر په کابل کې لويه جرگـه راوبلله او د نوی اساسي قانون په جوړيدو يې ځان د افغانستان جمهور رئيس اعلان کړ او خپل حکومت ته يې قانوني او مـشروع بڼه ورکړه . خو څرنگه چې شوروي متجاوز پوځونه لا په افغانستان کې موجود و و نه مجاهدينو او نه مهاجرينو د ده له کارنامو سره علاقه او دلچسپي ښکاره کوله . له بلې خوا نجيب الله د خاد دوحشتناکی استخباراتی موسسې د پخواني رئيس په توگه هم بدشهرت درلود .

د ۱۹۸۷ م په نومبر کې چې په خوست باندې د مجاهدينو حمله د لس

زره شوروي او افغاني پوځیانو ، شوروي سپتناز کوماندو اوهوايي ځواکونو له خوا په شاووهل شوه ، نو دنجیب الله حکومت دبریا لیتوب په موقف کې یوځل بیا مجاهدینو ته دروغي جوړې وړاندیز وکړ . خو څرنګه چې مجاهدینو ته په همدغه کال دستنګر راکتونه ورسیدل دشورویانو هوايي بر لاسی له منځه لاړه او دنجیب الله حکومت یو ځل بیا له ناکامیو سره لاس او ګریوان شو .

له بلې خوا کوم وخت چې د ۱۹۸۸ م په فبروری کې ګوربچف له افغانستان څخه دشوروي پوځونو دوتلو اعلان وکړ نو دپاکستان حکومت دمجاهدینو مشران دې ته وهڅول چې دموقتی حکومت دجوړیدو لپاره تدابیر ونیسي . په دې اساس دمجاهدینو اسلامی اتحاد ( اوه ډلیز ) د ۱۹۸۸ م په ۲۳ فبروری دموقتی حکومت جوړیدل داسې اعلان کړل چې د اوولیډرانو یوه عالی شوري به ولري او دحکومت په ۲۸ کسیزه کابینه کې به دمجاهدینو غړي ۱٤ دمهاجرینو استازي ۷ او ۷ هم له افغانستان څخه دښو مسلمانانو ( دکابل دحکومت غیر ګوندی کسان ) نماینده ګان وي . دفبروری په ۲۵ دګلب الدین حکمتیار په وړاندیز داتحاد اسلامی غړی احمد شاه دحکومت دمشر په نامه وټاکل شو چې سعودی عربستان یې هم ملاتړ کاوه . ددغه حکومت دندې داسې ښوول شوې وې چې دژنیو موافقې به لاس لیک کوي او دشوروي پوځیانو وتل به تر څارنې لاندې نیسي .

ددغه جریان په مقابل کې نجیب الله د ۱۹۸۸ م په اپریل کې نوي انتخابات تر سره کړل او له مجاهدینو څخه یې دګډون غوښتنه هم وکړه خو

په افغانستان کې جنګونو او ځینو چاودنو حکومت سخت وارخطا کړی و.

په دې ترتیب چې په اګست ۱۹۸۸ م کې د کیله ګۍ دوسلو په لویه ډیپو کې دیوراکټ په لګیدو لوی اوربل شو چې سربیره پر وسلو او مهماتو یو شمیر دیر روسي او افغاني پوځیانو هم هلاک او له منځه ولاړل. همدارنګه د قرغې د فرقې په لویې ډیپو کې داور لګیدلو له امله د کابل حکومت او شورویانو ته زیات تاوانونه واوښتل.

په افغانستان کې د ژر بدلیدونکیو حالاتو او د جنګ جګړو د مخ نیوي په خاطر د ۱۹۸۸ م په ۷ دسامبر کې میخائیل ګورباچف د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته د افغانستان د کشالې په متعلق داسې وړاندیزو کړ چې اوربند دې ټینګ شي په ټولو مخالفو ډلو دې وسلې بندې شي او دیو پراخ تاداوه حکومت د جوړیدو لپاره دې اقدام وشي چې د ټولو نماینده ګۍ پکې انعکاس ومومي.

د ګورباچف د دغه وړاندیز نور هم رقابتونه راوپارول او کوم وخت چې شوروی پوځونه له افغانستان څخه ووتل نو د ګاونډیو هیوادونو لاس وهنې مخ په زیاتیدو شوې چې د سترو قدرتونو د نشتوالی له خلا څخه په استفادی خپل منافع خوندي کاندي. باید زیاته شي چې د ۱۹۸۸ م په اګست کې جنرال ضیاء الحق د پاکستان جهور رئیس د الوتکې د سقوط په یوې واقعې کې د امریکا له سفیر او پوځي اتاشې او یو شمیر پاکستانی جنرالانو سره ووژل شو او دهغه له ۱۱ کلن حکومت وروسته د پیپلز ګوند بیا قدرت ترلاسه کړ او بینظر بوتو د پاکستان صدراعظمه شوه. په ۲۳

فبروری ۱۹۸۹ م دپاکستان مقاماتو په مساعدت داسلام آباد په حاجي کمپ کې یو شمیر افغانان راټول شول او د مؤقتی حکومت د جوړیدو لپاره رايي ورکړې . له ٤ ورځو بحثونو او مناقشو وروسته بالاخره حضرت صبغت الله مجددي د موقتي حکومت درئیس ، استاد عبدالرسول سیاف دصدراعظم په توګه وټاکل شول او په کابینه کې حکمتیار د خارجه وزیر په حیث مقرر شو .

دپاکستان هغه وختنی صدراعظمې بینظیر بوټو د دغه حکومت له پیژندنې ډډه وکړه خو دامریکا حکومت وویل هغه وخت به دغه حکومت په رسمیت وپیژنی چې یوه لویه سیمه تر کنترول لاندې راولي ، ادارهٔ يې وچلیږي او د افغانستان خلک ورځنې ملاتړ وکاندي .

یوازې سعودي عربستان دغه حکومت په رسمیت وپیژاند او په اسلامی کنفرانس ( Ico ) کې یې دافغانستان څوکی چې د شورویانو دیرغل له پیل څخه خالي پاتې وه د مجاهدینو حکومت ته ورکړه . البته دغه موقتی حکومت تر پایه د پیښور په حویلیو کې پاتی شو او د ا توان یې پیدا نه کړ چې د ننه هیواد ته ولیږدول شي . ددې تر څنګ چې د واړو خواوو دسوله ییز سیاسی حل خبرې کولې خو په افغانستان کې د ننه سخت جنګونه روان وو . په اګست کې چې شورویان له کندز څخه تازه وتلي وو د مجاهدینو قوتونو د کندز ښار ونیو چور او چپاول هم منځ ته راغی او دهغه له امله یو شمیر خلک مړه او ټپیان هم شول . شوروي هوایي ځواکونو دافغانی اردو په مرسته په ۱۵ اګست د کندز ښار بیر ته ونیو او مجاهدینو

په شکست له ښاره ووتل .

له بلې خوا د ۱۹۸۹ م په ٦ مارچ کې تخمین ۱۵ زره مجاهدینو (اکثراً دحکمتیار او خالص حزبونو ) دجلال آبا د پر ښار حمله وکړه او غوښتل یې له دې لارې دکابل دحکومت دړنګولو لپاره زمینه برابره کاندي څرنګه چې د جلال آباد ښار کې تقریباً ۱۷ زره پوځیان او ملیشه افراد موجودوو نو دغه حمله څه دلیهر شپ دکمزورۍ ، څه ددسپلین دلېوالی او څه هم دحکومت دهوایي او زمکنیو ځواکونو او سکدراکټونو داستعمال له امله ناکامه شوه او مجاهدینو ته درانه تلفات ورسیدل .

دپاکستانی منابعو په قول په دغې حملې کې څه کم ۳ زره مجاهدین ووژل شول ، په داسې حال کې چې دکابل حکومت خپل تلفات ۲ زره کسان او دمجاهدینو ۸ زره نفره ښودلې وو . وروسې دښار محاصره چې تر ۱۰ هفتو یې دوام درلود هم ماته شوه او جهادی ډلې شاتګ ته مجبورې شوې .

دکابل حکومت له دغې کامیابۍ څخه نوی پرستیژ ګټلی و ، پداسې حال کې چې دپاکستان حکومت ددغه شکست پړه په جنرال حمید ګل د ISI په رئیس اچوله ، چې غوښتل یې دضیاء الحق پلان دفندا منتلستانو دزر قدرت ته رسیدلو لپاره تطبیق کاندي . بینظیر بوټو حمید ګل د ISI له وظیفې څخه ګوښه کړ . په دغه وخت کې چې له دغو شکستونو څخه مجاهدینو ته سختې صدمې رسیدلې وې دامریکا نوی جمهور رئیس جورج بوش له مجاهدینو څخه دملاتړ ژمنه وکړه او په شورویانو یې تور ولګاوه چې دروغ وایي او له جده زیاتې وسلې یې دکابل حکومت ته

ورکړې دي .

ورنځوف دشوروي دخارجه وزارت معين او په عين وخت کې په افغانستان کې دهغه هيواد سفير چې ډير مقتدر سړی و او له مجاهدينو سره يې دمخامخ خبرو اترو او فيصلو صلاحيت درلود په دې عقيده و چې که دنجيب الله حکومت دشوروي پوځونو له وتلو څخه وروسته درې مياشتې هم په قدرت کې پاتې شي نو دامريکا کوششونه به دهغه دحکومت دړنګيدو او دمجاهدينو دحکومت دجوړيدو لپاره مخ په کميدو شي او مورږ به بريالي شو چې دنجيب الله په ساتلو له مجاهدينو سره مذاکرې سرته ورسو او مسايل حل کاندو .....

دامريکا نوي حکومت دمجاهدينو دچارو دښه والی په خاطر يو تجربه کار دپلومات Peter Tomson دخاص استازي په توګه مجاهدينو ته مقرر کړ او له بلې خوا دستنګر راکټونو اونورو وسلو استول چې د ۱۹۸۸ م له اکتوبر څخه بند شوي وو بيرته مجاهدينو ته پيل کړل . سفير تامسن په خپله کړنلاره کې له حکمتيار څخه لرې توب اختيار کړ او نور مجاهدين يې دې ته وهڅول چې دنظامی بري لپاره خپلو کوششونو ته دوام ورکاندي . تامسن غوښتل چې که مجاهدين د جلال آباد ښار ونيسي نو دموقتي حکومت دمرکز په توګه به ورڅخه استفاده وشي . او دمجاهدينو دحکومت بين المللی شناخت ته به زمينه برابره شي .

ورپسې د ۱۹۸۹ م په ۱۵ نومبر يو شمير مجاهدينو يو محل بيا پر جلال آباد حمله وکړه او ځينې حکومتی پوستې يې هم ونيولې خو دهوايي

او زمکنیو سختو بمباریو له امله شاتګ ته مجبور شول .

د کابل حکومت چې په جلال آباد کې بری ګټلی و خو په هرات کې د ۱۹۹۰ م په ۱٦ اپریل کې له یو ې ماتې سره مخامخ شو . هغه په دې ترتیب چې په اصطلاح تسلیم شوو مجاهدینو له خوا په هغه محفل کې چې د دغه جریان لپاره جوړ شوی و د زې وشوې ، ځینې مهم کسان ووژل شول او ځینې ټپیان شول .

له بلې خوا د ۱۹۸۹ م د دسامبر د هغې توطئې په تعقیب چې د نجیب الله پر ضد جوړه او ناکامه شوې وه د ۱۹۹۰ م ۵ مارچ جنرال شهنواز تنی د نجیب د دفاع وزیر په کودتا لاس پورې کړ چې نجیب الله له قدرت وغورځوي . له دغې کودتا څخه ګلب الدین حکمتیار په کلکه ملاتړ کاوه په داسې حال کې چې د مجاهدینو موقتی حکومت ورسره خپله بی علاقه ګې ښکاره کوله . د ۱۹۹۰ م په ۱٦ مارچ جنرال تنی له ځینو نورو جنرالانو سره یو ځای په پوځي جامو کې د لوګر په آزاده شوې سیمې کې خبریالانو ته وویل چې دوی او س هم د ګوند غړي دي او صرف دا یې غوښتل چې د نجیب په ځای حکمتیار جمهور رئیس شي .

له دغې حادثې وروسته د حکمتیار موقف په مجاهدینو کې په دې تیټ شو چې ده د اسلامی نظام د جوړیدو په خاطر له شورویانو سره جهاد کاوه ، خو اوس یې د قدرت لپاره له خلقیانو سره هم لاس یو کړی دی .

د دغو جریانونو په تعقیب نجیب الله یو ځل بیا د ۱۹۹۰ م په ۲۸ مئی په کابل کې لویه جرګه جوړه کړه او د سولې د راوستلو په خاطر یې

دبین المللی کنفرانس جوړیدل او له مجاهدینو سره ، دروغې جوړې پروګرام وړاندې کړ چې د مجاهدینو له خوا بیا هم رد شو . له بلې خوا د ۱۹۹۰ م په جون کې مجاهدینو د پغمان د نیو لو په مقصد کابل تر شدید ګواښ لاندې راووست خو د کابل مزدور حکومت ۳۳۰۰ څخه زیات بمونه او (۶۶) شپږ شپیته زره د توپونو ګولۍ ، په پغمان او شا او خوا واوروله چې مجاهدینو او عام خلکو ته یې د سر او مال زیات تاوانونه واړول .

وروسته د ۱۹۹۰ م په ۲۸ جون کې نجیب الله د خلق د دموکراتیک ګوند دوهم کانګرس راوغوښت چې د حالاتو له بدلون سره سم د حزب په تګ لاره نوی نظر وکاندي . د دغه کانګرس د بحثونو په نتیجه کې سیاسي بیرو او مرکزي کمیته تول منحل اعلان شول او د حزب نوم هم پر حزب وطن واړول شو .

له دې وروسته نجیب الله د ۱۹۹۰ م په ۱۹ نومبر ژنیو ته لاړ چې د معتدلو مجاهدینو له مشرانو سره وګوري او د پراخ تاداوه حکومت د جوړیدو لاره او اره کاندي .

په دې وخت کې د امریکا او شوروي خارجه وزیران دې موافقې ته رسیدلي وو چې نجیب الله کولای شي تر انتخاباتو پورې د افغانستان د موقتي حکومت د مشر په توګه پاتې شي .

د یادونې وړ داده چې د ۱۹۹۰ م په جنورۍ کې د امریکا د خارجه وزارت معین Robert Kimmett د یو هیئت په مشرۍ پاکستان ته لاړ چې د مجاهدینو او د افغانستان د حالاتو په ارتباط حقایق

معلوم کاندي د غه هیئت د خپلو پلټنو په پای کې داسی نتیجه اخیستې وه چې مـجـاهدین د نجیب د حکومت په ړنګولو کـې ناکـام شـوی او د آینده بریالیتوب ژر هیله یې هم نشي کیداي .

په د غـه ماحول کې د افغـانسـتـان د نورو ګـاونډیانو او په خـاصـه توګـه د ایران او هم د هندوسـتـان هلې ځلې د پام وړ بلل کـیـدلې ، ایران چې په ۱۹۸۸ م کـې له عـراق سـره له جنګه خـلاص شـوی و نو ډیره پاملرنه یې د افـغـانسـتـان حالاتو ته اړولي وه چې خپـل دریځ غښتلې کـاندی . ایران په هغو خاصو اړیکو چې د کابل له ګوډاګي رژیم او شورویانو سره یې درلودل له ۱۹۸۷ م څخه یې خپلو پلویانو ته په افغانستان کې دالوتکو په وسیله مـخـتلف کـومکونه رسول . یو ځل چې د حـکـومت له مشر نجیب الله څخه خبریالانو د اپوښتنه وکړ چې ایران مسـتـقـیـماً بامـیـانو ته الوتکې لیږي او امدادي مالونه - چې ماهیت یې چا ته معلوم نه دی - رسوی . هغه صرف د خولې خـپګان ښکاره کړ چې ایران باید زموږ پر فـضـا داسی تیـرې و نه کـړي. له بلې خـوا د ایران اسـلامي حکومت له ټولو لوړی د پراخ تاداوه حکومت د جوړیدو ملاتړ وکړ چې وړاندیزیې ګوربچف کړی و .

د ۱۹۸۹ م په نومـبـر کـې نجیب الله په خـپـل یو لیک کـې مـیـخـائیل ګـوربچـف ته د ایران مـتـعلق داسې لیکلې وو : « د اپوزیشن په عـمـومی جـبـهی کـې د ( ایران عـامل ) په مـعـینه اندازه بی اثره شـوی چې د هغـه په نتـیـجـه کې ډیر مسلح تشکیـلات په هزارستـان ( هزاره جات ) - هرات او نورو برخو کې په مثبتـه بیطرفي کې دریدلي او یا حکومت ته یې مخونه

اړولي دي ....».

له بله جانبه دهند حکومت چې دشوروي پوځونو داشغال په دوران کې يې له افغانستان سره هغه تول تاريخي عنعنه يي روابط تر پښو لاندې کړي وو او د کابل له رژيم څخه يې دمسکو دخط په اساس ملاتړ کاوه ؛ دشوروي پوځونو له وتلو وروسته پدې نيت ميدان ته راغی که کوم نوی نقش ولوبولی شي . دهند حکومت صدراعظم راجيو ګاندي يو ځل د ۱۹۸۸ م په فبروری کې ضياء الحق ته بلنه ورکړي وه چې له هند څخه کتنه وکړي خو دپاکستان جمهور رئيس هغه نه وه منلي او بيا وروسته يې غوښتي وو چې خپل خارجه وزير دمذاکرو لپاره پاکستان ته واستوي خو پاکستان بيا هم دغې غوښتنې ته مثبت ځواب نه و ورکړی . هند دنتورسنګ په مشری يو هيئت دافغانستان پخواني پاچا ته هم ليږلی و ، چې که دمجاهدينو او دخلق دموکراتيک دګوند تر منځ ديو اسلامی حکومت مشري وکاندي . دهند دحکومت دغو کوششونو کومه نتيجه ورنه کړه او بر خلاف دپاکستان حکومت ته يې نوي تشويشونه را پيدا کړل.

د ۱۹۹۰م په اګست کې چې بينظير بوتو له صدارت څخه برطرفه شوه او په ځای يې د ۱۹۹۰ م په ۲٤ اکتوبر کې نواز شريف دپاکستان صدراعظم شو نو يو ځل بيا دافغانستان لپاره دضياء الحق پروګرام مخ ته راووت او د ۱۹۹۰ م په ۲۷ اکتوبر کې دمجاهدينو دمشرانو تر منځ په اسلام آباد کې غونډه وشوه چې ځينې جهادي قوماندانانو داحمد شاه

مسعود په شمول پکې برخه اخیستې وه په دغو غونډو کې په دې تاکید څرګند شو چې د جهادي ډلو او قوماندانانو تر منځ باید اتحاد او همکاري تر پخوا زیاته او غښتلې شي او لاره انتخاباتو ته اواره شي .

په دغه وخت کې مهمه خبره د افغانستان د کشالې د حل متعلق داوه چې د امریکا حکومت یوې خوا د خلیج په جګړې کې مصروف شوی و ، چې شوروي حکومت کلکه همکاري هم ورسره کوله او بلې خوا د برلین د دیوال له نړېدو وروسته د امریکا او شوروي مناسبات مخ په ښه کېدو شوي وو ، نو اضافه له دې د افغانستان مسالی ته زیاته دلچسپي هم نه وه پاتې شوې. په ۱۹۹۱ م کې دا واقعیت پوره څرګند شوی و چې نه د کابل حکومت او نه مجاهدین ژر او قطعي کامیابی ته رسیدلاي شي ، نو په دې اساس د امریکا او شوروي اتحاد لپاره په اصطلاح د نه زما او نه د تا حالت رامنځ شوی و . د همدغو وجوهاتو له امله د شوروي او امریکا حکومتونو د ملګرو ملتونو عمومي منشی Peres de cuellar دې ته تشویقا وه چې د افغانستان د کشالی د حل لپاره د سولې یو نوی پلان جوړ کاندي . د ملګرو ملتونو عمومي منشي د ۱۹۹۱ م په سپتامبر کې د پخوانیو پلانونو پر مبنيِ د سولی نوی ۵ فقره یي پلان اعلان کړ چې داسې مطالب یې درلودل :

*۱ - د افغانستان د حاکمیت او استقلال ساتنه .*

*۲ - افغانانو ته د سرنوشت د ټاکلو حق ورکول .*

*۳ - د یو پړاو تاداوه موقتی حکومت جوړیدل .*

٤- *ټولو جنګي ډلو ته د وسلو بندول .*

٥- *د مهاجرينو د ستنيدو او بيا ودانولو لپاره د مرستې ورکول .*

د سولې د غه پلان د مجاهدينو د موقتي حکومت د ټولو مشرانو (مجددی سياف او حکمتيار ) له خوا رد شو خو نجيب الله د کابل د حکومت مشر هغه ومانه او د ايران حکومت هم له هغه څخه خپل ملاتړ اعلان کړ .

د دې تر څنګ شوروي حکومت پتيلی وه چې د مجاهدينو له مشرانو سره مستقيمې خبرې او مذاکرې وکاندي. په هغو مذاکرو وکې چې د شوروی د سفارت له لارې له جهادی مشرانو سره وشوې . جهادي مشرانو د نجيب الله د بې قيد او شرطه ګوښه کيدو غوښتنه تکرار کړه . مګر شورويانو هم دا غوښتنه نه منله او هم يې له دې سره خپل مخالفت څرګنداوه چې يو غښتلی اسلامی حکومت دی منځ ته راشي .

په دغه وخت چې کې د خليج د جګړې لمبې لا پورته کيدلې سعودي عربستان له حکمتيار او خالص څخه وغوښتل چې که يو شمير مجاهدين د نمونې په ډول د عربستان مرستې ته واستوي خو دوې نه يوازې دا چې دا غوښتنه رد کړه ، بلکه له سياف سره يو ځای يې د امريکا خلاف له صدام حسين څخه خپل ملاتړ اعلان کړ چې د غې موضوع د عربستان او مجاهدينو تر منځ د روابطو سړښت منځ ته راووړ ، سره له دې چې نورو مجاهدينو تخمين ۳۰۰ نفر د عربستان مرستې ته استولي وو .

د دغو سياسي انکشافاتو تر څنګ په افغانستان کې د ننه امنيتي او

اقتصادي حالات ورځ په ورځ خرابیدل . د کابل حکومت چې خپل پوځي او امنیتي قوتونه یې یوازې ښارونو کې متمرکز کړي وو اطراف د خپل سري او انارشي میدان ګرځیدلی و . د جهادي ډلو ځان ځاني حکمراني او د ملیشو او باغیانو داسې خان خاني منځ ته راغلې وې چې په چور او چپاول یې د خلکو عادي ژوند تریخ او له غمه ډکاوه .

په دې منځ کې Boris Pankin د شوروي نوي خارجه وزیر په ۱۳ سپتامبر ۱۹۹۱ م کې دا اعلان خپور کړ چې شوروي او امریکا موافقې ته رسیدلي دي چې د کابل په حکومت او مجاهدینو وسلې بندې کړي او د منفي سمترۍ Negative Symmetry لاندې د وسلو لیږل افغاني ډلو ته بیخې قطع کاندي .

له دغې فیصلې څخه هم د کابل د حکومت مشر نجیب الله او هم د مجاهدینو مشرانو هرکلې وکړ چې که په دې ترتیب د سولې لپاره لاره اواره کړای شي .

نجیب الله په دغه وخت کې د ملي یو والي حکومت لپاره National unity Government وړاندیز هم وکړ چې که مجاهدین په کې برخه واخلي . د دغو انکشافاتو په ادامه کې د شوروي حکومت د ۱۹۹۱ م د اکتوبر په اوایلو کې د خپل خارجه وزیر په استولو له مجاهدینو مشرانو سره د ملګرو ملتونو تر سرپرستۍ لاندې په نیویارک کې خبرې او مذاکرې شروع کړې او شوروي خارجه وزیر د لومړي ځل لپاره دا وویل چې شوروي حکومت به د افغانستان د موقتي حکومت لپاره

دمجاهدينو جمهور رئيس ومني خو په دې شرط چې خالقيار ورسره دصدراعظم په توګه پاتې وي .

دمجاهدينو مشرانو دشوروي حکومت له دغه وړانديز څخه هر کلي وکړ خو دشورويانو په ګفتارکې شک او ترديدونه وو او داعتدالی او سخت دريځه نتظيمونو تر منځ هم توافق نه ليدل کيده .

د ۱۹۹۱ م په ۲۱ دسامبر کې چې شوروی اتحاد رسماً له منځه ولاړ او پر ځای يې دخپلواکو هيوادونو کامنولت Commonwealth of indenendent states (cis) جوړشو نو بوريس يلڅن دروسيي جمهور رئيس دخپل سياسی سلف هغه اندېښنه تاکيداً څرګنده کړه چې په افغانستان کې يې ديو اسلامی حکومت دمنځ ته راتلو او شوروي سرحدونو ته داحتمالی خطرونو په باره کې درلوده .

د ۱۹۹۱ م په ۱۳ نومبر دپخوانيو مذاکرو په تعقيب دروسانو او جهادي مشرانو تر منځ يو لړ نورې مذاکرې داخل په مسکو کې وشوې چې په هغو کې دمجاهدينو هيئت دبرهان الدين ربانی په مشری ګډون کړی و . اعتدالی ډلو له دغو مذاکرو سره پخوا خپله مقاطعه اعلان کړې وه .

ددغو مذاکرو په پای کې دشوروی خارجه وزير د ۱۹۹۱ م په ۱۵ نومبر دغه موافقه اعلان کړه چې نجيب الله ته به کومکونه قطع او صلاحيت به يې يو اسلامی حکومت ته ورکړل شي ، - چې دانتخاباتو تروخته چې به دملګرو ملتونو او اسلامی کنفرانس تر سرپرستی لاندې سرته ورسيږي ،ددووکلونو لپاره کاروکړي، دواړوخواوو دجنګې بنديانو

دخوشی کولو موافقه هم کړې وه چې ژر ورباندې عمل کیدونکی و . نجیب الله دشوروي دخارجه وزیر په دغه اعلان هیڅ تبصره ونه کړه چې دده آینده به څنګه کیږي .

دنجیب الله په یو خصوصي لیک کې دشوروي خارجه وزیر شواردنازې ته په عذر او تاثر لیکلې وو :

« ما خو نه غوښتل چې جمهور رئیس شم . تاسي زه راضي کړم . پر له پسې غوښتنه مو وکړه او دملاتړ وعدې مو وکړې . اوس ما او دافغانستان جمهوریت دسر نوشت په لویه کې خوشی کوئ » .

داڅرګنده نه وه چې په نجیب الله دکومکونو قطع کیدل دهغه دبر طرفی معنی هم درلوده او که څنګه ؟ او بل دا چې له دې خبرې څخه – دده صلاحیت به یو اسلامی حکومت ته ورکړل شي – مراد او مقصد کوم اسلامی حکومت وُ ؟ دمجاهدینو حکومت چې دهغوی اکثر مشرانو خو دغه مذاکری رد کړې وې او که دشورویانو او ربانی دخوښې اسلامی حکومت ؟

ددغو حالاتو په مقابل کې دپاکستان تحولات هم دپام وړوو . پاکستان ته له یوې خوا دامریکا پوځي او اقتصادي مرستې داتومي وسلې دجوړولو په اتهام بندې شوې وې او له بلې خوا افغانی مجاهدینو او مهاجرینو ته هم خارجي کومکونه شدیداً لږ شوي وو . امریکا او شوروي دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو دسولې له پلان څخه ملاتړ کاوه او ایران هم له دغه پلان سره توافق او همکاری څرګنده کړې وه . دپاکستان دحکومت میشرانو

له دې نه هم تشویش درلوده ، چې د افغانستان د کشالی د حل ځنډیدل به دوی ته اقتصادی ستونزې هم پیدا کاندي . نو د دغو عواملو له امله د پاکستان لوی درستیز جنرال آصف نواز د ۱۹۹۲ م په ۲۷ جنوری د ملګرو ملتونو د سولی له پلان څخه د پاکستان بشپړ ملاتړ اعلان کړ او دایې هم وویل چې د افغانستان د پخوانی پاچا سره د لیدلو لپاره روم ته هم ځي . همدارنګه جنرال نواز د ISI پخوانی رئیس جنرال حمید ګل چې د پاکستان اردو کې یې د خپل رسوخ له امله د افغانستان په مساله کې د ضیاء الحق د پلان ملاتړ کاوه بیخي له کاره برطرف کړ . دا د پاکستان په موقف کې یو لوی بدلون و . ګلب الدین حکمتیار د جنرال نواز په کړنو انتقادو کړ او د پخوانی پاچا ظاهرشاه د بیرته راتګ مساله یې وغندله .

له بلې خوا په اروپا کې یو بل جریان افغانستان ته د سولی راوستو په متعلق را منځ ته شوي و . پدې ترتیب چې د آلمان پخوانی صدراعظم Willy Brandt د یو افغانی کنفرانس په جوړیدو لاس پورې کړی و او ټولو افغانی ډلو ته یې د پخوانی پاچا په شمول دعوت ورکړی ، په دغه کنفرانس کې - چې د ۱۹۹۲ م کال ۲۷ می تر ۲۹ مئي په آلمان کې جوړیږي - ګډون وکاندي .

دغه کنفرانس ته پر ته له سخت دریځو تنظیمونو نورو ټولو آماده ګي ښوولې وه چې په هغه کې به برخه اخلی . آلمانیانو غوښتل ، لکه فرانسویانو غوندې چې یې د کمبودیا د قضیې د حل لپاره په پاریس کې بین المللی کنفرانس جوړ کړی و دوی هم د دغه کنفرانس له لارې د سولی په

راوستلو کې یو لوی کارتر سره کړي .

څرنګه چې د کنفرانس نیتـمه رانژدې شوه نو اعتدالي تنظیمونو په نامعلومو دلایلو یو دم خپل عدم موافقت اعلان کړ چې دوی هم د کابل د حکومت په ګډون اعتراض لري . په دې ډول دغه کنفرانس ته د جوړیدو موقع پیدا نشوله .

د دغو انکشافاتو تر څنګ وروسته بیا دغه خبره معلومه شوې وه چې بوریس یلڅن د روسیې جمهور رئیس نجیب الله ته یو خاص استازي لیږلی و او هغه ته یې واضحاً ویلي وو چې دی ( نجیب ) د سولې په لاره کې یو خنډ ګڼل کیږي نو باید چې له خپل کار څخه استعفی ورکاندي .

له دې څخه څرګنده شوې وه چې نجیب الله ته نور د ماڼور کولو وخت او د روسیې ملاتړ نه و پاتې شوی . نجیب الله د ۱۹۹۲ م په ۱۹ مارچ په خپله راډیو تلویزیوني وینا کې دا مسأله واضح کړه چې دې ته تیاردی چې قدرت هغې موقتې ادارې ته وسپاري چې د ملګرو ملتونو د سولې د پلان په اساس به جوړیږي .

د ملګرو ملتونو خاص استازي بینن سیوان خپل تماسونه له افغاني اړخونو سره وراندې بیول او په ۱۹۹۲ م ٤ اپریل کې وویل چې د سولې له پلان څخه اوس ټول هیوادونه ملاتړ کوي ، ولې ځینې وختونه یو ناڅاپي پیښې کولای شي یو کاملاً جوړ شوی پلان ګډوډ کاندي . عمومي اندیښنه داده چې مبادا څوک نجیب الله د قدرت له لیږدولو د مخه له منځه یوسي د همدغو اندیښنو له امله ملګرو ملتونو د قدرت د انتقال موضوع

چتکه کړې ده .

ورپسې د ۱۹۹۲م ۱۰ اپریل پتروس غالی د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل چې د بیطرفه افغانانو یوه ۱۵ کسیزه شوری به د اپریل په ۲۸ مه له نجیب الله څخه قدرت اخلی او د ٤٥ ورځو په منځ کې به د لویې جرګې غونډه دایره شي چې موقتي حکومت وټاکي . د ملګرو ملتونو د عمومی منشی په لیکلي بیان کې ویل شوي وو ، کوم وخت چې دغه ۱۵ کسیز هیئت له نجیب الله څخه قدرت واخلی او رېند او عمومی بښنه به اعلان شي او د ټولو افغانانو امنیت او ساتنه به تضمین شي . دغه مهال د کابل د حکومت مشر نجیب الله د اپریل د میاشتې په لومړۍ لسیزه کې د خپل حکومت د دفاع وزیر مرستیال جنرال نبی عظیمي د مزار شریف د ښار د امنیتي وضعي د ښه کولو په مقصد هلته لیږلی و چې د ښار ډیرې برخې د رشید دوستم د ملیشې له خوا چور شوې وې .

همدارنګه نجیب الله زیار ایسته چې په شمالی سیمو کې د جنرال اڅک پوځي قوماندان او جنرال مومن د تاجیک ملیشې قوماندان تر منځ اختلافات حل کاندی . داستونزې زیا تره د قامی تعصبونو په اساس منځ ته راغلې وې او مومن د بې اطاعتی او خپل سرۍ لاره نیولی وه . عجیبه خو دا شوې وه چې جنرال عظیمي د نجیب الله د اوامرو د تطبیق پر ځای چې د مزار د ښار د امنیتي چارو د ښه کولو مساله وه له جنرال مؤمن تاجیک او رشید دوستم ازبک سره د نجیب الله پر ضد توطئې کې ګډ شو او د هغوی ملیشو ته یې اجازه ورکړه شوه چې په الوتکو کې کابل ته لاړې شي او

هوايي د گر اشغال كاندي . يوه نظريه داوه چې په دغه پټ پلان کې دشوراى نظار قوماندان احمد شاه مسعود ، دحزب وحدت مشر عبدالعلي مزارى هم گډون درلود او ويل كيدل چې د ايران داسلامى جمهورت داستخباراتو رئيس نجفى هم پكې ناست و اومهم رول يې لوباوه . بله نظريه داوه چې په مزار كې دشوروى قدر تمندي قونسلگرى چې دشورويانو دير پوځي او سياسي سلاكاران هم هلته غونډشوي وو په دغې توطئې كې اساسي رول درلوده.

د ١٩٩٢ م په ١٣ اپريل دمزار شريف په ښار كې بغاوت وشو او داخل رشيد دوستم دښار اداره په لاس كې اخيستې وه . له دغو انكشافاتو سره پيوست برهان الدين رباني دجمعيت اسلامى مشر په پيښور كې په مطبوعاتى كنفرانس كې خبرى الانو ته وويل چې د مليشو او ځينو عسكرو په مرسته د مزار ښار د مجاهدينو لاس ته ورغلى دى په داسى حال كې چې واقعيت بل شى و .

د ١٩٩٢ م په ١٦ اپريل چې نجيب الله د توطئه گرو په مقابل كې كمزورى شوى و ترى تم شو او داستعفا آوازې يې خپرې شوې . له بل پلوه عبدالوكيل د نجيب د حكومت قدرتمنده خارجه وزير له يو شمير لوړ رتبه حزبيانو سره چاريكارو ته لاړ او خپل پيوستون يې احمدشاه مسعود ته وراندى كړ . وكيل خپل مشر نجيب الله په تيښته او خيانت متهم كړ او زياته يې كړه چې قدرت اوس د ٤ نفرو جنرالانو په لاس كې دى چې له مسعود سره يې ائتلاف كړى دى .

د ۱۹۹۲ م په ۱۷ اپریل د روسیې ایتر تاس آژانس اعلان وکړ چې :

د کابل د حکومت رئیس نجیب الله چې غوښتل یې په الوتکه کې له کابل څخه وتښتي د مخالفو قوتونو له خوا راګرځول شوی او د ملګرو ملتونو په دفتر کې یې پناه اخستې ده . قدرت له نجیب څخه اخیستل شوی او اوس د هغو جنرالانو په لاس کې دی چې له احمدشاه مسعود سره یې تفاهم کړی و ........

**نوموړي جنرالان دا وو :**

جنرال بابه جان ( عرب ) جنرال مؤمن ( تاجیک ) جنرال آصف دلاور (تاجیک) ، جنرال نبی عظیمي (تاجیک کابلی) او جنرال رشیددوستم (ازبک) .

په دا ډول د نجیب حکومت چې د قدرت د انتقال لپاره صرف څو ورځې مخکې د رلودې په د غسې دسیسه کې رنګ او له هغه سره د سولې هغه پلان هم شنډ او بیکاره شو چې کلونه کلونه وړاندې کارشوی و . د دغه پلان شنډول یو نه جبران کیدونکې خیانت و چې د سولې پر ضد د کود تا له لارې تر سره شو.

د نړۍ معتبرو ورځپانو د افغانستان د تحولاتو اړوند ولیکل : د هغو جنرالانو چې پښتانه نه دي له احمد شاه مسعود او رشید دوستم سره ائتلاف له پښتنو څخه د قدرت د غصبولو یوه هڅه بلل کیږي چې ضرور به متقابل اقدامات منځ ته راوړي .

د امریکا مهمو ورځپانو ولیکل چې :

« دامریکا لپاره دمجاهدینو کامیابی دساړه جنګ یو لوی بریالیتوب شمیر ل کیږي ، ځکه دشوروي اتحاد پوځي هجوم په شاووهل شو ، یوې مهمې ستراتیژیک سیمې ته جیو پولتیک ګواښ له منځه لاړ . کمونیزم چې نه ماتیدونکې او نه بیرته ګرځیدونکې بلل کیده مات او بیرته وګرځول شو او همداسی نور انکشافات چې دشوروي رول په نړۍ کې لنډ او محدود وي منځ ته راغلل او داټول دافغانانو او افغانستان په بیه تمام شول چې پرته له خپل تقصیر څخه دساړه جنګ د قربانۍ په توګه تباه او برباد شوی دی . امریکا دسیاسی حل لپاره د ملګرو ملتونو له هلو ځلو ملاتړ کوي او وجداني مسوولیت لري چې دافغانستان په بیا ودانولو کې مرسته او مدد وکاندی .... ».

همدارنګه دلندن تایمز ورځپاڼې د ۱۹۹۲ م ۲۷ اپریل په سرلیک (سرمقاله) کې دافغانستان حالات له بدبینۍ نه ډکو توضیحاتو سره داسی څیړلی وو :

« .... دمسعود قواوو کابل پرته له وینې توییدو څخه ونیو مګر دجنګ دژر ختمیدو هیله او توقع نشی کیدای . سرلیک قامي اونژادي اختلافونو ته په اشارې سره زیاتوي : لویدیځ هیوادونه او ملګري ملتونه اوس باید خپل زور او وزن داحمدشاه مسعود تر شا واچوي ، ځکه هغه نسبت حکمتیار ته ارجحیت لري . هغه داقلیت قام دغړی په توګه پوهیږي چې دقامي او نژادي اختلافونو په اساس به حکومت نه کوي تر هغه چې قامی مشران راوړاندې شي او ملکې چارې له سره نوې کاندي . مګر

حکمتیار یو سخت سری سړی دی چې اسلامی شوراو شوق یې دپښتو نولی له غرور سره یو کړي ( پښتنو ۲۵۰ کاله پر افغانستان واکمنی کړې ده . ) او حکمتیار نه یوازې لویدیځ خپل دښمن گڼې ، بلکه په افغانستان کې به له ایران څخه بد حالات هم تکرار کاندي . امریکا ییانوهم په وروستیو دوو کلونو کې دهغه ایدیا لوژي لیدلی ده چې هغه کوم ځای ته رسوی . سرمقاله په پای کې اضافه کوي : ملگرو ملتونو دشوروی پوځونو دوتلو تسهیلات برابر کړل او اوس یې وظیفه پای ته رسیدلې او نړۍ دهغه هیواد ( افغانستان ) په قامی اونژادي اختلافونو کې علاقه نه لري ... »

په دې ډول د دوکتور نجیب دحکومت ړنگیدل دساړه جنگ وروستی منازعه وه چې ایدیالوژیکي ریښې یې درلودلې او دشوروي اتحاد او امریکا تر منځ یې وروستی سیاسي او مسابقه جوړه کړې وه .

دنجیب دحکومت له ړنگیدو سره چې د ملگرو ملتونو دسولی پلان هم شنډ او برباد شو دافغانستان ستونزه هم په یونوي بحران کې لاهو شوله چې چا یې خیال هم نه و کړی

# دولسمه برخه

## دساړه جنګ پای ته رسیدل- دبین المللي تشنجاتو دوام

## او دافغانستان دتراژیدۍ ادامه

**الف: دساړه جنګ پای ته رسیدل:**

دامریکا او شوروي اتحاد تر منځ دساړه جنګ دوران چې په ظاهر کې دشوروي اتحاد په ړنګیدو پای ته ورسید ، په حقیقت کې یې دشورویانو دلاس پوځي کابل رژیم په چپه کیدو سره تحقق موندلی و چې شورویانو د هغه دپاینبت او استحکام لپاره په کلونو کلونو هلې ځلې کړې وې.

له افغانستان څخه دشوروي دسرو پوځونو له رسوایۍ ډک شکست له یوې خوا او دختیځې اروپا په هیوادونو کې بنیادي او اساسی بدلونونه له بلې خوا داسې ضربې او ټکانونه منځ ته راوړل چې دشوروي له ظلمه ډک

سیستم یې له بیخه ولړزاوه .

سره له دې چې میخائیل گوربچف دشوروي اتحاد مشر ډیر کوششونه وکړل چې په یو لړ اقتصادی رفورمونو دپرسترویکا Perestroika او علنیت گلاسنوست Glasnost تر پروگرام لاندې دشوروي اتحاد استبدادی سیستم او داقتصاد زوړ او زنگ وهلی ماشین اصلاح او ترمیم کاندي ، مگر بریالیتوب یې نصیب نشو . دختیځې اروپا دسوسیالستې هیوادونو خلکو چې دافغانستان دملت له آزادي بښوونکي جنگ څخه دشوروي دپوځ نیم سوځیدلی فراري هیکل ولید داسی په جرئت او غیرت راغلل چې په بی ساري توگه یې دخپلو حکومتونو په مقابل کې سرونه جگ کړل او په شور او ځوږ یې دآزادي چیغه پورته کړه .

دشوروي دکمونستی سیستم استبداد ، اقتصادي رکود ، اداري فسادونه او په میلیونو تږو غلې ته احتیاج له یوې خوا او په افغانستان کې دشورویانو پوځي شکست له بلې خوا چې دسوسیالستې هیوادونو ناکراری یې ترڅنگه زیاتیدلی دشوروي کمونیزم دنیستی او نابودۍ کندې ته ورنژدې کاوه .

په خپله شوروي کې دزړو کمونستانو او دمیخائیل گوربچف دپلویانو تر منځ هم کش او گیر مخ په زیاتیدو و او دا خطرونه ورځ په ورځ اضافه کیدل چې دشوروي اتحاد نوم او نشان دجهان له نقشې ورک شي . د ۱۹۸۹ م په ۱۱ دسامبر مرتین جک Martin Jacques دبریتانیې دکمونست گوند فعال غړي او داوسنی مارکسیزم

Marksim to day دمرکز چلوونکي او داخبار مدیر په یوې مرکې کې دنیوزویک مجلی سره وویل « دادکمونزم خاتمه ده هغه څه چې مونږ ترې پوهیدو ، داد هغه سیستم پای دی چې په ۱۹۱۷ م کې پیل شوی و . . » .

د ۱۹۸۹ م په ۱۸ دسامبر دامریکا یو پخوانی جمهور رئیس ریچارد نکسن دنیوزویک مجلی په یوې مقالې کې ولیکل چې موږ له هرې خوا اورو چې لویدیځ افکار غالب او کمونیزم ماته کړې ده مګر تر اوسه دګوربچف په نامه یو کمونست په اروپا کې یو مشهور شخصیت دی .

په همدې ډول Brzezinski درئیس جمهور کارتر امنیتي سلاکار د ۱۹۸۹ م په ۱۸ دسامبر په یوې مرکې کې وویل چې شوروي اتحاد دڅاري امپراطوری میراث ( Legatee ) دی چې مارکس هغې ته دملتونو زندان یا جیل ویلی و او دستالین تر نظام لاندې دملتونو په ادیرې بدل شو او اوس دګوربچف په وخت کې دملـــتونو په آتش فشان تبدیل شوی دی .

دختیځې اروپا په هیوادونو کې دخلکو مظاهرو ، اعتصابونو او له سیاسی سیستم سره دخلکو مخالفتونو اوضاع مثبتو بدلونونو پر خوابیوله.

په رومانیې کې مظاهرو او دچایسسکو د کمونستی رژیم په مقابل کې ددولت له منځه پاځون ددې سبب شول چې دچایسسکو حکومت ړنګ او خپله هم پانسې شي ده په کلنو کلنو پر هغه هیواد حکومت چلولی و .

په بلغاریه کې بل کمونست دکتاتور ژوکوف چې په لس گونو کلنو یې دهغه هیواد په خلکو ستمکاری کړې وه له قدرت څخه راوغورځول شو او محاکمې لاندې ونیول شو .

همداډول په چکوسلواکیا او هنگري کې هم مظاهرې او له امنیتي قواوو سره اخ اوډب پراخ شو او په پولند کې کارگري اتحاد همبستگي Solidarity دهغه هیواد حکومت له شکست سره مخامخ کړ .

ددغو شدیدو مظاهرو او پاڅونونو له امله چې ختیځ آلمان یې هم سخت لړزولی و دبرلین دیوال د ۱۹۸۹ م په وروستیو وختوکې ونړول شو چې دیو مصنوعی او اجباری سد ، په توگه یې د آلمان ملت بیل کړی او موجودیت یې د کمونستی استبداد دنبې او نبنانی په ډول وحشت او ډار منځ ته راوړی و . د آلمان او نورو هیوادونو خلکو په بیلونو ، تبرونو او څټکو نو دغه دیوال ډیر ځایونه مړی مړی ویجاړ کړل .

دامریکا یو نامتو لیکوال A.m.. Rosenthal په یوې مقالې کې د ۱۹۸۹ کال دختیځ اروپا انقلابونه داسې ارزیابي کړي وو:

« ... کوم وخت چې دشوروی امپراتورۍ خپل اسیر ملتونو خوړل دهغوی په مقابل کې مبارزې کیدلې ښځې او نر دخپلو مبارزو له امله په قتل رسیدل په میلیونونو او حتی له شمیر څخه وتلی خلک له ډاره ډکو جیل خانو ته استول کیدل . دشوروي دپوځونو له خوا قیامونه او پاڅونونه په ډیر شدت سره سرکوبیدل او له منځه وړل کیدل ، په خاصه توگه په چکوسلواکیا ، پولند او هنگری کې ، همدغه مبارزې سرتیرنې او

مقاومتونه وو چې په پای کې یې د ۱۹۸۹م کال انقلاب او بدلونونه منځ ته راوړل نه دا چې گوربچف دد غو بدلونونو سبب گرځیدلی دی .... ».

له بلی خوا د ۱۹۹۲ م په ۱۷ او ۱۸ جون د روسیې جمهور رئیس بوریس یلڅن دامریکا د کانگرس یوې گډې غونډې ته وویل چې :

« کمونیزم مړشوی دی او موږ به یې پرې نږدو چې زموږ په هیواد کې بیا سر پورته کاندي » . یلڅن د روسیې لومړنی جمهور رئیس وُ چې دامریکا د کانگرس داسې یوې گډې غونډې ته یې وینا کوله .

هغه په یوې خصوصي میلمستیا کې وویل چې دا په کانگرس او جمهور رئیس بوش پورې اړه لري چې تصمیم ونیسي چې د اصلاحاتو پروسه په روسیه کې څرنگه وړاندې لاړه شي ...... ».

په دې برخه کې د شوروي د پخوانی مشر نیکتا خروسچف Nikita Khrushchev هغه نظریه چې درې لسیزې وړاندې یې دامریکا او کپیتلیزم په مخالفت کې څرگنده کړې وه دیاد وړ گڼل کیږي. هغه ویلي وو . « ..... که تاسی خوښ وئ که نه ، تاریخ زموږ په پلودې او موږ به تاسې خښ کړو .... ».

ولې د هغه د عقیدې خلاف په انجام کې دادی د شوروي کمونستی ۷۰ کلن سیستم مخ په ړنگیدو او ښخیدو شوی دی .

ددې تر څنگ دیو گوسلاویا یو نامتو عالم او سیاست پوه Milovan Djilas چې په کمونستی سیستم باندې دشدیدو انتقادونو له امله څو ځله زنداني شوی و او عقیده یې درلوده چې

«تایرنی» استبداد دسوسیالزم چاره نه کیدونکې نتیجه ده ، د ۱۹۸۹ م په ۱٦ اکتوبر له نیوزویک مجلی سره په یوې مرکې کې دشوروي اتحاد متعلق داسې وویل :

« دلینن انقلاب ختم شوی او په روسیې کې دنوي انقلاب پیل داسې پروسه ده چې دټولنی ټول جوړښت او ساختمان ته به تغییر ورکاندی او ټولنه به پلورالست یعنی څو ګوندی وکړي . هغه دګوربچف په باره کې وویل چې ګوربچف دوه مخونه لری دهغه یو مخ Pragmatism دی او بل مخ یې دا زیار باسی چې لیننزم بیرته را ژوندی کاندي ، مګر دا ممکنه نه ده ځکه دلویو بدلونونو پروسه پیل شوې او نشی کیدای چې هغه ودرول شي . هغه څه چې موږ په شوروي پولند او هنګری کې وینو شاید ددغه جریان شروع وي او دا به نورو کمونستی هیوادونو ته هم سرایت وکاندي... ».

له بلې خواد ۱۹۹۱ م په ۱۵ سپتامبر بوریس یلڅن د ABC تلویزیون په یوه بروډ کاست کې له مسکو څخه دامریکا خلکو ته وویل :

« فکر کوم دغه تجربه چې زموږ په هیواد کې اجرا شوې زموږ خلکو ته یوه تراژیدی ګرځیدلې ده ....... ».

په همدی ډول په همدغه بروډ کاست کې میخائیل ګوربچف دشوروي رهبر وویل :

« فکر کوم هغه مودل له شکست سره مخامخ شوی او دا نه یوازې موږ بلکه ټولو خلکو ته دعبرت یو درس دی .... ».

له بل پلوه جيمز بيكر د امريكا خارجه وزير د ۱۹۹۱ م په ۸ دسامبر په يوې تلويزيوني وينا کې د شوروی اتحاد او ختيځې اروپا دبدلونونو په اړوند وويل : « .... هغه شی چې موږ د اتحاد شوروي په نامه پيژانده نور نشته مگر د اخبر داری يې هم ورکړ چې د شوروی په تجزيه کيدو او توټه کيدو کې د يو گوسلاويا غوندې کورنی جگړه له امکان څخه لری نشی گڼل کيدای . بيکر اضافه کړه معلوم نه ده چې څرنگه يو سيستم به د شوروی اتحاد ځای ونيسي ولی امريکا به خپل کومکونه شوروی ته په مداوم ډول ورکړي چې د بحران له پراختيا څخه مخنيوی وکړای شي ..... ».

د ۱۹۸۹ د ختيځ اروپا دبدلونونو او انقلابونو په اړوند يو نامتو امريکايي ليکوال Williampfaff په يوې مقـــــالی کې هر الدتريبيون ۱۹۹۰/٤/٥ داسی وليکل : د ۱۹۸۹ م کال له بدلونونو څخه په ختيځه اروپا کې غلطه نتيجه گيري شوې ده ، ځينی هغه مصرفی انقلابونه يعنې Consumerist Revolutions گڼی چې د هغو خلکو له خوا په لاری اچول شوی دي چه لکه دلويديځو هيوادونو غوندی د ښه ژوند ، او شتمنې غوښتونکي دي ، مگر ځينې نورو هغو داسی ښودلی چې گواکې د امريکا متحده ايالاتو سوړ جنگ وړی دی . په دی لړکې برژنسکې د پخوانی جمهور رئيس جيمې کارتر امنيتې سلاکار هم شامل دی .

لومړنی استدلال تر يوه حده پوری درست دی ، مگر دوهم هيڅ حقيقت نه لری . حتی يو کال پخوا هم د امريکا حکومت نه غوښتل چې ووينی

دپخوانی سوړ جنگ ستر کچر ( ساختمان ) ړنگ شی او په همدې دلیل
یې ونشول کړای چې دختیځې اروپا دبدلونونو په مقابل کې پروخت خپل
دریځ وړاندې کاندی ، نوځکه تر ډیرو انتقادونو لاندې راغې . پاڅونونه
او بلوا گانی دختیځ او لویدیځ په روابطو کې ثبات او استقرار تهدیدوی .
واشنگټن ۳۰ کاله پخوا نه یوازې دشوروي تسلط او واکداری په ختیځه
اروپا قبوله کړه ، بلکه په محیلانه اقداماتو یې دهغې په ساتنه کښې هم
مهمه ونډه واخیسته .

شاته وگوری په ۱۹۵۲ کې چې دامریکا جمهور رئیس آیزنهاور او
خارجه وزیر جان فاستر دالس په انتخاباتی مبارزو کې دپرزدنت ترومن
اداره دکمونیزم په چلنج کې په اهمال او سستی ملزمه کوله او وعده یې
ورکوله چې دکمونزم په شاوهلو کې به یو جدی او فعال پروگرام پکار
واچوی ، مگر یو کال وروسته په ۱۹۵۳ م کې جمهور رئیس او خارجه وزیر
دبرلین دکارگرانو دانقلابی پاڅون په مقابل کې چې په ختیځ برلین کې
دشوروي په اشغالی زون کې شوی و او دشورویانو دقوتونو په لاس تکول
او ځپل کیده ..... هیڅ کوم اقدام ونه کړ .

درې کاله وروسته په (۱۹۵٦م) کال بیا دهنگري خلکو دکمونستي
حکومت پر ضد یو بر یالی غیر تي پاڅون وکړ او بریالی شول چې قدرت
هم په تر لاسه کړي او دشورویانو عسکر په یو زوروری خیابانی جگړې
کې په شا و تمبوی ، مگر دهنگری له دې نوی انقلابی حکومت سره چې
دناگې Nagy له خوا یې لا رهبرۍ نه کیده او تر ۵ ورځو پورې قدرت هم

په لاس کې و امريکا هيڅ هم ونه کړل تر دې چې دشوروی حکومت تازه دم عسکر هغه ځای ته وليږل او کوڅه په کوڅه يې دبوداپست ښار بيرته ونيوه . دغه قيام لس ورځې دوام درلود مگر دامريکا حکومت نه دهنگری آزاد حکومت په رسميت وپيژانداو نه يې هم دهنگری دبيطرفۍ داعلان په باره کې بين المللی ملاتړ ته سازمان ورکړ چې داغوښتنه يې دخپلې بيطرفې دضمانت لپاره ملگرو ملتونو ته کړې وه . دکمونيزم بيرته په شا گرځول يوه پوچه وعده او پلمه وگرځيده . دا يوه حزبی مسئاله نه وه په ١٩٦٨ م کې دامريکا جمهور رئيس لندن جانسن په پراگ باندې دشوروی اتحاد دتجاوز او پوځې حملی په مقابل کې هيڅ اقدام ونه کړ هغه فکر کاوه چې دپراگ دتجاوز دقضيې په سر دمشکلاتو په نه پيداکولو سره به مسکو دې ته تشويق او وهڅوي چې خپل کومکونه دويتنام کمونستی قواووته قطع کاندې . په داسی حال کې چې شوروی دامفکوره رد کړله .

امريکا په ساړه جنگ دبرياليتوب دگټلو لپاره دوه موثر اقدامات وکړل يو دا چې د CIA اداري د اروپا د آزادی راديو تشکيل او سرپرستي په غاړه واخيسته چې په ختيځه اروپا کې يې دشوروی دنفوذ دشنډولو لپاره کومک وکړی او بل دا چې امريکا ډيرې پيسې دوسلو په جوړولو لگولی په دې دليل چې شوروی به له هغه زيات لگښت کوي حال دا چې واقعيت داسي نه و. دامريکا دغو پوځي لگښتونو دشوروی په سيستم کې بحران را منځ ته کړ چې د ١٩٨٠ م په پای کې شديد او پراخ شوی ؤ .

مقاله په پای کې وايي حقیقت دا دی چې دختیځې اروپا خلکو داستبداد په مقابل کې پاڅون وکړ ، ځکه آزادي یې غوښتله هغوی د آزادۍ په ګټلو سره غوښتل بیرته اروپا او دنیا سره یو ځای شي او بیرته خپل پیوستون له لویدیځ تمدن سره ټینګ کاندي له کوم شي څخه چې هغوی نیمه پیړۍ بیل کړای شوي وو ..... ».

له بلې خوا کوم وخت چې دبالتیک هیوادونو خپله آزادي له شوروی اتحاد څخه اعلان کړه امریکا ۳۷ ام هیوادو چه دهغوي آزادي یې په رسمیت وپیژندله. په داسې حال کې چې ددغو هیوادونو هیله له امریکا څخه دا وه څو هغوی دشوروي دګواښونو به مقابل کې ژر په رسمیت وپیژني .

په همدې ډول اکراینیانو چې په دسامبر ۱۹۹۱ م کې دخپلواکی تصمیم ونیو ، دامریکا دهغه وخت دجمهور رئیس جورج بوش دغه څرګندونې به دترخې خاطرې په توګه په یادولري چې په جولای ۱۹۹۱ م کې صرف ٦ میاشتې پخوا په کیف کې دخبرو په ترڅ کې داکراینیانو دآزادۍ جنبش د Suicidal Nationalism انتحاري نشنلزم په نامه یاد کړی ؤ .

دبنسټیزوبدلونونو او اساسي تحولاتو تر څنګ په جون ۱۹۹۱ م کې په روسیې کې عمومي انتخابات ترسره شول چې دروسیې نوی جمهور رئیس وټاکي . په دغو انتخاباتو کې بوریس یلڅن دپنځه ( ٥ ) نورو کاندیدانو په مقابل کې چې دشوروی دکمونست ګوند له خوایې ملاتړ کیده دیر لوی

اکثریت لاس ته راوړ او دروسیې دفدریشن د جمهور رئیس په توګه انتخاب شو چې په خپل ذات کې یوه ډیره تاریخي او مهمه پیښه شمیرل کیده .

دبوریس یلڅن انتخاب په حقیقت کې دشوروی د دکتاتوری خاتمه وه چې داستبداد مانۍ یې وروسته له ۷۰ کلونو واکداری مخ په ړنګیدو شوې وه .

وریسې په ۱۹ اګست ۱۹۹۱ م کې یوه بله مهمه پیښه هم په شوروی اتحاد کې وشوه چې دنړیوالو پاملرنه یې دهغه هیواد حالاتو او تبدلاتو ته ګرځولې وه. هغه داوه چې په ۱۹ اګست ۱۹۹۱ م کې دشوروي دکمونست ګوند یو شمیر لوړ رتبه غړو دمیخائیل ګوربچف په ضدپه کودتا لاس پورې کړ څو د آزادی دڅپو مخه ونیسي چې دشوروي سیستم یې له بیخه لړ زاوه . ددغې کودتا له امله سره له دې چې د ګوربچف روابط موقتاً له دولتی اداری سره وشلیدل خو دبوریس یلڅن دمداخلی په نتیجې کې چې دروسیې دمنتخب جمهور رئیس په توګه یې په خلکو کې محبوبیت درلود او همدارنګه دکودتاچیانو داتحاد دنشتوالی له امله دغه توطئه ناکامه شوه او ګوربچف وکړای شول چې بیرته قدرت ترلاسه کړي .

دغې پیښې چې که له یوی خوا ددولت ددستګاه داخلی تاوتریخوالی او تشنج څرګنداو علنی کړ له بلې خوایې د ګوربچف او یلڅن سیالی او رقابت هم تشدیدکړل . دامریکا حکومت له ګوربچف څخه خپل ملاتړ اعلان کړ په داسی حال کې چې دچین حکومت له کودتا چیانو څخه خپل

حمايت څرګند کړي وُ .

دغو پيښو او حادثو پسې په نومبر ۱۹۹۱ م کې دشوروي دکمونست ګوند مشر تابه چې دخپل لوی مشر په مقابل کې خيانت کړی وُ په زيات تو بيخ او سرزنش مخامخ شو او دشوروی دمشر دفرمان په اساس دکمونست دګوند دړنګيدو امر صادر شو .

دشوروي دکمونست ګوند په منحل کيدلو - چې ۷۰ کالونه يې د هغه هيواد دخلکو دسرنوشت واکداری کړی وه -دشوروي کمونستی سيستم له منځه وچاود او په دې ډول يې دشکست نه منلو طلسم هم مات او دړې وړې وشو . دشوروي اتحاد له ختميدو سره دامريکا متحده ايالاتو دجهان ديوازينی ستر قدرت مقام وګاټه چې دهغه لپاره يې له ۷۰ کالو څخه زياتې مبارزې کړې وې .

**ب: دبين المللی تشنجاتو دوام :**

دشوروي اتحاد دامپراطورۍ دړنګيدلو او دساړه جنګ له ختميدو سره سره بين المللی تشنج او تاوتريخوالی بيا هم دوام درلود او دنړۍ ډير مسايل او جنجالونه چې دستر وقدرتونو له سيالۍ او مخالفتونو څخه منځ ته راغلي وو لا ينحل پاتې شول چې دلازم غور او پاملرنې وړ شميرل کيدل.

تر ۱۹۹۲ م پورې ددنيا دوسلو بازار بيا هم دشورويانو په لاس کې و او تر ټولو ډيرې وسلې او پوځي مهمات شوروی اتحاد پلورلی وو . په دې ډول چې له ۱۹۸۵ م نه تر ۱۹۹۲ م پورې شورويانو مجموعاً د ۱۰۸ مليياردو

ډالرو په ارزښت وسلې پلورلې وي په داسې حال کې چې امریکا صرف د ٤٥ ملیارده ډالرو وسلو په پلورلو دوهم مقام کې پاتې شوې ده .

دامریکا د متحده ایالاتو او دروسیې دفدریشن چې د پخوانې شوروي اتحاد د ځای نیونکې په توګه - چې د هغه له حقوقو او دوجایبو څخه بر خور داره کیده - تر منځ نه یوازې دذروی وسلو او دلوی واټن راکټونو په سر اختلافات پاتې ؤ بلکه دروسیې په پالیسۍ دبوسنیا دسربانو په متعلق او له بالتیک هیوادونو څخه دشوروی دپوځي قطعاتو دوتلو دځنډیدلو او په همدې ډول په هند باندې د شوروي دلیرې واټن راکټونو او وسلو د پلورلو مسایل داختلاف وړ ستونزو په توګه پاتې شوي وو.

له بلې خوا ختیځې اروپا پخوا دناتو د تړون پر اختیا هم دلویدیځې اروپا هیوادونو او روسیې تر منځ یوه جنجال غور ځوونکې موضوع جوړه شوې وه .

لویدیځ هیوادونه ددې غوښتونکي وو چې پولند ، چک او سلواک جمهوریتونه ، هنګری او همدارنګه دبالتیک هیوادونه ( لتویا - لتونیا - استونیا ) دناتو دپوځي تړون غړي شي ، مګر روسیې بر خلاف دیو شمیر اپوزیشن مشرانو او جنرالانو تر فشار لاندې په دې دریځ ټینګار کاوه چې دناتو دپراختیا پر ځای چې په سمیه کې به دقوتونو موازنه حزابه کړي باید روسیه او ناتو دهغو هیوادونو امنیت او مصئوونیت تضمین کاندی چې دلویدیځې اروپا او دروسیې دفدریشن ترمنځ پراته دي .

له بلې خوا دروسیې مشرانو د ۱۹۹۱ په پای کې چه دشوروی اتحاد

ړنګېدل لاعلاجه شول په بېړه د خپلواکو هیوادونو د کامنولت -Commenwelth of Independent States یا (C.I.S) په جوړولو لاس پورې کړ چې کـه د پخواني شوروي نفوذ او واکمني په بل شکل وساتلی شي .

په نوی اتحاد کې دشوروي له پخوانیو ۱۵ جمهوریتونو څخه یوازې نه (۹) جمهوریتونو ګډون وکړ چې مسکو ته ډېرو وفادارو کمونستانو له خوا اداره کېدل .

دشوروی له استبدادی سیستم څخه تازه آزاد شوي جمهوریتونه چې له ډیرو معادنو او طبیعی شتمنیو څخه ډک او مالامال دي دروسیې او دلویدیځو هیوادونو - په سر کې یې دامریکا متحده ایالاتو - تر منځ نوي رقابتونه او سیالۍ منځ ته راوړې دي . د کومو سیمو چې دوی له پخوا څخه دهغو د طبیعي شتمنیو پکار اچول او ذګټو اخیستلو فکرونه په سرونو کې درلودل .

د منځنی آسیا د جمهوریتونو سیمه چې دیوې قدیمې سیاسي خبرې له مخې « دشوروي دنس لاندی پسته برخه » جوړوله ، او په لومړی سر کې ورته اشاره وشوه چې دروسیې دتزاری امپراتورۍ او بریتانوي امپراتورۍ ترمنځ یې په ۱۹ پیړۍ کې دلویې سیاسي لوبې درقابتونو او سیالیو میدان جوړ کړي و دشوروي کمونستانو د تزاریانو له دغه میراث څخه په کلکه دفاع او ساتنه کوله ، مګر دروسیې فدریشن چې اوس یې دشوروی پوښ له لاسه ورکړی په دې ډار او خوف کې لویدلی دی چې د اسلامی

نهضت او دموکراسی دجنبش پراختیا به عاقبت د دغه هیواد چوکاټ هم مات کاندي چې له ۱٦ جمهوریتونو او خود مختاره سیمو څخه ترکیب شوی دی.

په دې برخه کې که یوازې د منځنی آسیا جمهوریتونو او دشوروی د مسلمانان او سیدونکو سیمو ته یو لنډ نظر واچول شي معلومیږي چې دپاسه ۱۹،۲٪ په سلو کې دشوروی نفوس مسلمانانو جوړ کړي او ټول نفوس یې ۵۵ میلیونو خلکو پورې رسیږي.

د منځنی آسیا جمهوریتونه چې په ۱۹ مه پیړۍ کې ورو ورو او قدم په قدم د تزاری روسیې له خوا نیول شول دشوروي په کمونستی سیستم کې ددې باوجود چې د کمونستی انقلاب مشر لینن د تزاری روسیې تریوغ لاندې ټولو قامونو او ملتونو ته د آزادی او له شوروي څخه دبیلتون ژمنه او وعده ورکړې وه بیا هم په دې بریالی نشول چې خپل سرنوشت په خپل لاس کې واخلي او د خپلواکۍ او استقلال خاوندان شي.

یوازې د میخائیل گورباچف په وخت کې دهغه داصلاحاتو پر بنیاد ددغو جمهوریتونو خلکو ته یو لږ مذهبی او کلتوري آزادي گانې ورکړل شوې چې په کلونو کلونو یې دهغو تقاضا کوله.

ددې ترڅنگ په ۱۹۸۷ م کې د تاتار د قام خلکو چې دستالین په زمانه کې جبراً له خپلو ځایونو څخه ایستل شوي او سایبریا او منځنی آسیا ته کډوال شوي وو، دخپلو حقوقو دپاره په مظاهرو لاس پورې کړ. په ۱۹۸۸ م کې د قزاقستان خلکو په مظاهرو او جلوسونو په دولتی چارو کې

دډيرې ونډې غوښتنه پورته کړه . په همدې ډول په تاجيکستان او ازبکستان کې هم خلک د مذهبي او کلتوري آزادۍ غوښتونکي شول او دشوروي حکومت ژر په مذهبي چارو کې اجازه ورکړه چې د مسلمانانو مسجدونه او د عبادت ځايونه بېرته خلاص او فعال کاندي .

دستالين په وخت کې ديني او مذهبي عقايدو سره د مبارزې پر بنياد تقريباً ۲۶ زره مسجدونه او د عبادت ځايونه وران او يا تړل شوي وو او په زرهاوو ملايان او روحانيون قتل او يا هم Gulag ته استول شوي وو .

دياد وني وړ ده چې د منځنۍ آسيا په جمهوريتونو کې ازبکستان ۳، ۲۰ ميليونه نفوس لري چې په هغه کې ۱۱ په سلو کې روسان اوسيږي. د غه جمهوريت له نورو ټولو څخه زيات نفوس لري او په ۱۹ مه پيړۍ کې لومړي د تجارۍ پوځونو او بيا د شوروي د سرو لښکرو له خوا اشغال شو . په ۱۹۸۹ او ۱۹۹۰ م کې د شوروي حکومت د ريفورمونو په اساس سياسي او کلتوري فعاليتونه پکې زيات شول . د برليک Birlik ملي جنبش او دوهابي پخوانۍ ټولنې هم په فعاليتونو لاس پورې کړ . د غه جمهوريت چې د اسلام کريموف جمهور رئيس تر مشرۍ لاندې په ۱۹۹۱ م کې له شوروي اتحاد څخه خپله آزادي اعلان کړه ، د سرو زرو ، يورانيم او د ګاز او تيلو ډير معدنونه او ذخيرې لري چې لويديځ هيوادونه د هغو استخراج ته ډير هڅول شوي دي . تر اوسه د د غه جمهوريت د سروزرو له معدن څخه په زړو او قديمي وسايلو د کال تر ۸۰ ټنو پورې سره زر (طلا) لاس ته راځي چې په لږو اصلاحاتو او مدرن ماشينونو سره به

د پام وړ د یر بنت پکې راشي . له بلې خوا پخته هم د دغه جمهوریت یو لوی صادراتی جز جوړوي . کریموف چې له څو کلونو راهیسې د کمونست ګوند مشر او د ازبکستان جمهور رئیس و ، خو اوس ځانته یو دموکرات او آزاد شخص وايي . همدا ډول تاجیکستان چې ۱،۵ ملیون نفوس لري لس په سلو کې روسان په کې اوسیږي . هم د روسانو له پاره یوه ډیره حساسه او له اهمیت څخه ډکه سیمه شمیرل کیږي.

تاجیکستان په ۱۹ مه پیړۍ کې د ځاري روسیې د قوتونو تر حملې لاندې راغی او د ۲۰ مې پیړۍ په سر کې د هغوی تر کنترول لاندې شو . وروسته په ۱۹۲۹ م کې تاجیکستان د شوروي اتحاد د یو جمهوریت په توګه بدل شو او بالاخره د شوروي د امپراتوري په ورانیدو سره یې په ۱۹۹۱ م کې خپل استقلال اعلان کړ . د تاجیکستان خلکو چې له آزادۍ څخه وروسته په عمومي انتخاباتو کې د کمونست حزب له قدرت څخه وغورځاوه د شورویانو له شرمه ډکې توطئې سره مخامخ شول چې د هغې له امله نه یوازې پخوانی کمونستان د سنګک صفروف د کمونست ملیشې او د ازبکستان په پوځي زور او ملاتړ بیرته قدرت ته ورسول شول او په زرګونو خلک په دغې توطئې کې له منځه لاړل ، بلکه تاجیکستان یوې کورنۍ جګړې ته هم ولوید چې د هغې له امله تر اوسه په زرهاوو بیګناه خلک وژل شوي او په لکونو نور افغانستان ته مهاجر او آواره شوي دي . امام علی رحمانوف پخوانی کمونست مشر اوس هم د جمهور رئیس په توګه پاتې دی . د تاجیکستان مظلوم ولس د کمونستانو پر ضد خپل ملي او اسلامي

مقاومت وړاندي بيايي او درستاخيز گوند هم هلته فعاليت کوي . هغو گوندونو چې په ۱۹۹۲ م کې کمونست ضد ائتلاف کړی و، لکه رستاخيز اسلامي دموکراتيک پارټي ، رستاخيز نشنلست او لعل بدخشان ټول بند شول . په ۱۹۹۲ م کې د تاجکستان او د روسيې د حکومت تر منځ يوه موافقه لاس ليک شوه او د هغې په اساس د روسيې پوځيان په تاجکستان کې ځای پر ځای شول .

تاجيکستان د المونيم او يورانيم قيمتي معادن او د طبيعي گاز ذخيرې لري چې د روسانو له خوا ستخراج شوي او گټه تری اخيستل کيږي . په همدې ترتيب ترکمنستان ديو واړه جمهوريت په توگه ۳،۶ ميليونه نفوس لري چې ۱۳ فصيده پکې روسان دي .

روسان په ادارې چارو او د طبيعي شتمنيو په راکاړلو کې مشغول دي . د ترکمنانانو ملي پاڅون چې په ۱۹۱۶ م کې وتکول شونو په ۱۹۲٤ م کې ترکمنستان د شوروي ديو جمهوريت په توگه اعلان شو . دغه جمهوريت چې د طبيعي گاز او تيلو ډيرې زيرمې لري نوځکه يې د لويديځ هيوادونو او بين المللي شرکتونو ژوره پاملرنه ځان ته اړولې ده . ويل کيږي چې ترکمستان دد نيا د گاز د زيرمو لرونکو هيوادونو په کتار کې څلورم مقام لري . دد غه هيواد جمهور رئيس صفر مراد نيازوف هماغه پخواني کمونستي مشر دی چې تر اوسه يې قدرت په لاس کې دی . له بلې خوا قرغزستان چې ٤،٤ مليون نفوس لری او ۲۰ په سلو کې روسان په کې اوسيږي ، هم په ۱۹ مه پيړۍ کې د ځاري قواوو تر حملو لاندې راغې او

بیا وروستـه په ۱۹۲٤ م کې دشوروي دجمهوریت درجه ورکړی شوه په ۱۹۹ م کې آزادي اعلان کړه . قرغزستان چې له چین سره هم ګډ سرحدونه لري له معدنونو او طبیعي زیرمو ډک دی ، چې تراوسه ډیر لږ ورڅخه استفاده شوې ده . ددغه هیواد داشر Ashar جنبش زیار باسی چې له کمونست ګوند څخه قدرت تر لاسه کاندې . ویل کیږي چې قرغزستان سروزرو (طلا) دزیرمو لرونکیو هیوادونو په کتار کې اووم (۷) هیواد ګڼل کیږي . ددغه هیواد مشر عسکر آقایف پخوانی کمونستی مشر دی چې اوس یي دجمهور رئیس په توګه قدرت په لاس کې دي.

همدارنګه قزاقستان چې په پراخه سیمه کې پروت او ۱٦،۷ میلیون نفوس لري او په هغو کې ۳۸ په سلو کې روسان دي ، په ۱۸ او ۱۹ پیړی کې قدم په قدم دروسانو داستعماری تجاوز او تیري لاندی واقع شو او بالاخره دهغوی په لاس کې ولوید . قزاقستان چې بیا وروسته په ۱۹۳٦ م کې دشوروي یو جمهوریت شو په ۱۹۹۱ م کې یې خپله آزادی له شوروي اتحاد څخه اعلان کړه چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي .

قزاقستان سربیره پر معدنونو د تنګیز په سیمې کې د طبیعي ګاز او تیلو فوق العاده زیرمې لري چې روسی او لویدیځ شرکتونه دهغو داستخراج لپاره په سختو سیالیو او رقابتونو کې لویدلی دي. دلته هم یو پخوانی کمونست لاربشود دنور سلطان نظربایف په نامه - چې پخوا هم په قدرت کې و - اوس هم د جمهور رئیس په توګه ناست دی . له بل پلوه آذربایجان هم چې ۷،۱ ملیون نفوس لري د پخوانی شوروي اتحاد له

شتمنو جمهوریتونو څخه ګڼل کیږي چې د طبیعي ګاز او تیلو پر یمانه زیرمې لري .

آذربایجان چې په ۱۹۱۸ کې یې خپله آزادي له ترکیې څخه تر لاسه کړې وه په ۱۹۲۰ کې د سرو لښکرو له خوا اشغال او په زور او جبر دشوروي دیو جز په توګه اعلان شو . په دوهم نړیوال جنګ کې دشوروي پوځونو په ایراني آذربایجان هم تجاوز وکړ او هغه یې ونیو مګر بیا وروسته دبین المللي فشارونو له امله مجبور شول چې هغه بیرته ایران ته پریږدي . آذربایجان هم په ۱۹۹۰ م کې له شوروي څخه د آزادۍ اعلان وکړ . آذربایجان په نګورنو قره باغ باندې له ارمنستان سره شخړه لري . روسان کوشش کوي ددغو دواړو هیوادوو تر منځ د دښمنیو په پراخولو کې لاس وهی چې آذربایجان مجبور شي دروسیې په تجویز شوي اتحاد کې ځان ګډ کاندي .

په همدې ډول دچیچن آزادی خوښوونکې زړه ور خلک له هغو قامونو څخه دی چې دروس داستعمار پر ضد د مبارزو اوږد تاریخ لري او دوی دخپلې آزادی دبیرته اخیستلو لپاره له روسانو سره ډیره جنګونه کړي دي . دستالین په وخت کې په سل ګونه زره چیچنیان په زور او جبر سایبریا او نورو سیمو ته کډوال کړی شول او کوشش کیده چې ددوی د آزادۍ غوښتولو روحیه بیخې له منځه یوسي .

چیچنیان چې صرف ۱،۵ ملیون نفوس لري ډیر زیار باسي چې له روسانو څخه خپله آزادي تر لاسه کاندي او دخپلو طبیعی شتمنیو ( ګاز –

تیل او نور ) په برکت د خپل حکومت چارې وړاندې بوزي . جنرال جوهر دودایف د چیچنیا مشر چې له ټولو څخه وړاندې یې خپله آزادي له شوروي اتحاد څخه اعلان کړه او ټول روابط یې له شورویانو سره و شلول دایې هڅه وه چې دروسانو له سیاسي او پوځي فشارونو سره سره به له خپلې فیصلې څخه ونه ګرځي او د چیچنیا له بشپړې آزادۍ څخه به دفاع کوي .

څرنګه چې پورته په ډیر اختصار ورته اشاره وشوه د دغو جمهوریتونو د حیاتي او بنیادي اهمیت په اساس کوم وخت چې شوروي اتحاد مخ په ورانیدو شو نو د روسیې مشرانو په دغو هلو ځلو لاس پورې کړ چې که دغه سیمې په کوم بل شکل او سیستم دروسیې تر قبضې او اثر لاندې وساتي .
په دغه ارتباط دروسیې د پارلمان مشر Ruslan Khasbulatov په سپتامبر ۱۹۹۳ م یو محافظه کار اخبار Den ته وویل چې دی هیله لري یو دول اتحاد او امپراتوري به په دولتي ایدیالوژي او دعنعنو او تریدیشنونو Traditons په اساس په روسیې کې بیرته راشي .

په همدې ډول د پوځي چارو یو متخصص د Sagodnya جریدې ته ولیکل چې د دفاع وزیر ګراچف Grachev د ۱۹۹۳ م په ۱٤ سپتامبر د پوځ منصبدارانو ته په یوه بریفنګ کې داسې معلومات ورکړل : « تصمیم نیول شوي چې پوځونه دروسیې ترسرحد پورې بیرته ونه ایستل شي او د پخواني شوروي اتحاد سرحدونه دې وساتل شي . په خاصه توګه په منځني آسیا او شمالي قفقاز کې . پوځ پ: دې عقیده دی چې یو ډول اتحاد به منځ ته راځي او له دې امله د عسکرو د بیرته ایستلو مسئاله نه

طرح کیږي ....».

وروسته ۱۹۹۳ م د نومبر په لومړیو کې جنرال گراچف Grachev د روسيې د دفاع وزیر د روسيې نظامي دوکتورین په ۲۳ پانو کې اعلان کړ چې د هغه په اساس به روسیه د پخوانی شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې چې هغو ته د Near Abroad اصطلاح پکاریږي د عسکرو لیږلو او د قوی د استعمال حق ولري. د دغو انکشافاتو تر څنگ بوریس یلڅن هم په دې باره کې وویل چې د تاجیکستان سرحدونه د روسيې سرحدونه دي او هرچیرې چې روسان وي روسیې عسکر به یې د ساتنی لپاره هلته لیږل کیږي .....

د سیمه ییزو حالاتو د متخصصینو په نظر د شوروي اتحاد له شکست څخه وروسته د اوضاعو په چټکه پراختیا کې داسې ښکاري چې د روسيې حکومت خپلو هدفونو ته د رسیدو په مقصد درې ستراتیژي گانې وړاندې بیایي :

۱- د گاونډیو هیوادونو بی ثباته کول او د دې مقصد لپاره قامي ، ژبني او مذهبي اختلافاتو ته په دغو هیوادو کې لمن وهل د زیاتی توجه وړ گڼل کیږي.

۲- په تاجیکستان او ملدوي کې په ماهرانه توگه او چپه خوله نظامي چارو کې د روسانو استخدام کول .

۳- د انکلیفونو Enclaves جوړول چې که سره یو ځای کړل شي د شوروي سرحدونو ته ورسیږي په ملداوا ، کالینن گراد او د تاجیکستان او

افغانستان په سرحد کې .

دهمدغو اصولو پر بنسټ دروسيي ۲۰۱ موترريزه پوځ چې ۲۵ زره کسان دي تاجيکستان ته ليږل شوي او عمدةً د تاجيکستان او افغانستان د سرحدونو په اوږدو کې ځاى په ځاى شوي دي . ددغه پوځ افراد اکثراً روسان او ځيني د مستقلو هيوادونو له کامنولت CIS څخه درضا کارانو په نامه دي چې هر يو يې دمياشتى ۱۰۹ امريکايي ډالر معادل ( ۱٤۰۰۰۰ ) روبل معاش اخلي چې‌دا يو غټ مبلغ ګڼل کيږي . دغه پوځ چې د تاجيکستان او افغانستان له سرحدونو ساتنه کوي ؛ د تاجيکستان لاس پوڅي حکومت هم ساتي دا حکومت دهغه هيواد په خلکو کې محبوبيت نه لري .

بايد زياته شي چې د تاجيکستان له سرحدونو په شوروي کې دافغاني مجاهدينو - دنفوذ له انديښنو څخه دهغه هيواد سفير Boris Pasta khov د ۱۹۹۰م په پاى کې په کابل کې يو خبري کنفرانس کې دغه تور لګولی و - چې امريکا او پاکستان د شوروي جنوبي برخو ( تاجيکستان او ازبکستان ) ته مجاهدين اووسلې استوي او په هغو سيمو کې بدامنی او بغاوتونه جوړي .

له‌بل پلوه په سپتامبر ۱۹۹۳ م کې دروسيي خارجه وزير اندري کوزيرف د ملګرو ملتونو په عمومی غونډه کې په خپله وينا کې دشوروي پخوا نيو جمهوريتو کې د مداخلی دحق غوښتنه وکړه چې په قامی او نژادي کشالو کې راګير شوي دي . هغه وويل چې هيڅ هيواد ( دهغه په قول)

زمونږ سوله ییزې هلې ځلې د پخواني شوروي اتحاد په سرحدونو کې نه شي تعویضولای . هغه دا اندیښنه رد کړه چې مسکو هڅه لري خپل ګاونډیان - تر تاثیر لاندې راولي هغه دول چې دځاري یا شوروي حکومت په وخت کې کیدل ( په داسې حال کې چې حقیقت دروسیې د خارجه وزیر د وینا خلاف دی او روسي مقامات په ټولو دغو مسایلو او ستونزو کې په نګورنو قره باغ کې دارمنستان او آذربایجان تر منځ په جورجیا کې دابخازیا دبیلتون غوښتونکو په ملاتړ او د تاجیکستان او ملداوی چارو کې په خپله ګتیه لاس وهنې کوي . ) دروسیې د خارجه چارو وزیر وینا دسیمې په هیوادونو او لویدیځ دنیا کې داسې اندیښنې او تشو یشونه را پیدا کړي دي چې دنوې روسیې حکومت په یوه لاس له لویدیځې اروپا او امریکا څخه کومکونه ، پور او معاونتونه اخلي خو په بل لاس له همدغو مدار کو څخه په خپلو پخوانیو جمهوریتونو او ځینو نورو سیمو کې د جنګ او جدل بازارونه تود وي . دنژدې لرې سیاست Near Abroad په حقیقت کې له یو بې نتیجې کوشش څخه پرته بل شی نه بلل کیږي چې دروس حکومت د خپل سابقه قدرت دبیا راژوندی کولو په خاطر په لاره اچولی دی . دډیرو خلکو له نظره دغه Near abroad د Divide and rule پالیسي ته ورته ده . په دغه ارتباط Dimitri Furman دیورپ د انستیتوت او د دموکراتیک جنبش غړی په مسکو کې وایي : « روسیه دوه خارجې پالیسۍ لري هر کله یې چې لویدیځو هیوادونو سره معامله وي نو د Dinner Jacket

policy څخه کاراخلي او د خارجه وزارت مامورین رامـــخ ته کیږي ، خود Near abroad ملکونو ته د FlakJacket څخه کار اخیستل کیږي او داسی چال چلن کوي ، لکه چې د شوروي اتحاد په وخت کې کیده ، په دغه ســـــیاست کې عمـــــده رول د دفاع وزیر او د Military Industrial complex رئیس په غاړه لري . روسیه په جمهوریتونو کې د کورنیو جګړو په پلمه دا حق ځان ته ورکوي چې هلته مداخله وکړي » .

د روسیې له کمونستی مشرانو سربیره ه افراطی نشنلست مشر Zhirinousky هم د پخوانی ځاری روسیې او شوروي اتحاد د حیثیت د بیرته ګټلو لپاره مبارزه پیل کړې او معتقد دی چې د ضرورت په وخت کې به د دغه هدف لپاره -- له زور څخه هم کار واخلي .

د امریکا متحد ، ایالات او لویدیځ هیوادونه د ګازرې او سوتي له سیاست څخه په استفادې له روسیې سره داسی یو طرز العمل په مخ کې نیولی دی چې اصلاحات په هغه هیواد کې په ښه لاره او جهت کې ولویږي . لویدیځ پور ورکوونکي هیوادونه د آزاد اقتصادی سیستم او آزاد مارکیټ د پروسې د تطبیق په مقصد روسیې ته د دغو څلور واصولو د رعایت توصیه او لارښوونه کوی:

- Selfdetemination خود ارادیت
- Democratization دموکراسی کول
- Privatization شخصی کول

## Demilitarization- غیر پوځي کول

• له بلې خوا د لویدیځ نړۍ ستر هیوادونه د لومړي نړیوال جنګ د تحمیلي او په زور منل شوو معاهدو د نتایجو په نظر کې نیولو سره چې د آلمان هیواد یې د نازیزم او هتلریزم په بحران کې غورځولی وه ، له روسیې سره نرمه او عاطفانه رویه په مخ کې نیولی احتیاط کوي چې مبادا د غه هیواد د افراطي نشنلستانو او یا نه پخلا کیدونکیو کمونستانو لاس ته ورشي چې په هغه صورت کې به د روسیې اصلاحاتو پروګرام تول له ناکامی سره مخامخ شي .

د منځنۍ آسیا او شمالي قفقاز له معدنونو او پریمانه طبیعي زیرمو څخه د استفادې په برخه کې امریکا یي اروپایي او آسیا یې لویو شرکتونو او کمپنیو بې ساري فعالیتونه پیل کړي دي چې پخوایي چاتخمین هم نشو کولای . یوازې د تیل ایستلو شرکت شفران Chevran غواړي په ملیارد و ډالر د قزاقستان د تیلو د زیرمو لپاره پانګه واچوي . د ترکمستان او آذربایجان د تیلو او ګاز زیر مو هم د بهرنیو پانګو یو سیلاب ځان خوا راکش کړی او فوق العاده کارونه په د غه برخه کې پیل شوي چې ویل کیږي د دغو هیوادونو ځیري به بالکل بدلی او نوې کاندي .

د تیل او ګاز د رایستلو متخصصین په دې عقیده دي چې ترکمستان او آذربایجان به په راتلونکې پیړۍ کې د پترولي موادو په استخراج کې د کویت ځان ونیسې .

د دې رقابتونو او کشمکشونو تر څنګ درد یکال اسلامي جنبشونو

د پراختيا مسئالی هم دامريکا او روسيې په سياستونو باندې اثر غورځولی دی . د غو جنبشونو چې د آسيا له ختيځ څخه دافريقا تر شمال پورې شور او غوغا پورته کړې دافغانستان دجهاد له اثراتو څخه شميرل کيږي چې په هغه کې يو شمير عربي رضا کارانو د گوريلايي جنگونو تجربی پيدا کړې او چې بيرته خپلو هيوادونو ته ستانه شوي نو د خپلو حکومتونو په مقابل کې يې هم داسلامی نظامونو د تشکيل په مقصد په مبارزو لاس پورې کړی دی .

دغه رضا کاران چې د « افغانانو » په نامه شهرت پيدا کړی فکر کيږي چې زياتره په الجزاير او مصر کې دحکومت مخالفو ډلو ته مرستی او لارښوونی کوي .

په الجزاير کې له هغه وخته چې پوځ دعمومی انتخاباتو په دوهمه مرحله کې مداخله وکړه او پرې نښوده چې دالجزاير داسلامی نجات جبهه چې دلومړۍ مرحلی انتخابات يې گټلی وو کاميابه شي دغه هيواد په يوې داخلي جگړې او کشالی کې لويدلی دي چې دهغې له امله تر اوسه په سل گونو کسان د امنيتي قواوو او دنجات دجبهی دپلويانو په وسله وال اخ او ډب کې وژل شوي دي .

په همدی ډول په ۱۹۹۲ م او ۱۹۹۳ م په لومړيو وختو کې په مصر کې دبم غور ځولو او په خارجيانو باندې دحملو له امله ۱۲۶ کسان مړه او په لس گونو نور ټپيان شوي دي . دمصر جمهور رئيس حسنی مبارک دالحيات له اخبار سره په مرکې کې په ايران او سودان تورولگاوه چې فند

منتلستانو ته مرسته او پوځي روزنه ورکوي . همدارنګه هغه عربي افغانان هم متهم کړل چې له راستنيدو وروسته يې په تخريب کارۍ لاس پورې کړې دی .

د ۱۹۹۳ م په فبرورۍ کې د نيويارک پرنړيوال تجارتي مرکز د بم غورځولو په پيښې کې يو شمير عربان تورن او بنديان شول چې ويل کيږي افغانستان ته تللي او د افغانستان له راديکال اسلامي ګوندونو سره يې اړيکې درلودل امريکايي مقامات له ډيرو انديښنو سره د دغې حادثې پلټنه کړې ده .

په پاکستان کې د ۱۹۹۳ م په اوايلو کې دغينو عربي هيوادونو په غوښتنه په سل ګونو عربان ګرفتار او مجبور شول چې له پاکستان څخه ووزي . د تونس داسلامي نهضت يو مشر رشيد غنوشي چې د پوليس د تعقيب او زور زياتي له امله انګلستان ته پنا هنده شوی په يوې مرکې کې وويل چې په هغو ټولنو کې چه خلک له آزادي څخه برخوردار ه او برخمن دي اسلام ته نژدې دي نسبت هغو ټولنو ته چې ځانته مسلمان وايي مګر آزادي نه لري .....

په دې لړ کې عبدالعزيز ابن باز د سعودي عربستان د وهابيانو بانفوذه شخصيت او شيخ محمد تنتاوی د مصر داسلامي مرکز رئيس په ښکاره له خپلو حکومتونو څخه په ملاتړ کولو تصريح کړه چې هغه څوک چې په زور زياتي غواړي اسلامي حکومت جوړ کاندي د اسلام له روحيې سره مخالفت کوي ...

برسیره پردې په لویدیځـه نړۍ کـې داسـې ذهنیت هم منځ ته راغلی چې دلویدیځې نړۍ او کمونیزم جنګ به اوس دلویدیځ او اسلامی فندامنتلزم په جنګ بدل شي . په دې اړوند دلویدیځو هیوادونو ورځپاڼو په تحلیل او تفصیل لیکلي دي چې اسلامی فندامنتلزم یو انقلابی او متعرض جنبش دی ، لکه چې پخوا فاشست بلشویک یا نازي جنبشونه وو . همدارنګه دغو ورځپاڼو زیاته کړي چې د مصر ، الجزایر او اردن فندمنتلستان هغه لارې تعقیبوي ، چې د آیت الله خمینی حکومت په ایران کې پرې روان دی

لکه دسیاسی اپوزیشن له منځه وړل او دشخصی آزادیو ، انتخاباتو - چې په هغه کې ټول ګوندونه برخه واخیستلی شي او سیکولرزم - ختمول .

څرنګه چې په ردیکال اسلامی جنبشونو کې ځینې د سابق شوروي اتحاد دوستان او ځینې نور دامریکا پلویان ګڼل کیږي له دې امله دروسیې او دامریکا حکومتونه ددغو جنبشونو غوښتنی هم په مسایلو کې په نظر کې نیسي او دا په خپل ذات کې دامریکا او روسیې تر منځ یو علیحده کشمکش جوړوي .

دپورتنیو توضیحاتو په اساس دامریکا او روسیې ترمنځ نه یوازې دذروي وسلو د کنترول دروسیې برخورد له تازه آزاد شوو جمهوریتونو سره او نوروبین المللی مسایلو په مورد کې اختلافات ختم شوي نه دی ، بلکه یو لړ نوي رقابتونه دشمال او جنوب داقتصادي ستونزو له امله او د منځنی آسیا له طبیعی زیرمو څخه داستفادی په برخه کې منځ ته راغلي دي چې کیدای شي د سترو قدرتونو دنفوذ دساحو په ویشلو کې نوی تاوتریخوالی

او بحرانونه منځ ته راولي .

**ج: دافغانستان د تراژيدۍ ادامه:**

سره له دې چې د ساړه جنگ دوران د شوروي اتحاد په ړنگيدو سره پای ته ورسيداو په افغانستان کې د شورويانو پلوی او لاس پوڅي حکومت له منځه لاړ ، خو د افغانستان د مظلوم ولس تراژيدي لا ختمه نشوه او د غرض لاسونه په بل شکل د افغانستان د خلکو د وينو تويېدو لپاره وړاندې شول .

څرنگه چې پخوا وويل شول نجيب الله د کابل د حکومت مشر چې حاضر شوي ؤ قدرت د ملگرو ملتونو د سولې له پروگرام سره سم يوې بيطرفه اداري ته وسپاري د خپلو حزبي مخالفانو او د خپل حکومت د جنرالانو په کودتا مخامخ او د خپل سر د ساتلو لپاره د ملگرو ملتونو په دفتر کې پناه گزين شو . د دغې دسيسې او کودتا له امله نه يوازې نجيب الله په داسې سرنوشت گرفتار شو ، بلکه د سولې هغه پلان هم شنډ او بې نتيجې شو چې کلونه کلونه وړاندې کار شوي و . کمونستانو د ملگرو ملتونو د سولې له پلان څخه ويره درلوده ، نو ځکه يې د هغه په شنډولو کورنې جگړې ته لاره خلاصه کړه او دا د دې لپاره چې د دوی جنايتونه د خلکو له ياده ووزي . په ۲۰ اپريل ۱۹۹۲ م کې په مزارشريف کې اعلان وشو چې د شمال مليشې د کابل له حکومت سره ارتباط شلولی او په خپل ټول قوت د احمد شاه مسعود او رشيد دوستم له اتحاد څخه ملاتړ کوي .

کوم وخت چې عبدالوکيل او د کابل د حکومت جنرالان له احمد شاه مسعود سره د پيوستون لپاره چاريکار و ته لاړل نو د کابل د حکومت نور

ځواکونه او د بګرام هوايي ډګر له جنګي الوتکو وسلو او مهماتو سره ټول مسعود ته تسلیم شول او شورای نظار خلک په بیړه د کابل د ښار د نیولو لپاره پر مخ ولاړل .

په جنوب کې د ګلب الدین حکمتیار وسله وال مجاهدین دلو ګر له لارې کابل ته ورنژدې کیدل . په دغه خطر ناک او کړ کیچن حالت کې چې نور د ببنن سیوان هلې ځلې ناکامه شوې وي په پیښور کې د نواز شریف او تنظیمي مشرانو تر منځ غونډه جوړه شوې وه چې د حل یوه نوې لار پیداکاندي . داسې معلومیدله چې د پاکستان حکومت به له روسانو سره په یوپټ توافق کې د یو ډول اسلامی حکومت ترکیب منلی وي . په دې اساس له تنظیمي ډلو څخه چې ۵۱ کسیزه شوری جوړه شوه نو حضرت ضبغة الله مجددي دلومړي مؤقتی حکومت د مشر په توګه وټاکل شو چې صرف د دوه میاشتو لپاره به کار کوي او وروسې به برهان الدین ربانی د ٤ میاشتو لپاه مشروي او په دغه دوران کې به انتخابات تر سره کیږي .

په افغانستان کې دننه د احمد شاه مسعود مجاهدین له ملیشو او د کابل د حکومت د بقایاوو په مرسته د کابل په ښار ننوتل او د کابل د حکومت مهم ځایونه ، د وسلو ذخیرې او د بالاحصار د وسلو ګودامونه ټول ورته وسپارل شول . په مقابل کې د حکمتیار مجاهدین او طرفدارانو یې یوازې د کور نیو چارو وزارت او څو نور ځایونه ونیول .

کوم وخت چې د دغو دواړه رقیبو ډلو تر منځ جنګ ونښت نو د احمد شاه مسعود خلکو په انتونوف الوتکو کې ملیشه قوتونه ( داریک ملیشه -

د تاجیک ملیشه - داسماعلیی ملیشه ) کابل ته راورسول او په دې ترتیب د حکمتیار قواوې له ښار څخه شاتګ ته مجبورې شوې دوهمه ورځ د کابل ښار تقریباً ټول د مسعود او متحدینو لاس ته ورغی .

د حکمتیار قوتونو ګواښ کړی ؤ چې د موقتی حکومت الوتکه به په راکټ وولې نو له دې کبله حضرت مجددی په ۲۷ اپریل ۱۹۹۲ م د موټرو په یو کاروان کې کابل ته ورسید او د ۱۹۹۲ م په ۲۸ اپریل یې د کابل د پخوانی حکومت له پاتی کسانو څخه تش په نامه قدرت واخیست او د افغانستان اسلامی جمهوریت یې اعلان کړ .

مسعود همدغه ورځ د مجددی دیدن ته ورغی او فوري د دفاع دوزیر په توګه وټاکل شو په داسې حال کې چې نوره کابینه لا معلومه نه وه . وروسته بیا حکمتیار ته د صدارت څوکې ورکړل شوه خو حکمتیار دا ټینګار درلود چې لومړي دی مسعود د دفاع له وزارت څخه لرې شي او دوهم داچې کمونست ملیشې دې له کابل څخه ووزې . د حکمتیار داغوښتنه مسعود هیڅکله نه منله او مجددی هم د دې توان نه درلود چې مسعود بر طرفه کاندي . د ۱۹۹۲ م په ۲۹ اپریل د پاکستان حکومت او وروسته بیا د روسیې فدریشن د کابل اسلامی حکومت په رسمیت وپیژانده .

څرنګه چې دغه موقتی حکومت له بهر څخه د افغانستان په خلکو تپل شوی او منل شوی و طبعاً نارضایتی او مخالفت ورسره روان و او جهادي ډلو په یو یا بل شکل د جمعیت اسلامی او شورای نظار او یاهم د حزب اسلامی سره همکاری او پیوستون ښکاره کاوه او جنګ لمن پیدا کوله .

دافغانستان دستړي ستومانه مظلوم ملت دهیلو او توقعاتو خلاف چې دمشروع زعامت درامنځ ته کیدو مسئله یې دحواد ثو په طوفان کې لاهو شوې وه گاونډیو هیوادونو ایران ، پاکستان ، پخوانی شوروي جماهیر همدارنگه دسیمې بارسوخو او غټو هیوادونه ، لکه عربستان او هند ته هم فرصت په لاس ورغلې وچې په وران ویجاړ افغانستان کې خپل سیاسی مشقوته تعقیب کاندي .

دمجددي له دوه میاشتنی دورې وروسته نوبت استاد برهان الدین ربانی ته ورسید چې داحمد شاه مسعود په مشرۍ یې تولې ملیشې تر شاو لاړي وي . دده دوره ٤ میاشتې تجویز شوې وه چې په دې موده کې به انتخابات کوي او قدرت به قانونی مشرتابه ته لیږدوي . خو ربانی دخپلو تعهدونو خلاف نه انتخابات دایر کړل او نه یې هم لویه جرگه جوړه کړه . بلکه بر خلاف دحل او عقد په نامه دیوې شورۍ په جوړلو یې لاس پورې کړ چې نه یې له افغانی عرف او عنعنیو سره توافق درلود او نه یې هم داستازیتوب مشروع معیارونه پکې رعایت شوي وو. دربانی له خوا له تعهدونو څخه خلاف ورزي او دحل او عقد دشوری له خوا هغه دیوازیني کاندید په توگه دحکومت مشری ته رسیدل نور نتظیمونه په سرکې دحکمتیار حزب اسلامی دې ته اړ کړل چې ذربانی او دهغه دپلویانو پر ضد وسله واله مقاومت او مخالفت ته دوام ورکاندي .

په دې ترتیب جنگي ائتلافونو په بیړه انکشاف ومونداو دکورنۍ جگړې هغه اوربل شو چې دجهاد دگټې یې برباد ولې او دافغانستان

دښمنان يې خوشاله کول .

د ۱۹۹۳ م په ۷ مارچ جنګ جګړو دبنديدو لپاره د پاکستان دحکومت په منځګړيتوب په اسلام آباد کې دروغې جوړې يو کنفرانس جوړ شو چې په هغه کې دعربستان او ايران خاصو استازو هم ګډون کړي وو. په دغه کنفرانس کې د قدرت دويشلو لپاره دربانی او حکمتيار تر منځ يوه موافقه لاس ليک شوه او نواز شريف او تور کی الفيصل هم په مکې شريفې کې دربانی او حکمتيار په موجوديت هغه لاس ليک کړه چې ښه اجرايي قوت پيدا کاندی ، ورپسې دغه تنظيمي مشران دپاکستان له صدراعظم نواز شريف سره له مکې شريفې څخه تهران ته ولاړل او هلته په يو محفل کې دايران دنماينده له خوا هم په دغې موافقې لاس ليک وشو .

خو سره له دغو ټولو خبرو لاس ليکونو او تعهدونو دغه موافقه بيا هم ماته شوه او صرف يوه مياشت وروسته ددواړو ډلو تر منځ شديد جنګونه واقع شول .

دی پسې په مې ۱۹۹۳ م کې ددغو جنګې ډلو ترمنځ په جلال آباد کې يو بين التنظيمي مجلس جوړ شو ، چې له سره د جمعيت اسلامی او حزب اسلامی او ددوی د پلويانو تر منځ قدرت وويشي . وزارتونه له سره وويشل شول او نوی تعهدونه هم لاس ليک شول خو بيا دغه تړونونه تر پښو لاندې شول او جنګ جګړو زور پيدا کړ .

په دغو جنګونو کې دسترو قدرتونو بالخصوص د پخوانی شوروي او اوسنی روسی فدريشن له شالاس وهنی محسوسيدلی .

دا پوښتنې منځ ته راتلې چې که د شورويانو مساعد نظر نه واى نو څرنګه د شمال ټولې مليشې د مزار او بګرام هوايي ډګرونه ، د حکومت اکثريت وزارتونه خاد او نور موسسات ټول احمد شاه مسعود ته تسليم کړل او له هغه سره همکاري او فعاليت ته دريدل . له بلې خوا نجيب الله چې د خپل حکومت په دوران کې يې اقليتونو ته مربوط کسان په اردو او ملکي چارو کې ځول او وړاندې کول ټول تراتنيکي تمايلاتو لاندې له مسعود سره يو ځاى شول هرات او مرکزى افغانستان د جمعيت اسلامى او حزب وحدت په لاسونو کې ولويدل . کندهار ، غزنى او ننګرهار د هغو مجاهدينو لاس ته ورغلل - چې له دربانى مسعود سره يې وسله وال مخالفت نه کاوه .

دا حقايق ورځ په ورځ روښانه کيدل چې شورويان د خپل پوځي شکست د جبران کولو لپاره پټ او برالا کوښښ کوي چې له افغانانو څخه غچ او انتقام واخلي .

له بل جانبه د کابل د حکومت له چپه کيدو سره سم د ايران لاس وهنې په شدت سره زياتې شولې او له عربستان سره يې هغه مذهبى او سياسى رقابتونه هم پراخ شول چې له پخوايې په اسلامى جنبشونو کې سره درلودل البته اوس يوځه نور عناصر لکه د منځنى آسيا طبيعي زيرمو او بازارونو څخه ګټه اخيستل او تجارت کول هم ورزيات شول .

همدارنګه د پاکستان او د هند تر هيڅ هم د کابل د حکومت په سر سياليو شدت پيدا کړ . پاکستان چې له ۱۹۹۰ م راهيسي د امريکا تر

تعزيراتو لاندې راغلی و غوښتل چې د مرکزی آسيا له جمهوريتونو سره دافغانستان له لاری خپل تجارت زيات او خپل اقتصادی مشکلات رفع کاندی نو له دی امله يې په افغانستان کې د سولی او امنيت ټينګيدل په خپله ګټه ګڼل . برخلاف هند له پاکستان سره په خپلی زړي دښمنی چال چلند کاوه او په افغانستان کې يې د مسکو د طرفدارانو له خط ملاتړ ته ادامه ورکوله .

له بلې خوا تاجيکستان او ازبکستان چې کمونستی واکدارنو يې محض خپلې جامې بدلې کړې او په ماهيت کې د شوروړيانو د لاس پوڅو په توګه د روسانو په خدمت کې دريدلی هم د افغانستان د مظلوم ملت دوستان نشي حسابيداي . د دوی حکومتونه له هغو افغانی ډلو سره همدردی او ملاتړ ښکاره کوي چې پخوا د شوروړيانو په خدمت کې وې . دجنګ د مصبتونو په باب د نړيوالی سری مياشتی آمر Arminkobel له افغانستان بين المللی بی تفاوتی سخته وغندله او وې ويل : په هر جنګ کې حتی بوسنيا کې د جهان خلکو ليدل چې څه واقع کيږي جګړه مارانو نشو کولای هر څه يې چې زړه يې وغواړي هغه وکاندي، ځکه له بين المللی اعتراضونو او غندنو سره مخامخ کيدل مګر په افغانستان کې څوک نه ويني چې څه کيږي نو ځکه جګړه ماران هر څه چې غواړي هغه کوي . له دې امله په لس ګونو زره خلک مړه او په سل هاوو زره نور بی کوره او بی پناه شوي دي ... ».

څرنګه چې د نړيوالې سرې مياشتې آمر څرګنده کړې په ريښتيا چې

ددغې کور ورانونکې جګړې غم لړلې صحنې په بشري حقوقو تیری په خطر ناکو وسلو ټانکونو او توپونو د یو بل پر ضد حملې کول هغه زړه دردونکې حقایق دي چې باید جدا کتابونه ورباندې ولیکل شي .

فقط دومره په لنډه توګه وویل شي چې ددغو تنظیمونو او ددوی دمتحدینو دتش په نامه اسلامی جمهوریت کې دقدرت په سرجنګونو کې داسې بې قانونی خپل سری ، وژل ، ټکول چور او تالان کول دخلکو په مال حیثیت او حتی شرافت تجاوز کول سرته رسیدلی چې دافغانستان په تراژیدي یې یوه توره پاڼه وراضافه کړې ده . ددغو زړه چاودونکو مصایبو په باره کې دجهان سیاست پوهانو هم په خواشینۍ سره دانتقاد ګوتی ، نیولې او خپل نظریات یې وړاندې کړې دي .

په دې لړکې یو نامتو امریکایي لیکوال بروس ریچردسن Bruce Richardson په خپل کتاب « په قفقار منځنی آسیا او افغانستان کې دروسیې پالیسی . »

Russian Policy in Transcaucasia central Asia and Afghanistan

کې لیکي :

« ...... دافغانستان خلکو په درانه قیمت دشوروي اتحاد په کمزوره کولو او دهغه رژیم په بې اعتباره کولو کې کلیدي او مهم رول ولوباوه خو ځینې وخت له خاطرو څخه هیرېږي . موږ امریکا ئیانو ته یې دا توان راکړ چې خپل پوځي لګښتو نه کم کړو او خپل امنیتي ترتیبات ښه کړو . موږ

افغانانو ته دهغوی په هیواد کې سولې راوستلو ته په ډیر وقت او پاملرنې مجبور او پوروړي یاستو ، همدارنګه موږ باید دلیدر شپ په مقام کې ددوی هیواد دبیرته ودانولو او بشری مرستو رسولو ته دپام وړ مساعدت وکاندو . مګر ددغو مسئوولیتونو پر ځای کول هغو صره آسان نه دي ، لکه چې قبلول یې آسانه ښکاریږي . هیڅ ډول پالیسي نه لیدل کیږي چې دهغې پر اساس امریکا دافغانستان ته بیرته سوله راولی . دساړه جنګ ختمیدو او دشوروي اتحاد له ړنګیدو سره په افغانستان کې ظاهراً ددوه قطبونو منازعه مغلقه او پیچلې شوي ده . قامی وسله واله ډلې له سیمه ایيزو قوتونو سره یو ځای شوې او دهیواد په مختلفو سیمویې تسلط ټینګ کړی دی . ددوی ترمنځ ژربدلیدونکي ائتلافونه منځ ته راځي چې موخه او هدف یې دجنګ دوام او دکابل په کنډواله شوي ښار باندې دکنترول ټینګول دي .... ».

همدا ډول په افغانستان کې دامریکا یو پخوانی سفیر ، Robert Neumann داسې وایلي دي :

« .... افغانی قبایل ستر دي چې دتجاوز کوونکیو او یرغل ګر سره جنګیږي که هغه الکسندر وي که چنګیز وي او که یا شوروي اتحاد ، مګر بیا په خپلو کې هم جنګیږي . واشنګټن دافغانستان متعلق چې له مختلفو قامونو څخه جوړ شوی دی دبیلیدو او تجزیه کیدو اندیښنه هم لري .... ».

په همدې ډول LeeHamilton دامریکا دنمایندګانو په مجلس کې دمنځنی ختیځ دکمیټی رئیس دافغانستان په اړوند وویل :

« ..... دافغانستان بیلیدل او تجزیه کیدل به یوه ترکنترول لاندې پیښه نه وي. په ۱۹۷۸ م کې د کابل له کود تا څخه چې د شورویانو له خوایی ملاتړ کیده څو میاشتی وروسته دایران د پاچا درژیم پړنگیدل رامنځ ته شول. د لویدیځ ضد رد یکال خلکو په همغه ورځ چې په تهران کې دامریکا سفارت ونیو، په همغه ورځ په کابل کې دامریکا لوی سفیر Adolph Dubs د نامعلومو کسانو له خوا وتښتول شو او دبرمته په توگه بیا ووژل شو. اوس جیو پولتیک موقعیت ډیر پیچلی شوی دی، سره له دې چې شوروي اتحاد له منځه تللی مگر ناکراری او بی ثباته منځنی آسیا او همدارنگه د ایران نوې مذهبي طریقې او د حکمتیار بی اعتباره کیدل د فند امنتلزم یا بنسټ پالنې په باره کې دامریکا اندیښنې زیاتې کړې دي ..... ».

همدارنگه رابرت اوکلی Robert oakley په پاکستان کې دامریکا پخوانی لوی سفیر په دغه ارتباط وویل :

« که افغانستان بیل او توته شي نو وضعه به پاکستان ته چې داتومی وسلی د کلوب غړی دی بدتره شي او تاثیرات به یې هم سخت او کړکیچن وي. یو واحد او متحد افغانستان د ټولو په گټه دی مگر له جنگ څخه وروسته انتقال څه آسانه کار نه دی ... ».

په همدې قسم د جهان معتبرو ورځپاڼو د افغانستان بدلونونه او جنگونه تر بحث او څیړنې لاندې نیولي او د انتقاد گوتی یې لویو او سترو قدرتونو خوا ته کړې دي چې په افغانستان کې یې د سولی د راوستلو لپاره خپل

اخلاقي مسئوولیتونه له یاده ایستلي دي .

په دغې برخې کې په لوړ تیراژ خپریدونکې ورځپاڼې گاردیین The Guardian د ۱۹۹۳ م د ۱۳ نومبر د لندن چاپ د افغانستان او د گاونډیو هیوادونو په ارتباط داسې ولیکل :

« .... ضروري ده چې تاسې د تاجیکستان د دوشنبې ښار ته لاړ شئ او له ساړه جنگ څخه وروسته له هغو تعجباتو څخه وویني چې هلته یو کمزوري حکومت د روسي عساکرو له خوا ساتل کیږي او امریکا د متحده ایالاتو له پوره ملاتړ څخه برخمن او برخوردار دي . لس کال وړاندې امریکا او شوروي په افغانستان کې جنگ وړاندې بوته او امریکا له اسلامي بنسټ پالو سره چې د شوروي پوځونو پرضد جنگیدل مرسته او معاونت کاوه . اوس جنگ د افغانستان شمال ته تللی او افغانستان کې بنسټ پال قدرت ته رسیدلي دي او د تاجیکانو اپوزیشن د هغو د حکومت پر ضد تقویه کوي . واشنگټن خپل دریځ تبدیل کړی په دوشنبه کې یې خپل سفارت پرانیستلی او د تاجیکستان حکومت ته یې په مرستو ورکولو لاس پورې کړی دی . دپلوماتانو ویلي دي چې د تاجیکستان حکومت د سیمې له مستبدو حکومتونو څخه دی چې مخالف گوندونه یې منع کړي او د هغوی مشران یې بندیان او یا تیښتې ته مجبور کړي دي . تاجیکستان ته د روس پوځیان د تاجیکستان د حکومت په بلنه راغلي دي ، مگر په دې برخه کې د امریکا حکومت هیڅ تشویش او اندیښنه نه ده څرگنده کړې هغه دول چې د بالتیک په هیوادونو کې یې څرگندوي ، له دې څخه داسې

معلومیږي چې روسیه د بنسټ پالو پر ضد د امریکا د پولیس رول لوبوي .

واشنګټن خوشاله دی چې پرېږدئ روسان دې اوسي . امریکا او روسیه دواړه وايي چې غواړي د تاجیکستان حکومت له اپوزیشن سره خبرې او مذاکره وکاندي او مهاجرین خپلو کورنو ته ستانه شي امریکا له روسیې څخه زیات د تاجیکستان له حکومت څخه غواړي چې د بشري حقوقو درنښت او رعایت وکړي . روسانو او امریکاییانو دواړو دا منلې ده چې د تاجیک اپوزیشن د اسلامي بنسټ پالنې ( فندامنتلزم ) لوی ګواښ منځ ته راوړی دی . روسان داویره لري چې که اسلامي فندامنتلزم څېپې منځنۍ آسیا ته خپرې شي نو دولګا د سین ترڅنګ میشته اسلامي تولنې او همدارنګه د قفقاز شمالي برخې به تر تاثیر او اغیزې لاندې راولي .

امریکا ییان دا بنسټ پالنه د هغې ستراتیژۍ یو جز ګڼي چې د ایران ، د پاکستان د پوځ دیوه اړخ او د سعودي عربستان د شتمنو وهابیانو له خوا وړاندې بیول کیږي . د دغې ستراتیژۍ په وړاندې بیولو کې مختلف فکتورونه رول لري ځینې غواړي چې د افغانستان د جنګ غچ او انتقام واخلي او جنګ تاجیکستان ته پراخ کاندي او ځینې نور غواړي چې په دغو فعالیتونو د امریکا او روسیې ائتلاف ته تاوان ورسوي . دا یو عجیب شی دی چې د پخواني شوروي اتحاد په جمهوریت ( تاجیکستان ) کې واشنګټن او مسکو له یو بل سر موافقه او همکاري لري او دوی په دغه هیواد کې د کوم سیاسي بدلون لپاره ډېره لږه توجه او پاملرنه کوي .... ».

له بلې خوا د ګروال یوسف او مارک او کین په خپل کتاب ( تلک خرس

TheBear trap ) کې دافغانستان دجنګ او امریکاییانو دهدف په ارتباط داسې لیکلې دي :

« .... دافغانستان دجنګ له همغه پیل څخه دامریکائیانوهدف او موخه معلومه وه یعنې له افغانستان څخه دشورویانو ایستل او دهغوې سپکول او ذلیل کول . څرنګه چه امریکاییان په ویتنام کې شوي وو ... ».

په نوموړي کتاب کې زیاته شوي ده :

« امریکاییانو داسې نتیجه ایستلې وه چې لکه خالص ، سیاف ، رباني ، او په خاص توګه حکمتیار غوندی تنظیمي مشران به دایران دوله یوه مذهبی دکتاتوري منځ راولي او کابل به دد وهم تهران په توګه دامریکا ضد روحیی بدل کاندی .... ».

سر بیره په پورته ذکر شوو مسایلو که روسیې ددښمني دوام او انتقام اخیستلو ته لاس اچولی او امریکا هم ددنیا دوضعې او شرایطو له امله افغانستان هیر کړی دی خو زموږ مسلمانو ګاونډیانو هم دافغانستان په غمځپلو خلکو رحم او التفات نه دی کړي . دوی ته ددغه واقعیت قبلول ګران تمامیږي چې ووینې دعظیم جهاد بریالیتوبونه او تاریخي افتخارات او ویاړونه دافغان ملت نصیب کیږي .

تر اوسه دقدرت غوښتنی په دغو جنګونو کې له ۳۰ زرو څخه ډیر دکابل دښار بیګناه خلک وژل شوي او په زرګونو نور ټپیان او کډوالی ته مجبور شوي دي او ددې تر څنګ دولتی او شخصی دارایي ګانو او جایدادونه هم درانه تاوانونه رسیدلی چې ساری اومثال یې نه لیدل کیږي .

## دافغانستان د تراژيدي په اوږديدو کې به د روسيې او امريکا مرام او غوښتنې څه وي ؟

مشهور ازبک ليکوال عبدالرشيد نور مرادوف په خپل کتاب کې دافغانستان د جنگونو متعلق د خپلو هېوادوالو د عبرت لپاره ليکي : «توبه هغه ښه ده چې تکرار نشي » دده د گفتار خلاف د روسيې واکدارانو د زړه توبه نه ده ايستلې . روسيه د شوروي اتحاد د ميراث خوري په توگه پوهيږي چې افغانستان باندې د شوروي پوځونو د يرغل او تجاوز له امله د ښه گاونډيتوب اړيکې او ټول تړونونه او معاهدې تر پښو لاندې شوې او همدارنگه د بين المللي قوانينو او ميثاقونو د خلاف ورزۍ او تخطي له امله روسيه مجبوريت پيدا کوي چې د افغانستان خلکو ته د جنگ تاوان ورکاندي نو ځکه کوشش لري چې په افغانستان کې جنگ دوام پيدا کړي او يو مرکزي او مشروع حکومت منځ ته رانشي . که داسې يو حکومت راشي نو به له روسانو د جنگ تاوان وغواړي د اتاوان مليار دونو ډالرو ته رسيږي.

له بلې خوا روسان په دې هم پوه دي چې د شوروي له تجاوز څخه تر اوسه دافغانستان له معدنونو او د تيل او گاز له زيرمو څخه يوازې شوروي او بيا اوس روسيې استفاده کړې روسيه مجبوره ده د دغو مدرکونو شمير او حساب چې له زرگونو ميليونو ډالرو څخه تيريږي هم ادا کاندي .

په همدې ډول د روسيې مشرانو درک کړې ده چې په افغانستان کې د جنگ په ختميدو سره به د بهرنيو هيوادونو تجارتي او پانگه اچونو هلې

ځلې د منځنۍ آسیا په هیوادونو کې هم پراخې شي او دهغو په اساس به د روسیې اثر او رسوخ په دغو جمهوریتونو کې له منځه لاړشي چې د طبیعې معدنونو او د گاز او تیلو دزیرمو په رایستلو کې به هم شاید بې برخې شي نوځکه د جنګ دوام په خپله گټه بولی او په یو یا بل دول داور په لمبو تیل شندي د دی ترڅنګ روسیه له دی څخه یقین لری چې د منځنۍ آسیا په ټولو جمهوریتونو کې تر اوسه د شوروي دوخت کمونستان په قدرت پاتی دې نو که اسلامی نهضت او د دموکراسۍ جنبش په دغو سیمو کې نفوذ او پراختیا پیدا کړي ممکنه به نه وي چې دغه استبدادی حکومتونه په قدرت کې پاتی شي . ښکاره ده چې د دغو حکومتونو نسکوریدل به د روسیې حاکم رول او دریځ ته هم خاتمه ورکاندي . له دې امله روسیه دیو مشروع او قانونی حکومت له جوړیدو څخه چې د افغانستان د خلکو داکثریت ملاتړ ورسره وي ویره لري او دهغه په لاره کې خنډونه او موانع پیدا کوي .

روسیه دغچ او انتقام اخیستلو په روحیې د افغانستان له بې ثباتۍ او بې سرنوشتۍ څخه د افغانستان جهاد او ملی مقاومت هم بدنامه کوي . همدارنګه بهرني هیوادونه او بین المللی موسسی بې هیلې او اندیښمنې کوي چې د افغانستان دبیا ودانولو لپاره لاس ورواندې نه کاندي .

په همدی دول روسیه هغه بین المللی شرکتونه چې غواړي د افغانستان او منځنی آسیا د معدنونو او د تیلو او ګاز له طبیعی زیرمو څخه د استفادې لپاره کارپیل کړي دفندا منتلزم او تروریزم په نامه ویروي چې په

افغانستان او منځنۍ آسيا کې له خپلو هڅو او فعاليتونو او پانګې اچونې څخه تير شي او په پای کې دی ته اړشي چې د روسيې سلا مشورې ومنی او بالاخره روسيې ته هم لازمه برخه او حصه ورکاندي .

دهمدغو دلايلو په اساس دروسيې حکومت په افغانستان کې دقامی او نژادي تعصبونو په هڅولو او تقويه کولو سره درباني او دهغه دملګرو له حکومت ملاتړ کوي او لازم کومکونه او معاونتونه ورته برابروي .

ديادونې خبره داده چې په ۱۹۹۳ م کال په کابل کې دروسيې لوې سفير په يوې اخباري مرکې کې وويل :

«اوس مونږ په دې بريالي شوی يو چې د آينده لپاره يوه عيني زير بنا جوړه کړو . افغانستان دروسيې دښمن نه دي »

برهان الدين ربانی هم براالا د تاجيکستان په يوه رسمي محفل کې وويل چې روسيه دشوروي اتحاد د تجاوز او يرغل مسئووليت نه لري چې يې په افغانستان باندې کړی وُ . په داسی حال کې چې د روسيې حکومت دشوروي اتحاد دخلف او ميراث خور په توګه منل شوی او په همدې اساس يې دملګرو ملتونو دامنيت دشوری دايمي څوکۍ هم تر لاسه کړې ده . له بين المللی قوانينو سره سم چې د پخوانی شوروي حقوق تر لاسه کوي نو وجايب يې هم پر اوږو ورلويږي .

دروسيې حکومت دربانی اداري او دهغه پلويانو ته په ټنو نو دمسکو چاپ بې پشتوانی بانکنوتونه چې دشورويانو له پوځې تجاوز څخه تر اوسه په هغه هيواد کې چاپيږي بی له وقفي استوی چې دهغو په ذريعی له يوې

خوا په افغانستان کې جنګ ته دوام او اوږدوالی ورکړي او له بلې خوا دافغانستان اقتصاد کاملاً له خاورو سره برابر کاندي .

له بلې خوا دامریکا په برخه کې مختلف عقاید او نظریات څرګندشوي دي ځینو ویلي دي چې دشوروي اتحاد دکمونستي سیستم له نسکوریدو سره امریکا خپل ستراتیژیک هدف ته ځان رسیدلی بولی اونور له هغه هیواد سره لکه پخوا غوندې رقابت او خصومت نه لري . امریکا لا کوشش کوي چې دپخواني شوروي اتحاد له ورانیدو څخه قامی او نژادي جنګونه منځ ته رانشي او دنوي امنیت او مصئوونیت ته صدمه ونه رسوي . دامریکا پخواني خارجه وزیر جیمز بیکو څو څو ځلې دا موضوع څرګنده کړې وه چې امریکا دروسیې له فدریشن سره خپلو کومکونو ته ادامه ورکوي چې له دغسی حالاتو څخه مخنیوي وکاندي . همدارنګه داتومی وسلو او هغو میزایلو په باره کې چې اتومی خولې لري امریکا اندیښمنه ده چې دغه وسلې دبې مسئوولیته او یا تروریست خلکو لاس ته ورنشي . ددې تر څنګ امریکا غواړي دمرکزي آسیا او کسپین دبحیرې دنفت او ګازوله زیرمو څخه په احتیاط دګټو اخیستلو اقدام وکړي ، چې دا کار دروسیې دافراطي نشنلستانو او نه پخلاکیدونکو کمونستانو دناراميو او مخالفتونو باعث نشي . ځینې نور وایې څرنګه چې په افغانستان کې اسلامی حکومت جوړ شوی او دشوروي طرفدار رژیم له منځه تللی دي امریکا د افغانستان په موجوده جنګ جګړو کې - چې داقتدار لپاره کیږي - برخه نه اخلی او له هیڅ کومی ډلی جانبداری او پلوی نه کوي .

خو سوال دادی چې پخوا امریکا ، شوروي او دافغانستان گاونډیو هیوادونو د ملګرو ملتونو د سولې له پلان څخه بشپړ ملاتړ کاوه او هغه پلان د نجیب د حکومت له چپه کیدو سره معلق پاتی شو او د هغه پر ځای په دراماتیک ډول یو دم د پیښور موافقه منځ ته راووته چې د پاکستان په ابتکار جوړه شوې وه . نو آیا د امریکا حکومت د مجاهدینو له حکومت سره چې د ملګرو ملتونو له پلان څخه پرته د نوموړي موافقې په اساس په پاکستان کې جوړ او کابل ته واستول شو توافق او ملاتړ درلود او که نه ؟

که یې درلود لی نو یې ولې د روسیې د حکومت په شان د غه حکومت په رسمیت ونه پیژنده او که نه نو ولې یې مخالفت ورسره ونه کړ ؟

دامریکا د دغه مبهم دریځ له امله ظاهراً سیاسی انډول ته د روسانو په خوا گټه رسیدلې او دافغانستان د تراژیدۍ او پړ دیدو ته یې مرسته کړې ده.

دافغانستان مظلوم ملت ته د کابل تش په نامه اسلامی حکومت چې د خلکو د اکثریت له ملاتړ څخه محروم دي مشروعیت نه لري نو ځکه د امریکې د حکومت د بیطرفۍ دریځ هم معقولیت نشي پیدا کولای .

افغانستان کې بهرنۍ مداخلې روانی دي او د کورنۍ جګړې لمن ورځ په ورځ پراخیږي نو په دغسې اوضاع او حالاتو کې دافغانستان د شخړې نه حل کول او دافغانانو سرنوشت په تنظیمي جګړو او بهرنیو لاس وهنو کې پریښودل د امریکا هغه شهرت او اعتبار ته صدمه او تاوان رسولای شي چې د آزادۍ او ډموکراسی مخکښ هیواد ځانته وایی .

# د يار لسمه برخه

# وروستى خبري

*- دملى مقاومت او جهاد عمومى گټې

*- كورنى جگړه دچاپه گټه ده

*- څه بايد وشي ؟

## الف: دافغانانو دملى مقاومت او جهاد عمومى گټې :

په دې كې هيڅ دشك ځاى نشته چې افغانانو دشوروي يرغلگرو پوځونو په مقابل كې ملى پاڅون او جهاد په خپله پيل كړ ؛ په خپله رضا او رغبت ميدان ته راووتل او په ډيرو ساده قديمي او محدودو وسايلو دشوروي اتحاد پوځونو او دهغوى د لاس پوځو مقابلى ته ودريدل .

شورویانو په جوړ شوي پلان او پروګرام په خپلو منظمو پوځونو او پرمخ تللو وسلو په افغانستان یرغل وکړ په داسې حال کې چې دافغانستان مظلومو خلکو پر ته له کوم پروګرام او یا جنګې تدار کاتو دجهاد چیغه پورته کړه چې په هیڅ صورت دمالي وسایلو او جنګي وسایطو انډول دشورویانو او افغانانو تر منځ دمقایسې وړنه و .

دافغانانو هیله او هدف داو چې خپل ملي او اسلامي پاڅون په خپله وړاندې بوزي او په خپل تدبیر شورویان له خپل هیواد څخه دویاسې او دخپل ژوندانه واګې په خپل لاس کې واخلې . خو څرنګه چې ددوه سترو قدرتونو (دامریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد) رقابتونه او خصومتونه لکه دنړۍ نورو ستونزو غوندې دافغانانو دجهاد او ملي مقاومت تر څنګ وړاندې بیول کیدل نو له همدې امله دجهاد په مثبت او منفي بدلونونو کې هم ددوی دکړنلارو او سیاستونو اثرونه غور ځیدل .

اګر که په دغه ملي پاڅون اومقدس جهاد کې دافغانستان کړیدلو خلکو ته دسر او مال درانه تاوانونه ورسیدل او په میلیونو افغانان پکې شهیدان - ټپیان او له خپل کور او وطنه پر دیسیان شول خو ددوی هغه لوی آرمان هم تر سره شو چې شوروي اتحاد ته هم دانګریزانو په شان دعبرت درس ورکړي او دشوروي متجاوز او ظالم پوځونه په حقارت او شکست له افغانستان څخه تیښتې او شاتګ ته مجبور کاندي . که څه هم لا تر اوسه دجهاد لوړو ارمانونو تحقق نه دی موندلی او په افغانستان کې دبهرني مداخلې لاسونو نه دي لنډشوي خو دسرو پوځونو ایستل او دجهان

دخپلواکو قامونو تر څنګ دافغانستان دبرم او عزت بیرته اعاده کول دجهاد له لومړنیو ګټو څخه شمیرل کیږي چې دافغان ملت په میړانه او سربښندنو لاس ته راغلې دي .

که دجهاد او ملي پاڅون برکت نه وای نو افغانستان به په سیاسی، اقتصادي او فرهنګي ډګرونو کې دیوه مره یې هیواد په توګه اسیر پاتې شوی و او خپل سیاسی او مذهبی استقلال به یې له لاسه ورکړی و . لږ تر لږه په ډیر کم وخت کې به دهر افغان دنوم تر شا د ( اف)روستاړي (پساوند ) روسانو ته دغلامی په علامه استعمالیده او دمرکزي آسیا اسلامی جماهیرو غوندې به رحمانوف او کریموف ترې جوړیدل .

دافغانستان ملي او اسلامی هویت به له منځه ته او راتلونکي نسلونه به یې هم غلامان روزل کیدل . له افغانستان څخه علاوه پاکستان - ایران اوسعودي عربستان ، مرکزي آسیا جماهیر ، ختیځه اروپا او امریکا ته هم دافغانانو دملی قیام او جهاد ګټې رسیدلی او دشوروی اتحاد له ړنګیدو څخه یې ډیرې فایدې لاسته راوړې دي .

دپاکستان نظامی حکومت چې دخپل پوځي چال چلن ، دپخوانی صدراعظم ذوالفقار علي بوتو دپانسی کولو او دعمومی انتخاباتو دځنډولو له کبله دامریکا او اروپا له خوا داقتصادی او پوځي مرستو په قطع کیدو سره تجربه او انزوا ته غورځول شوی وُ بیرته فعال شو او دډیرو کومکونو سزاوار هم وګڼل شو . پاکستان که له یوې خوا دافغانستان مظلومو مهاجرینو ته پناه ورکوله او داسلامی ورورولی او ګاوندیتوب په

اساس یې ورسره د قدر وړ مرستی کولی خو له بلی خوا یې د ملګرو ملتونو او د دنیا له خیریه ټولنو څخه پریمانه بشری مرستی هم تر لاسه کولی .

همدارنګه پاکستان ته دامریکا اقتصادي او پوځې مرستی له سره پیل شوی او یوځل په ۱۹۸۱ م کې ۳،۲ ملیارد ډالر اودوهم ځل د ۱۹۸۰ م دلسیزی په منځ کې ٤ ملیارد ډالر اقتصادی او پوځي کومکونه ورکړل شول چې د پاکستان په تاریخ کې یې ساری او سابقه نه درلوده .

له بلی خوا دامریکا حکومت دافغانستان دحالاتو له امله د پاکستان په اتومی پروګرام چې پخوا یې سخت مخالفت ورسره کاوه سترګې پټې کړلی او پاکستان ته دافغانستان دجهاد څخه بهرا پیدا شوي فضا کې دا فرصت میسر شو چې خپل اتومی پروګرام وړاندي بوزې او بالاخره داتومی بم جوړولو استعداد پیدا کاندي . په همدې ډول جنرال ضیاالحق ته هم دا چانس پیدا شو چې په امریکا ، اروپا او عربی هیوادونو کې د خپل حکومت د مشروعیت دعوا وکړي او یو ډول وقار او پرستیژ په لاس راوړي.

له دې ټولو سربیره پاکستان دافغانستان دخلکو دجهاد په اثر دشوروي پوځونو له حملی څخه بچ پاتی شو او دشورويانو دې ته لاس ونه رسیدچې دخپلو پروګرامونو دعملی کیدو لپاره پاکستان ته لاس واچوي . په بل عبارت دافغان مظلوم ملت په خپلو سر ښندنو دهغه سره سیلاب مخه ونیوله چې کیداي شول پاکستان هم له ډیرو ورانیو اوتباهیو سره مخامخ کاندي .

په اقتصادي او پراختيايي برخه کې سر بيره پردې چې د بهرنيو مرستو په ذريعه په پاکستان کې ډير شمير پر مختيايي پروژې په کارو لويدې او دکوټې - پيښور اونورو ښارونو رنګ او څيرې يې نوې شوې په بهرنيو هيوادونو کې دافغانانو له خواهم په مليونونو خارجي اسعار هر کال د پاکستان د بانکونو له لارې انتقال شول چې پاکستان ته يې د اسعارو دلاس ته راوړنې ښه منبع جوړه کړې ده .

په مجموعي توګه پاکستان په سيمې کې په اقتصادي او پوځي لحاظ تر پخوا زيات غښتلى او قوي شو او اعتبار يې هم زيات شو . اوس پاکستان د دې توان هم لاس ته راوړى دى چې په منځنى آسيا کې له خپلو ګاونډيانو يعنى ايران او هندوستان سره سيالى وکړي او د دغو سيمو په اقتصادى او تجارتى مسايلو کې ونډه واخلي . د ايران د ګټې اخيستلو متعلق چې وروسته له پاکستان څخه هلته ډيرو افغانانو مهاجرت کړى او د ايران له خوا ورسره مرستى کيدلې ، بايد وويل شى ايران چې د ۱۹۸۰م دلسيزې له پيل څخه له عراق سره په جګړه اخته شوى و؛ دافغانانو دجهاد له امله يې دافغانستان له خوا کوم تشويش نه درلود او خپل ګرد پوځي قدرت يې د عراق پر ضد په کار اچولى وچې د عراق وړاندې تګ په شا وتمبوي .

له بلې خوا د ايران مقاماتو له افغان مهاجرينو څخه په جګړې کې هم کار آخيست او يو شمير زيات افغانان د عراق او ايران په جګړى کې شهيدان هم شول .

دایران اسلامی حکومت چې په لومړي سر کې یې د نه شرقی او نه غربی تر شعار لاندې دریځ غوره کړی و ، دافغانانو په جهاد کې د فعالې ونډې په نه اخیستلو سره په دې بریالی شو چې له شوروي اتحاد سره خپل مناسبات تر اندیوالی ورسوي او ډول ډول جنګي سازاو سامان له هغوی څخه لاس ته راوړي.

همدارنګه دایران حکومت په خپل دغه دریځ فرصت پیدا کړ چې دشوروي مشر تابه په سلا او رضاییت منځنی آسیا او آذربایجان کې خپل اثر او رسوخ زیات کړي او له خپلو سیمه ییزو رقیبانو ، لکه سعودی عربستان او پاکستان څخه وړاندې شي .

دایران حکومت د تاجیکستان په شخړه کې دروسانو دخوشالی لپاره چې تاجیکیان ورته حیاتی اهمیت لری دمنځګړیتوب رول په غاړه اخیستنی او له دې امله د اسلامی نهضت مشران دې ته تشویق کوي چې د تاجیکستان د کمونست ګوند سره سوله ، او په قدرت کې ورسره ګډون وکاندي په داسې حال کې چې دایران مقاماتو خپلې طرفدارې دلې په افغانستان کې دې ته لمسولې ، څو د نجیب الله د حکومت د ړنګولو لپاره په کودتا کې له نورو سره لاس یو کاندی هغه چې وایې یک بام دوهوا . په همدې ډول دایران اسلامی حکومت په ۱۹۹۲ م کې دافغانستان دبحران او د شوروي اتحاد له ړنګیدو څخه یوه بله سمدستی ګټه هم تر لاسه کړه او دفارسي ژبو دیوې اتحادیې بنسټ یې په تهران کې کیښود چې په هغې کې سر بیره پر ایران ، تاجیکستان او دافغانستان شمالی سیمو غړیتوب پیدا

کاوه ، او برهان الدین ربانی دفارسی ژبو پـه نمایند ګیٔ په دغـه دا تحـاد کې ګډون کړي و . البته دا یران دغه فعالیتونه دشوروی اتحاد له پوځې ماتی څخه مخ پـه زیاتیـدو شول او د مرکزي آسیـا پـه اسـلامی جمـاهیـرو اوهم دکسپین دبحیری پـه سیمو کې یې بنه وده وکړه .

له بلی خوا ایران دشوروي اتحاد او وروسته دروسیي دسیمه ییز دوست او انډیوال په توګـه بـه افـغـانـسـتـان کې پـه لاس وهنو لګیـا او فـعـال شـو چې خپل پلویان تر پخوا زیات قوي کاندي . او دمنځنی آسیـا پـه اقـتـصـادي پروژو او دګـاز او تیلود را ایستلو پـه فعـالیتونو کې هم دیره برخه لاس ته راوړي او له دې امله دا یران حکومت دسولې دراوستلو لپاره خپلو نظریاتو ته دوړ انډیوالی حق ورکړی او پـه بل عبـارت چې کله یې پروګرام پـه زړه نه وی نو دسولی راوستلو پـه لاره کې خنډونه اچوی . دسعودی عربستان پـه برخه کې بـاید وویل شي چې دشوروي اتحـاد له پوځي یرغل څخـه چې کوم ګواښ او تهدیدونه هغـه هیواد او دخلیج نورو ملکونو تـه راپیدا شوی و او دغـه هیـوادونـه یې لـه بحران او اندیښنو سره مخامخ کړي وو دافـغـانـسـتـان دخلکو دجهاد پـه اساس ورڅخه خلاصون پیدا کړ .

دسعودی عربستان حکومت چې داسلامی اصولو دتطبیق او دحرمینو شریفینو پـه ساتنې او حفاظت او هم دیو شتمـن اسلامی هیواد پـه توګـه له کمونستی ایدیالوژی سره بنیادی اختلاف او کرکه درلوده او له بلې خوا جنوبی یمن ورته دشورویانو لـه خوا دیوې سیـاسي اډې پـه توګـه دخلیج پـه سیمې کې دبی ثباتی او کـمـونستی ټولنو دروزنی او هڅونی مرکز جوړ

شوی و، دافغانانو دجهاد دګټو په برکت له دغو ګواښونو او خطرونو څخه محفوظ شو.

څرنګه چې ویل کیدل شورویان به له افغانستان څخه خپل دلری واټن بالستیک راکټونه دسعودی عربستان ښارونو لوري ته ځای پر ځای کړي او ورو ورو به په پاکستان کې نفوذ او ورپسې به دخلیج سیمې تر خپل کنترول لاندې راولي نو دغه ټول خطرونه دجهاد په پای ته رسیدو او دشوروی اتحاد په ړنګیدو سره مرفوع شوي دي.

له بلې خوا دشوروي اتحاد ړنګیدلو سعودي عربستان ته دا موقع هم برابره کړه چې نه یوازې په افغانستان، بلکه دمنځنی آسیا په مسلمانو هیوادونو کې هم خپل اثر او رسوخ زیات کاندی او په عین وخت کې دایران د پراختیا غوښتنی دپالیسې مخنیوی ته هم چمتو شي چې په اقتصادی او مذهبی چارو کې یې په دغو هیوادونو کې پرمخ بیایې.

دسعودی عربستان دتیلو او ګازشرکتونه اوس ددې جوګه شوي دي چې له نورو سیالو شرکتونو سره دمنځنی آسیا په هیوادونو کې کار او فعالیت وکاندي او ډیرې ګټې په لاس راوړي.

په مجموعی توګه سعودی عربستان چې دافغانستان له جهاد، مجاهدینو او مهاجرینو سره یې زیاتی مالي مرستې کړې اوس دشوروی اتحاد په ړنګیدو سره په سیمې کې دیو مهم هیواد رول او اثر پیدا کړی او دروسیې له نوی مشر تابه سره یې هم ښه روابط ټینګ کړي ویل کیږي، دمنځنی آسیا او شمالی قفقاز په هیوادونو کې به هم دزیات اثر او رسوخ

خاوند شي .

دمنځنۍ آسیا دهیوادونو او دافغانستان د جهاد په ارتباط باید وویل شي چې په دغو هیوادونو کې دافغانانو جهاد او ملي پاڅون ډیر ژور اثرات وغورځول او ددغو سیمو دخلکو ملي او داسلامي احساسات یې سخت راوپارول . په تاجیکستان - ازبکستان او قرغزستان کې له شوروي څخه دبیلتون پالنې تولنې او ارګنایزیشنونه قوي شول او له تاجیکستان څخه نیولې تر چیچنیا او آذربایجان پورې په زرګونو خلک سړکونو ته راووتل او دسیاسي او فرهنګي آزادیو غوښتنې یې پورته کړې .

دافغانستان دخلکو سر ښندنو او دشوروي اتحاد له ظالمو پوځونو سره بې امانه جهاد دمنځنۍ آسیا په ملي او اسلامي جنبشونو کې نوی روح واچاوه او داجرئت یې وبا ښه چې دخپل ملي او اسلامي هویت او پیژندنې لپاره مبارزو ته تیار شي .

اوس چې شوروي اتحاد مخ په ړنګیدو دی دغو هیوادونو یو په بل پسې دخپلو اکې اعلانونه کړي دي چې البته ددوی واقعي آزادي به دسیمې نقشه هم بدله کاندي .

دختیځې اروپا هیوادونو او دافغانانو دجهاد او مبارزو په مورد کې دومره ویل کیږي چې دافغانانو جهاد هغوی ته فرصت او جرئت پیدا کړ چې دشوروي اتحاد داستعماري سیاستونو په مقابل کې خپل مقاومتونه غونډ او ښکاره کاندي . په پولند کې دسولې درنوش جنبش او په چکوسلواکیا کې دسویک Civic جنبش ورځ په ورځ غښتلی شول او په زرګونو

خلک د شوروی ضد فعالیتونو کې ورګډ شول .

د شوروي اتحاد له کمزورتیا سره جوخت چې د افغانستان په جنګ کې یې د سر او مال درانه تاوانونه لیدلي ، د برلین د دیوال چې د آلمان هیوادیې په دوه برخو ویشلی و مخ په نړېدو شو او د آلمان د بیا یو کیدو لپاره لاره اواره شوه .

په پای کې باید وویل شي امریکا ته هم د افغانانو له جهاد او ملی مقاومت څخه ګټې ورسیدې . په دې کې خو هیڅ شک نشته چې د امریکا متحده ایالاتو د افغانانو له مهاجرینو او مجاهدینو سره ډیرې مرستې کړې خو د دې تر څنګ د افغانستان او سیمې د حالاتو یو شمیر څارونکي او تحلیل ګران په دې عقیده هم دي چې د افغانستان د خلکو له جهاد څخه تر ټولو زیاته ګټه او فایده د امریکا متحده ایا لاتو ته هم رسیدلې ده . په دې ترتیب چې امریکاییان په دې بریالي شول چې د افغانانو په جهاد کې له خپل یوازیني ستر مخالف یعنی شوروي اتحاد څخه د ویتنام د جګړې غچ واخلي .

امریکا د ساړه جنګ په دوران کې په ملیاردونو ډالر په دې لګول چې د شورویانو د پراختیا غوښتنې او له کمونستي بلواګانو او کودتاګانو څخه مخنیوی وکاندي خو سره له ټولو هلو ځلو کوم قاطع واغیزمن بریالیتوب یې نه و تر لاسه کړی .

له بلې خوا د کوریا او ویتنام په جګړو کې که څه هم له ۱۱۰ زرو څخه ډیر امریکاییان ووژل شول او یو شمیر نور ټپیان او لادرکه شول او امریکا

په تریلونو ډالره په دغو جګړو کې خرڅ کړل مګر سره له دغو ټولو لګښتونو او قربانیو امریکا ته دا بریالیتوب نه و حاصل شوی چې شوروي اتحاد له شکست او ماتې سره مخامخ کاندي .

دافغانانو جهاد چې دشوروي اتحاد په ړنګیدو کې مهم رول ولوباوه دغه لوی بری امریکاییانو ته نصیب شو چې په نړۍ کې یوازینې ستر قدرت وګرځي دکوم شي لپاره یې چې ۷۰ کاله مبارزه کوله. له بلې خوا امریکا چې اوس دخلیج دتیل لرونکو سیمو امنیت ته کوم ګواښ نهویني دمنځنۍ آسیا دهیوادونو دطبیعي زیرمو او شتمنیو دراایستلو لپاره یې هم لاره خلاصه کړې ده چې ویل کیږي له قیمتي معدنونو علاوه دخلیج دهیوادونو په پر تله دګاز او تیلو زیرمې هم لري .

باید زیاته شي چې امریکا اوس دې ته اړه او احتیاج هم نه لري څو په ملیاردو ډالر دوسلو او جنګي سازاو سامان دجوړولو لپاره خرڅ کاندي . کوم شي چې پخوا دشوروي اتحاد په مقابل کې دامریکا غټه دفاعي بودجه جوړوله .

خو دغه واقعیت باید په پام کې ونیول شي چې که شورویانو دافغانستان دخلکو داستقلال او ملي او اسلامي ارزښتونو هیڅ پروانه کوله او دخپلو سیاسي هدفونو لپاره یې ریاکارۍ او فریب څخه کار اخیست ، همدارنګه امریکا هم دافغانستان دخلکو دجهاد دارمانونو تر سره کیدو ته کومه علاقمندي او زمه واري نه ده ښودلې .

## ب : کورنۍ جګړه د چا په ګټه ده ؟

دافغانستان مظلوم ولس د شورویانو له یرغل او پوځي اشغال څخه دسر او مال دومره درانه تلفات او تاوانونه لیدلي دي چې نور ورته داضافه جنګ جګړو حوصله او طاقت نه دي پاتې شوي . دجهاد او ملي مقاومت په دوران کې له ۱،۵ ملیون څخه زیات افغانان شهیدان ، تر ۱،۵ ملیون پورې نور ټپیان او معیوبان او تر ۵ میلیون نور مهاجر او له وطنه پردیسان شوي دي. داشمیر له دوهمې نړیوال جګړې وروسته دمړو ژوبلو او مهاجر خلکو یو غټ شمیر ګڼل کیږي .

همدارنګه دافغانستان ښارونه ، کلي او بانډې ، فارمونه او فابریکې ډیر وران ، ویجاړ شوي چې ترمیم او جوړول یې په کلونو کار او فعالیت ته ضرورت لري . له بلې خوا دهیواد ډیر شمیر عالمان ، پوهان ، روحانیون ، سیاست پوهان انجینیران او نور کارپوه اشخاص له وطن څخه مهاجرت ته مجبور شوي او دښوونې او روزنې موسسې هم له کاره لویدلې دي چې ددغو موسسو بیرته فعالول او دمهاجرینو بیرته ستنیدل هم وخت، کار او مالي لګښتونو ته اړه لري .

همدارنګه دافغانستان په ډیرو ځایونو کې دبین المللي موسساتو داټکل له مخې تر ۲۰ ملیونه زیاته ماینونه دشورویانو او دهغوی دلاس پوځو له خوا ښخ شوي چې دهغو پیدا کول . شنډول هم په کلونو کار او پیسو ته ضرورت پیدا کوي .

له بلې خوا دشورویانو دنفاق اچونې او تعصبونو درایارونې او

دنورگاونډيانو له خوا هم د افغانستان په قامي ، سيمه ييزو او مذهبي چارو کې مداخلې ملي وحدت ته زيات صدمه رسولې ده چې ضرور ده دافغاني ټولنې ورونه قامونه او د پښتنو ، تاجيکانو ، ازبکانو ، هزاره ګانو او نورو موثر او اغيزمن ټولنيز شخصيتونه دملي وحدت دبيرته غښتلي کولو او دغليمانو د توطئو دشنډولو لپاره زيات کار او فعاليت وکاندي .

ددغو مسايلو له امله دافغانستان کړيدلي مظلوم خلک سولې او امنيت ته ډير ضرورت لري . چې د خپل ژوند ضروري چارې سنبال کاندي په دې اساس اضافي جنګ ، جګړې دافغانستان دغمځپلو خلکو لپاره هيڅ ډول ګټه او فايده نشي رسولای .

## نو آيا کورنۍ جګړه دچا په ګټه تماميږي ؟

دډيرو اسنادو او مدارکو څخه دغه نتيجه راايستل کيږي چې دافغانستان دکورنۍ جګړې دوام تر ټولو زيات دپخواني شوروي اتحاد او موجوده روسيې به ګټه تماميږي ، ځکه روسيه چې له يوې خوا په افغانستان کې دشوروي اتحاد دماتې دغچ اخستلو په فکر کې ښکاريږي او له بلې خوا د منځنۍ آسيا د آزادۍ دجنبشونو او پاڅونونو سره هم لاس او ګريوان شوې ده چې عاقبت يې دروسيې لپاره دبل شکست پيلامه بلل کيږي .

سره له دې چې دشوروي اتحاد له ړنګيدو سره دمنځنۍ آسيا جمهوريتونو خپلې آزادۍ اعلان کړې ، خو روسيه دشوروي اتحاد ميراث

خوره بیا هم هلې ځلې لري چې دغه سیمې په یو یا بل ډول تر خپل کنترول لاندې وساتي او ممکنه ګټې ترې واخلي .

په دې اساس روسیې دامریکا دلاس لاندې توب په منلو داهلې ځلې پیل کړې چې دامریکا او لویدیځې نړۍ دخوشالۍ لپاره له فندا منتلزم سره دمقابلې تر پردې لاندې بیرته خپل پوځې حضور په دغو سیمو کې وساتي او له بلې خوا دافغانستان له خلکو څخه دغچ اخیستلو په مقصد دافغانستان په کورنۍ جګړې کې لاس وهنو ته دوام ورکاندي .

لکه چې پخوا وویل شول دروسیې واکداران پوهیږي چې به افغانستان کې دسولې ټینګیدل او دیو مشروع او دخلکو داکثریت دخوښې حکومت جوړیدل به افغانستان ته دا توان ورکړي چې له روسیې څخه دجنګ تاوانونه وغواړي ؛ دتیلو او ګاز قیمت وغواړي چې په تیرو دوو لسیزو کې شوروي اتحاد خوړلي دي . له بلې خوا افغانستان به دازمینه هم برابره کړي چې لویدیځ شرکتونه دافغانستان له لارې منځنۍ آسیا سره تګ راتګ او تجارت پیل کاندي او خپلې راکړې ورکړې ورسره زیاتې کړي او په دې ترتیب به هم افغانستان کې آبادي ګانې وشي او تجارت به رونق پیدا کړي او هم په منځنۍ آسیا کې ډیر کار او بار منځ ته راشي او خلک به ماړه او په هر څه هوښیار شي . ښکاره ده چې په دغه صورت کې به دروسیې اثر او رسوخ په دغو سیمو کې له منځه لاړ شي او که داسلامي نهضت او دموکراسۍ وړانګې - دغو ځایونو کې هم خورې او پراخې شولې نو بیا به روسان یو بل شا تګ ته هم مجبور کیږي او نور ځایونه به یې هم له کنترول

څخه وزي .

د روسيې د همدغو ګټو او اهدافو په خاطر دي چې د روسيې جمهورئيس بوريس يلڅن په ډاګه او ټينګار سره وايي چې د تاجيکستان سرحدونه د روسيې سرحدونه دي . د روسيې خارجه وزير اندري کوز يروف د پخواني شوروي اتحاد په جمهوريتونو کې د روسيې سفيرانو ته په يوې وينا کې وويل :

« ..... موږ بايد دغه جمهوريتونه له دغه احساس څخه وژغورو چې ګواکې موږ به دوی خوشې کړي وي او له دې املهٔ دې د بل پارتنر په لټه کې شي . موږ بايد له هغو ځايونو څخه خپل وسله وال پوځونه ونه باسو چې د عمرو نو عمرونو لپاره د روسيې ترنفوذ لاندې سيمې شميرل شوې دي او د روسيې مقدمې حياتي ګټې هم په پخوانيو جمهوريتونو کې پرتې دي... » .

له بلې خوا د روسيې حکومت د شوروي اتحاد په پخوانيو جمهوريتونو کې بيرته خپلو تخريبي هڅو ته هم لاس اچولی او له شمالی قفقاز څخه يې تر منځنۍ آسيا پورې قامی ، ژبنی او مذهبی اختلافات را پارولی او جنګ جګړې يې پيل کړې دي .

په دغه اړوند Alexander Iskandaryan په مسکو کې د قفقاز د څېړنو د مرکز مشر د روسيې د سوله ساتونکيو قواوو باندې د کلک انتقاد په ترڅ کې وويل « ... له ۱۹۱۸ م څخه تر ۱۹۲۰ م پورې موږ د دې شاهدوو چې آذريانو به له ارمنيانو سره جنګ درلود او

جورجیانو له ابقا زیانو سره او داسې نور .... بیا وروسته دشوروي سرې لښکرې راغلې هر څه یې چې غوښتل هغه یې وکړل او ټول یې تر کنترول لاندې راوستل ، نوي سرحدونه یې جوړ کړل ، هغه شی چې اوس یې تر یوه حده پورې دغه دروسیې دسولې ساتونکې قواوې کوي هغه وخت سرولښکرو هر څه په مسکو پورې وتړل نن هماغه لوبه بیا روانه شوې ده .... ».

ځینې پوهان او دسیمې دحالاتو تحلیل ګران دبوریس یلڅن او کوزیروف دغه دوکتورین چې په پخوانی شوروي اتحاد کې بیرته خپل اثر او رسوخ راژوندی کوي دلیونید بریژنف دوکتورینو ته ورته ګڼلی دي . همدااوس روسیه په پخوانی شوروي اتحاد کې ۳۰ پوځي اډې لري او دسولې ساتنې سپایان یې په تاجیکستان - ملداویا ، نګورنو قره باغ ، جورجیا او نورو ځایونو کې په هلو ځلو بوخت دي . په جولای ۱۹۹۳ م کې ددرې سلاف جمهوریتونو ( روسیې ، اکراین او بیلا روس ) ترمنځ یو اقتصادي ائتلاف لاس لیک شو او وروسته له دوې سره ارمنستان ، تاجیکستان قزاقستان او ازبکستان هم دمالی چارو په یو توافق کې سره ګډ شول . له دې نه علاوه روسیې له ارمنستان او منځنی آسیا له جمهوریتونو سره یو ګډ دفاعي هوایي سیستم هم جوړ کړی او دشوروي پخواني نور جمهوریتونه هم هڅول کیږي چې په هغه کې ګډون وکاندي .

دتاجیکستان پخوانی کمونست مشر چې اوس هم په بل نامه په قدرت ناست دی دروسانو پوځ ته بلنه ورکړه چې له دوی سره دافغانستان

د سرحدونو مقابل کې د تاجیکستان د سرحدونو په ساتنه کې مرسته وکاندي . څرنګه چې په دغو پنځو جمهوریتونو کې پخوانی کمونستان په قدرت ناست دي نو دا د افغانستان خلکو ته هم د خطر زنګ وي چې دغه کمونستان به په افغانستان کې د روسیې له طرفدارانو سره مرستې او کومکونه ونه سپموي .

له بلې خوا دغه موضوع هم د ډیرې پاملرنې وړ ده چې د پخوانی شوروي اتحاد ځینې لوړرتبه مامورین د افغانستان په جنګ کې په ناوړو استفادو بوخت وو او له دوی سره د کابل د حکومت ځینې مخوروکسانو هم لاس درلود . ویل کیږي دغو خلکو په ملیونِ افغانۍ او ډالر له دغو ناوړو لارو څخه لاس ته راوړي او ډیرو شتمنیو څښتنان شوي دي . معلومه دغه چې دغه ډول خلک هم په جنګ کې خپله فایده ویني او په یو یا بل ډول زیار باسي چې د جنګ داوږدیدولو امکانات برابر کاندي . په دې ډول روسیه د افغانستان له جګړو څخه ګټه اخلي او خپل موقف په تاجیکستان ، ازبکستان او د منځنۍ آسیا نورو جمهوریتونو کې تقویه کوي او د خپلو ګټو د ساتلو لپاره په افغانستان کې هم خپلو پلویانو ته مرستې وَر رسوي .

له بلې خوا د پاکستان د حکومت او پوځ ځینې خلک او حلقې هم د افغانستان په کورنۍ جګړه کې خپلې ګټې ویني او د افغانستان له انارشۍ څخه فایدې پورته کوي .

د پاکستان حکومت له پخوا داهیله درلوده چې په افغانستان کې

ددوی بو دوست حکومت ! منځ ته راشي . ځینو افغانانو په دغه برخه کې افراطي نظریات ، لکه د سرحدونو له منځه وړل هم څرګندول . وروسته چې د ملګرو ملتونو د سولې پلان د نجیب الله له قدرت څخه لویدلو سره یو ځای شنډشو . نو د پاکستان حکومت ته یوه فوق العاده موقع په لاس ورغله چې د مجاهدینو د مؤقتی اداري په جوړیدو کې اقدامات وکاندي . د ملګرو ملتونو د سولې د پلان پر ځای موقتي اداري جوړښت د پاکستان نظر څرګنداوه نو ځکه د پاکستان صدراعظم نواز شریف ورڅخه کلک ملاتړ کاوه .

له جهادي تنظیمونو سره د پاکستانی مقاماتو چال چلن چې اتنیکي مسایل یکې په نظر کې نیول کیدل داسې هم ښودل چې ددوی ځینې حاکمې حلقې د حزب اسلامی او متحدینو په مقابل کې د جمعیت اسلامی ، دوستم او حزب وحدت ائتلاف ته د اکثریت او اقلیت قامونو پر بنیاد تر جیح ورکوله نه ددوی د سیاسی او دیني عقایدو په اساس په داسې حال کې چې دواړه ډلې اسلامی ردیکال ګڼل کیږي .

همدارازد ISI ځینې حلقې چې پخوا د جهاد له مرستو او کومکونو څخه په ناوړه ګټو اخیستلو تورن شوي وو اوس هم د جګړې په اوږدیدو کې خپل منافع ویني .

داترخه حقایق دی چې د جهادي ډلو ځینې کسان او قوماندانان د جهاد له مرستو څخه په ناوړه استفادو شتمن شوی او په پاکستان ، ایران ، اروپایي او امریکایي هیوادونو کې یې جایدادونه اخیستي نو طبیعې ده

چې دا ډول اشخاصو ته د جګړې دوام د پیسو پیداکولو یوه منبع ګڼل کیږي

په همدې ډول په ایران کې هم ځینې واکمنې حلقې د افغانستان په کورنۍ جګړې کې خپلې ګټې وینې . ایراني چارواکو چې د نجیب الله د حکومت په ړنګیدو کې حزب وحدت او خپل نور پلویان له شورای نظار - جمعیت اسلامی او دوستم ملیشې سره یو ائتلاف کې راټول کړل ، هڅه لري چې په حکومت کې خپلو پلویانو ته ډیره برخه په لاس راوړي . سره له دې چې د ایران حکومت د رباني په حکومت کې زیات اثر او رسوخ لري خو د سیاف د اتحاد اسلامي او جمعیت اسلامی او شوراي نظار نژدې کیدل په خپله ګټه هم نه بولی له دې امله عبدالعلي مزاری د حزب وحدت مشر چې موقف یې کمزوری شوی له حزب اسلامی سره چې پخوا مخالف وُ د ائتلاف لاس ورکوي . د ایران چارواکو چې له ۱۹۸۷ م څخه بامیان او مزارشریف ته په الوتکو کې د پوځي او نورو مرستو لیږدول پیل کړل هغه اوس هم په بل ډول ادامه لري . د ایران مشران غواړي چې د رباني حکومت د ایران په تګ لاره روان او د ایران د اسلامی نظام مشقونه وکاندي . له بلې خوا د ایران حکومت د فارسي ژبې او کلتور رسالت خپل حق بولی او په افغانستان کې د خپلو طرفداره ډلو په واسطه د همدغو مرامونو لپاره هلې ځلې کوي .

## ج : څه باید وشي ؟

په خواشینۍ سره لیدل کیږي چې د افغانستان وضعه له یوې ورځې

څخه تر بلې ورځې خرابیږي يو جنګ پسې بل جنګ منځ ته راځي او د يو ائتلاف په ورانيدو بل ائتلاف جوړيږي چې يو هم د سولې لپاره هيڅ نشي کولای خو د بدبختيو او مصيبتونو په زياتولو کې يو له بله وړانديتوب کوي .

د افغانستان مظلومو خلکو چې د شوروي اتحاد له لاس وهنو او پوځي تجاوز څخه د سر او مال د رانه تلفات او تاوانونه ليدلې دي د مجاهدينو د حکومت نادودو پر دغو مصيبتونو يوه بله د رنځ او غم پاڼه هم ورزياته کړې ده . په دغو تيرو دوه کلونو کې يعنې له اپريل ۱۹۹۲م څخه تر اپريل ۱۹۹٤م پورې د جهادي تنظيمونو د تش په نامه اسلامي حکومت په دوران کې په زرهاوو افغانان په کابل کې مړه او په لکونو نور مهاجرت ته مجبور شوي دي . د بين المللي باوري سرچينو په قول په دغه موده کې تخمين ۳۰ زره کسان يوازې په کابل کې مړه او تر ۱۰۰ زرو نور ټپيان شوي دي .

د افغانستان کړيدلو خلکو داهيله درلوده چې د مجاهدينو د حکومت په راتلو به د دوی په زخمونو پټۍ کيښودل شي ، سوله او امنيت به د جنګ ځګړو ځای ونيسي او د افغانانو له خوښې سره سم به د عدل او انصاف يو نظام منځ ته راشي .

د افغانستان ځوريدلو خلکو تو قع درلوده چې د شهيدانو د کورنيو ، کونډو رنډو ، يتيمانو او معيوبانو غم خوري به وشي ، غازيان او قهرمانان به ونازول شي او د ژوندانه چارې به عادي مسير ته راوګرځي .

خو ددغو هيلو او توقعاتو خلاف نه يوازې داچي داسي ونشول ، بلكه ډير نوې غمونه مصيبتونه هم منځ ته راغلل او جهاد په فساد تبديل شو .

له كوم وخته چي جهادي تنظيمونو دكابل اداره په لاس كي نيولي ده په بې سارې او بې سابقي توګه دولتي او شخصي شتمنيو په چور او لوټ لاس پورې كړل شوي چي لمن يې ورځ په ورځ پراخيږي . درباني حكومت خپل مخالفين ګرم ګڼي او مخالفين درباني حكومت دجنګونو مسئول شميري . رباني حكمتيار ته د تنقيد ګوته نيسي او هغه ته په رسمي بيان تروريست خطاب كوي او حكمتيار هم رباني او مسعود ته بد رد وايي او هغوې غاصب ګڼي . درباني او حكمتيار په دغه رقابتونو كي رشيد دوستم دپخواني كمونست مليشې جنرال زيات اهميت پيدا كړى او هر يو زيار باسي چي دهغه ملاتړ تر لاسه كاندي .

رشيد دوستم چي دنجيب الله دحكومت دړنګيدو په وخت كي يې له نورو بې شماره وسلو سره لس فعاله جټ الوتكي درلودې اوس دبين المللي خبرې منابعو مطابق ۳۰ فعاله جنګ الوتكې په اختيار كي لري چي په يقين سره به روسانو له ازبكستان څخه ورته ليږلي وي .

دحيرانتيا ځاى خو دا دى چي رشيد دوستم چي دپرچم دګوند دمركزي كميتې غړى ؤ او دجوزجاني مليشې دمشر په توګه يې په سل هاوو قتلونه كړي خو اوس دتش په نامه دشمال داسلامي جنبش دمشر په توګه دحضرت صبغت الله مجددي او برهان الدين رباني له خوا ورته دلوى مجاهد القاب وركول كيږي او رباني هغه دخپل معاون په حيث معرفي

کوي . د تنظیمونو مشرانو چې د دوکتور نجیب د سولې وړاندیزونه او په حکومت کې ګډون په هیڅ صورت نه منل اوس د هغه د یوې ملیشې قوماندان پسې منډې را منډې وهي - چې له ځانه اختیار هم نه لري . له بلې خوا سره له دې چې د مجاهدینو حکومت ته د پاکستان حکومت لس ( ۱۰ ) میلیون ډالر او ۵۰ ټنه غنم د ایران حکومت یو میلیون ډالر د صادراتو کریدت او سعودي عربستان ۲۵ زره ټنه تیل مرسته ورکړې خو نورې بین المللي مرستې په ټپه ولاړې دي .

د جرمنی د باندنیو چارو وزیر Klaus kinkel خبریالانو ته په اسلام آباد کې وویل چې د افغانستان د بیا ودانولو لپاره ډیرې مرستې شته مګر دا به هغه وخت پیل کیږي چې په افغانستان کې یو ثابت او غښتلی حکومت منځ ته راشي .

په همدې اړوند د ملګرو ملتونو خاص استازی Sotiris Mousouris په دې وروستیو وختو کې ویلي دي چې کابل د مختلفو ډلو ترمنځ ویشل شوی او یوه بې طرفه قوه نشته چې د هغې په سیوري کې بهرنۍ موسسې فعالیت وکړای شي . هغه زیاته کړې چې واړه هلکان د مجبورۍ له امله د میاشتې په ۵ یا ۶ ډالره معاش لپاره یوې جنګي ډلې سره نه د عقیدې او ایدیالوژۍ په خاطر ، بلکه محض د خپلې کورنۍ د نس مړولو لپاره کار کوي او جنګ کې برخه اخلي . د کابل په ښار کې د ښځو او به پرته له څو ځایونو نورې نشته برق او تلفون او نورې ښاري آسانتیاوې هم له منځه تللې دي ،

نو په دغسی حالت کې چې رباني د حل او عقد دساختـه گې او پيرودل شوې شورى له لارې هغه هم ديوازينې کاندېد په توگه کاميابي تر لاسه کړي او دهغه دوره بيا وروسته نواز شريف په اسلام آباد کې ۱۸ مياشتو ته لنډه کـړي ، خو ســره له دې هم په ټول افغـانــستـان حاکميت نه لري او وسله وال مخالفت ورسره روان دی .

په داسی حال کې چې بهرنی مداخلې او لاس وهنی نه دي قطع شوي او په افغانستان کې د يو قانوني او دخلکو داکثريت دخوښې دحکومت دنشتوالي له امله ، پاکستان ، ايران ، سعودی عربستان ، تاجيکستان او ازبکستان (ترشايي روسيه ) خپلو گټو پسې گرځي او په داسی حال کې چې له بده مرغه دجهاد ددوران ډيرې خطرناکې وسلې اوس افغانان ديو بل پرضد دقدرت دگټلو لپاره استعمالوي او ورور وژنې او تباهی ته ادامه ورکوي نو څرنگه به ممکن شي چې ددغو رقيبو ډلو تر منځ چې تر اوسه يې په خپلو ژمنو او موافقو عمل او وفا نه ده کړې سوله راشي ؟

له بلې خوا څرنگه چې دځينو جهادي ډلو له خوا دافغانستان دورونو قامونو ترمنځ يو لړ بی ځايه تعصبونه او مخالفتونه راپارول شوي دي چې په هيڅ ډول دافغانستان دعام ولس غوښتنې نه شميرل کيږي . بايد په ډاگه وويل شي چې دقدرت په سرجگړو کې گډ تنظيمونه او حزبونه يعنی جمعيت اسلامی اتحاد اسلامی - حزب اسلامی - حزب وحدت ، او دشمال ملی اسلامی جنبش او نور هر څه چې وی خو په هيڅ ډول دافغانستان دپښتنو ، هزاره گانو تاجيکانو او ازبکانو نماينده گي نشی کولای او نه هم

دوی چا ددی کار لپاره تاکلي دي . دغه ډلې یو یا بل قام پورې تړل او په هغو قضاوت کول په حقیقت کې دشورویانو او نورو مغرضو ګاونډیانو نیمګړو پلانونو ته خدمت کول دي چې دافغانستان دملي وحدت دماتولو او دافغانستان دمظلومو خلکو له بدبختۍ څخه په پرته بله نتیجه ونه لري.

همدغسې چې دافغانستان حق پرستو خلکو ته دربانی حکومت چې له پیل څخه یې خپله څلور میاشتنۍ دوره په چل او پلمو اوږده کړې او دپیرودل شوي حل او عقد شورۍ په استناد یې داقتدار څوکۍ کلکه نیولې دمنلو وړ نه دي ، په همدې ډول بل هر حزب او تنظیم هم که دخلکو داکثریت له رضایت څخه برته قدرت ته ورسیږي قانوني حیثیت نشي پیدا کولای.

له بل طرف څخه څرنګه چې دافغانستان دکشالی خارجي بعد لاتر اوسه قوي او موثر دي او دافغانستان په کورنیو چارو کې بهرنۍ لاس وهنی نه دي قطع شوې نو دامریکا دمتحده ایالاتو لرې توب او موجوده بیطرف دریځ به شوروي اتحاد ته چې له افغانستان سره اوږد ګډ سرحد لري او دربانی حکومت په رسمیت پیژنی او مرسته ورسره کوي ضرور دافرصت ورکړي چې په دسیسو او توطئو دافغانستان حالات له بدڅخه بد تره کاندي .

دهمدغو اندیښنو په اساس دا دامریکا دمتحده ایالاتو دحکومت اخلاقي مسئوولیت ګڼل کیږي چې دافغانستان شخړه چې دساړه جنګ له

سیالیو او خصومتونو څخه دغه حال ته رسیدلې ده داسې لاینحل پرې نږدي او دسولې په راوستلو او دیو قانوني حکومت د جوړیدلو په مقصد خپلې مرستې او همکارۍ ونه سپموي.

همدارنګه باید دروسیې نوی زعامت دافغانستان په مورد کې دکمونستانو اشتباهات اوتیروتنې تکرار نه کاندي. بوریس یلڅن د روسیې منتخب جمهور رئیس په دې ښه پو هیږي چې دا دشوروي حکومت و چې له افغانستان سره یې ټول تړونونه او تعهدونه او بین المللی قرار دادونه تر پښو لاندې کړل او په داسې خلکو یې له بې رحمۍ ډک تجاوز او جنګ تحمیل کړ چې کلونه کلونه یې ورسره ددوستۍ او ښه ګاونډیتوب لاپې وهلې.

افغانانو هیڅوخت دروسانو او شورویانو په کورنیو چارو کې لاس وهنه او مداخله نه ده کړې او په آینده کې به هم د متقابل احترام په اساس په خپلو ژمنو او تعهدونو وفادار پاتې وي. دروسیې حکومت که په رښتیا بین المللی اصولو او قوانینو ته درناوی او احترام لري باید چې دافغانستان په کورنیو چارو کې له هر ډول مداخلې څخه لاس واخلي او د دواړو هیوادونو تر منځ دیونوي باب دپرانیستلو په منظور د جنګ تاوان او دافغانستان دبیا ودانولو زمه واري په غاړه واخلي. یو واحد او مستقل افغانستان دسیمې د ټولو هیوادونو اوجهاني سولې په ګټه دي نو ځکه باید دسولې په راوستلو کې ورسره مرسته وشي.

ددې لپاره چې دافغانانو دجهاد او ملي پاڅون ارمانونه ژر تر ژره

ترسره شي ؛

ددې لپاره چې دواقعي مجاهدانو ، غازيانو او شهيدانو هيلې په ځای کړای شي ؛

ددې مقصد په خاطر چې په مليونو مهاجرد آواره گۍ له تريخ او کړېدلي ژوندون څخه ژر خلاصون پيدا کاندي ؛

په دې منظور چې له وسله والو ډلو څخه دوسلو ټولولو او انسان وژونکو ماينونو پرضدعاملانه او اغيزمن اقدامات پيل کړای شي ؛

او با لاخره ددې لپاره چې په وران او تباه شوي افغانستان کې دسرتاسري سولې په راوستلو او دبيا ودانولو په پروسه کې چټکې هلې ځلې په کار ولويږي .

نو تر ټولو غوره او بهتره لار به داوي چې دقدرت مدعيان له نورو جنگ جگړو څخه چې پرته له ورور وژنی او تباهی څخه بله نتيجه نه لري لاس واخلی او په صادقانه توگه پرېږدي چې دملگرو ملتونو له خوا هغسی دسولی يو پلان بيرته په کار واچول شی چې دنجيب دحکومت له ړنگيدو څخه وړاندې دافغانستان لپاره جوړ کړشوی و .

دسولی له نوموړي پلان څخه دواړو سترو قدرتونو امريکا او شوروي او همدارنگه دافغانستان گاونډيو هيوادونو بشپړ ملاتړ ځرگند کړی و چې اوس هم گيدای شي دملگرو ملتونو دامنيت شوری له خوا عين طرزالعمل پکار ولويږي .

څرنگه چې په نوموړي پلان کې دباتقوی کار پوه او با ديا نته افغانانو

له خوا ديو موقتي حکومت جوړيدل ،د عمومي انتخاباتو يا لويي جرگې دايريدل او با لاخره ديو منتخب او نماينده حکومت منځ ته راتلل په نظر کې نيول شوي و و اوس هم دا ډول يو پروگرام ته سخت ضرورت محسوس کيږي چې دافغانستان ستونزه ژر ترژره دحل لاره پيدا کاندي .

دملگرو ملتونو له نړيوالې موسسې څخه دافغانستان دکړيدلي ملت هيله او آرزو دا ده چې دخپلو دندو او مسئووليتونو په اساس - افغانستان ته دسولې په راوستلو کې گړندي او اغيزمن گامونه واخلي او پرې نږدي چې دافغانستان دځوريدلو خلکو سرنوشت د حوادثو په طوفان کې لاهوپاتې شي.

هيله ده دافغانستان ميړني او غيرتي خلک چې دزماني له هر ازمينښت څخه کامياب او بريالي راوتلي دي اوس هم دپاک خداى په توفيق او توکل له دغه سخت پړاو څخه په بريا ليتوب تير او دخپل واک او اختيار څښتنان شي .

ومن الله توفيق

پاى

۱۹۹۵

# دافغانستان لنډه کرونولوژي

Short Chronology of Afghanistan

3000 . B .C Afghanistan was the Crossroads betwen Mesopotamia and the civilization of Indus Valley.

افغانستان دبین النهرین او داندّس دتمدن ترمنځ دتګ راتګ څلورلاره او دوصل کړی.

آریایی قبایل به آریانا ویجه کې

2000 -1500- B.C Arian Tribes in Ariana weja

ویدی عصر په باختر کې.

1500- B.C Vedi epoch in Bakhter.

زردشت په باختر کې

1000 - B.C Zoroastre in Bakhtar.

دلوی الکسندر یرغل

327- B.C Invasion of Alexander theGreat

دکنشکاامپراطوري.

75-100 A.D The Empir of Kanishka.

داسلام دمقدس دین خوریدل .

652 - 100- A.D The influence of Islam .

دمحمود غزنوی امپراطوری دایران له لویدیځه دهند ترشماله.

999- 1030- A.D The empire of Mohmoud Ghaznavi from west of Iran to the north of India.

دچنگیزخان مغل یرغل .

1221-// The invasion of Gengis Khan Maghl (Moghol)

له افغاني ترکستان څخه دمارکوپولو تیریدل .

1273-// Morcopolo crassed Afghan's Turkistan.

دګوډ تیمور قدرت .

1370- 1404 " Timour-i-Lang power.

دهرات تیموریان .

1404-1506// Timouryan of Herat Afghanistan .

مغل ، بابر او دهغه دسیسې

1512- Baber Mongol and his conspiracies .

دمغلو دقدرت په مقابل کې دبایزید روښان جنبش

1520- 1578- 1030 A.D Bayazod Roshan's movement against the power of (Moghos ) government.

دمغلو دقدرت پر ضدد خوشحال خان ملي پاڅون

1613-1689// Khushalkhan national uprising against the Mongol government.

دافغانستان په کورنیو چاروکې دایران او هند مداخلې

1509-1707= Interventions of Iran and India in the internal affairs of Afghanistan.

دمیرویس خان ملي پاڅون دایران پر ضد او بیا وروسته دایران فتح کول

1708//Mirwais Khan national uprising against Iran and later conquest of Iran.

داحمد شاه دراني امپراطوري

1747-1773 // The empire of Ahmad Shah Durani

په هند کې برتانوی استعمار

1793-1836// The British colonisation of India.

دافغان - انگلیس لومړۍ جګړه

1838-1842// First Anglo - Afghan war .

دشیرعلي پادشاهي - په ترکستان کې دروس مداخله

1863-1879// King shcr Ali- Russian inte vention in Turkistan.

دافغان - انگلیس دویمه جګړه

1878-1879// Second Anglo- Afghan war.

دافغان او انگلیس دریمه جګړه - دخپلواکۍ بېرته اعاده کول

1919// Third Anglo- Afghan war, restoration of Full Independence.

ترقي غوښتونکی پاچا دامان الله خان پادشاهي

1919-1929// Reign of King Amanullah (reformer King).

حبیب الله دسقو زوی - بهرنی مداخله

1929// Revilt of bandit Batchasakao , foreign intervention.

نادرشاه

1929-1933-1030- A.D .Nader Shah

دظاهرشاه دپاچاهی دوران

1933- 1973// Reign of King Z ahir Shah

دمحمد داؤد له خوا دافغانستان دلومړي جمهوريت جوړيدل

1973// Foundition of the first Republic of Afghanistan by Mohammad Daoud.

دمحمد داؤد وژل کيدل کمونستی کودتا

1978- April The Communist coup, d'etat27 April assassination of president Daoud.

دکابل درژيم پر ضد دملی پاخون پيل

1979// Commencement of National opposition to the Kabul regime.

پر افغانستان دشوروی لښکرو يرغل

1979 Dec// Invaion of the Soviet Red army in Afghanistan

ملي مقاومت او مقدس جنگ

1979-1989 // National resistance and Holy war

دشوروی دسرولښکرو بهرته ایستل اوماته

1989// The Withdrawal and defeat of soviet red army.

دکابل دلاس پوڅی حکومت نسکوریدل او دملګرو ملتونو دسولې دپلان پر ضد دسیسی

1992 April // the collapes of the soviet - backed Kabul government, conspitacies against the UN peace plan.

دسیاسی قدرت لپاره مجادلې او کورنی جګړه - نورې تباهی

1992 - 1994= Struggles for political power, civil war, further distruction.

# منابع او مأخذونه

# REFERENCES


| نوم Name | ليكوال Writer | دچاپ ځاى Peace & Date of Pub | نېټه |
|---|---|---|---|
| *1- Afghan wars 1839-1992 (what Britain GaveUp and the Soviet Union Lost) | Edgar O'Ballance | New YorK | 1993 |
| *2- Deterring Democracy | Noam Chomsky | London | 1991 |
| *3- Super Powers in Collision | Noam Chomsky<br>jonathan Steele<br>john Gottongs | London | 1982 |
| *4- From Cold War To Hot Peace | Anthony Parsons | London | 1995 |
| *5- Afghanistan The Great Game Revisited | Rosanne Klass | New york | 1987 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| *6- The Cold War past and present | Richarsd Crockatt, Steve Smith | London | 1987 |
| *7- Soviet Foreign policy | Ribbon. F. Laird | New york | 1987 |
| *8- The Basmachi Movement | Fazal-ur-Rahim Khan Marwat | Peshawar | 1985 |
| *9- The Soviet Occupation of Afghannistan | Johan Fullerton | Tehran | 1984 |
| *10- Central Asian Survey N"7(Afghanistan) | Caroline Gray | London | 1990 |
| *11- The Year 1993 in Review | Research Institute The RFE/ RR | Europe | 1994 |
| *12- Afghanistan | George Arney | London | 1990 |
| *13- Untying The Afghan Knot | Riaz.M.Khan | London | 1990 |
| *14- Soviet - American Relations With Iran Pakistan and Afghanistan | Hafeez Malik | London | 1987 |

PROPERTY OF ACKU 7967

| | | | |
|---|---|---|---|
| 15- افغانستان در زیر سلطهء شوروي | انتوني هايمن | تهران | ۱۹۸٤ |
| 16-* اصلاحات وانقلاب (۱۹۲۹) | ليون پلاداد ژباړه : دوكتور يوسفزى | امريكا | ۱۹۸۹ |
| 17-* افغانستان درمسیر تاریخ | ميرغلام محمدغبار | ايران | ۱۳۵۹ |
| 18-* دههء قانون اساسي | صباح الدين كشككي | ايران | ۱۳٦٥ |
| 19-* ارتش سرخ در افغانستان | بوريس گروموف | تهران | ۱۳۷٥ |
| 20-* افغانستان دلويى لوبې ستيج | عبدالجليل وحدي | پشاور | ۱۳۷٦ |
| 21-* شبهای کابل | جنرال عمرزى | پشاور | ۱۳۷٤ |
| 22-* فاجعهء شش جدي | دوكتورمحمدظاهر صديق | پشاور | ۱۳٦۳ |
| 23-* کرباس پوشهای برهنه پا | حسن شرق | پشاور | ۱۳۷۳ |
| 24-* تلک خرس | دگروال محمديوسف و مارک اركين | پشاور | ۱۹۹۸ |
| 25* افغانستان دشوروي پوځيانو له بيرته وتلووروسته | محمود گاريف | | ۱۹۹۸ |

ورځپاڼې او مجلې

International Herald Tribune (daily)
The Guartian ( daily)
News Week ( weekly )
Time ( weekly)
The Economist (weekly)
The Times (daily)
The Wallstreet ( ... )
From 1980 ~ 1994

# دلیکوال نور آثار :

۱ -شعري مجموعه «دفراق څوفریادونه »

۲ - د پښتو ژبې لارښود له انګلیسي ژبارې سره .

۳ - دافغانستان د حالاتو متعلق د مختلفو مضامینو او

مقالو مجموعه .

# AFGHANISTAN

## IN THE FLAMES OF THE COLD WAR

BY

M.G. Watanpal Dayani

1999

دانش کتابخانه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۳۵۱۳

ALL RIGHTS RESERVED TO THE AUTHOR